لوړو زده‌کړو وزارت
التقوی د لوړو زده‌کړو مؤسسه
علمي څېړنو، تالیف او ژباړې معاونیت
د التقوی ملي علمي - څېړنیز ژورنال مدیریت

# التقوی ملي علمي - څېړنیز ژورنال

التقوی د لوړوزده‌کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

## په دې گڼه کې لولئ!

- د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسیر...
- نقش فنآوری‌های نوین در اثبات جُرم مطابق با قانون اجراآت...
- د نورو له کړنو څخه د رامنځته کېدونکي جزایي مسؤلیت څېړنه
- اداري مؤیداتو د تطبیق څرنگوالی
- په ننگرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې ستونزو تحلیل...
- د اسلامي فقهې او افغانستان قوانینو له نظره د کم عمره ..

د تاسیس کال: ۱۴۰۱ ل
ننگرهار-افغانستان
شپږ میاشتنۍ خپرونه- د ۱۴۰۲ ل کال دریيمه گڼه

التقوی ملي علمي- څېړنیز ژورنال
التقوی د لوړوزده‌کړو مؤسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه
۱۴۰۲ ل کال - دریيمه گڼه

Ministry of Higher Education
Al-Taqwa Institute of Higher Education
VC Office for Research, Compilation and Translation

# National Scientific - Research Journal

## In this issue:

- A Comparative Study of the Principles of Treaty Interpretation ...
- The Role of Modern Technologies in Proving Crime According ...
- Study of Criminal Liability Arising from the Actions of Others
- Application of Administrative Evidences
- Analysis and Solutions to the Problems Facing the Iron Industry ...
- Marriage of Underage Girls from the Perspective of Islamic Jurisprudence ...

Year of Establishment: 2022
Nangarhar - Afghanistan
Six-month, Third Volume-2023

بسم الله الرحمن الرحيم

لوړو زده‌کړو وزارت

التقوی د لوړو زده کړو موسسه

علمي څېړنو، تالیف او ژباړې معاونیت

د التقوی ملي علمي- څېړنیز ژورنال مدیریت

# التقوی ملي علمي- څېړنیز ژورنال

التقوی د لوړو زده‌کړو موسسې علمي او څېړنیزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

د ۱۴۰۲ ل کال درېیمه ګڼه

# التقوی ملي علمي- څېړنيز ژورنال

التقوی د لوړو زده‌کړو موسسې علمي او څېړنيزه شپږ میاشتنۍ خپرونه

**د امتياز خاوند**

التقوی د لوړو زده کړو موسسه

**مسؤل مدير**

پوهنوال منگل شېرزاد

**د تصحيح مدير**

حبيب‌الله لوراند

**د توزيع مدير**

شکرالله شينواری

**د چاپ تيراژ: ۵۰۰ ټوکه**

**چاپ ځای: زکريا گرافيکس، جلال آباد**

**کلنی گډون:**

- ننگرهار : ۳۰۰ افغانۍ
- ولايات: ۶۰۰ افغانۍ
- بهرني هېوادونه: ۱۰۰ امريکايي ډالر

**د يوې گڼې بيه: ۱۲۰ افغانۍ**

**استادانو لپاره : ۸۰ افغانۍ**

**محصلينو لپاره: ۵۰ افغانۍ**

**همکارو ادارو لپاره: ۱۰۰ افغانۍ**



**تحرير هييت**

- دوکتور عبدالوهاب حسام
- دوکتور حمدالله کاکړ
- دوکتور هلمند بختانی
- دوکتور اظهارالحق عزيز
- پوهاند فرمان الله هيله مند
- پوهاند شاه ولي خان
- پوهنوال منگل شېرزاد

**کتنپلاوی**

- پوهنوال معروف شاه شينواری
- پوهنوال محمد ايمل حقمل
- عرفان الله ستانکزی



**اړيکو شمېرې: 077323368/0783287788**

**ايميل ادرس: magazine@altaqwa.edu.af**

**پته: عربانو گولايي، دويمه ناحيه، جلال اباد ښار، ننگرهار- افغانستان.**

# لیکلړ


| سرلیکونه | مخګڼه |
| --- | --- |
| سریزه | ۱ |
| د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسیر... <br> خوشحال جواد او پوهنوال محمد ایمل حقمل | ۳ |
| نقش فن آوری‌های نوین در اثبات جرم مطابق با قانون اجراآت... <br> پوهیالی باقر شدایی | ۳۷ |
| د نورو له کړنو څخه د رامنځته کېدونکي جزايي مسؤلیت څېړنه <br> عبدالحمید سیرت | ٦٧ |
| اداري مؤیداتو د تطبیق څرنګوالی <br> زاهد الله سیدي او بختیار حلیمي | ۹۳ |
| په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې ستونزو تحلیل... <br> تسل نورزی او عبدالرحیم بسمل | ۱۲۳ |
| د اسلامي فقهې او افغانستان قوانینو له نظره د کم عمره .. <br> طارق الله ملکزی او ولي الله حنیفي | ۱۴۹ |
| د سفر حق تحریمات او د بشري حقوقو نقص <br> پوهاند احمد ګل واثق | ۱٦۹ |
| د اقلیم بدلون د اسلامي اصولو له انده <br> پوهاند دوکتور مصطفی نیازی | ۱۸۹ |

| | |
|---|---|
| د افرادو بنسټيزو حقوقو کې کارېدونکو مفاهمو لنډه پېژندنه<br>پوهنمل نور انور فاروقي | ۲۰۹ |
| خصوصي حريم او دولونه يې<br>رشيدالله شينواری او حبيب الله لوراند | ۲۲۹ |
| د اسلامي فقهې او د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون ...<br>عزيز الدين نجات | ۲۵۷ |
| د اسلام له نظره د هبې احکام<br>اول الدين محمدي او سيد عبدالحکيم حکمت | ۲۷۳ |
| د اسلام له نظره د ښځو د زده‌کړو ارزښت<br>نقيب الله مطمين | ۲۹۵ |
| **The impact of SMEs on Economic Growth of …**<br>**Ashuqullah Karimi** | ۳۱۳ |
| **Impact of working capital management on …**<br>**Mohammad Saleem[1], Fathullah Shinwari[2]** | ۳۲۷ |

## سریزه

الحمدالله رب العالمین والعاقبة اللمتقین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین الذی بعث بالحق فارقا بین الحق والباطل وعلی اله وصحبه والتابعین وعلی کل من جاهد في سبیله الی یوم الدین.

تحصیلي بنسټونه مکلف دي، چې له یو لوري داسې انسانان ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړي، چې په خپل مسلک کې د وړتیا او تخصص تر څنګ، تقوی او ژمنتیا هم ولري او له بل لوري د انساني ټولنې ستونزې(Problems) تشخیص، علمي څېړنې په کې ترسره او د طرحو، پالېسیو او ستراتېژیو په بڼه یې داخلي او بین‌المللي اداراتو ته په واک کې ورکړي.

د تحصیلي بنسټونو د پورته دندو د غوره تامین لپاره د ۱۴۰۱ هـ ش کال راپدېخوا د لوړو زده کړو محترم وزارت د افغانستان په ټولو دولتي او خصوصي تحصیلي بنسټونو کې د علمي څېړنو برخې ته ځانګړې پاملرنه کړې، چې په دې ترڅ کې د نړۍ او افغانستان د اوسنیو شرایطو په یو شمېر ډېرو مهمو مسایلو په ننګرهار، پکتیا او بدخشان پوهنتونونو کې نړیوال علمي ـ څېړنیز کنفراسونه ترسره شو، چې د ډېرو اغېزناکو پایلو لرونکي ول.

التقوی د لوړو زده کړو موسسې په خپل پنځه کلن ستراتېژیک پلان کې (۱۴۰۰ هـ ش ـ ۱۴۰۴ هـ ش) د دې تحصیلي بنسټ د ستراتېژیکو موخو له جملې څلورمه موخه د لوړو زده‌کړو محترم وزارت د څېړنې، تالیف او ژباړې له ریاست څخه د (التقوی ملي علمي ـ څېړنیز ژورنال) اعتبارلیک اخیستل په لاندې متن پیش‌بیني شوي وو: (التقوی د لوړو زده‌کړو موسسه د لوړو زده‌کړو محترم وزارت نافذه تقنیني سندونو، د کیفیت تضمین او اعتبار اخیستنې چارچوب معیاراتو، د دې موسسې

اساسامې، علمي او اکاډمیکو پرنسیپونو، د ټولنې اقتصادي، فرهنګي شرایطو او فرصتونه او د دې موسسې د قوت ـ ضعف نقاطو او امکاناتو په نظر کې نیولو سره غواړئ ( ۱۴۰۰هـ ش کال پیل څخه ـ ۱۴۰۴ هـ ش کال تر پای) پورې لاندې موخې تر لاسه کړئ:

**څلورمه موخه: د علمي مجلې بشپړ اعتبارلیک تر لاسه کول:** (التقوی د لوړو زده‌کړو موسسه د خپلې تالیفاتي او څېړنیزې برخې د ملاتړ او انکشاف لپاره اړینه بولي چې د لوړو زده‌کړو له محترم وزارت څخه د علمي مجلې بشپړ اعتبارلیک تر لاسه کړي).

چې د دې مجلې د فعالیت د جواز له اخیستلو وروسته دوه ګڼې چاپ او د لوړو زده‌کړو محترم وزارت د څېړنې، تالیف او ژباړې ریاست له لورې مثبتې وارزول شوې او په پایله کې التقوی د لوړو زده‌کړو موسسې علمي مجلې (التقوی ملي علمي ـ څېړنیز ژورنال) تر عنوان لاندې له لوړو زده‌کړو محترم وزارت څخه علمي اعتبارلیک تر لاسه کړ؛ چې د اعتبار لیک له اخیستلو وروسته (التقوی ملي علمي ـ څېړنیز ژورنال) دریېمه ګڼه دا دی د چاپ په ګاڼه سمبالیږي.

درنښت

خوشحال جواد

التقوی د لوړو زده‌کړو موسسې رئیس

**خوشحال جواد او پوهنوال محمد ايمل حقمل**
التقوی د لوړو زده‌کړو موسسه، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، حقوقي علومو څانگه
لارښود استاد: پوهنوال منگل شېرزاد

# د ملي او بين المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسير اصولو پرتليزه څېړنه

**لنډيز**

د معاهداتو د اجراء په مرحله کې، ځيني اوقات، لوري د معاهدې له يو مورد/مواردو څخه، متفاوت تعبيرونه کوي، چې د دې له امله، د دولتونو تر منځ شخړې رامنځ ته کيږي، چې د دې ستونزې د حل او د مربوطه شخړو د مخنيوي لپاره، د معاهداتو تفسير ته، اړتيا پيدا کيږي، خو د معاهداتو لوري او ذيصلاح ارگانونه د معاهداتو د تفسير پر مهال بايد يو شمېر اصول په نظر کې ونيسي، څو د معاهدې مبهم موارد روښانه او مطلوبې خلاوې رفع شي او په نهايت کې له دې امله د دولتونو تر منځ رامنځ ته شوې شخړې حل وفصل شي، ځکه که د معاهداتو د تفسير پر مهال يو شمېر ثابت اصول او مقررات په نظر کې ونه نيول شي نه يوازې دا چې د معاهداتو تفسير به په سمه توگه تر سره نه شي؛ بلکې له دې ناحيې څخه د دولتونو تر منځ رامنځ ته شوې شخړې به نورې هم زياتې شي، نو دا چې د دې څېړنې له مخې د ملي او بين المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسير په اصولو باندې بحث شوی نو په خپل ذات کې دا يوه مهمه موضوع گڼل کيږي.

د دې موضوع د څېړنې لپاره له کتابتوني تگلارې څخه گټه اخيستل شوې او موخه يې دا ده چې په ملي او بين المللي حقوقو کې د معاهداتو د تفسير اصول په پرتليز شکل وڅېړل شي او په دې اړه چې ملي حقوق کومې نيمگړتياوې لري په مناسب او معقول شکل يې د حل لپاره وړانديزونه وشي.

د ويانا د ۱۹۶۹ م کال او ۱۹۸۶ م کال د معاهداتو د حقوقو د کنوانسيونونو پر بنسټ د معاهداتو د تفسير اصول عبارت دي له: د حسن نيت اصل، د انصاف اصل، د عادي او متداولو معناوو اصل، د معاهدې د موضوع او هدف د رعايت اصل، د معاهدې د عبارت سياق ته د توجه اصل، د ګټور توب اصل، د بين المللي حقوقو د قواعدو د رعايت اصل، د تفسير د نه اړتيا اصل. په ملي حقوقي اسنادو کې د معاهداتو د تفسير د اصولو ذکر نه دی راغلی، خو دا چې د افغانستان په حقوقي نظام او د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون د ۱۲۱ مادې د حکم له مخې معاهدات د عادي قوانينو او قراردادونو په رديف کې راځي او د افغانستان په مدني قانون کې د قراردادونو د تفسير لپاره د ۷۰۵- ۷۲۹ مادې پورې اصول وضع شوي، نو که د افغانستان په حقوقي نظام کې د معاهداتو د تفسير لپاره همدغه تقنيني چوکاټ په نظر کې ونيسو، نو په دې صورت کې د افغانستان ذيصلاح ارګانونه مکلف دي چې د معاهداتو د يو اړخيز تفسير پر مهال همدغه اصول تطبيق کړي.

**سريزه**

"بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العالمين و الصلوة و السلام على سيد المرسلين و على اله و اصحابه اجمعين"

( ولا يأتونك بمثل إلا جئناك بالحق وأحسن تفسيرا). (سورت الفرقان. ايت: ٣٣)

**ژباړه:** او نه کوي دوی راتله تاته کوم مثل (يعنې نه راوړي تاته سوال عجيب په ابطال د دين سره) مگر راوړو مونږ تاته (جواب د هغه په واقع او) په حق سره او ډېر ښه تفسير بيان. (٦: ٣٦٠ - ٣٦١)

د عدالت بين المللي محکمې International Court of justice د اساسنامې د ٣٨مې مادې لومړۍ فقرې پر بنسټ معاهدات د عمومي بين المللي حقوقو لومړنۍ او يوه مهمه منبع گڼل کيږي، البته په اسلامي هېوادونو کې معاهدات د اسلامي شريعت څخه وروسته قرار لري، يعنې دويمه منبع ده. معاهدات د بين المللي حقوقو د يوې مهمې منبع په توگه په بين المللي ټولنه کې د دولتونو او بين المللي سازمانونو فعاليتونو ته شکل وربخښي، مثلا د معاهداتو په واسطه جنگونه پای ته رسيږي، اختلافات پرې حل وفصل کيږي، ځمکې پرې تر لاسه کيږي، ځانگړې گټې او منافع پرې کسب کيږي، بين المللي سازمانونه او اتحاديې پرې ايجاديږي، د دولتونو تر منځ سرحدات پرې ټاکل کيږي، د دولتونو تر منځ د تعرضاتو او تجاوزاتو مخه نيسي او د دولتونو او بين المللي سازمانونو تر منځ بېلا بېلې اقتصادي، تجارتي، سياسي، حقوقي، فرهنگي، روغتيايي، تخنيکي، تعليمي او تحصيلي اړيکې تنظيموي. که څه هم د بين المللي توافقاتو لپاره د معاهدې کلمه يو معموله او مروجه کلمه ده، خو د بين المللي توافقاتو لپاره د معاهدې تر څنگ يو شمېر نور کلمات هم استعماليږي، مثلا پروتوکل، قرارداد، موافقت نامه، کنوانسيون، منشور، اساسنامه، پيمان، کانکورديت او داسې نور؛ په اسلامي فقه کې هم د معاهدې اړوند

اصطلاحات وجود لري، چې عبارت دي له: موادعه، مراوضه، هدنه، مصالحه، متارکه او مسالمې څخه.

زموږ د څېړنې موضوع د ملي او بين المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسير د اصولو پرتليزه څېړنه ده. چې په لومړي مبحث کې د معاهداتو د تفسير په لغوي او اصطلاحي معنی او مفهوم او په دويم مبحث کې د ملي او بين المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسير د اصولو پرتليزه څېړنه باندې بحث شوی.

## د موضوع مساله

د ملي او بين المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسير د اصولو پرتليزه څېړنه په خپل ذات کې يوه نوې موضوع ده، ځکه د دې موضوع د بشپړولو تر مودې پورې مشخصا تر همدې عنوان لاندې په دې اړه څه نه وو ليکل شوي؛ پر همدې بنسټ لازمه مو وبلله چې د ملي او بين المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسير د اصولو پرتليزې څېړنې تر عنوان لاندې موضوع وڅېړم.

دا چې د معاهداتو د تفسير د اصولو په مورد کې ملي او بين المللي حقوقو کوم ابهامات او نيمگړتياوې درلودې، هم د دې موضوع د بشپړولو تر وخته روښانه نه وې، چې د دې موضوع د بشپړولو په پايله کې واضح شوې او د حل لپاره يې لازمې سپارښتنې او وړانديزونه تر سره شول.

## د څېړنې اهميت

د بين المللي اختلافاتو يو عمده دليل د معاهداتو له تفسير څخه را پيدا شوې شخړې گڼل کېږي او له دې ناحيې څخه رامنځته شوې شخړې په هغه صورت کې حل کېدای شي، کله چې د معاهداتو تفسير د مشخصو، مسلمو او پېژندل شويو اصولو له مخې صورت ونيسي، نو دا چې د دې څېړنې له مخې د ملي او بين المللي حقوقو له

نظره د معاهداتو د تفسیر په اصولو باندې بحث شوی نو په خپل ذات کې دا یوه مهمه موضوع ګڼل کېږي.

دغه علمي څېړنه د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادانو، محصلانو، حقوقپوهانو او مقننینو لپاره هم مهمه ګڼل کېږي، ځکه د مسلکي، تخنیکي او وظیفوي حیثه دوی د یادې موضوع سره په مستقیم او غیر مستقیم شکل تړاو لري او اړ دي چې په دقیق او هر اړخیز شکل ورباندې پوه اوسي.

دا چې د معاهداتو د تفسیر اصول د بین المللي حقوقو د بحث یوه مهمه او اساسي موضوع تشکیلوي نو د دې علمي څېړنې په تر سره کولو سره د حقوقو یاده څانګه لا زیاته غني شوه او د بین المللي حقوقو او مسلک استادانو او محصلانو چې په دې اړه کومې ستونزې او پوښتنې درلودې هغه په ښه شکل روښانه شوې.

**د موضوع د اختیار سببونه**

(د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسیر د اصولو پرتلیزه څېړنه) نظر لاندې دلایلو ته ما د خپلې علمي ـ څېړنیزې مقالې لپاره غوره کړه.

۱. د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د معاهداتو تفسیر اصولو موضوع باندې تر اوسه کوم مستقله علمي څېړنه، نه ده تر سره شوې، نو ځکه ما د خپل بحث لپاره غوره کړه.

۲. د دې څېړنې تر سره کول د حقوقي علومو استادانو، محصلانو، مقننینو او حقوقپوهانو د علمي سویې د لوړولو لپاره هم ممد واقع کېږي، نو ځکه ما د خپلې څېړنې لپاره غوره کړه.

۳. له بلې خوا زه د عمومي بین المللي حقوقو د مسایلو سره ځانګړې علاقه لرم چې د حقوقو د یادې څانګې یو مهم بحث (د معاهداتو د تفسیر اصول) تشکیلوي چې د نهو کلونو راپدیخوا په پوهنتون کې دا موضوع تدریسوم، نو د دې موضوع د غوره

کولو یو سبب دا هم کېدای شي چې زه په اړونده موضوع کې کافي معلوماتو او موادو ته لاس رسی لرم.

## د موضوع د څېړنې موخې

دغه علمي څېړنه چې (د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسیر د اصولو پرتلیزې څېړنې) سرلیک لاندې څېړل شوې، اساسي موخې په لاندې ډول دي.

۱. د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسیر اصول پېژندل.

۲. په ملي او بین المللي حقوقو کې د معاهداتو د تفسیر اصولو د اشتراک او افتراک نقاطو معلومول.

۳. د هغو نیمګړتیاو او نواقصو په ګوته کول، کوم چې ملي او بین المللي حقوق یې د معاهداتو د تفسیر د اصولو په مورد کې لري.

**پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه**

(د ملي او بین المللي حقوقو له نظره د معاهداتو د تفسیر د اصولو پرتلیزه څېړنه) موضوع باندې کومه مستقله علمي څېړنه، نه ده تر سره شوې که څه هم د بین المللي حقوقو په اکثریت کتابونو کې په دې اړه بحثونه وجود لري ولې ډېره عمومي او محدوده بڼه لري. لکه د محمد رضا ضیایی بیگدلی (د معاهداتو حقوقو) په نوم کتاب کې د معاهداتو د تفسیر اصول په عمومي شکل د بحث لاندې نیول شوي؛ همدارنگه هوشنگ مقتدر په نوم لیکوال هم د (حقوق بین الملل) په نوم کتاب کې د معاهداتو د تفسیر اصول ډېر په محدوده بڼه د بحث لاندې نیولي؛ د دې تر څنگ د رابرت بلدسو او بوسچک له خوا (فرهنگ حقوق بین الملل) په نوم د انگلیسي ژبې په کتاب کې چې د بهمین اقایی له خوا فارسي ژبې ته ژباړل شوی د معاهداتو د تفسیر اصول مجملا څېړلي؛ همدارنگه د انتونیو کاسسه له خوا د (حقوق بین الملل) په نوم کتاب کې د ذکر شوې موضوع په مورد کې د ځینو مسایلو یادونه کړې؛ د دې علاوه د نگوین کلکه دین، پاتریک دینه او والن پله له خوا د (حقوق بین الملل عمومی) په نوم کتاب کې چې د حسن حبیبي له خوا فارسي ژبې ته ژباړل شوی د معاهداتو د تفسیر د اصولو په اړه عمومي حکمونه ذکر کړي.

د پورته توضیحاتو په پایله کې دا حکم کولای شو چې په ذکر شوو اثارو او کتابونو کې د معاهداتو د تفسیر د اصولو په اړه عمومي او مجمل بحث شوی ولې په دې مقاله کې ذکر شوې موضوع هر اړخیزه، تفصیلي او په پرتلیز شکل څېړل شوې ده.

**د موضوع د لیکلو کړنلاره**

د دې څېړنې د تر سره کولو لپاره د کتابتوني کړنلارې څخه گټه اخیستل شوې ده، د دې سره په خوا کې د دې مقالې په ترتیب او تنظیم کې لاندې اصول په پام کې نیول شوي دي:

۱. وروسته له دې چې معلومات مو راټول کړل بیا مو په دوه مبحثونو وویشل.

۲. د معلوماتو په راټولونه کې د معتبرو کتابونو او اخځلیکونو څخه استفاده شوې ده.

۳. هره موضوع په خپل ځای کې تحلیل شوې او مثبت او منفي اړخونه یې روښانه شوي د دې لپاره چې په راتلوونکي کې د لوستوونکو د ذهنیت د ګډوډۍ باعث ونه ګرځي.

۴. د موضوعاتو په تحلیل کې مې خپله پوره بې طرفي ساتلې او د هر راز تعصب څخه مې ډډه کړې، څو په پوره عدل او انصاف سره د موضوع ټول اړخونه روښانه شي.

۵. د موضوعاتو د ترتیب پر مهال د مراتبو سلسله په پام کې نیول شوې هغه موضوعات چې لومړی راتلل په لومړي سر کې ځای پر ځای شوي او کوم موضوعات چې وروسته راتلل وروسته ځای پر ځای شوي، چې دا کار له یوې خوا د موضوعاتو په تنظیم کې رول لري او له بلې خوا د موضوع په زده کړه او پوهاوي کې مرسته کوي.

## لومړی مبحث: عمومیات

په دې عنوان کې د معاهداتو د تفسیر لغوي او اصطلاحي معنی او مفهوم څېړو.

### لومړی مطلب: د تفسیر لغوي معنی

تفسیر د عربي ژبې کلمه ده چې اصل یې فسر دی. (۲۱: ۱۷۰) او فسر لاندې معناوې لري:

۱. د مشکل او مبهم لفظ څخه معنی اخیستل.

۲. بیانول.

۳. روښانه کول.

۴. د پټ امر ښکاره کول.

۵. د مجمل تشریح کول او داسې نورې معناوې لري. (۴: ۴۰۲)

د قرانکریم له نظره د تفسیر کلمه د پټو الفاظو ښکاره کولو او کشف کولو ته ویل کیږي. (۴: ۴۰۲)، لکه الله تعالي جل جلاله فرمایلي:

(ولا يأتونك بمثل إلا جئناك بالحق وأحسن تفسيرا). (سورت الفرقان، ایت: ۳۳)

ژباړه: او نه کوي دوی راتله تاته کوم مثل (یعنې نه راوړي تاته سوال عجیب په ابطال د دین سره) مګر راوړو موږ تاته (جواب د هغه په واقع او) په حق سره او ډېر ښه تفسیر بیان. (۶: ۳۶۰- ۳۶۱)

یعنې کله چې غیر مسلمانان په قرانکریم او یا په تاسو کوم اعتراض کوي نو قرانکریم هغوی ته ډېر واضحه او ښکاره ځواب ورکوي (په هغې کې هیڅ ډول ابهام موجود نه وي بلکې روښانه، څرګند او واضحه وي). (۶: ۳۶۱)

د پورته توضیحاتو په نظر کې نیولو سره تفسیر په لغت کې روښانه کولو، بیانولو، واضح کولو او د مبهم او مشکل لفظ څخه په اسانه توګه فهم اخیستلو ته وایي. (۴: ۴۰۳)

**دویم مطلب: د معاهداتو د تفسیر اصطلاحي تعریفات**

له اصطلاحي اړخه د معاهداتو د تفسیر لپاره زیات تعریفات شوي دي، چې تقریبا د ټولو محتویات یو شی دي، یوازې الفاظ یې سره توپیر لري.

**لومړی تعریف:** فرانسوي حقوقدانان شارل روسو تفسیر په دې ډول تعریف کړی دی: (د معاهداتو تفسیر هغه عملیه ده، چې د یوې معاهدې مبهم او مشکل الفاظ

توضيح کوي او په پاپله کې يې د معاهدې د متن دقيقه معنی او د تطبيق ساحه مشخص کېږي). (۱۲: ۳۲)

د تفسير په مورد کې د شارل روسو پورتنی تعريف نيمګړی دی؛ ځکه تفسير يوازې د مبهمو او مشکلو الفاظو توضيح کولو ته نه ويل کېږي؛ بلکې د تفسير کلمه ډېره وسيع او پراخه مفهوم لري، پر همدې بنسټ په دويم تعريف باندې بحث کوو.

**دويم تعريف:** السنهوري تفسير داسې تعريف کړی دی: (د مبهمو کلمو واضح کول، د نصوصو قيد کول، په حکم کې د نيمګړتيا پوره کول او د متناقضو الفاظو د مشابهتونو او توپيرونو توضيح کولو ته تفسير ويل کېږي).

د تفسير په مورد کې د السنهوري تعريف يو غوره تعريف ګڼل کېږي، نظر په لاندې دلايلو:

**لومړی دليل:** په پورتني تعريف کې د تفسير د کلمې معنی او مفهوم په دقيق او هر اړخيز شکل تصريح شوی دی.

**دويم دليل:** پورتنی تعريف، ځکه غوره دی، چې عيني کلمې په کې نه دي تکرار شوي.

**درېيم دليل:** د يوې حقوقي قاعدې تفسير په دې خاطر صورت نيسي، چې تطبيق يې اسانه او سريع شي، نو که چېرته د پورتني تعريف په نظر کې نيولو سره حقوقي قواعد تفسير، شي نو ذکر شوې موخه به په ښه شکل تحقق پيدا کړي، نو ځکه دا تعريف غوره او راجح ګڼل کېږي.

پورتنيو تعريفاتو ته په کتلو تفسير لاندې ځانګړنې لري:

**لومړۍ ځانګړنه:** د پورته تعريفاتو څخه معلومېږي، چې تفسير اعلاميي ماهيت لري، نه تاسيسي، ځکه د تفسير په ذريعه يوازې د مخکينۍ حقوقي قاعدې دقيقه او کامله معنی اعلانېږي او د نوې قاعدې د ايجاد موجب نه ګرځي. (۱۴: ۱۵۳)

**دويمه ځانګړنه:** اصولاً تفسير ماقبل ته رجعت کوي يعنې د مربوطه حقوقي قاعدې د وضع کولو له نېټې څخه تفسير د تطبيق وړتيا پيدا کوي. (۱۴: ۱۶۰)

**درېيمه ځانګړنه:** که چېرته د تفسير لغوي او اصطلاحي تعريفاتو ته متوجه شو، نو د هغې په موجب تفسير او تاويل يوه معنی لري او د دوی تر منځ کوم توپير وجود نه لري، چې په دې اړه د قرانکريم لاندې ايت دليل کيداې شي:

الله تعالي جل جلاله فرمايلي: (وما يعلم تأويله إلا الله). (سورت ال عمران، ايت: ۷)

**ژباړه:** حال دا چې نه پوهېږي (په حقيقي معنی) او مطلب د هغه مګر الله تعالی جل جلاله (چې دغه متشابهات هم لکه نور ټول شيان ورته معلوم دي). (۶: ۲۴۸)

مګر يو شمير علماء لکه (امام راغب اصفهاني(رحمة الله عليه) او جرجاني (رحمة الله عليه) وايي، چې تفسير او تاويل سره توپير لري. (۴: ۴۰۷)، چې ياد توپيرونه په لاندې توګه ذکر کوو.

**۱. توپير:** امام راغب اصفهاني (رحمة الله عليه) وايي: تفسير عام دی او تاويل خاص دی، تفسير اکثرا د الفاظو لپاره کارول کېږي او تاويل اکثرا د معاينو او مقاصدو لپاره استعمالېږي. (۴: ۴۰۸)

**۲. توپير:** جرجاني (رحمة الله عليه) وايي: د قرانکريم د ايتونو د نزول د اسبابو او د يوې واقعې په اړه ذکر او بيان ته تفسير ويل کېږي، ولې د قرانکريم د ايتونو څخه د يوې داسې معنی اخيستل، چې د هغې امکان او احتمال موجود وي او د هغه ايت د

سیاق او سباق سره برابر وي او هم د قران او سنتو مخالف نه وي، دې ته تاويل ويل کېږي؛ يعنې دوى وايي، چې تفسير په نقل سره کېږي، خو تاويل په عقل او درايت سره کېږي (تفسير په اورېدلو سره کېږي او تاويل په استنباط سره کېږي). (۴: ۴۰۹)

**۳. توپیر:** تفسير د داسې لفظ بيانول او ښکاره کول دي، چې د يوې معنى احتمال لري او تاويل بيا د زياتو معنى گانو احتمال لري، چې يوه معنى يې بيا په قرينې سره راجح گڼل کېږي. (۴: ۴۱۰)

**څلورمه ځانگړنه:** تفسير د يوې حقوقي قاعدې تطبيق او اجرا اسانه او سريع کوي او غالبا د مربوطه قاعدې د تطبيق لپاره يو شرط گڼل کېږي، يعنې که يوه حقوقي قاعده تفسير ته اړتيا ولري، نو پرته له تفسير څخه يې تطبيق ستونزمن او حتى ناممکن دى، د يوې حقوقي قاعدې تفسير ته بالعموم په لاندې مواردو کې اړتيا پيدا کېږي. (۱۴: ۱۵۴)

**الف:** د کلماتو او االفاظو د ابهام په صورت کې: يعنې کله چې د يوې حقوقي قاعدې د متن الفاظ او کلمات مبهم وي، نو د دغو مبهمو الفاظو د روښانه کولو لپاره تفسير ته اړتيا ليدل کېږي. (۲۳: ۱۸۱)

ب: د حقوقي قاعدې د سکوت په صورت کې: يعنې کله چې يوې حقوقي قاعدې د يوې موضوع په اړه سکوت غوره کړى وي او د مربوطه موضوع متعلق پکې کوم نص نه وي ذکر شوى، نو په دې حالت کې هم اړتيا ليدل کېږي، چې حقوقي قاعده تفسير شي. (۲۳: ۱۸۱)

**ج:** د حقوقي متنونو د تناقض او تعارض په صورت کې: يعنې کله چې حقوقي متنونه په خپل منځ کې سره ټکر ولري، نو د دغه ټکر او تعارض د رفع کولو لپاره هم اړتيا ده چې مربوطه حقوقي قواعد تفسير شي. (۲۳: ۱۸۲)

**د:** د مجملو الفاظو او عباراتو د توضيح کولو او تشريح کولو لپاره: يعنې که چېرته د يوې حقوقي قاعدې الفاظ او عبارت مجمل وي، نو د دغو مجملو الفاظو او عباراتو د روښانه کولو او واضح کولو لپاره هم تفسير ته اړتيا ليدل کېږي. (۲۳: ۱۸۲)

**تبصره**

په ملي او بين المللي حقوقي اسنادو کې د معاهداتو د تفسير ماهيت نه دی واضح شوی، چې دا د ذکر شوو حقوقي اسنادو يوه عمده خلا ګڼل کېږي، پر همدې بنسټ موږ په خپله څېړنه کې د معاهداتو د تفسير د ماهيت د روښانه کولو لپاره د فقهاوو او حقوقدانانو نظرياتو ته مراجعه وکړه.

**دويم مبحث: د معاهداتو د تفسير اصول**

د معاهداتو د تفسير ذيصلاح ارګانونه بايد خپل استدلال په ثابتو قواعدو استوار کړي، چې معمولاً هغې ته (د تفسير مسلم قواعد او اصول) ويل کېږي، دغه اصول د معاهداتو د تفسير د ذيصلاح ارګانونو لپاره عملي او ګټور لارښود ګڼل کېږي، يا په بل عبارت که د تفسير مرجع هر څوک وي، نو د تفسير پر مهال بايد دغه قواعد او اصول په نظر کې ونيسي. د حسن نيت اصل، د انصاف اصل، د عادي او متداولو معناوو اصل، د معاهدې د موضوع او هدف د رعايت اصل، د معاهدې د عبارت سياق ته د توجه اصل، د ګټور توب اصل، د بين المللي حقوقو د قواعدو د رعايت اصل، د تفسير د نه اړتيا اصل. (۱۴: ۱۶۴)

د معاهداتو د تفسير پورتني اصول په ملي او بين المللي حقوقو کې په لاندې ترتيب سره څېړو.

**لومړی مطلب: د حسن نيت اصل**

حسن نيت د حقوقو د کلي اصولو له جملې څخه دی، چې د ريښتينولۍ، صراحت او عدالت څخه سرچينه اخلي او نن ورځ د نړيوالو اړيکو يو مهم اصل ګڼل کېږي.

يعنې د دې اصل پر بنسټ دولتونه او بين المللي سازمانونه بايد د بين المللي همکارۍ د پراختيا او د نړۍ د سولې او ثبات د ټينګښت لپاره يو له بل سره په اړيکو کې د ريښتينولۍ، روڼوالي او عدالت پر بنسټ چلند وکړي. د حسن نيت ځانګړنه همدا ده، هغه شی چې اصل او له فريب څخه خالي وي او موخه يې هماغه څه وي څه ډول چې ويل کيږي. (۱۲: ۱۱۴)

حسن نيت دوه اړخونه لري، چې لومړی اړخ يې د شخص په باور او اعتماد باندې ولاړ دی يعنې شخص چې کوم کار تر سره کوي په دې تصور چې دا کار قانوني، مشروع او جايز دی او دويم اړخ يې له نورو سره په اړيکو کې د هغوی د حقوقو او منافعو په نظر کې نيول دي، د حسن نيت په مقابل کې سوئ نيت قرار لري، سوئ نيت دې ته ويل کيږي، چې يو شخص د معقول دليل پرته داسې يو عمل تر سره کوي، چې د هغې په پايله کې د نورو حقوقو او امتيازاتو ته زيان رسيږي يا له منځه ځي. (۲۱: ۲۱۵)

د ملګر ملتونو منشور د ۲ مې مادې په دويم بند کې راغلي: (د دې لپاره چې د غړيتوب له حقوقو څخه ټول غړي په مساوي توګه ګټه تر لاسه کړي، ټول ارکان په ښه نيت سره هغه دندې سرته رسوي، چې د دې منشور په موجب په هغوی باندې ايښودل کيږي). (۱۰: دويمه ماده)

يعنې د پورتنۍ مادې له متن څخه معلوميږي، چې دولتونه په نړيواله سطحه له يو اړخه حقوق لري او له بله اړخه وجايب، چې بايد خپل مربوطه وجايب په حسن نيت سره اجرا کړي؛ ځکه په دې سره د دولتونو تر منځ د اعتماد او باور فضاء پياوړې کيږي، که دغه وجايب د سوئ نيت له مخې اجرا شي، نو د دولتونو تر منځ د اعتماد او باور فضاء جريحه داره کيږي، چې امکان لري د نړۍ سوله او ثبات په خطر کې وغورځيږي. (۵: ۱۲۰)

د افغانستان د مدني قانون په ۶۹۷ ماده کې راغلي: ( قرارداد په هاغه ډول نافذېږي چې حسن نيت يې تقاضا کوي). همدارنګه د مدني قانون په نهمه ماده کې راغلي: (يو شخص هغه وخت مسول ګڼل کېږي، چې د شخص ګټې نسبت هغه ضرر ته چې بل ته يې رسوي، جزيي وي). (۱۶: ۶۹۷ ماده)

يعنې د مدني قانون د ۹ مې مادې له مخې که چېرته يو شخص د خپلو جزيي ګټو د تحقق لپاره نورو ته لوی ضرر پېښوي، نو په دې صورت کې شخص ته مسؤليت راجع کېږي او همدې ته سوئ نيت ويل کېږي، چې د حسن نيت په مقابل کې قرار لري.

حسن نيت په مذاکراتو، د معاهداتو د مسودو په تهيه او تنظيم، د معاهداتو په لاسليک او د معاهداتو په اجرا او تفسير کې عمده رول لري، پر همدې بنسټ د ويانا د ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو د حقوقو د کنوانسيون په ۱۸ ماده کې راغلي: (هغه هېوادونو يا بين المللي سازمانونو، چې معاهده يې لاسليک کړې، ولې تصويب يا تصديق کړې يې نه وي، د داسې اعمالو مرتکب بايد نه شي، چې د معاهدې د موضوع او هدف سره په ټکر کې وي، حد اقل تر هغه وخته پورې چې د دوی موقف د معاهدې د تصويب/ تصديق يا رد په هکله واضح شوی نه وي). (۸: ۱۸ ماده)

که څه هم په پورتنۍ ماده کې صريحا د حسن نيت ذکر نه دی شوی، ولې تصريح شوي چې د معاهدې لوري بايد د هغو اعمالو له ارتکاب څخه ځان وساتي کوم چې د معاهدې د موضوع او هدف سره په ټکر کې وي، چې دا عبارت ضمنا د حسن نيت معنی او مفهوم ورکوي.

همدارنګه د ذکر شوي کنوانسیون په ۲۶ ماده کې راغلي: (هره لازم الاجرا معاهده لوري ملتزم کوي او باید د هغوی له خوا د حسن نیت پر بنسټ اجرا شي). (۸: ۲۶ ماده)

پورتنی حقوقي متن د معاهدې لوریو ته دوه مکلفیتونه راجع کوي: (د معاهدې د اجرا تعهد، د معاهدې اجرا په حسن نیت سره)، چې دویم ډول مکلفیت یعنې د حسن نیت اصل د معاهدې لوري ملزم کوي، چې معاهده په داسې شکل اجرا کړي چې د هغې په پایله کې د معاهدې هدف په ښه شکل تحقق ومومي. (۱۹: ۲۵۵)

د ویاناد ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو د حقوقو د کنوانسیون د ۳۱ مې مادې په لومړي بند کې راغلي: (یو معاهده باید د حسن نیت، عادي او معمول معناوو او هغو اصطلاحاتو له مخې تفسیر شي کوم، چې د معاهدې د عبارت د سیاق، موضوع او هدف سره مطابقت ولري). (۸: ۳۱ ماده)

د پورتنۍ مادې په موجب حسن نیت دې ته ویل کیږي، چې معاهده باید په هغو اصطلاحاتو او معناوو سر تفسیر نشي کوم، چې د معاهدې د یو لوري حقوق او امتیازات محدودوي، یا یې له منځه وړي یا د هغې په پایله کې د معاهدې یو لوری غیر عادلانه امتیازات لاس ته راوړي، همدارنګه د معاهداتو د تفسیر پر مهال د حسن نیت اصل په نظر کې نیول د معاهدې په لوریو باندې د نویو تعهداتو د تحمیلولو مخنیوی کوي.

نو فلهذا حسن نیت هغه عادلانه، معقول او صادقانه چلند ته ویل کیږي، چې د معاهدې لوري او حتی دریېمګړي اشخاص یې یو له بل څخه د کولو توقع لري، یا په معاهداتو کې حسن نیت دې ته ویل کیږي، چې د معاهدې لوري یو د بل په مقابل کې عادلانه او صادقانه چلند وکړي او معاهده په داسې شکل تفسیر نه کړي چې د هغې له مخې یو لوری غیر عادلانه امتیازات لاس ته راوړي، که چېرته

معاهدات د سوئ نیت پر بنسټ تفسیر شي، نو تفسیر کوونکی عامل/عاملینو ته نړیوال مسؤلیت راجع کیږي. (۱۱: ۳۲۰)

**دویم مطلب: د انصاف اصل**

انصاف په حقوقي علومو کې د هغو قواعدو او مقرراتو ټولګه ده، چې په لوړو او عالي اخلاقي نورمونو باندې ولاړ وي او د اصلي حقوقي قواعدو تر څنګ قرار ولري او د حقوقي قواعدو د مقید کولو او تخصیص وړتیا ولري. مثلاً که د عدالت غوښتنه دا وي، چې پوروړی باید خپل پور پرې کړي، انصاف وایي چې فقیر او بې وزله اشخاص دې په مهلت سره او یا د قسطونو په شکل خپل پور ورکړي. (۲۱: ۹۴)

د انصاف اصل هم د حسن نیت په څېر یوازې د معاهداتو په تفسیر پورې مختص نه دی، بلکې د بین المللي حقوقو او اړیکو ټول ساحات تر پوښښ لاندې نیسي، د معاهداتو د تفسیر پر مهال د انصاف د اصل تقاضا دا ده، چې د هر ډول نابرابرۍ، بې عدالتۍ او تبعیض څخه باید ډډه وشي، که چېرته د معاهداتو د تفسیر پر مهال د انصاف اصل په نظر کې ونه نیول شي، نو بناء دا ډول تفسیر بې طرفه او صحیح نه ګڼل کیږي. (۱۴: ۱۶۴)

د لاهې د ۱۹۰۷ م کنوانسیون په اومه ماده کې راغلي: (که چېرته شخړې په لومړۍ مرحله کې د معاهداتو او عرف په موجب حل وفصل نشي، نو د عدالت بین المللي محکمه د حقوقو د کلي اصولو او انصاف له مخې تصمیم نیسي). (لاهې ۱۹۰۷، اکتوبر ۱۸ مې نېټې د سولې معاهدات: اومه ماده)

د پورتني حقوقي متن څخه معلومیږي، چې انصاف یوه مستقله حقوقي منبع ده او د حکم د صدور په وخت کې په یوازې شکل په نظر کې نیول کیږي، همدارنګه د پورتنۍ مادې له مخې انصاف د معاهداتو او عرف څخه وروسته په دریمه طبقه کې قرار لري. (۳: ۲۲۰)

د عدالت د بین المللي محکمې د اساسنامې د ۳۸ مادې د دویم بند په موجب یاده محکمه د دعوې د لوریو په غوښتنه کولای شي د انصاف د اصولو له مخې حکم صادر کړي. (۷: ۳۸ مې مادې دویم بند)

د پورتني ذکر شوي حقوقي متن څخه معلومېږي، چې انصاف د بین المللي حقوقو یوه مستقله منبع نه ده، بلکې یوه ځانګړې منبع ده، چې په خاصو قضایاو او د دعوې د لوریو د توافق په صورت کې د اعمال وړ ده، یعنې د عدالت بین المللي محکمه مستقیما د انصاف د اصولو له مخې حکم نه شي صادرولای مګر دا چې د دعوې لوریو په دې اړه مخکې توافق کړی وي. (۲: ۲۱۶)

د انصاف اصل په بین المللي حقوقو کې په دریو شکلونو ظهور کوي:

۱. د حقوقو د خلاء د تکمیل لپاره: په ځینو مواردو کې د یوې موضوع حل په حقوقو کې نه وي پیش بیني شوی، نو په دې حالت کې د انصاف اصل ته مراجعه کېږي او د دې له مخې مربوطه شخړه حل وفصل کېږي. (۱۱: ۸۵۵)

۲. د حقوقو احاله انصاف ته: په ځینو مواردو کې یوه حقوقي قاعده مستقیما انصاف ته مراجعه کوي، دغه احاله امکان لري د یوې معاهدې له طریقه صورت ونیسي. (۱: ۶۷)

۳. د حقوقو د تعدیل او تصحیح لپاره: مثلا یو دولت ته خساره اوښتې، ولې له حقوقي پلوه متضرر دولت د خسارې د جبران تقاضا نشي کولای، نو په دې صورت کې د دعوې د اړخونو د توافق له مخې قاضي یا داور(حکم) د انصاف پر بناء متضرر اړخ ته د خسارې د جبران غوښتنه کوي. (۱۱: ۸۶۰)

**درېيم مطلب: د عادي او معمولو معناوو مطابق تفسير**

د معاهداتو د تفسير پر مهال يو اصل دا دی، چې د معاهدې د کلماتو او اصطلاحاتو څخه داسې معنی واخيستل شي، چې ساده، عادي او معمول وي؛ مگر دا چې د معاهدې لوريو د معاهدې د کلماتو او اصطلاحاتو لپاره ځانگړې او غير معمولې معناوې ذکر کړې وي، پر همدې بنسټ په اکثره معاهداتو کې يوه ماده د اصطلاحاتو د معنی کولو لپاره اختصاص (Use of Terms) کېږي. (۱۴: ۱۶۵)؛ لکه د ويانا د ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو د حقوقو د کنوانسيون ۲ ماده او د ويانا د ۱۹۶۳ م کال د کونسلي اړيکو کنوانسيون لومړۍ ماده د اصطلاحاتو د معنی لپاره اختصاص شوې ده. (۱۴: ۱۶۵)

د اصطلاحاتو د عادي او معمول والي لپاره زماني قيد د معاهداتو د تړون(انعقاد) مهال دی، نه د معاهداتو د اجرا مهال، مگر دا چې د معاهدې لوري د معاهداتو د انعقاد پر مهال بل ډول توافق کړی وي او يا داسې اصطلاحات او کلمات يې کارولي وي، چې د تحولاتو تابع وي، يعنې د هرې زمانې د شرايطو سره مطابقت حاصلوي. (۱۴: ۱۶۵)

د افغانستان د مدني قانون په ۷۱۱ ماده کې راغلي: (په خبره عمل کول د هغې د پرېښودو څخه ښه دي، څو چې خبره په يوې معنی حمليدای شي د هغې پرېښودل جواز نه لري، که يې عمل کول متعذر شو نو پرېښودل کېږي). (۱۶: ۷۱۱ ماده)

د ويانا د ۱۹۶۹ م او ۱۹۸۶ م د معاهداتو د حقوقو کنوانسيونونو په ۳۱ مادې په څلورم بند کې راغلي: (يوه معاهده بايد په عادي او معمولو معناوو او د هغو اصطلاحاتو له مخې تفسير شي کوم، چې د معاهدې د عبارت د سياق، موضوع او هدف سره مطابقت ولري. لومړی بند؛ که چېرته ثابته شي، چې د معاهدې د لوريو قصد د يوې اصطلاح څخه ځانگړې معنی وي، نو په دې صورت کې د ذکر شوې اصطلاح لپاره هماغه ځانگړې معنی غوره کېږي. (۸ او ۹: ۳۱ مې مادې)

د عدالت بین المللي محکمې په ۱۹۶۱ م کال کې داسې اعلام وکړ: (د معاهدې اصطلاحات باید په ساده، عادي او معمولو معناوو سره تفسیر شي). (۱۴: ۱۶۵)

**ځلورم مطلب: د معاهدې د موضوع او هدف د رعایت اصل**

د هرې معاهدې د موجودیت دلیل د هغې معاهدې موضوع او هدف تشکیلوي، که چېرته یوه معاهده موضوع او هدف ونه لري نودغه معاهده هیڅ معنی او مفهوم نه لري. البته امکان لري یوه معاهده متفاوت موضوعات او هدفونه ولري چې د معاهداتو د تفسیر پر مهال دې ته توجه کول مهم ګڼل کیږي. (۱۴: ۱۶۶)

د ویانا د ۱۹۶۹م او ۱۹۸۶ م کلونو د معاهداتو حقوقو کنوانسیونونو د ۳۱ مادې په لومړي بند کې راغلي: (د معاهدې د اصطلاحاتو تفسیر باید د هغې د موضوع او هدف په نظر کې نیولو سره صورت ونیسي). (۸او ۹: ۳۱مې مادې)

**پنځم مطلب: د معاهدې د عبارت سیاق ته د توجه اصل**

سیاق د عربي ژبې کلمه ده، چې د روانولو، د حیوان د روانولو، فحوی، د مطلب د ربط، د کلماتو د ګنډولو، قرینې یا قراینو، د مطلب د ابتداء او خبر، د کلماتو څخه د مفهوم اخیستلو او داسې نورو معناوو راغلی دی. (۱۴: ۱۶۶)

او په اصطلاح کې سیاق عبارت له هغو قراینو څخه دی، چې د مضمون په مقصود او مراد باندې دلالت وکړي، یا د معاهدې د مختلفو موادو او شرایطو تر منځ منطقي تړاو ته سیاق ویل کیږي. (۱۴: ۱۶۶)

د معاهدې د عبارت سیاق کولای شو د ژبې اصولو ته په پام سره، د بین المللي حقوقي نظام جوړښت او د مقرراتو د کارونې طریقې ته په کتلو استنباط کړو.

(۱۴: ۱۶۶)

اسلامي فقهې د الفاظو، عباراتو او مفاهیمو د تفسیر لپاره یو لړ اصول وضع کړي دي، که څه هم دغه اصول د شرعي نصوصو د تفسیر لپاره دي، ولې مونږ کولای شو چې د قوانینو او معاهداتو د تفسیر لپاره هم ورڅخه ګټه واخلو.

د فقهې له نظره د عبارت سیاق په لاندې طریقو استنباط کولای شو.

**عبارت النص:** دا د هغه مفهوم او معنی څخه عبارت دی، چې د نص په وضع کولو کې د شارع مراد وي او هغه د نص له صیغې څخه معلومیږي، څکه چې شارع د خپل مطلب لپاره داسې الفاظ او عبارتونه غوره کوي، چې په څرګند ډول عرض او مطلوب افاده کړي او په وضاحت سره وربانديې دلالت کوي یا یې په داسې شکل الفاظ او کلمات تنظیموي، چې یوازې په اوریدلو سره هغه مقصوده معنی ترې معلومیږي. (۱۸: ۱۷۷)

په دې اړه د افغانستان په مدني قانون کې راغلي: (په عقدونو کې د عقد د دواړو خواوو د ظاهري ارادې په نظر نیولو سره مقصودونو او معنی ګانو ته اعتبار ورکول کیږي نه لفظونو او حروفو ته). (۱۸: ۱۷۷)

**اشارت النص:** هغه مفهوم او معنی ته ویل کیږي، چې لفظ د هغې لپاره وضع شوی نه وي او یوازې د نص په اوریدلو معنی نشو استنباط کولای؛ مګر د نص یا د نص د ځینو الفاظو څخه په لازمي توګه یعنې د علامې له مخې څرګندیږي، نو بناء اشارت النص د نص د سیاق څخه مقصود نه دی؛ بلکې د هغه نص څخه په لازمي توګه څرګندیږي،لکه الله تعالی جل جلاله فرمایلي:

(لِلْفُقَرَاءِ الْمُهَاجِرِينَ الَّذِينَ أُخْرِجُوا مِن دِيَارِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا). (سورت الحشر، ایت: ۸)

**ژباړه:** دغه مالونه لپاره د فقیرانو هجرت کوونکو (هغه مهاجرین چې ایستل شوي دي)، دوی د کورونو خپلو او له اموالو څخه په دې حال کې چې طلبوي دوی فضل ښښنه مهرباني له الله جل جلاله او رضا د ده. (٦: ١٣٩٠)

د لته د نص عبارت د مهاجرو فقیرانو برخه ده او اشارت النص د دې نه عبارت دی چې له دوی څخه په خپلو سیمو کې کوم مالونه پاتې دي د هغې څخه یې لاس ختلی او د ملکیت څخه یې وتلي دي او دا معنی د دې څخه معلومیږي، چې دوی ته فقیران ویل شوي او د دوی د فقر لازمي معنی دا وه چې هغه مال یې په ملکیت کې نه دی پاتې. (١٨: ١٧٨)

**دلالت النص:** دا د هغه معنی او مفهوم څخه عبارت دی، چې د نص له روحیې څخه څرګندیږي مثلا که یو نص په کومه معنی باندې د کوم خاص علت له کبله دلالت کوي نور ټول هغه واقعات چې د هغه جنس څخه وي او هغه علت په کې موجود وي، هغه د نص د لالت د مفهوم لاندې دي؛ مګر په دې شرط که هغه نور واقعات د دې واقعې سره مساوي، یا د هغه حکم لپاره تر هغې واقعې دا واقعات زیات مورد او صلاحیت ولري. (١٨: ١٧٩)

لکه الله تعالی جل جلاله فرمایلي: ( فلا تقل لهما أف ولا تنهرهما وقل لهما قولا کریما). (سورت الاسراء، ایت: ٢٣)

**ژباړه:** او حکم فرمایلی رب ستا چې عبادت مه کوئ تاسې (د بل هیچا) مګر یوازې د همدغه الله جل جلاله او احسان کوئ له والدینو سره په احسان کولو سره او که چیرته هرو مرو ورسېد تا څخه زوړوالي ته یو له دې دواړو د دوی یعنې (مور او پلار) نو مه وایه ته دې دواړو ته (کلمه د) اف هم او مه رټئ دوی دواړه او ووایه دې دواړو ته خبره ادبناکه. (٦: ١٦١٦)

له پورته کلمې څخه معلومېږي، چې مور او پلار ته د اف د کلمې د ويلو څخه اولاد منع شوی دی او همدا عبارت د نص دی؛ مگر د دې ايت له مخې دلالت النص دا دی چې هر هغه شی چې مور او پلار ته په اذيت رسولو کې د دې کلمې سره برابر يا زيات دی هغه د دې نص د مفهوم لاندې داخل او حرام دی؛ مگر هغه چې ور سره برابر نه وي، نو هغه دلالت النص لاندې داخل نه دی او حرام نه گڼل کېږي.

(۱۸: ۱۸۰)

**اقتضاء النص:** د ا د هغه معنی او مفهوم څخه عبارت دی، چې نص يې تقاضا لري يعنې بې د دې معنی د تقدير څخه د نص عبارت نه صحيح کېږي.

لکه په دې ايت کې چې الله تعالی جل جلاله فرمايلي دي: حرمت عليکم أمهاتکم. (سورت النساء، ايت: ۲۳)

**ژباړه:** حرام کړی شوي دي پر تاسې ميندې ستاسې. (٦: ۴۵۰)

په دې ايت کې د نص اقتضاء څخه مراد نکاح ده يعنې د مور سره نکاح کول حرام دي.

**د مخالفت مفهوم:** دا د هغې معنی څخه عبارت دی چې د عبارت النص د مفهوم په خلاف د نص څخه معلومېږي، يا دا چې د نص قيود ترې لرې شي او بيا کومه معنی افاده کړي، هغه (مخالفت) يا د نص مخالف مفهوم دی، فقهاء وايي هر نص دوه دلالته لري يو هغه چې په خپل منطوق باندې دلالت کوي او بل د هغې ضد او نقيض باندې. (۱۸: ۱۸۰)

مثلا الله تعالی جل جلاله فرمايلي: أو دما مسفوحا. (سورت الانعام، ايت: ۱۴۵)

**ژباړه:** يعنې مسفوحا وينه حرامه ده. (٦: ۸۴۵)

مگر د نص مخالف مفهوم دا دی چې غير مسفوح وينه حرامه نه ده؛ بلکې مباح ده، که د نص د مفهومونو تر منځ ټکر رامنځ ته شي، نو عبارت النص په اشارت النص باندې ترجيح مومي، ځکه لفظ اصلا د عبارت النص لپاره وضع شوی دی او اشارت النص د شارع اصلي مقصود نه وي او نص څخه په لازمي توگه څرگندېږي، همدارنگه که چېرته د عبارت النص او اشارت النص ټکر د دلالت النص سره رامنځ ته شي، نو په دې صورت کې عبارت النص او اشارت النص ته ترجيح ورکول کېږي ځکه چې هغه دواړه د نص د لفظ څخه معلومېږي؛ مگر دلالت النص د لفظ څخه نه بلکې د نص د روحيې او منطوق څخه معلومېږي، که چېرته د اقتضاء النص سره دا نور مفاهيم په ټکر کې واقع شي نو اقتضاء النص ته ترجيح ورکول کېږي ځکه پرته له دې څخه اصلا نص نه صحيح کېږي. (۱۸: ۱۸۱)

**شپږم مطلب: د مفيديت او گټورتوب اصل**

د دې اصل له مخې مفسر بايد د ښه اجرا او تفسير په موخه معاهده تفسير کړي يعنې مفسر د معاهدې د مختلفو معناوو له جملې څخه هغه معنی بايد وټاکي، چې د معاهدې د مقرراتو د موثر اجرا موجب گرځي. (۱۴: ۱۶۷)

که څه هم د ويانا د ۱۹۶۹م کال او ۱۹۸۶ م کال د معاهداتو حقوقو په کنوانسيونونو کې د دې اصل يادونه نه ده شوې ولې د حسن نيت د اصل او د معاهدې د موضوع او هدف د رعايت د اصل څخه د معاهدې د مفيديت اصل استنباط کولای شو. (۱۴: ۱۶۸)

**اوم مطلب: د بين المللي حقوقو د قواعدو د رعايت اصل**

د ويانا د ۱۹۶۹ م کال د معاهداتو د حقوقو د کنوانسيون له مخې د معاهداتو په تفسير کې د بين المللي حقوقو اړوند هر هغه توافق په نظر کې نيول کېږي، چې د معاهدې د لوريو تر منځ د اجرا وړ وي، يعنې د معاهداتو اجرا او تفسير د بين المللي حقوقو د

اصولو له مخې صورت نيسي، دلته د بين المللي حقوقو له قواعدو څخه منظور د عدالت د بين المللي محکمې د اساسنامې په ۳۸ ماده کې د بين المللي حقوقو منابع دي ولې په دې شرط چې د اړونده معاهدې د تفسير سره تړاو ولري او په لوريو باندې لازم الاجرا ګڼل شوې وي، لکه د معاهداتو حقوقو کنوانسيونونه، يا د ملګرو ملتونو منشور. (۱۴: ۱۶۸)

اوس پوښتنه مطرح کېږي چې د معاهداتو د تفسير لپاره د معاهدې د انعقاد د وخت د بين المللي حقوقو قواعد په نظر کې نيول کېږي او که د بين المللي حقوقو پورې د اړونده قواعدو وروستي تحولات او تغيرات هم پکې په نظر کې نيول کېږي؟

په دې اړه دوه نظريې وجود لري د لومړۍ نظريې له مخې د معاهداتو په تفسير کې يوازې د معاهدې د انعقاد وخت د بين المللي حقوقو قواعد په نظر کې نيول کېږي ځکه د معاهدې لوريو د همدغو قواعدو له مخې معاهده منعقد کړې ده؛ ولې د دويمې نظريې له مخې هغه تغيرات او تحولات چې د معاهداتو د انعقاد وروسته په بين المللي حقوقو منځ ته راځي هغه هم بايد د معاهداتو د تفسير په وخت کې په نظر کې ونيول شي دا هماغه ديدګاه ده کومه چې د بين المللي حقوقو کميسون په خپله يوه طرحه کې وړاندې کړې وه او د معاهداتو د تفسير په مورد کې د بين المللي حقوقو د قواعدو په اړه کوم زماني قيد نه وو ايښی. (۱۴: ۱۶۸)

ولې لومړۍ نظريه غوره ښکاري ځکه د يو شمېر معاهداتو هدف د ثابتو حالاتو استقرار دی او د بين المللي حقوقو د نويو قواعدو او مقرراتو سره بايد مقاومت وکړي لکه سرحدي معاهدات يعنې د دې معاهداتو د تفسير په وخت کې بايد د معاهدې د وخت د بين المللي حقوقو قواعد په نظر کې ونيول شي، اما هغه معاهدات چې انعطاف منونکي او کلي مسايل او مفاهيم لري نو په دغو مسايلو او مفاهيمو باندې پوهېدل د بين المللي حقوقو د متحولو قواعدو په اساس امکان لري.

(۱۴: ۱۶۹)

د عدالت بين المللي محكمې هر يوه د پورته دوو نظريو څخه کارولې ده، لکه په ۱۹۶۶ م کال کې د جنوب لويديځې افريقا په قضيه او په ۱۹۹۴ م کال کې د چاد په وړاندې د ليبيا په قضيه کې د عدالت بين المللي محکمې د معاهدې د انعقاد د وخت شرايط په نظر کې ونيول او وروستيو تحولاتو ته يې ته توجه ونه کړه. اما په ۱۹۷۱ م کال د ناميبيا په قضيه کې د عدالت بين المللي محکمې خپل مشورتي نظر داسې اعلام کړ: (د يوې معاهدې اړوند هر بين المللي حقوقي سند د نوموړې معاهدې د تفسير په مورد کې د اجرا وړ دی)، نن ورځ همدا نظريه ډېره معموله ده. (۱۴: ۱۶۹)

**اتم مطلب: د تفسير د نه اړتيا اصل**

د دې اصل له مخې که چېرته د يوې معاهدې مقررات واضحه وي تفسير ته يې اړتيا نشته، د معاهداتو تفسير يوازې په هغه حالت کې صورت نيسي چې د معاهدې اصطلاحات مبهم او مجمل وي، يا د معاهدې مقرراتو د يوې موضوع په اړه سکوت غوره کړی وي، يا معاهدات د اړوند دولت د ملي حقوقو يا په بين المللي سطحه د دولت د نورو تعهداتو سره په تناقض کې واقع شي، دا اصل په دې خاطر وضع شوی تر څو هيوادونه د معاهداتو د تفسير په عنوان د معاهداتو د اجرا څخه فرار ونه کړي، د عدالت بين المللي محکمې د ۱۹۲۳ م کال د سپتمبر د ۵ نيټې په قضيه کې داسې اعلام وکړ :( هغه حقوقي متن چې ابهام يا خلا ونه لري نو متعهدين يې په اجرا باندې په هماغه شکل مکلف ګڼل کېږي په کوم شکل چې تصريح شوی وي. (۱۴: ۱۶۹ – ۱۷۰)

**پايله**

دغه علمي ـ څېړنيزه مقاله چې په ملي او بين المللي حقوقو کې د معاهداتو د تفسير د اصولو په پرتليزې څېړنې باندې تر سره شوې، له تکميل څخه يې لاندې پايلې لاس ته راغلې:

۱. د معاهداتو د تفسير ماهيت په ملي او بين المللي حقوقي اسنادو کې نه دی روښانه شوی چې دا د ذکر شوو حقوقي اسنادو یوه عمده خلاء ګڼل کېږي پر همدې بنسټ د معاهداتو د تفسير د ماهيت د وضاحت لپاره مونږ د فقهاوو او حقوقدانانو نظرياتو ته مراجعه وکړه.

۲. د معاهداتو تفسير ته بالعموم په څلورو مواردو کې اړتيا پيدا کېږي د کلماتو د ابهام په صورت کې، د متنونو تر منځ د تناقض په صورت کې، د مربوطه حقوقي متن د سکوت په صورت کې، د کلماتو او عباراتو د مجمل کيدو په صورت کې.

۳. د ويانا د ۱۹۶۹ م کال او ۱۹۸۶ م کال د معاهداتو حقوقو کنوانسيونونو ۳۱ ماده کې د معاهداتو د تفسير اصول تصريح شوي چې نوموړي اصول عبارت دي له: د حسن نيت اصل، د انصاف اصل، د عادي او معمولو معناوو مطابق تفسير، د معاهدې د موضوع او هدف د رعايت اصل، د معاهدې د عبارت سياق ته د توجه اصل، د بين المللي حقوقو د قواعدو د رعايت اصل، د تفسير د نه اړتيا اصل. چې د معاهداتو د تفسير اړوند ارګانونه د معاهداتو د تفسير پر مهال د پورته اصولو په رعايت مکلف ګڼل کېږي.

۴. د افغانستان په ملي حقوقو کې د معاهداتو د تفسير مرجع يوازې ذکر شوې او د معاهداتو د تفسير ماهيت، اصول، وسايل او روشونه پکې نه دي توضيح شوي چې دا د معاهداتو د تفسير اړوند د ملي حقوقي اسنادو يوه بنسټيزه خلاء ګڼل کېږي.

**مناقشه**

اسلامي فقهې د الفاظو، عباراتو او مفاهيمو د تفسير لپاره يو لړ اصول وضع کړي دي، که څه هم دغه اصول د شرعي نصوصو د تفسير لپاره دي ولې موږ کولای شو چې د قوانينو او معاهداتو د تفسير لپاره هم ورڅخه ګټه واخلو. د فقهې له نظره د عبارت سياق په لاندې طريقو استنباط کولای شو.

**عبارت النص:** دا د هغه مفهوم او معنی څخه عبارت دی چې د نص په وضع کولو کې د شارع مراد وي او هغه د نص له صيغې څخه معلومېږي ځکه چې شارع د خپل مطلب لپاره داسې الفاظ او عبارتونه غوره کوي چې په څرګند ډول عرض او مطلوب افاده کړي او په وضاحت سره  وربانديې دلالت کوي يا يې په داسې شکل الفاظ او کلمات تنظيموي چې يوازې په اوريدلو سره هغه مقصود معنی ترې معلومېږي.

**اشارت النص:** هغه مفهوم او معنی ته ويل کېږي چې لفظ د هغې لپاره وضع شوی نه وي او يوازې د نص په اوريدلو معنی نشو استنباط کولای مګر د نص يا د نص د ځينو الفاظو څخه په لازمي توګه يعنې د علامې له مخې څرګنديږي، نو بناء اشارت النص د نص د سياق څخه مقصود نه دی بلکې د هغه نص څخه په لازمي توګه څرګنديږي.

**دلالت النص:** دا د هغه معنی او مفهوم څخه عبارت دی چې د نص له روحيې څخه څرګنديږي مثلا که يو نص په کومه معنی باندې د کوم خاص علت له کبله دلالت کوي نور ټول هغه واقعات چې د هغه جنس څخه وي او هغه علت پکې موجود وي، هغه د نص دلالت د مفهوم لاندې دی مګر په دې شرط که هغه نور واقعات د دې واقعې سره مساوي، يا د هغه حکم لپاره تر هغې واقعې دا واقعات زيات مورد او صلاحيت ولري.

**اقتضاء النص:** د ا د هغه معنی او مفهوم څخه عبارت دی چې نص يې تقاضا لري يعنې بې د دې معنی د تقدير څخه د نص عبارت نه صحيح کېږي.

**د مخالفت مفهوم:** دا د هغې معنی څخه عبارت دی چې د عبارت النص د مفهوم په خلاف د نص څخه معلومېږي، يا دا چې د نص قيود ترې لرې شي او بيا کومه معنی افاده کړي، هغه (مخالفت) يا د نص مخالف مفهوم دی، فقهاء وايي هر نص دوه

دلالته لري يو هغه چې په خپل منطوق باندې دلالت کوي او بل د هغې ضد او نقيض باندې.

که چېرته د عبارت النص او اشارت النص ټکر د دلالت النص سره رامنځ ته شي نو په دې صورت کې عبارت النص او اشارت النص ته ترجيح ورکول کيږي ځکه چې هغه دواړه د نص د لفظ څخه معلوميږي مګر دلالت النص د لفظ څخه نه بلکې د نص د روحيې او منطوق څخه معلوميږي، که چېرته د اقتضاء النص سره دا نور مفاهيم په ټکر کې واقع شي نو اقتضاء النص ته ترجيح ورکول کيږي ځکه پرته له دې څخه اصلا نص نه صحيح کيږي.

**پايله اخيستنه**

د معاهداتو د تفسير ذيصلاح ارګانونه بايد خپل استدلال په ثابتو قواعدو استوار کړي چې معمولا هغې ته (د تفسير مسلم قواعد او اصول) ويل کيږي، دغه اصول د معاهداتو د تفسير د ذيصلاح ارګانونو لپاره عملي او ګټور لارښود ګڼل کيږي، يا په بل عبارت که د تفسير مرجع هر څوک وي، نو د تفسير پر مهال بايددغه قواعد او اصول په نظر کې ونيسي. د حسن نيت اصل، د انصاف اصل، د عادي او متداولو معناوو اصل، د معاهدې د موضوع او هدف د رعايت اصل، د معاهدې د عبارت سياق ته د توجه اصل، د ګټور توب اصل، د بين المللي حقوقو د قواعدو د رعايت اصل، د تفسير د نه اړتيا اصل.

په ملي حقوقي اسنادو کې د معاهداتو د تفسير د اصولو ذکر نه دی راغلی، خو دا چې د افغانستان په حقوقي نظام او د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون د ۱۲۱ مادې د حکم له مخې معاهدات د عادي قوانينو او قراردادونو په رديف کې راځي او د افغانستان په مدني قانون کې د قراردادونو د تفسير لپاره د ۷۰۵- ۷۲۹ مادې پورې اصول وضع شوي (نو که د افغانستان په حقوقي نظام کې د معاهداتو د تفسير لپاره همدغه تقنيني چوکاټ په نظر کې ونيسو، نو په دې صورت کې د

افغانستان ذیصلاح ارګانونه مکلف دي چې د معاهداتو د یو اړخیز تفسیر پر مهال همدغه اصول په نظر کې ونیسي).د ویانا د ۱۹۶۹ او ۱۹۸۶ م کلونو د معاهداتو د حقوقو د کنوانسیونونو په ۳۱ ماده کې ډېر په صراحت د معاهداتو د تفسیر اصول ذکر شوي، چې د معاهداتو د تفسیر ذیصلاح ارګانونه د معاهداتو د تفسیر پر مهال د دغو اصولو په منلو باندې مکلف ګڼل کیږي او که چېرته متذکره اصول د اړونده مراجعو له خوا د معاهداتو د تفسیر پر مهال په نظر کې ونه نیول شي، نو په دې صورت کې نوموړو مراجعو ته بین المللي مسوولیت راجع کیږي.

**وړاندیزونه**

د دې علمي ـ څېړنیزې مقالې په پای کې لاندې وړاندیزونه کوم او هیله لرم، چې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي استادان، محصلان، مقننین او حقوقپوهان ترې په خپله مسلکي او کاري ساحه کې ګټه پورته کړي.

۱. د بهرنیو چارو محترم وزارت او د عدلیې محترم وزارت ته مو وړاندیز دا دی، چې د افغانستان د بین المللي تړونونو او میثاقونو په قانون کې تعدیل راولي او د معاهداتو د تفسیر د تعریف، اصولو، وسایلو، روشونو او حقوقي اثارو په اړه مکمل او مفصل احکام پکې ذکر کړي، ځکه اوسمهال ذکر شوي موارد په یاد قانون کې نه دی تصریح شوي.

۲. د ویانا ۱۹۶۹ م او ۱۹۸۶ م کلونو د معاهداتو د حقوقو په کنوانسیونونو کې د معاهداتو د تفسیر ماهیت او ځانګړتیاوې نه دي روښانه شوي، نو بهتره به دا وي چې په دغو کنوانسیونو کې هم د معاهداتو د تفسیر اړوند احکام تکمیل شي.

۳. دا چې د معاهداتو د تفسیر اصول د عمومي بین المللي حقوقو یو مهمه موضوع ده پر همدې بناء د دې موضوع د ښه روښانه کولو لپاره دې د حقوقي علومو د استادانو، پوهانو او لیکوالانو له لوري نور لیکنې او څېړنې هم تر سره شي.

**اخځليکونه**

قرانکريم.

۱. اميدی، علي (نشته). حقوق بين الملل از نظريه تا عمل، تهران، گنج دانش.

۲. بانکر، جيمز او سام بانيټ (۲۰۱۷م). د افغانستان لپاره پر نړيوالو حقوقو سريزه. دويم چاپ، د افغانستان لپاره د حقوقو زده کړو پروگرام، د سټنفورډ د حقوقو پوهنځي.

۳. بلدسو ، رابرت او بوسچک. (۱۳۷۵هـ ش). فرهنگ حقوق بين الملل، چاپ اول، ترجمه: بهمين اقايی تهران: کتابخانه گنج دانش.

۴. بـن فـارس، احمـد (۱۳۹۹هــ ش). معجـم مقـاييس اللغـة ، جلـد (۴)، تحقيـق : عبدالسلام محمد هارون بيروت: دارالفکر.

۵. بيگ زاده، ابراهيم (۱۳۸۱هـ ش). حقوق سازمان های بين المللی، تهران: نشر قومس.

٦. د سعودي د حج او اوقافو وزارت (۱۴۱۴ هـ ق). کابلی تفسير، لومړی او دويم ټوک، مدينه منوره.

۷. د عدالت د بين المللي محکمې اساسنامه ( ۱۹٦۳ د دسمبر ۱۷).

۸. د معاهداتو د حقوقو کنوانسيون ( ۱۹٦۹ م د مې ۲۳ نېټه).

۹. د معاهداتو د حقوقو کنوانسيون (۱۹۸٦ م د مارچ ۲۱ نېټه).

۱۰. د ملگرو ملتونو منشور (۱۹۴۵ م د جون ۲٦ نېټه).

۱۱. ذوالعين، پرويز (۱۳۸۸هـ ش). مباني حقوق بين الملل عمومی، چاپ هفتم، تهران: وزارت امور خارجه، مرکز چاپ و انتشارات.

۱۲. روسو، شارل (۱۳۴۷ ش). حقوق بین الملل عمومی، جلد(۲)، ترجمه: محمد علي حکمت، تهران، دانشگاه تهران.

۱۳. ضیایي بیگدلی، محمد رضا (۱۳۸۷هـ ش). حقوق بین الملل عمومی، چاپ سي و سوم، تهران: گنج دانش.

۱۴. ضیایي بیگدلی، محمد رضا(۱۳۸۴ هـ ش). حقوق معاهدات بین المللی، چاپ دوم، تهران: گنج دانش.

۱۵. عدلیې وزارت، د افغانستان د بین المللي تړونونو او میثاقونو قانون، (۱۳۹۵هـ ش). پرلپسې ګڼه: ۱۲۳۶.

۱۶. عدلیې وزارت، د افغانستان مدني قانون (۱۳۵۵هـ ش). پرلپسې ګڼه، ۳۵۳.

۱۷. عدلیې وزارت، د افغانستان اساسي قانون (۱۳۸۲هـ ش)، پرلپسې ګڼه: ۸۱۸.

۱۸. عوده، عبدالقادر. (۱۳۸۴ هـ ش). د اسلامي جنایي تشریع او وضعي قوانین، دویم چاپ، پېښور: د پیغام نشراتي مرکز.

۱۹. کاسسه، انتونیو. (۱۳۸۸هـ ش). حقوق بین الملل، ترجمه: حسین شریفی طراز کوهی، تهران، میزان.

۲۰. کلکه دین، نگوین ، پاتریک دینه، والن پله. (۱۳۸۲هـ ش). حقوق بین الملل عمومی، چاپ اول، ترجمه: مقدمه و پیوست ها از حسن حبیبی، تهران، انتشارات گنج دانش.

۲۱. لنگرودی، محمد جعفر جعفری. (۱۳۸۵هـ ش). ترمینولوژی حقوق، تهران: کتابخانه گنج دانش.

۲۲. مقتدر، هوشنگ. (۱۳۷۲هـ ش). حقوق بین الملل عمومی، تهران: مطالعات سیاسی و بین المللی وزارت امور خارجه.

۲۳. موسی زاد، رضا (۱۳۸۹ش). حقوق معاهدات بین المللی، چاپ چهارم، تهران: نشر میزان.

**پوهیالی باقر شدایی**
اکادمی پولیس، پوهنځی داخل خدمت، دیپارتمنت ننگرهار
لارښود استاد: عبدالحمید سیرت

# نقش فن آوری‌های نوین در اثبات جرم مطابق با قانون اجراآت جزایی ۱۳۹۳ هـ ش افغانستان

## چکیده

زموږ د پلټنې او څېړنې په اساس تر اوسه د دې موضوع (د نورو له کړنو څخه د رامنځته شوي جزايي مسؤليت څېړنه) ترعنوان لاندې نه کومه څېړنه او نه هم کومه ليکنه شوې، خو عمومي حقوق جزا په کتابونو کې کې د يو مبحث په توگه ترې

يادونه شوې، چې د يادو ليکنو سره يې لومړی، عمده او اساسي توپير په دې کې دی، چې په عمومي حقوق جزا کې ياده موضوع يوازې له حقوقي اړخ څخه څېړل شوې ده، خو په دې څېړنه کې بيا د حقوقو ترڅنگ د اسلامي شريعت له نظره هم پرې بحث شوی دی، او دويم توپير يې دا دی، چې په دې ليکنه کې ياده موضوع د حقوقو او اسلامي فقهې سره مقايسه شوې، خو په مخکنيو ليکنو کې بيا کومه مقايسه نه ده شوې، نو له همدې امله دغه څېړنه په خپل ذات کې نوې ده

## د څېړنې په اړه وضع شوې پوښتنې

څېړونکی په دغه (د نورو له کړنو څخه د رامنځته شوي جزايي مسؤليت څېړنه) کې د الله (جل جلاله) په مرسته لاندينيو پوښتنو ته ځوابونه ورکړي دي.

١. د نورو له کړنو څخه رامنځته شوی جزايي مسؤليت څه ته وايي؟

٢. د نورو له کړنو څخه د رامنځته شوي جزايي مسؤليت په اړه د ايران جزايي قوانينو دريځ څه ډول دی؟

۴. د نورو له کړنو څخه د رامنځته شوي جزايي مسؤليت په اړه د اسلامي شريعت دريځ څه ډول دئ؟

## د څېړنې تگلاره

د دې څېړنې د طبيعي غوښتنې سره سم د معلوماتو په برخه کې مو له دويم لاس ډېټا يا کتابتوني موادو څخه گټه اخيستې او بيا مې د دواړو مراجعو (ايران جزايي قوانين او اسلامي شريعت) کې مقايسه کړې ده او کوښښ مې کړی، چې عدالت او انصاف اصل په نظر کې ونيسم همدارنگه د موضوعاتو په راټولولو او څېړلو کې مې د خپل توان په اندازه له اصلي منابعو څخه استفاده کړې، ترڅو لوستونکو ته يو معياري څېړنه وړاندې کړم.

## د څېړنې حدود

دغه څېړنه د نورو له کړنو څخه د رامنځته شوي جزايي مسؤليت پورې اړه لري، چې د ایران د جزايي قوانینو او اسلامي شريعت د مراجعو له نظره په دقیقه ډول څېړل شوې ده او د نورو اضافي موضوعاتو د ځای پرځای کولو څخه پکې ډډه شوې ده او په پای کې د اشتراک او افتراق ټکي، مزایاوې او نواقص ، پایله او خپل وړاندیزونه ذکر کړي دي.

## لومړی مطلب: د نورو له کړنو څخه رامنځته شوی جزايي مسؤلیت د ایران د جزايي قوانینو له نظره

د دې څېړنې په اړه چې کومه اساسي پوښتنه مطرح کېږي هغه دا ده. آیا جزايي مسؤلیت فاعل ته یوازې د خپل عمل پواسطه راجع کېږي او که د نورو له اعمالو څخه هم ورته جزايي مسؤلیت راجع کیږي؟ د دې پوښتنې په ځواب کې باید ووایو، چې د حقوق جزا کلي او اساسي قاعده دا ده، چې جزايي مسؤلیت هغه کس ته متوجه کېږي، چې د جرم په ارتکاب کې د لاندې صورتونو څخه یو منځته راشي، لکه مباشرت، شرکت، معاونیت او سببیت او هغه کس، چې د جرم په ارتکاب کې هیڅ ډول دخالت ونه لري، نو جزايي مسؤلیت نلري او مجازات کېدلی نه شي، هغه جزايي مسؤلیت، چې د نورو له کړنو څخه نشأت کوي او هغه ته نیابتي مسؤلیت یا د نورو له کړنو څخه رامنځته شوی، جزايي مسؤلیت هم ویل کېږي، یعنې دا چې جزايي مسؤلیت هغه چاته متوجه کېږي، چې نه د جرم په ارتکاب کې دخالت لري او نه د جرم مرتکب شوی دی اما د خاص جنايي سیاست په دلیل د جزايي مسؤلیت بار او د بل له فعل څخه رامنځته شوی مجازات باید تحمیل کړی، چې دا مسؤلیت د اصل او پرنسیپ په خلاف دی او استثنأ ګڼل کېږي.(۱۲: ۱۰۰)

په مدني حقوقو کې د بل له کړنو څخه را منځته شوی مدني مسؤلیت منل شوی دی، او دا په دې خاطر دی چې شخص نیت د هغه چا د کړنې په اړه چې د هغې د نظارت او هدایت په خاطر لاس په کار کېږي، یا د قانون په حکم هغه ته سپارل شوی وي، د مسؤلیت احساس وکړي، نو قانون ځینې وختونه لاس لاندې کسانو د کارونو مسؤل ګرځوي، لکه څرنګه چې قیم او ولي د ماشومانو د اعمالو په نسبت کوم مسؤلیت اخلي او یا د کار فرما مسؤلیت چې نسبت هغو خساراتو ته چې کارګران یې نورو ته رسوي، د دا ډول مسؤلیت څخه ګڼل کېږي، په دې هکله د مال د غاصب مسؤلیت ته چې د هر عیب او نقص په هکله د تصرف په وخت کې منصوب مال ته رسېږي د ایران د مدني قانون په ۳۱۵ مه ماده کې اشاره کړې ده. (۱۶: ۱۰۸)

په جزايي حقوقو کې هم دا ډول مشابه موارد وجود لري، چې د نورو له کړنو څخه رامنځته شوي جزايي مسؤلیت په نامه یادېږي، په دې هکله د ایران د اسلامي مجازاتو په پخواني قانون کې کومه خاصه پیش بیني موجوده نه وه ، اما په نوي اسلامي مجازاتو قانون کې چې په ۱۳۹۲ هـ. ش کال کې تصویب شوی دی، ۱۴۲ مه ماده په دې هکله په صراحت سره وايي: ( د بل له کړنې څخه رامنځته شوی مسؤلیت یوازې په هغه صورت کې ثابت دی، چې شخص په قانوني ډول د نورو له اعمالو څخه مسؤل وي یا د بل د اعمالو او کړنو د نتیجې په هکله د تقصیر مرتکب وګڼل شي. (۶: ۱۴۲ مه ماده) دا چې نوموړی اصل د کومې قاعدې استثنأ ده، نو په دې هکله دوو حقوقي اصلونو ته اشاره کوو.

**لومړی:** د جزا یي مسؤلیت فردیوالي اصل.

**دویم:** د مجازاتو د شخصي والي اصل. (۱۳: ۸۰)

**لومړی:** د جزايي مسؤليت د فرديوالي اصل په دې معنی، هغه څوک چې د جرم په ارتکاب کې يې دخالت نه وي کړی، د تعقيب لاندې نه نيول کيږي او د مجازاتو د شخصي والي اصل دا دی، چې نه شو کولی په يو کس مجازات تحميل کړو، چې د جرم په ارتکاب کې کوم رول ونه لري داسې ښکاري، چې د دې دوو اصلونو ترمنځ تفکيک موجود دی، د مجازاتو د شخصي والي د اصل قلمرو د حکم د اجرا مرحله ده، چې د فرديوالي د اصل قلمرو د تعقيب او محاکمې مرحله بلل کيږي، که چېرې وغواړو ځانګړي مجازات په يو چا باندې تطبيق کړو، نو دا د مجازاتو د شخصي‌والي په اصل سره کيږي او همدارنګه ځينې وختونه غواړو، چې يو څوک د تعقيب لاندې راولو اومحاکمه يې کړو، نو په دې ځای کې وايو، چې دا د جزايي مسؤليت د فرديوالي په اصل سره کيږي، د مجازاتو د شخصي والي په اړه زموږ هدف دا دی، چې له مجرم پرته بايد بل څوک مجازات نه شي، اما جزايي مسؤليت د فرديوالي په باره کې زموږ منظور او مقصد دا دی، چې له مجرم پرته بايد بل څوک د جزايي تعقيب لاندې ونه نيول شي، مقنن په دې هکله استثناء ته هم قايل شوی، يعنې د مجازاتو د شخصي والي په اصل کې يې استثنأ قبوله کړې ده، لکه په نقدي جريمو کې تضامني شکل پيش بيني شوی، تضامني جريمې په حالاتو کې هغه کسان چې په جرم کې شريک وي، مکلف دي، چې د تضامن په اندازه جريمه لنډه کړي، نو په دې ځای کې د جزايي مسؤليت د فرديوالي اصل استثنأ خوړلی، نه د مجازاتو د شخصي والي اصل.

**لومړی جز: د نورو له کړنو څخه رامنځته شوي جزايي مسؤليت موارد**

لکه څرنگه چې مخکې مو يادونه وکړه، د حقوق جزا کلي او اساسي قاعده دا ده، جزايي مسؤليت هغه کس ته متوجه کېږي، چې د جرم په ارتکاب کې دخالت ولري، او دغه دخالت به يې د خپل عمل په واسطه رامنځته کړی وي، (مباشرت، شرکت، معاونيت او سببيت ) خو يو شمېر نور موارد شته، چې له د ذکر شوو، حالتونو پرته بيا هم يو شخص ته جزايي مسؤليت راجع کېږي، چې دا موارد په لاندې ډول دي.

**لومړۍ فقره: د نشريې د مسؤل مدير مسؤليت**

د نشريې د مسؤل مدير مسؤليت له هغې جملې څخه ورځپاڼې او نورو نشر-اتي مطالبو په هکله، چې په دې خپرونو کې نشرېږي، په قانون کې تصريح شوی، د ايران د ۱۳۶۴ هـ. ش کال د مطبوعاتو قانون د نهمې مادې د اومې تبصرې په اساس چې داسې صراحت لري: ( د خپرونې مسؤل مدير د هغو مطالبو په هکله، چې په دې خپرونو کې چاپېږي که مجرمانه عنوان ولري، نو له هغه څخه مسؤل بلل کېږي، ولې دا مسؤليت د ليکوال او نورو هغو اشخاصو مسؤليت، چې د جرم په ارتکاب کې يې دخالت درلوده نه شي نفې کولی.(۵: ۹ مه ماده ۷ مه تبصره)

مثلاً کله، چې په ورځپاڼه کې داسې کريکاتور چاپ شي، چې يو قوم يا د خلکو يوې ډلې ته په کې سپکاوی وکړي، نو د ورځپاڼې مدير له دې کړنې څخه مسؤل گڼل کېږي او نه شي کولی، چې ځان بې تقصيره وبولي، نو دا ډول مسؤليت د نورو له اعمالو څخه رامنځه شوی، جزايي مسؤليت دی، هغه حکم، چې د مطبوعاتو په قانون کې درج شوی، د نورو محاکمو په قوانينو کې په دې هکله تفاوت وجود لري يعنې د مسؤل مدير د مسؤليت په هکله د نورو هېوادونو د قوانينو سره يو څه فرق موجود دی، په دې معنی چې په نورو هېوادونو کې مسؤل مدير بايد يوازې ځواب ويونکی وي، يعنې مسؤليت يوازې مسؤل مدير ته راجع کېږي، ولې د ايران د

مطبوعاتو د قانون د حکم په اساس پر مسؤل مدير سربيره د ورځپاڼې مالک، کاريکتوريست او په کلي ډول ټول هغه کسان، چې په دې هکله نقش ولري، د تخلفاتو څخه ځواب ويونکی بلل کېږي، په داسې حال کې، چې له حقوقي نګاه څخه د خپرونې مسؤليت د يو تن په غاړه اچول کېږي او همدا بايد د نشر-شويو مطالبو په هکله ځواب ووايي ولوکه په دې چاپ کې کوم دخالت هم ونه لري. (۱۳: ۸۱- ۸۲)

**دويمه فقره: د يو صنفي واحد يا لويې مغازې د مدير مسوليت**

په صنفي واحدونو او مغازو کې امکان لري، چې زيات کار کوونکي فعاليت وکړي، او د دې امکان هم شته، چې د کار کوونکو او کارمندانو لخوا جرايم هم ترسره شي، نو که دا جرايم د هغوی د کار، وظيفې يا شغل پورې مربوط وي، نو د نوموړي صنفي واحد مالک او مدير مسول دي، مثلا که چېرې په يوه پلورنځي کې تقلبي اجناس او يا هغه اجناس، چې تاريخ يې تېر شوی وي، خرخ کړای شي، نو د دې واحد مدير به مسوليت ولري، د ايران د اصنافو د قانون له مخې هغه څوک، چې يو صنفي واحد څښتن وي، نو د خپل صنفي واحد نظام د مقرراتو په هکله مسول ګڼل کېږي، نو که سرغړونه صورت ونيسي ځواب بايد ورکړي، د قيمته خرڅولو په هکله، چې افراد د نوموړي په امر په دې کار لاس پورې کوي، نو د مغازې مالک د هغوی د اعمالو په هکله مسول ګڼل کېږي، د ايران د صنفي نظام د قانون ۷۶ مه ماده کې هم د نوموړې موضوع په هکله داسې صراحت شوی دی: ( کله چې په قانون کې د مندرجو تخلفاتو د وقوع په اثر، ثالثو اشخاصو ته خسارات ورسيږي، نو د متضرر شخص په غوښتنه صنفي متخلف فرد په دې قانون کې د مقرر شوو جريمو څخه علاوه د وارد شوي تاوانونو يا زيانونو په جبران هم محکومېږی). ( ۳: ۷۶ مه ماده)

## درېيمه فقره: د کار ګرانو په هکله د کارفرما مسوليت

د ايران د ۱۳٦۹/۸/۲٦هـ ش کال د کار قانون د دويمې مادې مطابق د کارګر تعريف داسې شويدی: (کارګر د نوموړي قانون له مخې هغه کس دی، چې د خپل حق الزحمې د ترلاسه کولو په مقابل کې، چې عبارت له مزد، حقوق، د سود برخه او نورو مزاياو څخه دي، په هر عنوان چې وي د کار فرما په غوښتنه کار کوي).(۴: ۲ مه ماده)

د همدې قانون درېيمې مادې کارفرما داسې تعريف کړی: (کارفرما هغه حقيقي يا حقوقي شخص دی، چې کارګر د هغه په غوښتنه د خپلې حق الزحمې د ترلاسه کولو په مقابل کې کار کوي، مديران او نور مسولان او په عمومي ډول ټول هغه کسان چې د کار ځای د اداري عهده دار دی د کارفرما نماينده ګڼل کېږي او کارفرما د ټولو هغو تعهداتو مسول دی، چې ذکر شوي نماينده ګان يې د اړوند کارګر مربوط په غاړه اخلي نو که چېرې د کارفرما نماينده له خپل صلاحيت څخه بهر يو تعهد وکړي او هغه تعهد کارفرما ونه مني، نو د کارفرما په مقابل کې مسول دی). (۴: ۳مه ماده)

کارفرما د کارګرانو د کړنو په باره کې، چې خپل شغل او وظيفې په اساس يې ترسره کوي، د هغو شرايطو له مخې، چې وروسته به يې ووايو هم مدني مسوليت لري او هم جزايي، البته نوموړی مسوليت يوازې د کارګرانو په هکله منل کېږي، مثلا که چېرې يو خياط تعهد وکړي، چې د پلورنځي لپاره کالي وګنډي، نو خياط بايد د پلورنځي کارګر ونه ګڼل شي، ولې که چېرې همدا خياط د کاري استاد په نزد استخدام شي، ترڅو د هغه په امر عمل وکړي، نو په دې شغل بيا کارګر بلل کېږي، د کارګرانو د کړنو په هکله د کارفرمايانو جزايي مسوليت د پورته ذکر شوي قانون په ۹۵ مه ماده کې داسې تصريح شوی: (که چېرې د کارفرما يا د واحد ونو د مسؤلينو

لخوا په دې قانون کې د ذکر شوو مقرراتو په عدم رعايت سره يوه حادثه رامنځته شي، نو کارفرما يا مسول شخص د جزايي او حقوقي نقطې نظره او په دې قانون کې درج شوو مجازاتو ته په کتنې سره مسول ګڼل کېږي). (۴: ۹۵ مه ماده)

دلته نيوکه دا ده، چې قانون جوړونکي د کارګرانو لخوا د رامنځته شوي جزايي مسؤليت د کار فرما په غاړه اچولی دی، د دې امر د تحقق لپاره لاندې شرايط ضروري دي.

۱. حادثه او له دې حادثې څخه رامنځته شوی زيان بايد د اداري کارکوونکو او کارګرانو لخوا صورت نيولی وي، يعنې هغه کسان چې د کارفرما په امر وظيفه اجرا کوي او له هغه څخه اجوره اخلي، نو که چېرې حادثه او تاوان د هغو کارګرانو له کړنې څخه نشات کړی وي، چې د قراردادیانو او مقاطع کارانو په خدمت کې يې صورت نيولی وي، نو په دې صورت کې مربوطه قراردادي مسول دی.

۲. حادثه او له هغې څخه رامنځته شوی زيان بايد د کار په وخت کې وي، نو پس که چېرې د کارخانې ماشين جوړېدو ته ضرورت ولري او د هغه د جوړېدو لپاره د کارګر لخوا له کارخانې څخه خارج ته نقل شي، نو د هغه حوادثو مسوليت، چې د کارګر د تګ او راتګ په وخت کې رامنځته کېږي کارفرما ته متوجې کېږي.(۱۷: ۳۷۵)

## څلورمه فقره: د خوراکي، څښاک او درماني موادو د توليد کارخانو د مدير مسوليت

په يوه موسسه يا کارخانه کې چې د خوراکي، سينګار او صحي موادو توليدونکي وي، د هغو تخلفاتو په اړه، چې د نوموړو موادو د توليد په برخه کې ترسره کېږي، نو د هغې موسسې مدير مسول ګڼل کېږي، مثلا کله چې د دوا جوړونې په کارخانه کې کارګران د دوا په جوړولو کې له مضره او غير معياري موادو څخه استفاده وکړي، نو

د موسسې مدير په دې اړه مسول بلل کېږي، چې په دې اړه د ايران درماني او صحي تعزيراتو قانون چې په ۱۳۶۷/۱۲/۲۳ هـ . ش کال د نظام د مصلحت د تشخيص د مجمع لخوا تصويب شوي دي د يادو مواردو څخه يادونه کړې ده. (۱۳: ۸۵)

**پنځمه فقره: د تعميري او باربري موسسې د مدير مسؤليت**

د باربري موسسې وظيفه د اجناسو او د خلکو د وسايلو د حمل و نقل او ځای پر ځای کول دي، د ايران د تجارت قانون ۳۸۸ مې مادې له مخې د حمل و نقل د متصدي د مسوليت په رابطه داسې صراحت لري: (د حمل و نقل متصدي د هغو حوادثو او تقصيراتو مسوله ده، چې د حمل و نقل په وخت کې واقع شي، دا چې دا حمل و نقل يې خپله کړی وي او يا يې په دې اړه بل څوک مامور کړی وي. (۲: ۳۸۸ مه ماده)

تعميري موسسې هم د خپلو تعميراتو، نقليه وسايلو او نورو ماشين الاتو کار په غاړه لري او د نوموړې موسسې مدير د باربريو او کارگرانو د کړنو په هکله چې د هغه د امر لاندې يې ترسره کوي او وظيفه اجرا کوي، د هماغو شرايطو لاندې چې مخکې مو د کارگرانو په هکله مطالعه کړل مسول بلل کېږي.(۱۷: ۳۷۶)

**شپږمه فقره: هغه موارد چې د مباشر څخه مسبب ډېر قوي وي**

دا يوه کلي قاعده ده، کله چې حادثه رامنځته شي او د حادثې په واقع کېدو کې د مسبب تاثير د مباشر څخه زيات وي، نو اصطلاحا د مباشر څخه متسبب ډېر قوي وي، نو دلته مسوليت د متسبب په غاړه دی، نه د مباشر په غاړه، مثلا د موټر چلونې (ډريورۍ) په تعليمي موسساتو کې چې ښوونکی د زده کوونکي په څنگ کې ناست وي، نو په دې ځای کې که دا تعليم اخيستونکی د کوم تخلف مرتکب شي او يا کوم تصادف رامنځته کړي، نو په دې ځای کې چون د تعليم ورکوونکي د امر

لاندې دی، نو د خسارې جبران د ښوونکي په غاړه دی او نوموړی مسول واقع کېږي، ځکه مربي (ښوونکی) متسبب او تعليم اخيستونکی مباشر وي، نو دلته د مباشر څخه مسبب ډېر قوي دی.(۱۳: ۸۶)

**دويم جز: د نورو له کړنو څخه د رامنځته شوي جزايي مسؤليت د نظريې اساس**

موږ مخکې وويل چې کلي قاعده او اصل دا دی، هغه څوک چې د جرم ارتکاب کې کومه مداخله ونه لري، نو جزايي مسوليت هم نه لري، او نه هم مجازات کېږي، چې نوموړې قاعده د جزايي مسوليت د فرديوالي له اصل څخه او هم د مجازاتو د شخصي والي له اصل څخه سرچېنه اخلي اما دا مو ثابته کړه، چې په استثنأيي حالت کې د بل چا له عمل څخه رامنځ ته شوي جزايي مسوليت هم منل شوي، دلته پوښتنه رامنځته کېږي، چې د نوموړي مسؤليت نظريې مبنا او اساس څه کېدلی شي؟ په دې رابطه حقوق دانانو دوه متفاوتې نظريې وړاندې کړې دي. (۱۵: ۱۴۷)

**لومړۍ فقره: د خطر يا ريسک نظريه**

د ريسک د نظريې په اساس هر څوک چې د يو کار له منفعت (گټې) څخه برخمن کېږي، نو بايد چې د هغې ريسک او خطر هم ومني، مثلا مسول مدير چې د ورځپاڼې گټه لاسته راوړي، يعنې مالي گټه ترې پورته کوي، نو بايد چې د همدې کار ريسک يا خطر هم په غاړه واخلي، نوموړې نظريه د عقلي او منطقي اصولو له حيثه د منلو وړ نده او د حقوق دانانو ترمنځ کوم ځای او ارزښت نه لري.(۷: ۳۳۰)

**دويمه فقره: د خطاء نظريه**

د خطا نظريه په دې معنا ده، هغه څوک چې کاري او مکاني اداري مسوليت په غاړه لري، نو بايد چې خپلو لاس لاندې کسانو د کړنو په هکله هم کافي نظارت ولري، کافي او مناسب تعليمات بايد هغوی ته ورکړي او له د دې افرادو څخه مربوطه کار

کې استفاده وکړي، چې په مربوطه شغل کې له لازم صلاحيت او تجربې څخه برخمن وي، نو که داسې ونه شي مربوطه مدير د هغې خطا له حيثه چې د هغې مرتکب کېږي مسول دی، نوموړې خطا له عدم نظارت څخه رامنځته شوې وي، مثلا د ورځپاڼې مدير بايد اجازه ورنه کړي، ترڅو يو توهين اميزه مطلب يا کاريکاتور يې په ورځپاڼه کې چاپ شي او که د غفلت له وجې مرتکب شي، نو بيا مسول دی او بايد چې ځواب ورکړي، زياتو حقوق دانانو د خطا نظريې ته ارزښت ورکړی، او هغه يې منلې ده، ولې ځينو په دې نظريې باندې انتقاد کړی او کوم انتقاد چې پرې واردېږي، هغه دا دی، چې يو مدير ترکومه حده کولی شي، چې د لاس لاندې کسانو په ټولو فعاليتونو او کړنو باندې نظارت وکړي؟ نو که چېرې د نورو له کړنو څخه رامنځته شوی جزايي مسوليت يوازې له عدم نظارت څخه رامنځته شوی وګڼو، نو نوموړی انتقاد وارد ګڼل کېږي. (۸: ۸۷)

خو په دې اړه د ايران قانون جوړونکي دا سلامي مجازاتو ۱۴۲ مه ماده کې منعکس کړی دی، چې د نورو له کړنو څخه رامنځته شوي جزايي مسوليت اساس او مبدا دوه شيان ښودلي.

۱. کله چې يو شخص په قانوني ډول د بل چا له کړنو څخه مسول وي، مثلا کارفرما د قانون له مخې د کارګرانو له اعمالو څخه مسول ګڼل کېږي.

۲. کله چې د بل د ارتکابي کړنې د نتيجې په رابطه شخص د تقصير مرتکب شي، د نوموړي تقصير نمونه د اطفالو او مجانينو قانوني سرپرستانو او اولياو تفصير ښودلی شو، چې د هغوی له ساتنې او مراقبت څخه ورته پاتې کېږي (٦: ۱۴۲ مه ماده).

## درېيم جز: د نورو لـه کړنـو څخـه د رامنځتـه شـوي جزايـي مسـوليت د تحقـق شرايط

د نورو له کړنو څخه رامنځته شوي جزايـي مسـوليت د تحقـق لپـاره د لانـدې دريـو شرايطو شتون لازمي دی، چې هر يو په جلا جلا ډول ترڅېړنې لاندې نيسو.

**لومړی شرط:** تخلف او ارتکابي جرم بايد له کار څخه رامنځته شوی وي، د مباشر له خوا ارتکابي جرم بايد د مربوطـه شـغل د خـاص قـانون لـه مقرراتـو د تخلـف څخـه رامينځته شوی وي، که چېرې لاس لاندې کارگر د هغه کار له امله چې نومـوړي تـه سپارل شوی وي، د خطا مرتکب شي نو په دې هکله مدير او کارفرما مسول دي.

**دويم شرط:** په غير عمدي ډول د مربوطه مقرراتو نقـض: د نومـوړي شرط مفهـوم دا دی، چې له مقرراتو څخه تخلف بايد قصدي نه وي، که چېـرې د مبـاشر تخلـف پـه قصدي ډول وي، يا عمدي وي، نو په دې صورت کې جزايي مسوليت مسـول مـدير ته نه متوجه کیږي.

**درېيم شرط:** د ارتکابي جرم او مقرراتو د نقض ترمنځ د عليت رابطې شتون ضروري دی، په دې ډول چې د مباشر جرم او تخلف تـرمنځ د علـت او معلوليـت رابطـه بايـد موجوده وي، يعنې تخلف بايد د بې احتياطۍ او د مربوطه مقرراتو چې د هغه د کـار پورې اړه لري رامنځته شوی وي. (١٥: ١٥٦- ١٥٧)

## دويم مطلب: په اسلامي شريعت کې د نورو لـه کړنـو څخـه رامنځتـه کېـدونکی جزايي مسؤليت

د دې لپاره چې په اسلامي شريعـت کـې د نـورو لـه کړنـو څخـه رامنځتـه کېـدونکی جزايي مسؤليت ښه وپېژنو نو د جزايـي مسـؤليت محـل (ځـای، موضـوع) اوهـم پـه اسلامي شريعت کې پـه جزايـي مسـؤليت د شخصي-والي پـه اصـل پـه لانـدې دوو جزونو کې بحث کوو:

**لومړی جز: د جزايي مسؤلیت محل**

کله چې اسلامي شریعت د جزايي مسؤلیت لپاره دا شرط بولي، چې فاعل دې، مدرک او مختار وي نو طبیعي ده، چې د جزايي مسؤلیت ځای او مورد یوازې ژوندی انسان دی، ځکه چې له ژوندي انسان پرته نور څه ادراک او اختیار نه لري او په مړینې سره د انسان ادراک او اختیار له منځه ځي او بل دا چې اسلامي شریعت عام حکم کوي، چې مړینه له مړ شوي، شخص څخه تکالیف ساقطوي، څرنګه چې د ادراک او اختیار شرطونه یوازې انسان د جزايي مسؤلیت ځای وګرځولو نو باید مسؤل انسان عاقل، بالغ او مختار وي او که نه، نو مسؤلیت ور باندې نشته ځکه چې عقل نه لري او ځو پورې چې اهلیت ته نه وي رسېدلی ادراک اواختیار یې پوره او کامل نه ګڼل کېږي، نو بنا پر دی ماشوم، لیونی، معتوه او فاقد الادراک شخص باندې مسؤلیت نشته او نه هم مجبور او مکره مسؤل دی. ( ۹: ۳۶۱)

**دویم جز: د جزايي مسؤلیت شخصي والي اصل**

دا د اسلامي شریعت له لومړنیو قاعدو څخه یوه قاعده ده، چې جزايي مسؤلیت د مجرم پورې اړه لري او هر څوک یوازې د خپل جرم مسؤل دی؛ نه د بل چا. دا عادلانه اصل د قرانکریم په ډېرو آیتونو کې تثبیت شوی دی لکه چې الله (جل جلاله) فرمايي: (وَ لاَ تَکْسِبُ کُلُّ نَفْسٍ اِلاَّ عَلَیْهَا وَ لاَ تَزِرُ وَازِرَةٌ وِّزْرَ اُخْرٰی). ( سوره الانعام، آیت ۱۶۴.) ژباړه: او کسب نه کوي (د بدې) هیڅ یو نفس مګر (ضرر یې دی) پر (ذمه) د ده او نه باروي هیڅ نفس ګنهګار ګناه د بل نفس (بلکې هرڅوک خپل بار وړي). (۱۱: لومړی جلد ۸۴۰)

او بل دا چې: (وَأَن لَّیْسَ لِلْإِنسَانِ إِلاَّ مَا سَعَیٰ). (سوره النجم، آیت ۳۹ )

**ژباړه:** نشته هیڅ انسان لره مګر (جزا د هغه شي) چې کړې یې دی.

(۱۱: دویم جلد ۱۲۸۰)

نو بنا پردې هر څوک د خپل جرم مسؤل دی او هیڅوک د بل په گناه نه نیول کېږي. په بل ځای کې فرمايي: (مَّنْ عَمِلَ صَالِحًا فَلِنَفْسِهِ وَمَنْ أَسَاءَ فَعَلَيْهَا وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ). ( سوره حم السجدة، آیت ۴۶ )

**ژباړه:** هر څوک چې وکړي نیک (کار) پس لپاره د ځان خپل یې دی او هرڅوک بد کار وکړي پس هغه بار دی په ده او نه دی رب ستا ظلم کوونکی پر بنده گانو (چې بې موجبه یې په عذاب کړی). ( ۱۱: دویم جلد۱۰۱۴)

همدارنگه په دې هکله په بل ځای کې فرمايي:( مَن يَعْمَلْ سُوءًا يُجْزَ بِهِ).

( سوره النساء، آیت ۱۲۳ )

**ژباړه:** هرڅوک چې وکړي نا کاره کار نو جزا به ورکړل شي ده ته په هغه سره.

(۱۱: لومړی جلد ۵۴۰)

او د دې اصلونو په تایید سره حضرت رسول (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: (عَنْ أَبِي رِمْثَةَ قَالَ: أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَعَ أَبِي فَقَالَ مَنْ هَذَا مَعكَ قَالَ ابْنِي أَشْهَدُ بِهِ قَالَ أَمَا إِنَّكَ لَا تَجْنِي عَلَيْهِ وَلَا يَجْنِي عَلَيْكَ.)(۱: څلورم جلد ۲۸۷ نمبر۴۴۹۷)

**ژباړه:** له ابو رمثة څخه روایت دی، دی وايي زه نبي (صلی الله علیه وسلم) ته راغلم او ما سره زما پلار وو، نو نبي کریم (صلی الله علیه وسلم) زما پلار ته وویل. دا څوک دی در سره، پلار مې وویل، زوی مې دی او زه پرې گواه یم نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) وویل، ته یقینا د هغې په جرم نه نیول کېږې او هغه ستا په جرم نه نیول کېږي، همدارنگه فرمايي: ( عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ (صلی الله علیه وسلم) ( لاَ تُقَامُ الْحُدُودُ فِي الْمَسَاجِدِ وَلاَ يُقْتَلُ وَالِدٌ بِوَلَدٍ.)(۱: اتم جلد ۳۹ نمبر مکتبه شامله ۱۶۳۸۷)

**ژباړه:** له عبدالله بن عباس (رضی الله عنه) څخه روایت دی، چې وايي، رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ویلي دي: په چا به حد په مسجد کې نه جاري کیږي او پلار به د زوی په جرم نه

وژل کېږي، دا اصل اسلامي شریعت د ابتداء نه په کامل دقت تطبیق کړی او صرف یوه استثنأ لري، هغه دا چې د خطا او شبه عمد د قتل په دیت کې د مجرم سره د مجرم خپلوان هم شریک بولي د دې استثنا علت د مطلق عدالت تامین یعنې هماغه اساس دی، په کومه چې هغه قاعده ولاړه ده، ځکه، چې شبهه عمد او خطا قتل د دیت په باره کې د هغې قاعدې تطبیق عدالت نه بلکې له عدالت څخه څرگند تېری دی، ځینو فقهاو د مجرم په خپلوانو باندې د دیت تحمیل د هغې قاعدې نه استثنأ بولي ځکه، چې په هغوی باندې د دیت تحمیل له دې کبله نه دی، چې د مجرم په گناه نیول شوي دي، بلکې دیت یوازې په قاتل واجب دی، مگر دا چې خپلوان یې هم ورسره پکې شریک گڼل شوي؛ علت یې په هره طریقه چې ممکن وي، د خپلوۍ او صله رحمۍ ساتل دي؛ نه دا چې د مجرم د جرم گناه په دوی هم تحمیل شوې ده او دا ښه کار دی او له اخلاقي مکارمو څخه گڼل کېږي، په عربو کې له اسلام څخه پخوا په خپلوانو باندې د دیتونو تحمیل شهرت لري او هغه وخت یې هم دا کار ښه او نیک باله، حضرت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: (عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الْأَخْلَاقِ). (۱: لسم جلد ۳۲۳ نمبر مکتبه شامله ۲۰۷۸۲ )

**ژباړه:** له ابو هریرة (رضی الله عنه) نه روایت دی، چې وايي: رسول الله (صلی الله علیه وسلم): ویلي دي، یقینا زه پیغمبر شوی یم لپاره د دې چې پوره کړم ښایسته اخلاق او دا کار یعنې په عاقله و باندې د دیت تحمیل نیک کار دی عقله او عادتآ مقبول او د ستاینې وړ دی که څه هم اوس وضعي قوانینو د جزايي مسؤلیت شخصي-والي اصل منلی دی، د مجرم په گناه بل څوک نه نیسي او نه د یو په جرم بل ته جزا ورکوي، مگر سره له دې یې هم تر اوسه په پوره ډول نه تطبیق کېږي او په زیاتو حالاتوکې ور څخه

وتلی ښکاری او د جزايي مسؤليت په شخصي-والي پرنسيپ کې استثنی شمېرل کېږي. (۱۰: ۲۷۱)

**پایله**

په پايله کې ويلی شو، چې د ايران جزايي قوانينو د نورو له کړنو څخه رامنځته کېدونکی جزايي مسوليت هم منلی دی، چې په جزايي حقوقو کې هم دا ډول مشابه موارد شتون لري، چې د نورو له کړنو څخه رامنځته شوي جزايي مسؤليت په نامه يادېږي، په دې هکله د ايران د اسلامي مجازاتو په پخواني قانون کې کومه خاصه وړاندوينه موجوده نه وه، اما په نوي اسلامي مجازاتو قانون کې چې په ۱۳۹۲ هـ. ش کال کې تصويب شوی دی، ۱۴۲ مه ماده په دې هکله په صراحت سره وايي: (د بل له کړنې څخه رامنځته شوی جزايي مسؤليت يوازې په هغه صورت کې ثابت دی، چې شخص په قانوني ډول د نورو له اعمالو څخه مسؤل وي يا د بل د اعمالو او کړنو د نتيجې په هکله د تقصير مرتکب وګڼل شي). دا چې نوموړی اصل د کومې قاعدې استثنأ ده، نو په دې هکله دوو حقوقي اصلونو ته مراجعه وشوه، چې يو يې د جزايي مسؤليت فرديوالي اصل او دويم يې د مجازاتو د شخصي والي اصل دی.

د ايران د اسلامي مجازاتو د قانون په ۱۴۲ مه ماده کې د جزايي مسؤليت د فرديوالي اصل استثنأ منلې، نه د مجازاتو د شخصي والي اصل او د شخصي والي اصل د ايران په ټولو جزايي قوانينو کې استثنأ خوړلې ده، خو په اسلامي شريعت کې د جزايي مسؤليت د فردي والي اصل استثنأ نه لري، ولې د جرم په شخصي والي اصل اسلامي شريعت د ابتداء نه په کامل دقت تطبيق کړی او صرف يوه استثنا لري، هغه دا چې د خطا او شبه عمد د قتل په ديت کې د مجرم سره د مجرم خپلوان هم شريک بولي د دې استثنا علت د مطلق عدالت تامين يعنې هماغه اساس دی، په کوم کې چې هغه قاعده ولاړه ده، ځکه چې شبهې عمد او خطا قتل د ديت په باره کې د هغې قاعدې

تطبيق عدالت نه بلکې د عدالت څخه څرګند تېرى دى، ځينو فقهاو د مجرم په خپلوانو باندې د ديت تحميل دهغې قاعدى نه استثنا بولي. ځکه چې په هغوى باندې د ديت تحميل له دې کبله ندى، چې د مجرم په ګناه نيول شوى دى، بلکې ديت يوازې په قاتل واجب دى، مګر دا چې خپلوان يې هم ورسره پکې شريک ګڼل شوي، علت يې په هره طريقه چې ممکن وي، د خپلوى او صله رحمۍ ساتل دي، نه دا چې د مجرم د جرم ګناه په دوى هم تحميل شوې ده او دا ښه کار دى او د اخلاقي مکارمو څخه ګڼل کېږي، په عربو کې اسلام څخه پخوا په خپلوانو باندې د ديتونو تحميل شهرت لري او هغه وخت يې هم دا کار ښه او نيک بللو، حضرت رسول الله (صلى الله عليه وسلم) ويلي دي، يقينا زه پيغمبرشوى يم لپاره د دې چې پوره کړم ښايسته اخلاق او دا کار يعنې په عاقله و باندې د ديت تحميل نيک کار دى، عقله او عادتا مقبول او د ستاينى وړ دى.

**مناقشه**

د جزايي مسؤليت د فردي والي اصل په دې معنى، هغه څوک چې د جرم په ارتکاب کې يې دخالت نه وي کړى، د تعقيب لاندې نه نيول کېږي او د مجازاتو د شخصي والي اصل دا دى، چې نه شو کولى په يو کس مجازات تحميل کړو، چې د جرم په ارتکاب کې کوم رول ونه لري داسې ښکاري، چې د دې دوو اصلونو ترمنځ تفکيک موجود دى، د مجازاتو د شخصي والي اصل قلمرو د حکم د اجرا مرحله ده، چې د فردي والي اصل قلمرو د تعقيب او محاکمې مرحله بلل کېږي، که چېرې وغواړو ځانګړي مجازات په يو چا باندې تطبيق کړو، نو دا د مجازاتو د شخصي والي په اصل سره کېږي او همدارنګه ځينې وختونه غواړو، چې يو څوک د تعقيب لاندې راولو او محاکمه يې کړو، نو په دې ځاى کې وايو، چې دا د جزايي مسؤليت د فردي والي په اصل سره کېږي، د مجازاتو د شخصي ـ والي په اړه زموږ هدف دا

دی، چې د مجرم څخه علاوه بايد بل څوک مجازات نه شي، اما جزايي مسؤليت د فردي والي په باره کې زموږ منظور او مقصد دا دی، چې له مجرم پرته بايد بل څوک د جزايي تعقيب لاندې ونه نيول شي، قانون جوړونکی په دې هکله استثنأ ته هم قايل شوی، يعنې د مجازاتو شخصي والي په اصل کې يې استثنأ قبوله کړې ده، لکه په نقدي جريمو کې تضامني شکل پيش بيني شوې، تضامني جريمې په حالاتو کې هغه کسان چې په جرم کې شريک وي، نو مکلف دي، چې د تضامن په اندازه جريمه لنډه کړي، نو د ايران د ۱۳۹۲ هـ. ش کال د اسلامي مجازاتو د قانون په ۱۴۲ مه ماده کې د جزايي مسؤليت د فردي والي اصل استثنأ خوړلې، نه د مجازاتو د شخصي والي اصل او دا شخصي والي اصل د ايران په ټولو جزايي قوانينو کې استثنأ خوړلې ده، خو په اسلامي شريعت د جزايي مسؤليت د فردي والي اصل استثنأ نه لري، ولې د جرم په شخصي والي اصل اسلامي شريعت د ابتداء نه په کامل دقت تطبيق کړی، او صرف يوه استثنا لري، هغه دا چې د خطا او شبه عمد د قتل په ديت کې د مجرم سره د مجرم خپلوان هم شريک بولي د دې استثنا علت د مطلق عدالت تامين يعنې هماغه اساس دی، په کوم کې چې هغه قاعده ولاړه ده، ځکه چې شبهې عمد او خطا قتل د ديت په باره کې د هغې قاعدې تطبيق عدالت نه بلکې د عدالت څخه څرګند تېری دی، ځينو فقهاو د مجرم په خپلوانو باندې د ديت تحميل د هغې قاعدې نه استثنا بولي. ځکه چې په هغوی باندې د ديت تحميل له دې کبله ندی، چې د مجرم په ګناه نيول شوي دي، بلکې د ديت يوازې په قاتل واجب دی، مګر دا چې خپلوان يې هم ورسره پکې شريک ګڼل شوي علت يې په هره طريقه چې ممکن وي، د خپلوۍ او صله رحمۍ ساتل دي، نه دا چې د مجرم د جرم ګناه په دوی هم تحميل شوې ده او دا ښه کار دی او د اخلاقي مکارمو څخه ګڼل کيږي، په عربو کې اسلام څخه پخوا په خپلوانو باندې د ديتونو تحميل شهرت لري او هغه

وخت يې هم دا کار ښه او نيک بللو، حضرت رسول الله (صلی الله علیه وسلم) ويلي دي، يقينا زه پيغمبر شوی يم، لپاره د دې چې پوره کړم ښايسته اخلاق او دا کار يعنی په عاقله و باندې د ديت تحميل نيک کار دی.

## پايله اخيستنه

د نورو له کړنو څخه رامنځته شوی جزايي مسؤليت د حقوق جزا د علم له مهمو او معاصرو موضوعاتو څخه دی او په جرمي قضاياو کې دا تر ډېره پيښيږي، د ايران په جزايي قوانينو کې د نورو له کړنو څخه رامنځته شوی جزايي مسوليت يې منلی او ويلي دي، چې دا د جزايي مسؤليت د فردي والي په اصل کې استثنأ ده، نه د مجازاتو د شخصي والي په اصل کې؛ همدارنګه اسلامي شريعت هم د نورو له کړنو څخه رامنځته شوی جزايي مسؤليت يې قبول کړی دی او دا يې د جزايي مسوليت د فردي والي په اصل کې نه، بلکې د جرم په شخصي والي اصل کې يې استثنأ ګڼلې ده.

## وړانديزونه

د دې علمي ـ څېړنيزې مقالې د بشپړولو څخه وروسته لاندې وړانديزونه لرو.

۱. د افغانستان اسلامي امارت د عدليې وزارت ته مو وړانديز دا دی چې د جزايي قوانينو د تدوين په برخه کې دې د دې څېړنو له پايلو څخه ګټه واخلي په ځانګړي توګه (د نورو له کړنو څخه د جزايي مسؤليت د راجع کېدو په برخه کې).

۲. نور څېړونکي دې په دې برخې کې د نورو مختلفو مراجعو له زاويې څخه څېړنې ترسره کړي، ترڅو په دې برخه کې لا معلومات زيا ت شي.

۳. دا چې دا موضوع خورا مهمه ده، نو اوسنی نظام دې د عدليي او قضايي ارګانونو ټولو کار کوونکو ته په دې برخه کې سيمينارونه او ورکشاپونه ورکړي، ترڅو په لنډ مهال کې د بې عدالتۍ مخه ونيول شي.

**اخځلیکونه**

القران الكريم.

١. أحمد بن الحسين بن علي أبو بكر البيهقي، السنن الكبرى ١٠جلد، حديث نمبر ٢٠٧٨٢، دار الكتب العلمية، بيروت. مكتبة الشامله.

٢. د ایران د تجارت قانون، ٣٨٨ مه ماده .

٣. د ایران د صنفی نظام قانون، ١٣٨٢ هـ ش کال ٧٦ مه ماده.

٤. د ایران د کار قانون، ١٣٦٩ هـ ش کال، ٢ مه ماده .

٥. د ایران د مطبوعاتو قانون ١٣٦٤ هـ ش کال، ٩ مه ماده ٧ تبصره

٦. د ایران د١٣٩٢ هـ . ش کال د اسلامي مجازاتو قانون، ١٤٢ مه ماده.

٧. رضا، نوربها.( ١٣٨٥ هـ ش). زمينه حقوق جزايي عمومي، چاپ سی ودوم. ناشر: گنج دانش مطبعه، تهران.

٨. عباس، زراعت.(١٣٨٨ هـ ش). شرحه قانون مجازات اسلامي، بخش تعزيرات. ناشر: ققنوس، تهران.

٩. عبدالقادر، عوده .(١٣٨٤هـ ش).د اسلام جنایي تشريح او وضعی قوانین. ژباړه: عبدالهادی، هدايت. ناشر: پيغام، پيښور.

١٠. علی رضا، فيض.( ١٣٧٠هـ . ش). مقارنه وتطبيق درحقوق جزای عمومي اسلام. ناشر: وزارت فرهنگ وارشاد اسلامي، تهران.

١١. مجيد، شعبانی. (١٣٩١ هـ ش). متون حقوقي جزايي، ناشر: جنگل، تهران.

١٢. محمد رضا، ساكي.( ١٣٩٢هـ ش). حقوق جزای عمومي جلد دوم مسؤليت كيفری ناشر: جنگل، جاودانه تهران.

۱۳. محمود حسن ديوبندی اوعلامه شبير احمدعثمانی.( نيټه يې نشته) القران الکريم، کابلی تفسيراو ترجمه ، اول جلد. ژباړه: دافغانستان ستروعلماو،چاپ خانه ، مجمع خادم الحرمين الشريفين.

۱۴. مرتضی، محسنی. (۱۳۷۶هـ ش). دوره حقوق جزای عمومي جلد سوم مسؤليت کيفری. ناشر:گنج دانش، تهران.

۱۵. ناصر، کاتوزيان.( ۱۳۹۳هـ ش). دوره مقدماتی حقوق مدني (وقايع حقوق ـ مسؤليت مدني)ناشر: دانشگاه تهران.

۱٦. هوشنگ، شامبياتی.(۱۳۹۱ هـ ش). حقوق جزايي عمومي، جلد دويم، ناشر: مجد، تهران.

**زاهد الله سيدي او بختيار حليمي**
التقوی د لوړو زده کړو موسسه، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، حقوقي علومو څانګه
لارښود استاد: پوهنوال محمد ایمل حقمل

# اداري مؤيداتو د تطبيق څرنګوالی

**لنډيز**

د اداري اصولو څخه د سرغړونې په صورت کې اداري مؤيدات تطبيقېږي، چې عبارت دي له: توصيه، اخطار، کسرمعاش او له دندې څخه تبديلي؛ چې توصيه او اخطار د کلنيو اجراآتو د ارزوونکو لومړۍ او دويمې درجې آمرينو واک دی، کسر-معاش، د وزير يا لومړۍ درجې اعطاء آمر صلاحيت ګڼل کېږي او له دندې څخه تبديلي، د بستو نو د درجې په نظر کې نيولو سره هر هغه مقام چې د مامورينو د مقررۍ صلاحيت لري، تبديلي هم د هماغه مقام واک ګڼل کېږي، د ترفيع معطلول، د دندې تعليق، موقتي او دايمي اخراج او بالاخره د قرار داد فسخ کول په اصل کې د اداري تخلفاتو په مقابل کې نه تطبيق کېږي. بلکې که مامور په ځينو خاصو حالاتو ( ډېرې غير حاضرۍ، د قضايي نهادونو لخوا د اوږدې مودې تعقيب او يا په بند محکومېدل او دنده يز مهارت نه لرل) کې قرار ولري پورته مويدات پرې تطبيقېږي.

په اداراتو کې د عدالت او مجازاتو د اصل د غوره تامين لپاره د اداري مويداتو د تطبيق په څرنګوالي باندې د اداري منسوبينو پوهېدل ډېر اړين دي چې همدا د دې څېړنې اهميت په ګوته کوي. دا څېړنه د کتابتوني تګلارې پر بنسټ تر سره شوې او له تر سره کولو څخه موخه دا ده چې هره اداري مويده د اړونده اداري تخلف په مقابل کې په دقيق شکل تطبيق شي.

د دې څېړنې له بشپړېدو وروسته دې پايلې ته ورسېدو چې د اداري مؤيداتو تطبيق په لومړۍ سر کې د لومړي او دويمه درجه امرينو او په استثنايي حالاتو کې د

اختلافاتو د حل کمېسيون او مدني محاکمو(عامه حقوقو د ديوان) واک ګڼل کېږي او د متخلف شخص احوالوته په کتو پرې مؤيده تطبيق کېږي.

**سريزه**

الحمدالله رب العالمين والعاقبة اللمتقين والصلاة والسلام على سيد الانبياء والمرسلين الذى بعث بالحق فارقا بين الحق والباطل وعلى اله وصحبه والتابعين وعلى كل من جاهد في سبيله الى يوم الدين.

(يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ أَطِيعُواْ اللّهَ وَأَطِيعُواْ الرَّسُولَ وَأُوْلِي الأَمْرِ مِنكُمْ). (سورت النساء، ايت: ٥٩).

ژباړه: ای هغو کسانو چې ايمان مو راوړی دی( ای مومنانو!) حکم ومنئ تاسې د الله او حکم ومنئ تاسې د رسول (د الله) او (حکم ومنئ) د خاوندانو د حکم له تاسې (مسلمانانو يعنې حاکمانو او مشرانو). (کابلی تفسير، لومړی ټوک، ۴۸۹)

د رسول الله صلى الله عليه وسلم وينا ده چې فرمايي: (كُلُكُّم راعٍ و كُلُكُّم مَسؤولٌ عَن رَعِيَتِهِ).

ژباړه: هر يو له تاسې څخه مسؤول ياست او له هر يوه څخه د هغه د مسؤوليت په هکله پوښتنه کېږي.

د اداري فعاليتونو رهبري او تنظيم يو سلسله اصول او قواعد لري، چې له بده مرغه په ځينو اوقاتو کې يو شمېر مامورين د مختلفو عواملو له کبله له دغو قواعدو څخه سرغړونه کوي، چې همدغو سرغړونو ته په اداري سيستم کې تخلفات ويل کېږي، چې په مقابل کې (توصيه، اخطار، کسرمعاش او له دندې تبديلي) اداري مؤيدات پلي کېږي، دا چې په څه ډول دا اداري مؤيدات تطبيقېږي، د دې ليکنې اصلي موضوع (د اداري مؤيداتو د تطبيق څرنګوالی) تشکيلوي، ما پرې دغه کوچنۍ ليکنه ترتيب او تنظيم کړې. الله تعالی جل جلاله دې وکړي چې په دې برخه کې زما

انتخاب شوې موضوع د اداري کارمندانو او اصلاحي ارګانونو تر څنګ محصلينو ته ګټوره تمامه شي او دوی ورڅخه استفاده وکړي.

## د موضوع مساله

دا چې تر اوسه د افغانستان په حقوقي نظام کې، اداري قوانين نه دي تدوين شوي او اداري محاکم وجود نه لري، نو د اداري مويداتو د تطبيق څرنګوالی، هم ډېر روښانه دی. نو څکه د دې څېړنې له طريقه مونږ کوشش کړی چې د افغانستان د مختلفو تقنيني اسنادو له مخې د اداري مويداتو د تطبيق څرنګوالی روښانه شي.

## د موضوع اهميت

په اداره کې د کار کوونکو د تشويق او ترغيب، د ادارې د عمومي ګټو او موخو د تامين او په کل کې په اداره کې د عدالت او نظم د رامنځته کولو لپاره (مکافات او مجازات) د ادارې يو مهم بنسټ ګڼل کيږي، د دې اصل له مخې که چېرته يو کار کوونکی په خپلو چارو کې له ځان وړتيا څرګندوي اداره يې بايد مکافات کړي او که چېرته په اړونده اداري باندې د حاکمو اصولو، تعاملاتو او مديريتي نورمونو خلاف کړنې تر سره کوي بايد مجازات شي(ولې په دې صورت کې هم د يو کار کوونکي مجازات بايد په قانوني، اصولي او متناسب شکل تر سره شي)، د اداري مويداتو د تطبيق څرنګوالی همدغه موضوع په ښه شکل روښانه کوي نو څکه دا موضوع په خپل ذات کې مهمه ګڼل کيږي.

دغه علمي څېړنه د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي استادانو، محصلانو، حقوقپوهانو او مقننينو لپاره هم مهمه ګڼل کيږي، څکه د مسلکي، تخنيکي او وظيفوي حيثه دوی د يادې موضوع سره په مستقيم او غير مستقيم شکل تړاو لري او اړ دي چې په دقيق او هر اړخيز شکل ورباندې پوه اوسي.

دا چې د اداري مويداتو د تطبيق څرنګوالی د اداري حقوقو د بحث يوه مهمه او اساسي موضوع تشکيلوي نو د دې علمي څېړنې په تر سره کولو سره د حقوقو ياده څانګه لا زياته غني شوه او د اداري حقوقو او مسلک استادانو او محصلانو چې په دې اړه کومې ستونزې او پوښتنې درلودې هغه په ښه شکل روښانه شوې.

## د موضوع د اختيار سببونه

(د اداري مويداتو د تطبيق څرنګوالي څېړنه) نظر لاندې دلايلو ته ما د خپلې علمي - څېړنيزې مقالې لپاره غوره کړه.

۱. د اداري مويداتو تطبيق څرنګوالي موضوع باندې تر اوسه کوم مستقله علمي څېړنه، نه ده تر سره شوې، نو ځکه ما د خپل بحث لپاره غوره کړه.

۲. د دې څېړنې تر سره کول د حقوقي علومو استادانو، محصلانو، مقننينو او حقوقپوهانو د علمي سويې د لوړولو لپاره هم ممد واقع کېږي، نو ځکه ما د خپلې څېړنې لپاره غوره کړه.

۳. له بلې خوا زه د اداري حقوقو د مسايلو سره ځانګړې علاقه لرم چې د حقوقو د يادې څانګې يو مهم بحث (اداري مويداتو د تطبيق څرنګوالی) تشکيلوي چې د شپږو کلونو راپديخوا په پوهنتون کې دا موضوع تدريسوم، نو د دې موضوع د غوره کولو يو سبب دا هم کېدای شي چې زه په اړونده موضوع کې کافي معلوماتو او موادو ته لاس رسی لرم.

## د څېړنې موخې

د دې علمي - څېړنيزې مقالې د ليکلو موخې عبارت دي له:

۱- د اداري تخلفاتو او مويداتو پېژندل.

۲- د اداري مويداتو د تطبيق په څرنګوالي باندې پوهيدل.

**تېرو ليکنو ته منطقي کتنه**

(د اداري مويداتو د تطبيق څرنګوالي) موضوع باندې کومه مستقله علمي څېړنه، نه ده تر سره شوې، که څه د اداري حقوقو په يو شمېر کتابونو کې په دې اړه بحثونه وجود لري ولې ډېره عمومي او محدوده بڼه لري لکه ګل رحمن قاضي (د اداري حقوقو) په نوم کتاب کې اداري مويدات ډېر محدود را اخيستل شوي؛ همدارنګه د علي ابادی (ايين دادرسی تخلفات اداری) په نوم کتاب کې د اداري مويداتو د تطبيق څرنګوالی ډېر په جزوي شکل د بحث لاندې نيول شوي. د دې تر څنګ د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د کار قانون، د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون، د افغانستان د ۱۳۸۸ هـ ش کال د ملکي خدمتونو ذاتي مقررې، د افغانستان د ۱۳۶۹ هـ ش کال د مدني محاکماتو اصولو قانون، د افغانستان د ۱۳۸۳ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون، د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او يو شمېر نور تقنيني اسنادو کې د اداري مويداتو په اړه تيت وپرک احکام وجود لري.

د پورته توضيحاتو په پايله کې دا حکم کولای شو چې په ذکر شوو کتابونو او تقنيني اسنادو کې د اداري مويداتو او د هغې د تطبيق د څرنګوالي په اړه عمومي، مجمل، تيت وپرک بحث او حکمونو وجود لري، ولې د دې علمي ـ څېړنيزې مقالې له لارې د اداري مويداتو د تطبيق د څرنګوالي بحث اړوند د تقنيني اسنادو حکمونه راټول او د دې موضوع اړوند ټول معلومات او اطلاعات په جامع، هر اړخيز او واحد شکل تنظيم شوي.

**د څېړنې پوښتنې**

د اداري مؤيداتو د تطبيق څرنګوالي د ښه پوهاوي او وضاحت په خاطر مې لاندې پوښتنې مطرح کړې او د الله ج په مرسته او د خپل لارښود استاد په لارښوونه مې هڅه وکړه، تر څو صحيح او سم ځوابونه ورته پيدا کړم.

۱. اداري تخلف څه شی دئ؟

۲. اداري مؤيدات څه شی دئ؟

۳. اداري مؤيدات په څه ډول تطبيق کېږئ؟

۴. اداري مؤيدات د چا له خوا تطبيق کېږئ؟

## د ليکنې تګلاره

دا موضوع تشريحي موضوع ده چې په ترتيب او شرحه کې مې لومړی د معلوماتو د ټولونې او واضحه ليکنې په موخه دغه ليکنه په دوه مبحثونو، مبحثونه په مطالبو او مطلبونه په جزونو، وويشل. همدارنګه د معلوماتو په راټولونه کې مې د کتابونو او په زياته کچه له قوانينو څخه استفاده کړې چې دا اصلي منابع دي او په دويم قدم کې، مې له انټرنيټي سايټونو څخه هم استفاده کړې ده، چې دا بيا فرعي منابع ګڼل کېږي.

## لومړی مبحث: د تأديبي مؤيداتو د تطبيق څرنګوالی

پوهېږو چې د اداري تخلفاتو په مقابل کې اداري تأديبي مؤيدات تطبيقېږي دا چې اداري مؤيدات په منظم ډول د مطلوبې نتيجې په خاطر پرته له کوم بل هدفه د ضرورت او اداري اصولو د غوښتنې په رڼا کې تطبيق شي، تر څو اداري چارې په سمه توګه تر سره او قوانين په مکمل ډول حاکم شي او په همدې ډول په دې برخه کې د ذيصلاح مقاماتو د خود سرۍ مخه هم ونيول شي، نو مقنن په همدې پلمه د اداري مؤيداتو د تطبيق د واک او شکلياتو د پلي کولو لپاره ځينې اصول ټاکلي، چې دغه اصول د ځانګړي پروسيجر له مخې تطبيقېږي. موږ په دې مبحث کې په دوو عمدوو موضوعاتو بحث کوو، لومړی د اداري مؤيداتو د تطبيق په ذيصلاح مراجعو (واک لرونکو ارګانونو)، دويم د اداري مؤيداتو د تطبيق په عمومي شکلياتو او پروسيجر. چې په لاندې کرښو يې کې څېړو.

**لومړی مطلب: د اداري مؤيداتو د تطبيق ذيصلاح مراجع**

که څه هم په نوره نړۍ کې د اداري مؤيداتو د تطبيق ذيصلاح مراجع په دوه ډوله دي. چې يو يې اداري مقامات او بل يې اداري محاکم دي، چې دواړه مراجع يو د بل په مرسته اداري تأديبي مؤيدات تطبيقوي. اما له بده مرغه په افغانستان کې اداري محاکم شتون نه لري او اکثره اداري مؤيدات خپله د اړوندو ادارو لخوا تطبيقېږي او که احيانا موضوع د اعتراض حد ته ورسېږي، بيا د عامه حقوقو ديوان ورته رسيدګي کوي، چې دا يو استثنائي حالت دی. په هر صورت د اداري مؤيداتو د تطبيق مراجع په همدې خاطر په لږ څه جزئياتو د افغانستان د قوانينو په رڼا کې څېړو چې په درې (۳) ډوله دي. يو خپله اداري مقامات دي، دويم د تخلفاتو د حل و فصل کميسيون دی او درېيم محاکم دي، چې په لاندې کرښو کې يې په مختصره توګه تر بحث لاندې نيسو.

**لومړی جز: د اداري مؤيداتو تطبيق د اداري مقاماتو له حيثه**

څرنګه چې پورته ذکر شوه د افغانستان د قوانينو له نظره اکثره اداري مؤيدات د اداري مقاماتو لخوا تطبيقېږي، چې موږ هم نژدې د هرې اداري مؤيدې د تطبيق د واک په هکله په لاندې عناوينو کې په جلا جلا ډول بحث کوو.

**لومړۍ فقره: د توصيې د تطبيق واک او اختيار**

کار کوونکو ته د اداري تخلف په صورت کې د توصيې د تطبيق د طرز په اړه د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون اشاره کړې او وايي: (توصيه... د کلنيو اجراآتو د ارزونې د فورمې د ارزوونکو لومړی او دويمې درجې آمرينو واک دی). (۷: ۳۰ ، ۲بند، لومړی ۱ فقره.)

په ماده کې موضوع روښانه ده، لکه څرنګه چې پوهېږو د اداري چارو د ښه سمون او بهبود په خاطر د بستونو په تناسب (د اول بست څخه تر اتم بسته پورې) د کال په

مختلفو وختونو کې (د دريو مياشتو څخه تر يو کال پورې په موده کې) ارزيابي کېږي او د ارزيابۍ ټيمونه د کارکوونکو د کارونو څخه نظارت او څارنه کوي، چې د مامورينو د پلان تطبيق او ښه خدمت د امتيازاتو د ورکړې سبب ګرځي او په همدې ډول کچېرې د کوم مامور د اداري کارونو په اړه د تخلف موارد وليدل شي، نو په دې صورت کې بيا د همدې ډلې لومړی او دويم امر د توصيې حق لري، تر څو مامور په مربوطه اداري خلاؤ خبر او د هغه په اړه ورته لازمې سپارښتنې وکړي او مامور مکلف دی چې توصيه شوي موارد عملي کړي او خپلې چارې په هغه ډول تر سره کړي چې قانون او لايحه يې غوښتنه کوي.(۷: ۳۰، **۲بند**)

په هر صورت که چېرې مامور دا توصيه بابيزه وګڼي او بيا متخلف واقع شي، نو په دويم قدم کې ورته د خپلې خلا په اړه اخطار ورکول کېږي چې د ښه پوهاوي په خاطر يې په لاندې ډول په مختصره توګه څېړو.

## دويمه فقره: د اخطار د تطبيق واک او اختيار

هر کله چې د متخلف مامور په وړاندې توصيه کومه نتيجه ور نه کړي بيا په دويم قدم کې همدغه د ارزونې فورمې د څارونکي د لومړي او دويم درجه آمر لخوا متخلف مامور ته اخطار ورکول کېږي، چې په تحريري ډول به وي او همدارنګه د لومړي ځل لپاره معمولاً اخطار د مامور په سوانح کې نه درج کېږي او کله چې تخلف تکراري شي بيا په دويم ځل په سوانحو کې ثبت او راجستر کېږي. (۵: ۲۸۹)

په هر حال که احيانا اخطار هم د اداري د مطلوب کارکوونکي په اړه کومه مثبته پايله ور نه کړي نو بيا په دريم قدم کې د مامور د معاش څخه يوه څه اندازه ګرځول کېږي، چې په لاندې کرښو کې يې تر څېړنې لاندې نيسو.( ۷: ۳۰، ۲بند۲ فقره)

**درېيمه فقره: د کسر معاش د تطبيق واک او اختيار**

د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون د کسر ـ مزد موضوع ته اشاره کړې چې وايي، د توصيې او اخطار څخه وروسته په درېيم ځل سرغړونکي مامور تر پنځو ورځو پورې په کسر مزد محکومېږي او په همدې توګه د همدې مادې په دويم بند کې وايي، چې د کسر معاش واک د وزير يا لومړۍ درجې اعطاء آمر سره دی.( ۳۰:۷ ماده، لومړی بند، درېيمه فقره، او دويم بند)

د کسر معاش په باره کې د پورته مادې د محتوا څخه درې موارد استنباطېږي، لومړی دا چې په اداري مؤيداتو کې د کسر معاش تأديب عملي کېدای شي، دويم دا چې تر پنځو ورځو به وي او درېيم دا چې د کسر ـ مزد مؤيده د وزير يا لومړي درجه لرونکي آمر واک دی، يعنې د دې خبرې معنا داده چې بغير له وزير او لومړۍ درجې آمر څخه نور څوک د کسر معاش د تطبيق صلاحيت نه لري، نو په ټوله کې د کسر معاش موضوع واضح ده، که چېرې مامور او کارکوونکی د اداري مقرراتو او لوايحو څخه سرغړونه وکړي او متخلف واقع شي، نو د اداري مؤيداتو څخه تر پنځو(۵) ورځو پورې په معاش ګرځولو محکومېږي، که څه هم د مامورينو په موجوده معاشاتو کې د مزد ګرځولو دغه اندازه مناسبه ده او کومه ملاحظه پکې نشته. مګر په هر صورت که چېرې مامور د دې مؤيدې په ترڅ کې د سرغړونو نه لاس وانه خلي، نو همدې قانون ورته په څلورم قدم کې د دندې د تبديلۍ تأديب پېش بيني کړې، په لاندې کرښو کې يې تر مطالعې لاندې نيسو.

**څلورمه فقره: د تبديلۍ واک او اختيار**

تر توصيې، اخطار، او کسر مزد وروسته په څلورم اداري تأديبي اقدام کې د متخلف مامور په مورد کې د وظيفې څخه په تبديلۍ مؤيده تطبيقيږي. (۱۴: ۲۲ماده)

په دې هکله د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو د کارکوونکو قانون په لسمه ماده کې د واک په اړه بحث کړی. (۷: ۳۰، ۲بند۴ فقره)

البته لسمې مادې د بستونو د درجې په نظر کې نيولو سره د مامورينو د مقررۍ موضوع بيان کړې، چې د پورته بند د حکم په اساس تبديلي هم د همدې مقاماتو صلاحيت ګڼل کيږي، چې لسمه ماده په لومړيو کې د کارکوونکو د مقررۍ په هکله وايي، خالي بستونه په لومړي قدم کې تشخيص... او بيا اهليت لرونکي اشخاص پرې د آزادې سيالۍ له لارې د ذيصلاح مقاماتو له خوا مقرريږي.

د مادې حکم روښانه دی او وايي، هر کله چې بستونه خالي شي د اړونده ادارې مسؤلينو لخوا تشخيص او په ګوته کيږي بيا د يادو بستونو په هکله د اداري اصلاحاتو خپلواک کميسيون، ته اطلاع ورکول کيږي او وروسته اعلان ته وړاندې کيږي او په درييم قدم کې د شرايطو برابر اهليت لرونکي اشخاص پکې د آزادې سيالۍ او ازموينې له طريقه په دنده ګمارل کيږي.

د همدې مادې دريیم بند وايي: چې د تقرر منظوري د لاندې مقاماتو په واسطه صورت مومي، چې زموږ موضوع د همدې بند پورې اړه لري، پرته له تشريح او توضيح څخه يې يوازې مفهوم او محتوا رانقلوو، اما د همدې مفهوم په مټ خپله موضوع چې هغه د مامور تبديلي ده په مختصره توګه د هر بند څخه وروسته روښانه کوو، د يادې مادې بندونه په لاندې ډول يو په يو ستاسو محترم محضورته وړاندې کوو:

۱. د لومړي او دويم بست مامورين د ملکي خدمتونو د ټاکنو د بورډ او د اړونـدې اداري د واکمن استازي په ټاکنه، د ملکي خدمتونو او اداري اصلاحاتو د خپلواک کميسيون د رئيس په وړانديز او د جمهور رئيس په منظورۍ مقررېده.

پس ويلی شو، چې د تېر نظام( جمهوريت ) پرمهال د لومړي او دويم رتبه بستونو د مامورينو ټاکل د اداري اصلاحاتو د کميسيون د تعيناتو د بورډ له خوا د اړونـدې اداري د واکمن استازي، په همکارۍ تشخيص کېده او وروسته د ياد کميسيون د رئيس لخوا جمهور رئيس ته د منظورۍ او مقررۍ لپاره وړاندې کېدل.

د دې خبرې معنی داده، چې د همدې بستونو مامورينو د تبديلۍ واک په ورتـه پروسيجر د همدې اداري مقاماتو په تشخيص او وړانديز يوازې او يوازې د هېواد لـه جمهور رئيس سره و، د يادولو وړ ده چې په عادي او نورمال ډول پـه اداراتـو کـې د مامورينو تغير او تبديل يو اصل دی، چې وخت پـه وخـت د مسؤلو مقاماتو لخوا صورت نيسي، نو د دې خبرې معنی داده، چې د تخلف پـه صـورت کـې هـم او پـه عادي حالاتو کې هم د يادو بستونو د تبديلۍ واک او اختيار د ولسمشر سره و. اما د پورته مقاماتو وړانديز په دې برخه کې هم رول لري.

**خلاصه:** اول او دويم بست مامورين د تعيناتو د بورډ او اړونـدې اداري لخـوا انتخابېدل او د اداري اصلاحاتو کمېسيون رئيس يې د منظورۍ وړانـديز کـاوه او ولسمشر مقررول، پس په همدې ډول تېول ذکر شوي مقاماتو يې په تبديلۍ کـې هـم رول درلود او تبديلي يې هم جمهور رييس کوله.

۲. په مرکز او ولايتونو کې د دريېم، څلورم او پنځم رتبه بست مامورين او د مرکـز د شپږم بست مامورين د وزارتونو او خپلواکو دولتي ادارو د ټاکنو د کمېټې پـه تشخيص او وړانـديز د وزير يـا د دولتي خپلواکې اداري د عمومي رئيس پـه منظورۍ مقررېدل.

په همدې ډول د مادې متن حکم کوي او وايي: په مرکز او ولایاتو کې د (۳-۴-۵) رتبه بستونه او یوازې په مرکز کې د (٦) رتبه بست د اړونده وزارت د مامورینو د ټاکنو د کمېټې او په دولتي خپلواکو ادارو کې د یادو بستونو د مامورینو د ټاکنو کمېټه لومړی خالي بستونه تشخیصول او بیا د همدې وزارت وزیر او یا د خپلواکې ادارې عمومي رئیس لخوا منظورېدل.

پس په پایله کې ویلی شو، چې د پورته بستونو د مامورینو تغیر او تبدیل هم یوازې د همدې چارواکو او مقامونو لکه وزیر او د خپلواکې ادارې د عمومي رئیس واک او صلاحیت ګڼل کېده.

۳. په ولایت کې د شپږم بست مامورین د ولایتي ټاکنو د کمېټې په تشخیص او وړاندیز او اړوند ولایت د والي په منظورۍ مقررېدل.

همدارنګه د معمول مطابق په ولایتونو کې د (٦) رتبه بست مامورین څرنګه چې د اړوند ولایت د تعیناتو د کمېټې په واسطه تشخیصېږي او بیا د همدې ولایت د والي په منظورۍ مقررېدل.

په همدې ډول په ټولو ولایتونو کې د شپږم رتبه بست د تبدیل او تغیر واک هم د اړونده والي سره و.

۴. په مرکز کې د اومو (۷) او اتمو (۸) رتبه بستونو او د قراردادي کارکوونکو مقرري د وزارتونو او عمومي خپلواکو دولتي ادارو د ټاکنو د کمېټې په تشخیص او ټاکنه او د وزیر یا د خپلواکې ادارې د عمومي رئیس په منظورۍ او په ولایتونو او ولسوالیو کې د ولایتي یا ولسوالۍ د ټاکنو د کمېټې په تشخیص او وړاندیز او د اړوند ولایت والي یا ولسوال په منظورۍ صورت نیوه. (۷: ۱۰)

دا چې د اهميت په اساس په مرکز (پايتخت کابل) کې د (٧ او ٨) رتبه قراردادي مامورينو د ګمارنې واک د وزير او عمومي خپلواکو ادارو د رئيسانو سره دی، په همدې ډول د دندې څخه د ادلون او بدلون اختيار يې هم د همدې مقاماتو صلاحيت ګڼل کېږي، اما په ولايتونو او ولسواليو کې د عيني(٧-٨) بستونو د کار کوونکو د منظورۍ او تبديلۍ واک بيا د اړوندو ولايتونو د واليانو او ولسوالانو واک و.

پس په پايله کې ويلای شو چې له لومړۍ رتبې بست څخه نيولې بيا تر اتمې رتبې بستونو پورې هغه که قراردادي وي او که غير قراردادي وي د کوم مقام او چارواکو لخوا چې د مقررۍ منظوري ورکول کېږي او په دنده يې ګماري د هماغه مقام لخوا يې د تبديلۍ او تغير حکم هم کېږي، چې اړونده اداري او د اداري اصلاحاتو خپلواکه کميسيون په دې برخه کې هم رول لري، ځکه د تغير او بدلون موضوع د همدې ادارو لخوا تشخيصېږي او بيا ذيصلاح مقام ته وړاندې کېږي، البته لکه څرنګه چې مخکې هم ذکر شو په اداراتو کې ادلون بدلون د يو اصل په توګه منل شوی، معنا دا چې په عادي حالاتو کې هم د ورته چارواکو صلاحيت ګڼل کېږي.

د يادونې وړ دي چې زموږ اداري قوانينو د تبديلۍ موضوع ذکر کړې، مګر د وخت په هکله يې وضاحت نشته، البته د تأديب په صورت کې پکار دا وه چې وخت ورته تعين شوی وای، لکه: څرنګه چې د ايران د اداري تخلفاتو قانون په (٩) ماده کې د تأديب شوي مامور وخت تعين کړی، چې هغه عبارت دی له يو کال څخه تر پنځو کلنو پورې. (٢٦)، يعنې مامور کولای شي د ياد وخت څخه وروسته هغه ځای کې دنده تر سره کړي، چې دی ورته په اسانۍ سره رسيدګي کولای شي.

**پنځمه فقره: د ترفیع معطلولو واک او اختیار**

د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون حکم کوي او وايي که چېرې اداري کارکوونکي د جرمونو په ارتکاب تورن شي، د څارنې، توقیف، تحقیق او محاکمې په موده کې د هغه دنده ایيزه حقوق او امتیازونه معطلېږي. (٦: ۱۰۲) د مادې حکم عام دی او د مامور ټولو حقوقو ته شاملیږي، چې له هغې جملې څخه د ترفیع معطلول هم مطرح کیږي او تر څو چې تورن برئ الذمه اعلان شوی نه وي، ترې استفاده نشي کولای.

البته د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون د دې خبرې وضاحت نه دی کړی چې د جرایمو څخه یې کوم ډول جرمونه مراد دي، آیا اداري اړوند جرمونه او که غیر اداري جرمونه، اما موږ داسې فکر کوو چې د مقنن هدف دلته دا دی چې د یوې اداري مامور که په هر ډول جرایمو مرتکب شي، هغه که اداري وي یا هم غیر اداري جرایم وي یعنې بل داسې عمل وي چې د جزا قانون هغه جرم ګڼلی وي او د نورو ثالثو اشخاصو پر وړاندې بیرون له ادارې هم واقع شي، او نوموړی اداري مامور پکې تر پلټنې لاندې ونیول شي، نو ترفیع یې معطلیږي.

همدارنګه په بل ځای کې د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون وايي: په هغه صورت کې چې د کال په اوږدو کې د هغه ناسوب تیا او د دندې پرېښودل له شلو (۲۰) ورځو څخه تجاوز وکړي، د غیابت ورځې د کارکوونکي د ترفیع او تقاعد په قدم کې د محاسبې وړ ندي. (٦: ۱۰۰م)

د موضوع مطابق د یادې مادې د متن څخه معلومیږي چې غیر حاضري د ترفیع د معطلولو سبب ګرځي، دا چې د تطبیق واک یې له چا سره دئ؟ په لاندې کرښو کې مطالعه کوو.

د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو کميسيون د ملکي خدمتونو اداره، واک لري چې د مامورينو د نورو چارو تر څنگ د ترفيع موضوع د اړونډې ادارې سره په هماهنگۍ تطبيق کړي.(۳: ۳) په دې هکله د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون حکم کوي او وايي: د ملکي خدمتونو د مامورينو... د ترفيع... پورې د اړونده موضوعاتو ... تطبيقول ددې ادارې له واکونو څخه دي. (۶:۱۴)

د دې مادې په شرح کې ويلای شو چې د کميسيون اداري برخه د نورو اداري چارو د ترتيب او څارنې تر څنگ د مامورينو د ترفيع اړخ هم څاري او د اړوندې ادارې په همکارۍ د هغې تطبيق ته لاره هواروي، د مادې له پورته بند څخه داسې معلومېږي چې د ترفيع معطلول هم د همدې ادارې له واکونو څخه گڼل کېږي.

همدارنگه ياد کميسيون د ملکي خدمتونو تعيناتو د بورډ لري، چې د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون يې د واکونو په هکله وايي: د تعيناتو بورډ لومړۍ د لوړ رتبه مامورينو... د نورو ذاتي چارو تر څنگ د هغوی د ترفيع مسايل تشخيصوي او بيا يې جمهور رئيس ته د منظورۍ لپاره وړاندې کوي. (۶: ۱۲)

جمعا دافغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون دواړو مادو موضوع په دې ډول خلاصه کړې، چې د ټيټ رتبه ماموريو د ترفيع چارې د کميسيون د اداري څانگې کار دي او د لوړ رتبه مامورينو د ترفيع تشخيص او نورې چارې بيا د ياد کميسيون د تعيناتو د بورډ واک دی، پس په نتيجه کې ويلای شو چې د اداري تخلف (غيرحاضرۍ) او جزايي تخلف (جرم) په صورت کې يې ترفيع معطلول هم د فوق الذکر ادارو واکونه دي، البته د مامور اړونده ادارې هم په دې برخه کې رول لري، ځکه د ترفيع اړوند مسايل د کميسيون لخوا د همدې ادارو په همکارۍ تشخيص او تر سره کېږي، بله خبره چې ضروري ده هغه داده چې د مامور اداري کړنې د ترفيع په تر لاسه کولو کې ستر رول لري، فلهذا د ترفيع اخيستل او ځنډول د

مامور د خپلو مثبتو فعاليتونو پيلامه ده او عدم ترفيع د منفي يعنې د تخلفاتو نتيجه ده، چې د ورکړې او څنګه مسايل يې د مامور د خپلې ادارې تر څنګ د اداري اصلاحاتو د خپلواکه کميسيون پورې اړه لري.

**شپږمه فقره: د قرارداد د فسخ کولو واک او اختيار**

د اداري مؤيداتو لـه جملې څخه يـو يـې د قـرارداد د فسخې تأديـب دی چې پـه قراردادي او غير ماهر کار کوونکي باندې تطبيقيږي. (٦: ٩٥ماده) چې په هکله يې د افغانستان د ١٣٨٧ هـ ش کال د ملکـي خـدمتونو قـانون وايـي: کـه چيـرې د تـأديبي مؤيداتو د تطبيق وروسته بيا سرغړونه وشوه يا دا چې په آزمايښتي دوره کې د مـامور د قناعت وړ پايلې تر لاسه نه شوې... د مامور او يا د قراردادي قرارداد فسخه کيـږي. (٦: ٢٣)د عملي کولو او تطبيق واک يې په لاندې کرښو کې څېړو.( ٩: ١١)

بې له شکه هر عقد او قرارداد د يو سلسـله مکلفيتونـو او حقوقـو ايجـادونکی دی او لوريو ته په دواړو برخو کې خپل اثر او نتايج لـري او تـر هغـه وختـه مطلوبـه اغيـزې ادامه پيدا کوي، تر څو چې لوري په خپلو تعهداتو ولاړ او پابند وي، مگر کله چې د ترون ذيدخل اړخونه خپل وجايب په سمه توگه تر سره نه کړي، په دې صورت کـې د قرارداد د فسخې موضـوع مطـرح کيـږي، امـا بـې قيـدو شرطـه نـه، بلکـې د اداري قراردادونو د فسخې لپاره مقنن يوه سلسله شرايط وضع کړي چې پرته له هغې امکان نلري او قرارداد نشي ماتېدای، د بنه پوهاوي لپاره يې لاندې کرښو کـې پـه مختصره توگه څېړو.

لومړی شرط: د افغانستان د ١٣٨٧ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون حکم کـوي او وايي: د سمو (مؤجه) دلايلو پرته د (٢٠) پرلـه پسـې ورځـو غيابـت پـه صـورت کـې اداري اشخاص کولای شي قرارداد فسخه کړي. (٦: ١٠١ماده)

**دويم شرط:** د کال په اوږدو کې له دوو ځلو څخه زيات د افغانستان د ۱۳۶۹ هـ ش کال د مدني محاکماتو اصولو قانون د پنځه نويمې مادې په (۴،۳،۲) اجزاوو کې درج شوي، د تأديبي مؤيدو د تطبيق په صورت کې هم قرارداد فسخه کيږي. (۱۰:۶ماده)

د مادې دويم بند د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د کار قانون ۹۵ مادې ته موضوع حواله کړې، چې خپله (۹۵) مادې په (۲بند کې د اخطار، ۳ بند کې د کسر معاش او په ۴ بند کې د تبديلۍ موضوع بيان کړې چې مخکې تشريح شوې او دلته يې د تکرار څخه صرف نظر کوو) د مقنن هدف دادی: چې که چېرې په ټول کال کې يو مامور په پورته هر يوې تأديبي مؤيدې دوه ځلې تأديب شوی وي، نو په همدې کال کې د دريېمې سرغړونې په صورت کې قرارداد فسخه کيږي او کارکوونکی نور د يادې وظيفې د اجراء صلاحيت له لاسه ورکوي.

همدارنګه د تفتيش او نظارت په وخت که چېرې کار ناسم وي، نو په دې حالت کې هم د کارکوونکی قرارداد قابل د فسخې دی، چې په اړه يې لاندې قانوني نص شتون لري او وايي: د ملکي خدمتونو د (۸ او ۷) بستونو د نوو مقررو شوو ملکي خدمتونو د قراردادي کار کوونکو خدمتونه او اجراآت، د استخدام له نېټې څخه د دريو (۳) مياشتو له تېرېدو وروسته د اړوندې ادارې په واسطه په ازمايښتي توګه ارزول کيږي، د نه برياليتوب په صورت کې د هغه قرارداد فسخه کيږي. (۱۷: ۲۴م۱ب)

**اومه فقره: د مؤقتي اخراج واک او اختيار**

له دندې څخه د اخراج د واک په هکله قانون څه وضاحت نه دی کړی، اما معمولا اړونده ادارې د اصولو له مخې د اداري اصلاحاتو کمېسيون ته په اطلاع ورکولو سره کولای شي بل قراردادي مامور په مؤقته توګه په دنده وګماري، ترڅو اداري چارې له

ځنډ سره مخامخ نه شي، ورته کړنلاره د تعليق په حالت کې هم تطبيق کېږي. (۱۷: ۱۲م ۱-۲ب)

زموږ په فکر ښه به دا وي چې د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون لکه څرنګه چې د تبديلۍ په موضوع کې د بستونو په تناسب د هر بست د مامور د تغير واک ځانګړي مقام ته ورکړی، نو له وظيفې څخه اخراج له تبديلۍ سخته مؤيده ده، بايد په دې هکله هم ځانګړی ترتيب په قوانينو کې روښانه شي، چې په دې سره به اداري عدالت په ښه ډول تطبيق شي.

**اتمه فقره: د وظيفې د تعليق واک او اختيار**

څرنګه چې وړاندې مو يادونه وکړه، چې د ملکي خدمتونو مامور هر کله چې د کوم تور له امله تر توقيف لاندې وي او يا د تحقيق او محکمې له امله يې وظيفې او کار ته رسيدګي ناشونې شي، په دې صورت کې يې دنده په تعليق کې اچول کېږي او اداره کولای شي د نوموړي مامور په بست بل مامور په خدمتي توګه او يا قراردادي توګه په دنده وګماري. (۱۷: ۱۲م ۱-۲ب)

د مادې له متن څخه په ډاګه معلومېږي، چې د وظيفې د تعليق واک په پورته شکلياتو د مامور اړونده اداره لري، البته تعليق او د وظيفې د ځنډ موضوع تر هغه دوام کوي، ترڅو چې د مامور اصلي مؤقف نه وي روښانه شوی، په دې معنی که چېرې تحقيق او محاکمه تر يوکاله وخت ونيسي له دندې تعليق پای مومي او مامور اخراجېږي، چې د اخراج موضوع بل اداري حالت دی، چې په لاندې کرښو کې ترې يادونه کوو.

**نهمه فقره: د دايمي اخراج واک او اختيار**

د قانون له احکامو داسې معلومېږي، چې له دندې د اخراج واک يوازې د اړونده ادارو له چارواکو سره دی، اما اصولاً مربوطه اداري د اداري اصلاحاتو د کمېسيون په

همکارۍ دا چاره تر سره کولای شوه، يعنې لومړی کمېسيون ته خبر ورکول کېده او بيا د بستونو په تناسب اړونده اجراات تر سره کېدل او د هر بست د رتبې په نظر کې نيولو سره مقررۍ صورت نيوه.

لکه وړاندې چې ذکر شوو که د ۷ او ۸ بستونو مامورين په ارزونې کې نا بريالي شي، يا مامور شل ورځې غير حاضر شي او ياهم جرمې تحقيق او محاکمه يې تر يو کاله دوام وکړي، نو له دندې اخراجيږي.

اوس دلته پوښتنه داده، که احيانا په اداري تخلف محکوم مامور په ځان لږېدلې مؤيده نا سمه وګڼي. نو آيا په اداري مقاماتو کې استنافي پړاو شته که نه؟، يعنې په دې صورت کې به د اداري تخلف او اداري مؤيداتو ذيصلاح مرجع کومه يوه وي؟ يا څوک په دې برخه کې د فيصلې واک لري؟

د دې پوښتنې ځواب خپله قوانينو ارائيه کړي او هغه دا چې په دې صورت کې به موضوع د اړوندې اداري د اختلافاتو د حل کميسيون ته راجع کيږي. چې همدا د اداري مؤيداتو د تطبيق دويمه ذيصلاح مرجع ګڼل کيږي، چې د بشپړ وضاحت په موخه يې په لاندې جلا عنوان کې تر مطالعې لاندې نيسو.

**دويم جز: د اداري مؤيداتو تطبيق د ځانګړي کميسيون له حيثه**

هو! کله چې د اداري ذيصلاح مقاماتو لخوا په متخلف کارکوونکي غير قانوني د اداري تأديب حکم صادر شي، دی کولای شي د دلايلو او شواهدو په وړاندې کولو سره شکايت وکړي، چې په دې هکله قانوني نص شتون لري او وايي: (که چيرې کارکوونکي تأديبي مؤيده ناسمه (غير مؤجه) وګڼي د هغې د ناسموالي په هکله د دلايلو او شواهدو په وړاندې کولو سره کولای شي د اړوندې اداري د کار د اختلافونو د حل کميسيون ته شکايت وکړي...(٦: ٩٨م)دغه کميسيون په نوره نړۍ کې د يو هيئت په شکل، په ولايتونو، مستقلو رياستونو او وزارتونو کې شتون لري،

چې د اړوندو ادارو د مشرانو لخوا ایجادېږي او اداري تخلفاتو ته رسيدګي کوي. (٢٠: ٦٦)

د افغانستان د ١٣٨٧ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون حکم روښانه دی، چې وايي: په تخلف تأديب شوی مامور کولای شي په اسنادو او شواهدو سره د ناسمې اداري مؤيدې مخه ونيسي او د هغې په مقابل کې شکايت وکړي، دا چې چاته شکايت وکړي، يعنې کوم کميسيون ته شکايت وکړي، ددې پوښتنې د ځواب په هکله ويلی شو چې: (د هر ولايت په سطحه يو د اداري اختلافاتو د حل کميسيون شتون لري، چې په ترکيب کې يې د همدې ولايت رئيس دفتر، د بشري سرچينو رئيس او د اداري اصلاحاتو د خپلواکه کميسيون رئيس شامل دی او درې سره رئيسان د ګډ کميسيون په شکل د شاکې شکايت ته رسيدګي کوي. البته په نورو ادارو (وزارت او مستقلو رياستونو)کې هم ورته تعامل دی او د اداري مؤيدې سم والی او نه سم والی په پوره وضاحت سره څېړي او فيصله کوي). (۴: ٦٧) په هر صورت ويلی شو چې اداري تخلفاتو د رسېده ګۍ دويمه مرجع د اختلافاتو د حل کمېسون دی؟

دلته بله پوښتنه داده چې که چېرې په تخلف محکوم شخص د کميسيون په پرېکړه بيا هم اعتراض ولري، بيا به چېرته مراجعه کوي؟

د دې پوښتنې په ځواب کې ويلي شو، چې په اداري مؤيده محکوم مامور کولای شي محکمې ته مراجعه وکړي، چې په همدې خاطر دا يې دريیمه ذيصلاح مرجع ګڼل کيږي. چې د ښه وضاحت په موخه يې په لاندې جلا عنوان کې تر مطالعې لاندې نيسو.

**درېيم جز: د اداري مؤيداتو تطبيق د محاکمو له حيثه**

د اداري مؤيداتو د تطبيق درېيمه مرجع محاکم دي، چې په هکله د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون وايي: (د اړخونو د نه توافق په صورت کې موضوع اړوندې محکمې ته راجع کېږي). (٦: ۹۷)

که چېرې له اړخونو څخه يو د کميسيون په تصميمونو قناعت ونه لري، کولای شي واکمنې محکمې ته مراجعه وکړي). (۱۴: ۲۷ماده)

ځکه موږ پوهېږو چې د هرې ټولنې افراد په هره برخه کې چې حق يې تلف شوی وي، کولای شي حق ته د رسېدو په خاطر يا د عدالت د غوښتنې په موخه محاکمو ته مراجعه وکړي، (۱۹: ۲۷ماده) چې د بشري حقوقو په اډانه کې منل شوی حق يا اصل دی. (۲۴: ۳۷)

همدارنګه په صدر اسلام کې هم اداري محاکم موجود ول، چې ديوان مظالم به ورته ويل کېدل او د ټولو دولتي ادارو او د هغو د چارواکو او همدارنګه د متنفذينو تخلفاتو ته يې په قوت سره رسيده ګي کوله. (۲۵: ۴۸)

هو! د نه توافق په صورت کې موضوع محاکمو ته وړاندې کېږي دا چې کومو محاکمو ته ځواب يې واضحه دی او هغه دا چې موضوع اداري محاکمو ته راجع کېږي، اما د بده مرغه تر اوسه موږ په افغانستان کې اداري محاکم نه لرو، که څه هم قوانينو يې د جوړېدو وړانديز کړی. (۲: ۲۷)

نو په همدې خاطر دلته بله پوښتنه پيدا کېږي چې، آيا اوس د اداري محکمې د نه شتون په صورت کې داسې دعوې کومې محکمې ته راجع کېږي؟

همدارنګه د اداري مامورينو په دې هکله عدم پوهاوی د دې سبب ګرځېدلی، چې څوک د اداري مؤيداتو د تطبيق په مقابل کې د عدالت غوښتنې په خاطر محاکمو ته مراجعه نه کوي.

د هېواد د موجوده محاکمو په تشکيل کې د عامه حقوقو په نوم يو ديوان شتون لري، چې د عامه حقوقو اړوندو منازعاتو ته رسيدګي کوي، چې په هکله يې د افغانستان د ۱۳۶۹ هـ ش کال د مدني محاکمو د اصولو قانون وايي: (د عامه حقوقو، په دعواوو پورې مربوطې عريضې په مستقيمه توګــه دکابل ښــاري محکمې، دولايتونـو يـا لويې ولسوالۍ محکمو تـه وړانـدې کېږي).(۱۷: ۱۲۱م)

اداري دعوې د اداري محاکمو د نه موجوديت په صورت کې د مدنې محـاکمو د عامه حقوقو ديوان ته راجع کېږي او هلته حل و فصل کېږي.

په هر حال دلته بله پوښتنه پيدا کېږي چې آيا د دې اداري تخلفاتو د تطبيق پروسيجر به څرنګه وئ؟ لکه: د نورو (جزايي او مـدني دعـواوو) لپـاره ځـانګړي پروسـيجرونه شتون لري، ځکه موږ خوشبختانه د مدني او جزايي تخلفاتو لپاره هم په متني او هـم په شکلي دواړو برخو کې قوانين لرو او د دواړو تخلفاتو ټول شکلي طرز العمل پکې بيان شوی. اوس پوښتنه همدلته ده چې ورته قوانين په اداري برخه کې شته که نـه پـه ځانګړې توګه د شکلي پروسيجر لپاره؟

په ټوله کې هغه رنګ چې په مدني او جزايي برخه کې کار شوی د اداري حقوقو پـه برخه کې نه دی شوی، د مثال په توګه مـوږ پـه (۱۳۵۵) هــ ش کـال کـې جزايـي او مدني اجراآتو لپاره قوانين درلوده، اما د اداري اجراآتو لپـاره پـه(۱۳۹۷) هـ ش کـال کې قانون تدوين شـو، يعنـې د اداري حقوقـو د ځـانګې لپـاره لازمـې هڅـې نـه دي شوي. په هر صورت که څه هم د اداري تخلفاتو او سرغړونو په برخه کې متني قواعد شته، چې متأسفانه کافي نه دي. همدارنګه شکلي برخه يې هم په نشـت حسـاب ده.

په ځانګړي ډول د اداري تخلفاتو، اداري تأديباتو او د هغې د تطبيق په اړ منظم قوانين نه لرو، پکار دا وه چې هم په شکلي او هم په متني دواړو برخو کې ځانګړي قوانين ايجاد شوي وای.

**دويم مطلب: د تأديبي مؤيداتو د تطبيق عمومي شکليات**

د اداري مؤيداتو د تطبيق او عملي کولو لپاره يوه سلسله شکليات او ضوابط تاکل شوي، چې په مختصره توګه يې په لاندې عناوينو کې تر بحث لاندې نيسو.

**لومړی جز: د مؤيدې تطبيق د شدت او خفت له حيثه**

د اداري مؤيداتو د تطبيق پر مهال بايد د متخلف مامور ځينو مسايلو ته پاملرنه وشي چې په دې هکله د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د کار قانون حکم کوي او وايي: (د ادارې مسؤل مکلف دی د تأديبي مؤيدو د تطبيقولو په وخت کې د سرغړونې د احوالو سره سم... هغه تطبيق کړي. (۶: ۹۶ ماده)

مقنن د اداري مؤيداتو د تطبيق پر مهال ذيصلاح مسؤلينو ته په دې ماده کې سپارښتنه کوی چې لومړی خپله د سرغړونې يا د تخلف شدت او وخامت ته پام وکړي. په دې معنی چې تخلف شديد وي، نو کولای شي مؤيده هم پرې شديد تطبيق کړي او که خفيفه وي نو تأديب هم بايد خفيفه وي، يعنې د اداري تخلفاتو د تطبيق سلسله مراتب به په نظر کې نيسي-، داسې نه چې د معمولي سرغړونې په صورت کې پرې شديده مؤيده تطبيق کړي، لکه: کسر معاش... يعنې د مؤيداتو په تطبيق کې بايد عدالت په نظر کې ونيول شي.

## دويم جز: د مؤيدې تطبيق د متخلف شخص د احوالو له حيثه

د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د کار قانون بيا هم وايي: (... د ادارې مسؤل مکلف دی، چې د سرغړونې په وخت کې د کار کوونکي حالات د کارکوونکي د کار سابقه او سلوک په پام کې ونيسي). (۵: ۹۶ ماده)

اداري قواعدو اداري مقامات د متخلف د تأديب په صورت کې په دې مکلف کړي چې د اداري کارکوونکي وضع او حالت، کاري سابقه او سلوک ټول بايد په نظر کې ونيسي، که څه هم مقنن دلته تنها د وضعې، حالت او سلوک يادونه کړې، نور وضاحت يې نه دی ورکړی، اما سړی پوهېدلای شي چې ووايي: د مقنن هدف د مامور د وضعې او حالت څخه صحي وضعه، جنسيتي مشکلات او حتی اقتصادي حالت او دېته ورته نور موارد ترې متصور دي او بايد اداري مسؤل يې په پام کې ونيسي، په همدې توګه اداري کاري سابقه هم بايد په نظر کې ونيول شي، ځکه ماموريت په خپل ذات کې يو نوع خدمت دی او بالاخره د سلوک څخه شايد د مقنن هدف، اداري سلوک، شرعی او منل شوي ټولنيز حالت مراد وي، چې د دې مواردو په نظر کې نيولو سره اداري مؤيده پرې تطبيق شي.

## درېيم جز: د مؤيدې تطبيق د تعداد له حيثه

د اداري مؤيدو د تطبيق درېيم محدوديت دادی چې د سرغړونې په صورت کې يوازې يوه مؤيده عملي کېدای شي او بس، چې په دې هکله د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د کار قانون وايي: (د کار له انضباط څخه د سرغړونې په صورت کې يوازې يوه تأديبي مؤيده تطبيقېدلای شي) (۵: ۹۷ ماده)

**څلورم جز: د مؤيدې تطبيق د تخلف د توضيح له حيثه**

بيا هم د افغانستان د ۱۳۸۷ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون دا لازمي کړي چې د کارکوونکي پر ضد تأديبي مؤيدې د هغه د سرغړونې لـه توضـيح کولـو وروسـته ... تطبيقيږي. (٦: ۹۷ماده)

د پورتني قانوني نص په استناد ويلی شو چې د اداري مؤيدو د تطبيق لپـاره ضروري ده چې متخلف ته د هغه د سرغړونې موضوع تشريح او توضيح شي، يعنې په ناپامی او بې خبرۍ کې په متخلف اداري مؤيده نشي عملي کېدای تـر څـو چې مطلـوب شخص يې په اړه او علت خبر نه وي.

**پنځم جز: د مؤيدې تطبيق د قانوني عنصر له حيثه**

د کار کوونکي پـر ضـد تـأديبي مؤيـدې د ... قـانون د حکمونـو مطـابق تطبيقيـږي. (٦: ۹۷ ماده)

خوشبختانه له دې وړاندې د اسلام مبارک دين هم روښانه احکام وضع کړي، چې په هکله يې الله ج په قرآن کريم کې فرمايلي دي: ((جج...وما کنا معـذبين حتـی نبعـث رسولا)). ( سورت بني اسرائيل ،ايات نمبر ۱۵)

**ژباړه:** او موږ عذابوونکي نه يو تر څو چې د حق او باطل پر توپير د خلکو د پوهولو لپاره) يو پيغمبر جلا پيغام سره) ونه ليږو.( **۲۳: ٦۱۵**)

د پورته شرعي نصوصو په شتون کـې داسـې څرګنـديږي چې اداري مؤيـدات بايـد قانوني وي او پرته له قانوني نص څخه اداري مؤيده نشي تطبيقېدلای. (٦: ۹۷ مـاده) يعنې اداري مؤيدات قانوني عنصر لرونکي دي.(۲۱: ۷۱-۷۳)

اوس پوښتنه داده چې که چېرې اداري مؤيده غير قانوني او ناسمه وي په داسې حالت کې د متخلف مامور موقف څه شی دی، آيا د استيناف او شکايت حق لري که نه؟ د ځواب لپاره يې لاندې جز ته سر ورښکاره کوو.

**شپږم جز: د مؤيدې تطبيق د شکايت او اعتراض له حيثه**

هو! که چېرې کارکوونکي تأديبي مؤيده غير قانوني وګڼي کولای شي د دلايلو او شواهدو په وړاندې کولو سره شکايت وکړي، چې په دې هکله مورږ مخکې بحث وکړو. (٦: ٩٨ ماده )

**اوم جز: د مؤيدې د تطبيق شکليات د ثبت او راجستر له حيثه**

د افغانستان د ١٣٨٧ هـ ش کال د ملکي خدمتونو قانون حکم کوي چې پرته له توصيې نور تأديبي مؤيدات د کارکوونکي د سوانحو په دفترکې درجېږي او په ليکلې ډول صادرېږي او له ثبت وروسته رسما سرغړونکي ته په خبرتيا رسول کېږي.( ٦: ٩٧-٩٩مادې)

د اداري چاور د لا سمون په موخه هره اداره د خپل هر کارکوونکي لپاره د سوانحو او اسنادو دفتر لري، کوم چې د هغې د تحصيلي اسنادو تر څنګ د مامور مثبت او منفي ټول موارد پکې درج او راجستر کېږي، چې پرته له شکه د مامور په مادي او معنوي دواړو برخو خپل تاثيرت لري، په همدې توګه که د اداري مامور فعاليتونه سم او د قانون په چوکاټ کې تر سره شوی وي، نو د هغې لپاره مکافات په نظر کې نيول کېږي او که مامور يا اداري کارمند د اداري اصولو څخه مخ ګرځوي، بيا نو اداري مؤيدات پرې تطبيق کېږي، په هر صورت د مادې متن په دې حکم کوي او وايي: څومره اداري مؤيدات چې دي بايد د سوانحو په دفتر کې ثبت او راجستر شي، پرته له توصيې څخه.

**پایله**

د اداري مؤيداتو لويه برخه خپله د اداري مقاماتو لخوا تطبيق کيږي او په دويم قدم کې د اداري اختلافاتو د حل کميسيون، چې استثنا اداري تخلفاتو ته د رسيده ګی او مؤيداتو په تطبيق کې رول لري تطبيق کيږي، په افغانستان کې د اداري محاکمو د نه شتون له امله د مدني محاکمو په اډانه کې د عامه حقوقو ديوان ورته رسيده ګي کوي او همدارنګه د اداري مؤيداتو د تطبيق په وخت کې په دقيقه توګه د مؤيدې قانوني والی، شدت او خفت په نظر کې نيول کيږي او د متخلف شخص احوالو ته په کتو هغه ته تر ابلاغ وروسته پرې تطبيقيږي او که چېرې محکوم عليه اداري مؤيده ناسمه وګڼي، د اسنادو او شواهدو په وړاندې کولو سره، کولای شي د اختلافاتو حل کمېسيون او يا محکمه کې استناف غوښتنه وکړي.

**مناقشه**

د هېواد اداري قوانينو د اداري تخلفاتو په اړه بشپړه وېشنه او تفکيک نه دی کړی، په همدې اساس اداري مؤيداتو په تطبيق کې مشکلات شتون لري او حتی په ځينو حالاتو کې د قوانينو ټکر هم رامنځ ته کيږي.

په همدې پار بايد لومړی د اداري تخلفاتو لپاره بشپړ متني او شکلي قوانين وضع شي، څو د اداري تخلفاتو تقسيمات تکميل او روښانه شي.

**پايله اخيستنه**

د افغانستان قوانينو څلور او حداکثر پنځه ډوله اداري مؤيدات چې توصيه، اخطار، کسرمعاش، له دندې څخه تبديلي او د قرار داد فسخه) ذکر کړي، چې بشپړ نه دي او د مؤيداتو نور موارد لکه، د ترفيع معطلول، د دندې ځنډېدل، مؤقتي او دايمي اخراج، په کې نه دي شامل او په اصل کې د اداري تخلفاتو په مقابل کې ياد مؤيدات نه تطبيق کيږي. بلکې که چېرې مامور ډېره غير حاضري ولري، د عدلي او قضايي

تعقيب او او پلټنې لاندې وي، يا په حبس محکوم شي او يا هم دنده ييز مهارت ونه لري) بيا پورته مؤيدات پرې تطبيق کېږي، د اداري مؤيداتو لويه برخه خپله د اداري مقاماتو لخوا تطبيق کېږي او په دويم قدم کې د اداري اختلافاتو د حل و فصل کميسيون، چې استثنا اداري تخلفاتو ته رسيده ګي کوي او د مؤيداتو په تطبيق کې رول لري، په افغانستان کې مدني محاکمو په اډانه کې د عامه حقوقو ديوان اداري تخلفاتو ته تش په نوم رسيده ګي کوي، په همدې اساس بايد اداري محاکم او څارنوالی ايجادې شي او همدارنګه د اداري مؤيداتو د تطبيق په وخت کې په دقيقه توګه د مؤيدې قانونې والی، شدت او خفت په نظر کې نيول کېږي او د متخلف شخص احوالو ته په کتنه هغه ته تر ابلاغ وروسته پرې تطبيق کېږي او که چېرې محکوم عليه اداري مؤيده ناسمه وګڼې، د اسنادو او شواهدو په وړاندې کولو سره، کولای شي د اختلافاتو حل وفصل کمېسيون او محاکمو کې ايستناف غوښتنه وکړي.

## وړانديزونه

۱. افغانستان کې ځينې اداري قوانين پخواني، پېچلي، پاشلي دي او حتی ځينو قوانينو لکه اداري تخلفاتو ته د رسيده ګی قوانين شتون نه لري، په همدې اساس زموږ لومړی غوښتنه دا ده، چې د ننی عصر د غوښتنې او اداري تشکېلاتو ته په کتو، متني او شکلي نوي قوانين جوړ شي، په ځانګړي ډول اداري تخلفاتو ته د رسيده ګی او مؤيداتو د تطبيق په برخه کې.

۲. په افغانستان کې اوسمهال اداري محاکم شتون نه لري، چې اداري تخلفاتو ته د رسيده ګی او مؤيداتو د تطبيق په برخه کې يې نه موجوديت لويه ستونزه ده بايد په هر ولايت کې دوه ډوله اداري محکمې تأسيس شي، يو هغه محاکم چې يوازې اداراتو خپلمنځي قضاياوو ته رسيدګي وکړي يا لږ تر لږه يوازې د اداري

مامورينو ترمنځ اختلافاتو ته رسيده ګي وکړي او دويم ډول هغه اداري محاکم چې د مراجعينو او ادارو يا د مراجعينو او اداري مامورنيو ترمنځ قضاياو ته رسيدګي وکړي.

۳. همدارنګه د اداري مؤيداتو د تطبيق په وخت کې په دقيقه توګه د مؤيدې قانوني والی، شدت او خفت، د متخلف شخص احوالو او حالت او پخوانۍ مثبتې کړنې په نظر کې ونيول شي.

**اخځليکونه**


قرآن کريم.

۱. د قانون د واکمنۍ د ټينګښت پروګرام. (۱۳۹۲هـ ش). د بنسټيزو حقوقو پېژندنه. چاپ خونه: عبدالله راشد مطبعه.

۲. د اداري اصلاحاتو او ملکي خدمتونو د خپلواک کمېسيون د اجراآتو او فعاليتونو د تنظيم مقرره (۱۳۸۲ هـ ش) کالج ۸۱۰)

۳. سيدي، زاهدالله. (۱۳۸۷هـ ش). ننګرهار کې اداري تخلفات او حل لارې، د ماسترۍ تيزس).

۴. عباسی، بيژن. (۱۳۹۵هـ ش). حقوق اداری. چاپ چهارم. تهران: ناشر، انتشارات دادګستر.

۵. عدليې وزارت. (۱۳۸۷هـ ش). د کار قانون، رسمي جريده، پرله پسې ګنه: (۹٦٦)

٦. عدليې وزارت. (۱۳۸۷هـ ش). د ملکي خدمتونو د کارکونکو قانون، رسمي جريده، پرله پسي ګڼه: (۹۵۱).

۷. عدليې وزارت. (۱۳۳٦هـ ش). د پيسو وينځلو او له جرمونو څخه راپيدا شوو عوايدو د مخنيوي قانون، رسمي جريده،

۸. عدليې وزارت. (۱۳۳٦هـ ش). د تجارت اصولنامه، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (نه لري).

۹. عدليې وزارت. (۱۳۵۵هـ ش). مدني قانون ، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۳۵۳).

۱۰. عدليې وزارت. (۱۳۶۹هـ ش)کال. د مدني محاکمو د اصولو قانون، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۷۲۲).

۱۱. عدليې وزارت. (۱۳۸۲هـ ش). ملکي خدمتونو د خپلواک کميسيون د اجراآتو او فعاليتونو د تنظيم مقرره، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۸۱۰).

۱۲. عدليې وزارت. (۱۳۸۳هـ ش). د ټاکنو قانون، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۸۲۹).

۱۳. عدليې وزارت. (۱۳۸۳هـ ش). د ملکي خدمتونو قانون، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۸۶۱).

۱۴. عدليې وزارت. (۱۳۸۴هـ ش). د قضائيه قوې د محاکمو د تشکيل او واک قانون، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۸۵۱).

۱۵. عدليې وزارت. (۱۳۸۵هـ ش). د ملکي خدمتونو د مامورنيو د سلوک د ډول مقرره، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۱۹).

۱۶. عدليې وزارت. (۱۳۸۸هـ ش). د ملکي خدمتونو ذاتي مقرره، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۹۹۲).

۱۷. عدليې وزارت.(۱۳۸۲هـ ش). د افغانستان اساسي قانون، رسمي جريده، پرله پسې ګڼه: (۸۱۸ ).

۱۸. علی، علي آبادي. (۱۳۸۷هـ ش). آيين دادرسی تخلفات اداری. چاپ دويم. تهران: کتابخانه گنج دانش.

۱۹. قاضي، ګل رحمن. (۱۳۹۴هـ ش). اداري حقوق. ژباړن: خوبن، محمد نواب. لومړي چاپ. کابل: حامد رسالت خپرندويه ټولنه.

۲۰. مودودي، سيد ابوالاعلی، تفهيم القرآن تفسير، ژباړه: قيام الدين، کشاف.

**تسل نورزی او عبدالرحیم بسمل**
التقوی د لوړو زده کړو موسسه، اقتصاد پوهنځی
لارښود استاد: دوکتور هلمند بختانی

# په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې ستونزو تحلیل او حل‌لارې

**لنډیز**

صنعت یوه عربي کلمه ده، چې صنع جوړولو ته وایي او په انګلیسي- ژبه کې ورته دIndustry کلمه کارول کېږي، د جمعې حالت یې صنایع دي. صنعت د اومو اولومړنیو موادو د بنې بدلون او ترلاسه کول دي، چې د وګړو د ګټې لپاره پرې صنعتې عملیه ترسره کېږي. دغه څېړنه چې په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې په صنایعو باندې تر سره شویده موخه یې په ننګرهار ولایت کې د اوسپنېزو صنایعو په وړاندې د شته ستونزو په ګوته کول او دغو ستونزو اوارولو لپاره د لارې وړاندې کول دي. اړونده چاره به د دې لامل شي، چې د اوسپنې صنعتکارانو ته د لا ډېر کار چاره برابره ، داخلي اړتیاوې په داخل د هېواد کې پوره او د پانګې د تېښتې مخنیوی به وشي. پدغه څېړنه کې د لومړي او دوهم لاس معلوماتو څخه کار اخیستل شوی، چې تر ډېره کیفي او کمي بڼه لري. معلومات مو د SPSS کړنلارې په مرسته تحلیل کړیدي. دا چې په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې ۱۵ لویې کارخونې کار کوي. نو موږ هم لازمه وګڼله، چې د ټولو شتو لویو کارخونو څخه معلوماتو راټول کړو. دغه معلومات مو د پوښتنلیکونو په ویشلو او د کارخونو د مسؤولینو سره د مرکو د ترسره کولو په پایله کې راټول کړیدي. د معلوماتو د تحلیل په پایله کې مو تر لاسه کړل، چې په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې د صنایعو په وړاندې شته ستونزې له: برېښنا، بنسټیزو جوړښتونو عدم موجودیت، ځمکې ته نه لاسرسی، مالي امکانات، مدیریت، د دولت نه ملاتړ، مالیه او ګمرکي شرایط،که په وخت سره یادو ستونزو ته رسیده ګي وشي، نو په صنعتي سکتور کې به د ډېرو پرمختګونو شاهدان اوسو. نوموړو ستونزو

لپاره مو یو شمېر د حل لارې هم په ګوته کړي، چې په تطبیق سره به یې په اړونده برخه کې شته ستونزې تر ډېره اوارې شي.

**کلیدي کلمې:** اوسپنه، صنعت، اوسپنیز صنایع، د صنعت ستونزې

**سریزه**

الحمدالله رب العالمین والعاقبة للمتقین والصلاة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین الذی بعث بالحق فارقا بین الحق والباطل وعلی اله وصحبه والتابعین وعلی کل من جاهد في سبیله الی یوم الدین.

صنعت د وګړو د کار اخیستنې په موخه د اومو او لومړنیو موادو د بڼې بدلون دی، چې د کار اخیستنې د وړتیا په پار په دغو لومړنیو موادو باندې د صنعت عملیه ترسره او بڼه یې تغیر کوي، لکه له لرګي څخه د مېز، چوکۍ، دروازې او نورو شیانو جوړول، له طبي بوټو څخه د درملوجوړول، له څرمن څخه د بوټانو جوړول، له ختې څخه د منګي، متې، کټوه او نورو شیانو جوړول، له ګنیو څخه د بورۍ او ګوړې جوړول، له ښړشم څخه د غوړیو ایستل، له لوخو څخه د پوزیو جوړول او داسې نور. د تاریخي مخینې په پام کې نیولو سره دا څرګندېږي، چې افغانستان د ډېرې لرغونې زمانې څخه را پدېخوا د غالیو، ګیلمونو، ټغرونو، پوستینچو، پښګرۍ، زرګرۍ، مسګرۍ، کاشي کارۍ، کلالۍ او د نساجۍ د صنعت لکه د سپڼیو، وړیېو او وریښمینو ټوکروجکرک، برک، قناویز، نرمه خامتا) مهم صنعتي منځۍ ؤ. او د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې په ډېره او لږه پیمانه جوړېدل او جوړېږي. له دې ډول صنایعو څخه غالۍ د افغانستان د ډېرو مهمو لاسي صنایعو څخه شمېرل کېږي. د کورنۍ اړتیاوو د لیرې کولو سره سره بهر ته هم لېږدول کېږي او په امریکا، استرالیا او اروپایي هېوادو کې ډېر ښه بازار لري او له دې لارې افغانستان په کال کې ډېر ښه عایدات لاس ته راوړي. هر هېواد چې غواړي د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسېږي

باید صنعتي پرمختګ تجربه کړي. صنعت یو پیچلی فعالیت دی، چې ګڼ شمېر ستونزې په مخ کې لري په ځانګړي ډول د پرمختیایي هېوادونو لپاره، چې نوی یې په دې ډګر کې پل ایښی وي او د پوره تجربې څخه بې برخې وي. د دغو هېوادونو له ډلې څخه افغانستان هم یادولی شو، چې د صنعت په برخه کې د ګڼ شمېر ستونزو سره لاس او ګریوان دی. د دې لپاره چې د صنعت په برخه کې د پام وړ پرمختګ وکړو، اړینه ده چې په دې برخه کې شته ستونزې په ګوته او د حل مناسبې لارې چارې ورته ولټوو. دهمدې موخې د ترلاسه کولو په موخه مو دغه څېړنه په لاره اچولې ده چې په پایله کې یې د صنعتي سکتور اړوند ستونزې په ګوته او د حل په موخه یې ممکنه د حل لارې وړاندې شوي دي.

**د موضوع مساله**

صنعت د یو هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره یو اړین سکتور دی. هر هېواد چې غواړي د پرمختګ لوړو پوړیو ته ورسېږي باید د صنعت په برخه کې ډېر کار وکړي. افغانستان یو لګښتي هېواد دی، چې په ۲۰۲۳ م کال کې د افغانستان سوداګریز بیلانس۴،۴ بیلیونه ډالر کسر لري (World Bank, 2023). او د دې کسر- د مخنیوي لپاره د صنعت په برخه کې د پام وړ فرصتونه لري، خو له بده مرغه د وروستیو څلور نیمو لسیزو جګړو نه یوازې دا چې زموږ سیاسي، کلتوري اومذهبي برخوته تاوان رسولی دی، بلکې اقتصادي بنسټونه یې هم نړولي دي او د صنعت په برخه کې یې شته فرصتونه لږ کړي. له نیکه مرغه په دې وروستیو کلونو کې په اړونده برخه کې د پام وړ ښه والی رامنځته شوی دی لکه: د اوبیزې او بادي برېښنا رامنځته کېدل، معماري، لاسي او ماشیني صنایع، د لویو لارو جوړول، د صنعتي پارکونو جوړول، د بندرونو پرانیستل، د مخابراتو شرکتونه، په کابل کې د کوکاکولا کارخانه، د سپین غر غوړیو کارخونه او داسې نورو څخه یادونه کولی شو، په خصوصي ډول سره د

مخابراتو د شرکتونو له امله د اقتصاد په بېلابېلو برخو کې مثبت اغېز کړی، لکه په سوداګریزو چارو کې یې ډېره اسانتیا رامنځته کړې، خو بیا هم ځینې برخې په ټپه ولاړې او ډېر کار ته اړتیا لري، تر څو صنعت مو پیاوړی او وکولی شو، چې په یو ځان بسیا هېواد اوسو، چې په دې سره به افغانستان د یو لګښتي هېواد څخه په تولیدي هېواد بدل او د ګاونډیو هېوادونو سره به په اړونده برخه کې سیال واوسو. دې موخې ته د رسېدو لپاره ډېر زیار او زحمت ته اړتیا ده باید په اړونده برخه کې شته ستونزې او فرصتونه په ګوته او ستونزو ته د حل مناسبې لارې ولټول شي. پانګوالو ته باید شته فرصتونه روښانه او پانګې اچونې ته وهڅول شي.

## د څېړنې اهمیت

زموږ څېړنه، چې په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې د صنعت پر وړاندې د شته ستونزو او حل لارو اړوند ده، په ترسره کېدلو سره به یې په اړونده برخه کې شته ستونزې په ګوته او د حل معقولې لارې وړاندې شي، چې په پایله کې به یې د اوسپنې صنعتکارانو ته د لا ډېر کار زمینه برابره او د کار په مولدیت کې به یې ډېروالی راشي او وبه توانېږي چې خپلې کورنۍ اړتیاوې په داخل د هېواد کې پوره او د بهرنیو له احتیاجه مو خلاص کړي. چې په دې کار سره به په وارداتو کې کموالی راشي او په راتلونکې کې د صادراتو د ډېروالي اټکل به هم لوړ شي. دولت ته یې اهمیت په دې کې دی، چې د پانګې د فرار په مخنیوي کې به ورسره مرسته وشي، هغه پانګه چې پخوا په بېلابېلو لارو نورو هېوادونو ته لېږدېده په داخل کې به د پانګې اچونې په موخه پاتې شي او همدارنګه له دغې لارې به د دولت په عوایدو کې هم د پام وړ ډېروالی راشي.

## د څېړنې موخې

۱. په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې د شته ستونزو په ګوته کول.

۲. په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې د شته ستونزو لپاره د حل مناسبې لارې چارې وړاندې کول.

## د څېړنې پوښتنې

۱. په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې کومې ستونزې شتون لرئ؟

۲. په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې د شته ستونزو د حل لپاره کومې مناسبې لارې چارې شته؟

## د څېړنې کړنلاره

په دې څېړنه کې مو په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې شته ستونزې په ګوته او د اوارولو مناسبې لارې مو ورته روښانه کړې، چې تر ډېره حده کیفي او کمي بڼه لري، د لومړي او دوهم لاس معلومات، چې د اوسپنې ۱۵ لویو کارخونو څخه تر لاسه او د SPSS پروګرام په مرسته مو تحلیل کړي دي. دغه معلومات مو د پوښتنلیکونو په وېشلو او د کارخونو د مسؤولینو سره د مرکو د ترسره کولو په پایله کې راټول کړي دي او ټولو لاسته راغلو معلوماتو څخه د پایلو په تحلیل او حل لارو کې کار اخېستل شوی دی.

## پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه

## د نړۍ د اوسپنې صنعت

دغه څېړنه چې په اوکراین کې د Institute of Industrial Economics of the NAS په وسیله په ۲۰۱۸ زیږدیز کال کې تر سره شوې ده. د اوسپنې په صنعت او په وړاندې یې پرتو ستونزو بحث کړی. لکه څرنګه چې اوسپنه په نړۍ کې یو د هغه

توکو له ډلې څخه ده، چې ډېره کارېږي او له همدې امله دغه برخه د صنعت یو له ډېرو مهمو برخو څخه ګڼل کېږي. په دې څېړنه کې د یاد صنعت پرمختیا، کار ډول او پر وړاندې یې شته ستونزې څېړل شوي دي، چې عبارت دي له: د اوسپنې ډېر تولید د اوسپنې جوړونې د ظرفیت په پرله پسې ودې په صورت کې، د اوسپنې تولیداتو د سوداګرۍ بې ثباتي، د سرچینو د اغېزمنتوب ډېرول او د کار کوونکو ساتنه. (۸۶:۳)

**د اوسپنې د صنعت پر وړاندې شته ستونزو ته کتنه**

دغه څېړنه، چې د چین په بیجینګ کې د ساینس او تکنالوژۍ د پوهنتون په وسیله په ۲۰۲۰ زیږدیز کال کې تر سره شوې ده، د اوسپنې صنعت تاوانونه او ستونزې یې را برسیره کړې دي، د اوسپنې صنعت چې یو له ډېر انرژي مصرفوونکو صنعتونو له ډلې څخه ده، پر وړاندې یې ګڼ شمېر ستونزې پرتې دي، په دې څېړنه کې د اوسپنې د صنعت پر وړاندې ستونزې او د دغې صنعت زیانونه په ګوته شوي دي، چې په لاندې ډول ترې یادونه کولای شو:

د اوسپنې صنعت کې ډېره انرژي کارېږي، چې دغه چاره په پراخه کچه کاربن ډای اکساید تولیدوي، د پاکو اوبو کارول، چې په ټوله نړۍ کې لږ دي، نړیواله تودوخه او نا مناسب چاپیریال. (۲۳:۱)

**د اوسپنې د عرضې ځنځیر پر وړاندې ستونزې**

دغه څېړنه چې د Operation Development Group/ABB لخوا په فنلینډ هېواد کې ترسره شویده، هغه ستونزې یې رابرسیره کړي، چې د اوسپنې د عرضې په ځنځیر اغیزه پریباسي، د ترسره شوې څېړنې د پایلو له مخې نوموړي لاملونه عبارت دي له: د اومو موادو د بیو لوړېدل، د تقاضا په سطحه کې ناڅاپي بدلونونه، د بهرنیو بدلونونو پر وړاندې لوړ لګښتونه او لوړه مالیه ورکول. یاده څېړنه د پورته ستونزو د تشریح او اړینې حل لارې په بر کې نیسي. (۱۶۰:۴)

## اوسپنې صنعت پر وړاندې لویې ستونزې او غوره حل لارې

دغه څېړنه چې په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې په واشنګټن کې ترسره شوې د اوسپنې د صنعت پر وړاندې لویې ستونزې او د حل لارې یې په ګوته کړې دي، د څېړنې په پایله کې موندل شوي، چې د اوسپنې صنعت پر وړاندې لاندې ستونزې پرتې دي: ډېر تولید او لږه تقاضا(Fast Productivity and Slow Demand)، په اوسپنه کې د تولید لوړ ظرفیت، د مارکېټ تحریفونه. (۲: ۹)

## په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت

په ننګرهار ولایت کې په ډېر شمېر د اوسپنې تولیدي کارخونې په کار بوختې دي موږ غواړو یوازې هغه کارخونې تر څېړنې لاندې ونیسو، چې په لوړه کچه تولید ترسره کوي. اوس مهال په دې ولایت کې د اوسپنې پنځلس لویې کارخونې په عملي ډول تولیدي فعالیت کوي، چې د جاوید افغان ګروپ په درې برخو کې فعالیت کوي(سیخ ګول، اوسپنې ویلي کول، او کرنیز سامانونه) کلیوال د اوسپنې ویلي کولو کارخونه، پښتونستان ستیل میل، عرفات مدینه اوسپنې ویلي کول، سعادت افغان ستیل میل، ساحل افغان اوسپنې ویلي کول، المقدس ستیل میل، ننګرهار ختیځ ستیل میل، عرفان د سیخ ګول کارخونه، ختیځ زون اوسپنې ویلي کولو کارخونه، شېرزاد اوسپنې ویلي کولو کارخونه، ذاهد تاشکند سیخ ګول کارخونه او شاه ستیل میل شرکت څخه عبارت دي، چې دغه تولیدي کارخونې په لاندې دوه ساحو کې تولیدي فعالیت تر سره کوي. (صنایعو او سوداګرۍ ریاست)

۱. اوسپنې ویلي کول.

۲. ګول سیخ.

چې په دې هر یوه به په جلا جلا توګه خبرې کوو.

## اوسپنې ویلي کول

اوسپنې ویلي کول د اوسپنې د صنعت تر ټولو لومړی پړاو ګڼل کېږي، پدغه پړاو کې کاربېدلې اوسپنه کارخونې ته راوړل کېږي او د ویلي کولو څخه وروسته په بلیټ (پخښه شوي اوسپنه) بدلیږي، کله چې کاربېدلې اوسپنه کارخونې ته راوړل شي د مسلکي کاریګرو په وسیله کټګوري او د نوعیت په اساس سره جلا کېږي، وروسته جلا شوې اوسپنه د مسلکي کاریګرو په وسیله بټۍ ته اچول کېږي، په بټۍ کې د ۱۶۰۰ درجې په کچه تودوخه ورکول کېږي، هر کله چې اوسپنه د ټاکلې تودوخې پوسیله ویلي شي د اوسپنې د کېفیت د ښه والي په موخه ورسره یوه اندازه کېمیاوي مواد یوځای کېږي، وروسته ویلې شوې اوسپنه په مناسبو قالبونو کې په ټاکلې کچې سره اچول کېږي، چې په پایله کې یو ځانګړې بڼه ځانته غوره کوي، چې بلیټ یا پخه شوې اوسپنه بلل کېږي. (۵:۱۱)

## ګول سیخ

کله چې کاربېدلې اوسپنه په بلیټ (پخه شوې اوسپنه) واوښته وروسته لدې بلیټ د مسلکي کاریګرو په وسیله په منظم ډول د میل بټۍ ته وړل کېږي او هلته ورته د ۱۲۰۰ سانتي ګرید درجې په کچه تودوخه ورکول کېږي، د تودوخې ورکولو څخه وروسته توده شوې اوسپنه د شیړو ماشینونو څخه په منظم ډول تېرېږي، چې په پایله کې سیخ ګول لاسته راځي. په ځینو کارخونو کې د سیخ ګول تر څنګ ګاډر او ټایرن هم تولیدېږي.

## افغان ګروپ

جاوید افغان سټیل میل: لکه څرنګه چې مخکې مو هم یادونه وکړه جاوید افغان ګروپ په درې برخو کې فعالیت تر سره کوي.

### جاوید افغان د کرنیزو وسایلو جوړولو کارخونه

جاوید افغان د کرنیزو وسایلو جوړولو کارخونې په ۱۹۹۷ زیږدیز کال د هېواد په ختیځ زون ننګرهار ولایت د جلال اباد په ښار کې په فعالیت پیل وکړ. دغه کارخونه د هېواد په صنعتي تاریخ کې لومړنۍ کارخونه ده، چې د سیمې د هېوادونو په کچه معیاري کرنیز وسایل برابروي او بازار ته یې وړاندې کوي. چې تولیدات یې عبارت دي له: د غنمو تهریشر، جوارو تهریشر، وریجو تهریشر، د ټراکټور ټرالۍ، د غنمو ریبلو ماشین، تخم پاکولو ماشین او ورته نور کرنیز وسایل. د نوموړې کارخونې تولیدات د ګران هېواد سربېره د هېواد څخه بهر هم بازار لري، چې ښه بېلګه یې د تاجکستان او ازبکستان هېوادونو ته د لس ګونو عراده تریشرو صادرول دي . (۵:۱۱)

### جاوید افغان سټیل میل

جاوید افغان ګروپ د لومړي ځل لپاره د هېوادوالو د لا ښه چوپړ په موخه په ۲۰۱۳ زیږدیز کال کې د هېواد په ختیځ د ننګرهار ولایت په جلال اباد ښار کې د جاوید افغان سټیل په نوم د سیخ ګول جوړولو کارخونې په تولید پیل وکړ. په دغه تولیدي کارخونه کې سیخ ګول، ګاډر او ټیایرن تولیدېږي. اوسمهال پدغه کارخونه کې ۱۲۰ تنه په کار بوخت دي او ورځنۍ د تولید کچه یې ۷۰ ټنو ته رسېږي، چې نه یوازې داخلي اړتیاوې په دې برخه کې یوه اندازه پوره کوي بلکې هېوادوالو ته یې د کار زمینه هم مساعده کړې ده. جاوید افغان سټیل میل د باکېفیته تولیداتو په درلودلو سره د کورنیو او بهرنیو ادارو لخوا د کېفیت د تضمین سند او نور ستاینلیکونه ترلاسه کړیدي.(۵:۱۱)

### جاوید افغان د اوسپنې ویلي کولو کارخونه

دغه کارخونه، چې د جاوید افغان ګروپ تر چتر لاندې فعالیت کوي د ننګرهار ولایت په شیخ مصري صنعتي پارک کې فعالیت ترسره کوي او د فعالیت ډول یې د

اوسپنې ویلي کول دي. هغه بېکاره او زاړه له کاره لویدلي اوسپنیز توکي او کباړ، چې د ګټې وړ نه وي، د هېواد له ګوټ ګوټ څخه یې راټولوي او وروسته له ویلي کولو څخه یې په بلیټ یا اوسپنېزو کوندو بدلوي، چې بیا له هغه څخه وروسته یې د اوسپنیزو وسایلو جوړولو کارخونو ته لېږدوي، ترڅو ترې اوسپنیز د کار وړ توکي جوړ او د خرڅلاو په موخه بازار ته عرضه کړي. په دغه تولیدي کارخونه کې ۳۰ تنه په کار بوخت دي او ورځنۍ د تولید کچه یې تقریبا ۳۵ ټنو ته رسېږي. (۵:۱۱)

## ذاهد تاشکند سیخ ګول کارخونه

ذاهد تاشکند د سیخ ګول جوړولو کارخونه، چې خپل فعالیت یې په ۲۰۱۹ زیږدیز کال کې پیل کړی، د هېواد په ختیځ د ننګرهار ولایت په شیخ مصري ښارګوټي کې موقعیت لري، ورځنی د تولید کچه یې ۴۰ ټنو ته رسېږي، شاو خوا ۱۰۰ تنه کارکوونکي پکې په کار بوخت دي. دغه کارخونه نه یوازې دا چې د اوسپنې په برخه کې داخلي اړتیاوې تر یوه حده پوره کوي، بلکې ډېری هېوادوالو ته یې د کار زمینه هم برابره کړې، چې له دې لارې خپلو کورنیو ته حلاله نفقه پیدا کوي. د کارخونې د خاوند"په وینا زموږ د هېواد د اوسپنې د کارخونو تولیدي رقابت د اوسپنې د وارداتي توکو په مقابل کې په لږه کچه ده" او لامل یې دغې برخې ته د حکومتي چارواکو نه پاملرنه په ګوته کوي. نوموړی زیاتوي که چېرته حکومت د اومو موادو د تیارولو، نړیوال مارکېټ ته د لاسرسي او د برېښنا اړوند ستونزو ته رسیده ګي وکړي، نو تمه ده چې زموږ د هېواد اوسپنه به د سیمې په کچه یو ښه مارکېټ ولري او د اوسپنې د وارداتو کچه به تر ډېره حده لږه شي. (۱۴۸:۹)

## سعادت افغان ستیل میل

سعادت افغان ستیل میل، چې په دې وروستیو کې یې په کار پیل کړی د ننګرهار ولایت په شیخ مصري صنعتي پارک کې ده، دغه کارخونه چې ۶۵ تنه کارکوونکي پکې په کار بوخت دي، په ورځني ډول ۴۰ ټنه سیخ ګول تولیدوي. (۱۵۸:۱۲)

## په ننګرهار ولايت کې د اوسپنې ويلي کولو کارخونې

لکه څرنګه چې مخکې مو يادونه وکړه د دې ولايت په شيخ مصري ښارګوټي کې د اوسپنې د ويلي کولو لس کارخونې په کار بوختې دي، چې په لاندې جدول کې يې لنډوو.

| ګڼه | کارخونې نوم | موقعيت | ورځنۍ د توليد کچه | د کاريګرو تعداد |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | جاويد افغان اوسپنې ويلي کولو کارخونه | شيخ مصري صنعتي پارک | 30 ټنه | 30 |
| ۲ | پښتونستان ستيل ميل | شيخ مصري صنعتي پارک | 25 ټنه | 20 |
| ۳ | عرفات مدينه اوسپنې ويلي کولو کارخونه | شيخ مصري صنعتي پارک | 30 ټنه | 40 |
| ۴ | ساحل افغان اوسپنې ويلي کولو کارخونه | شيخ مصري صنعتي پارک | 25 ټنه | 25 |
| ۵ | المقدس ستيل ميل | شيخ مصري صنعتي پارک | 25 ټنه | 52 |
| ۶ | ننګرهار ختيځ ستيل ميل | شيخ مصري صنعتي پارک | 30 ټنه | 20 |
| ۷ | ختيځ زون اوسپنې ويلي کول | شيخ مصري صنعتي پارک | 25 ټنه | 25 |
| ۸ | شېرزاد اوسپنې ويلي کول | شيخ مصري صنعتي پارک | فعلا توليد نلري | 24 |
| ۹ | شاه ستيل ميل | شيخ مصري صنعتي پارک | 5 ټنه | 15 |
| ۱۰ | کليوال د اوسپنې ويلي کولو کارخونه | رينګ روډ دوو سرکه | 25 ټنه | 70 |

(د ننګرهار ولايت د سوداګرۍ او صنايعو خونو شمېرنې)

## تحلیل او پایلې Analysis/Result

په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې د صنایعو پر وړاندې د ستونزو د پیدا کولو په موخه مو پوښتنلیکونه چمتو کړي وو، دغه پوښتنلیکونه مو په یاد ولایت کې په پنځلس صنعتي کارخونو، چې ډېری یې د کارخونو خاوندانو باندې ویشلي وو، چې ۱۵ واړه مو بېرته ترلاسه کړل.




لومړی ګراف: د لومړۍ لویې ستونزې (برېښنا) فیصدي

د څېړنې په پایله کې مو لاندې پایلې ترلاسه کړې، چې په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې د صنایعو پر وړاندې ستونزې په درې ډوله دي، چې عبارت دي له: لویه ستونزه، منځنۍ ستونزه او کوچنۍ ستونزې (پوښتنلیک کې ویشل شوې) هر یو ستونزه په لاندې ډول د تحلیل څخه وروسته په ډاګه شوې.

**لومړۍ ستونزه:** په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې یو له لویو او عمده ستونزو څخه د برېښنا نشتوالی دی، د څېړنې د پایلې په اساس ۷۳،۳ سلنه صنعتکارانو برېښنا لویه ستونزه او ۱۳،۳ سلنو یې برېښنا کوچنۍ ستونزه ګڼلې ده، په داسې حال کې چې یوازې ۱۳،۳ سلنه نور بیا برېښنا ستونزه نه ګڼي، د اوسپنې صنعت یو له هغو صنایعو څخه دی چې په ډېره کچه برېښنا په مصرف رسوي، دا چې دغه

صنعت اوس نوی په ننګرهار ولايت کې پيل شوی، نو پکار ده، چې ژر تر ژره ورته رسيده ګي وشي، ترڅو په دې برخه کې د ډېرو پرمختګونو شاهدانو اوسو.

**دويمه لويه ستونزه:** د بنسټيزو جوړښتونو شخه ده، چې په لاندې ګراف کې د ستونزې سلنه څرګندېږي.




دويم ګراف: دويمې لويې ستونزې (بنسټيز جوړښتونه) سلنه

بنسټيز جوړښتونه د هېواد د پرمختګ لپاره ډېره مهمه موضوع ده، په ځانګړې توګه د صنعت په برخه کې ډېر رول لري، دا چې په افغانستان کې څو لسيزې جګړې روانې دي نو د بنسټيزو پروژو په برخه کې هغه کچه، چې اړتيا وه، ورته کار نه دی ترسره شوی، د څېړنې پايلې موږ ته دا په ډاګه کوي، چې په ننګرهار ولايت کې د اوسپنې د صنايعو په برخه کې بنسټيز جوړښتونه لويه ستونزه ده، د وروستۍ پايلې له مخې، چې ترلاسه کړې مو ده ۶۰ سلنه کاروباريانو لويه ستونزه او ۲۰ سلنه يې کوچنۍ ستونزه ګڼي، په داسې حال کې چې ۲۰ سلنه نور يې بيا ستونزه نه ګڼي او په دې آند دي، چې په دې برخه کې هيڅ ستونزه نه شته.

**درېيمه لويه ستونزه:** ځمکې ته لاسرسی دی چې په لاندې ګراف کې د ستونزې سلنه څرګندېږي.

**ځمکې ته لاسرسی**




دریم ګراف: د دریمې لویې ستونزې (ځمکې ته لاسرسي) سلنه

د هر ډول تولیدي فعالیت پرمخ بیولو لپاره ځمکه یو له بنسټیزو اړتیاوو څخه شمېرل کېږي، چې باید یو مناسب ځای ولري، ترڅو خپل فعالیت ته پایښت ورکړي. په دې ولایت کې ځمکې ته لاسرسی درلودل یو له عمده او لویو ستونزو څخه شمېرل کېږي، د څېړنې د پایلو په مټ ۶۰ سلنه د اوسپنې صنعتکاران په ننګرهار ولایت کې ځمکې ته لاسرسی یو له لویو ستونزو څخه ګڼي او ۲۷ سلنه یې وایي چې کوچنی ستونزه ده، پداسې حال کې چې ۱۳ سلنه صنعتکاران بیا وایي، چې په دې ولایت کې د اړونده صنعت په برخه کې ځمکې ته لاسرسی ډېر آسانه دی او هیڅ نوعه ستونزه وجود نه لري.

**څلورمه لویه ستونزه:** د مالي امکانات او آسانتیاوو څخه دي، چې په لاندې ګراف کې د ستونزې سلنه څرګندېږي.




څلورم ګراف: د څلورمې لویې ستونزې (مالي امکاناتو او آسانتیاوو) سلنه

د یو نوي کاروبار د پیل کولو او کاروبار ته د پراختیا ورکولو په موخه د مالي امکاناتو او سرچینو درلودل یوه اړینه مسئله ده، په تېره بیا د اوسپنې د صنعت په برخه کې ډېرو مالي سرچینو ته اړتیا ده، په ننګرهار ولایت کې د اړونده صنعت پر وړاندې د مالي امکاناتو نه شتون یوه لویه ستونزه ده، د څېړنې په پایله کې مو تر لاسه کړل چې ٦٧ سلنه صنعتکاران دغه برخه لویه ستونزه، ٢٠ سلنه یې کوچنۍ ستونزه او پاتې ١٣سلنه یې ستونزه نه ګڼي.

لومړۍ منځنۍ ستونزه، چې د مدیریت څخه عبارت ده په لاندې ګراف کې د ستونزې سلنه څرګندېږي.




پنځم ګراف: د لومړۍ منځنۍ ستونزې (مدیریت) سلنه

د هر فعالیت په تېره بیا د صنعتي فعالیت په ښه بڼه پرمخ بیولو لپاره ښه مدیریت ته اړتیا لیدل کېږي، دا چې مدیریت د یو کاروبار د داخلي محیط یو عنصر دی او ډېرې وخت د مدیریت چارې د کاروبار د مالک په لاس کې اوسي، نو له همدې امله په دغه برخه کې د پام وړ ستونزې نشته، د څېړنې په پایله کې مو ترلاسه کړل چې د ۴۷ سلنه صنعتکارانو لپاره د مدیریت چارې پرمخ بیول منځنۍ ستونزه ده، ۴۰ سلنو ته کوچنۍ ستونزه او پاتې ۱۳ سلنو ته لویه ستونزه ده.

دویمه منځنۍ ستونزه، چې د دولت نه ملاتړ څخه عبارت ده په لاندې ګراف کې د ستونزې سلنه څرګنده کېږي.




شپږم ګراف: د دویمې منځنۍ ستونزې (دولت نه ملاتړ) سلنه

په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې د صنایعوپر وړاندې بله لویه ستونزه د دولت نه ملاتړ دی، د اړونده صنعتکارانو له ډلې څخه ۵۳ سلنه یې دغه برخه لویه ستونزه، ۳۴ سلنه یې کوچنۍ ستونزه او پاتې ۱۳ سلنه یې ستونزه نه ګڼي.

لومړۍ کوچنۍ ستونزه، چې مالیه ده په لاندې ګراف کې د ستونزې سلنه څرګندېږي.




اووم ګراف: د لومړی کوچنۍ ستونزې (مالیه) سلنه

مالیه د دولت د عوایدو یوه سرچینه ده، چې د دولت لخوا د ټاکل شویو قوانینو په رڼا کې رامنځته کېږي او هر څوک يې په ورکړه مکلف دي. پدغه ولایت کې د اوسپنې د صنعت پر وړاندې یوه بله ستونزه مالیه ده. د څېړنې په پایله کې مو ومونډله، چې ۵۳،۳ سلنه صنعتکاران پدغه برخه کې مالیه کوچنۍ ستونزه ، ۲۶،۷ سلنه یې لویه ستونزه ګڼي، چې د دوی فعالیتونو پر وړاندې خند پیښیږي او پاتې ۲۰ سلنه نور یې بیا ستونزه نه ګڼي.

دویمه کوچنۍ ستونزه چې د ګمرکي شرطونو څخه ده، په لاندې ګراف کې د ستونزې سلنه څرګندیږي.




اتم ګراف: د دویمې کوچنۍ ستونزې ( ګمرکي شرطونو ) سلنه

ګمرکي شرطونه د صنعتي سکتور پر وړاندې یو له پرتو ستونزو څخه دي، چې ۵۳،۳ سلنه صنعتکاران یې کوچنۍ ستونزه او پاتې ۴٦،۷ سلنه یې لویه ستونزه ګڼي.

## د صنعتي سکتور د ستونزو حل لارې

**برېښنا:** د افغانستان د صنعتي سکتور پر وړاندې د پرتو ستونزو له ډلې څخه یوه لویه ستونزه د برېښنا نشتوالی دی په ځانګړي ډول په ننګرهار ولایت کې د برېښنا نشتون د دې لامل شوی، چې د صنعت په برخه کې د ګڼ شمېر ستونزو سره لاس او ګریوان شو. اړینه ده، چې دغې ستونزې لپاره یوه د حل لاره پیدا کړو. د څېړنې په پایله کې مو ترلاسه کړل، چې د برېښنا د ستونزې د حل په موخه ګڼ شمېر د حل لارې شتون لري، خصوصا په ننګرهار ولایت کې چې عبارت دي له:

**د درونټې د برېښنا بند بیا رغونه:** دا بند د ننګرهار ولایت د جلال اباد ښار لویدیځه سیمه کې د کابل پر سیند په ۱۹٦۴ز کال کې د روسانو لخوا جوړ شوی. دغه بند درې توربینه لري، چې په پیل کې یې ظرفیت ۱۱.۴ میګا واټه وو، خو د وروستیو کورنیو جګړو له امله یې یو توربین په بشپړ ډول له منځه لاړ او دوه نور توربینونه یې زیانمن شوي وو، چې له امله یې ظرفیت پنځه میګاواټه ته ښکته شوی وو. که څه هم دغه بند په ۲۰۱۹ ز کال کې د داخلي انجینرانو د درې میاشتني کار په پایله کې دوباره ورغول شو، چې په دې سره یې ظرفیت ۸.۳ میګاواټه ته پورته شو، خو بیا هم د برېښنا ستونزه یې تر ډېره حل نه کړه. که چېرته دغه بند د پخواني روسي سیستم څخه جرمني سیستم ته بدل شي، نو ظرفیت به یې ۱۲ میګا واټه ته پورته شي، چې په دې سره به په دې ولایت کې د برېښنا ستونزه تر ډېره اواره شي.

**د برېښنا د بندونو جوړول:** افغانستان د اوبو له پلوه یو بډایه هېواد دی، چې ګڼ شمېر ځانده سیندونه لري، خو په کور دننه ورڅخه د کرنې او برېښنا د تولید لپاره کار نه اخستل کېږي. د افغانستان د اوبو نږدې ۷۰ سلنه یې ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي، چې کېدای شي ۲۵۰۰۰ میګاواټه برېښنا تولید کړي، حال دا چې اوس یې

يوازې ۵۰۰۰ ميګاواټه څخه ګټه اخستل کېږي، که چېرته دغه اوبه په داخل د هېواد کې مهار شي او بندونه پرې جوړ شي، نو په دې سره به د ټول هېواد د برېښنا ستونزه حل شي. چې يو د هغو له ډلې څخه د کنړ سيند دی، چې اوبه يې ګاونډې هېواد پاکستان ته رواني دي او په کور دننه ورڅخه د برېښنا په موخه ګټه نه اخستل کېږي.
په ۲۰۱۵ کال کې چېن د کنړ پر سيند د ۱۵۰۰ ميګاواټه په ظرفيت د برېښنا د بند د جوړولو ژمنه وکړه چې له برېښنا څخه به يې افغانستان او پاکستان دواړه ګټه پورته کړي، خو دا ژمنه تر اوسه ژمنه پاتې ده. په ورته وخت کې ځينې نورې څېړنې په دې برخه کې ترسره شوي چې د هغو له ډلې څخه هندي کمپنۍ د کنړ پر سيند د بندونو جوړولو درې ځايونه په نښه کړي، چې مجموعي ظرفيت يې ۱۱۰۰ ميګاواټه ښودلی، خو الماني شرکت، چې د افغانستان لپاره يې د برېښنا ماسټر پلان جوړ کړی، په کنړ سيند يې د برېښنا د بندونو شپږ ځايونه ښوودلي، چې د توليد مجموعي ظرفيت يې ۲۷۳۸ ميګا واټه ښودلی دی. که د پورته پلانونو څخه يو هم تطبيق شي، نو په هېواد کې به د برېښنا ستونزه تر ډېره حل شي.
د دې تر څنګ د لمريزې او بادي برېښنا څخه کار اخستل به هم تر ډېره په هېواد کې د برېښنا ستونزه اواره کړې.

**بنسټيز جوړښتونه:** په افغانستان کې د صنايعو په وړاندې يوه بله لويه ستونزه د بنسټيزو جوړښتونو نشتوالی دی. د دې ستونزې د حل په موخه ډېرې د حل لارې شته، چې په لاندې توګه ترې يادونه کولی شو.

۱. د لويو لارو بيارغونه.

۲. د اوسپنې د پټليو جوړول.

۳. د انکشافي پروژو په کار اچول.

۴. صنعتي پارکونو ته پراختيا ورکول.

۵. د صنعتي پارکونو کورنيو نښلونکو لارو بيارغوونه.

**ځمکې ته لاسرسی:** د افغانستان د صنایعو پر وړاندې بله پرته ستونزه ځمکې ته لاسرسی دی، د صنعتکارانو په وینا دوی د ځمکې د تر لاسه کولو په برخه کې د ګڼ شمېر ستونزو سره لاس او ګریوان دي. دوی وایي هغه ځمکه، چې دولت له لوري د صنعتي پارکونو لپاره غوره شوې ډېره یې د غاصبینو په واک کې ده او په دوی یې په لوړه بیه پلوري. د دې ستونزې د حل په موخه دولت باید د صنعتي سکتور لپاره په دې برخه کې یو منظم پلان چمتو کړي، د غاصبینو څخه ځمکه ترلاسه او د اړتیا په وخت کې دې په خپل لاس صنعتکارانو ته په واک کې ورکړي.

**مالي امکانات او اسانتیاوې:** د دې ستونزې د اوارېدو په موخه دولت ته په کار ده، چې د پانګوونې په موخه صنعتکارانو ته مالي امکانات چمتو کړي، د صنعت د پیاوړتیا په موخه باید تولیدونکو ته بې بدله کومکونه ورکړي، پورونه ورکړي، د سود نرخ کې لږ والی راولي، سوداګریز بانګونو ته توصیه وکړي، چې پانګوالو ته مالي چوپړتیاوې په ټیټ نرخ چمتو کړي. دا او دې ته ورته کړنې د دې لامل کېږي، چې پانګوال وهڅوي او په هېواد کې د پانګې اچوونې سطحه لوړه شي.

**مدیریت:** د هر فعالیت په تېره بیا د صنعتي فعالیت په ښه بڼه پرمخ بیولو لپاره ښه مدیریت ته اړتیا لیدل کېږي، دا چې مدیریت د یو کاروبار د داخلي محیط یو عنصر دی او ډېری وخت د مدیریت چارې د کاروبار د خاوند په لاس کې اوسي، نو له همدې امله پدغه برخه کې د پام وړ ستونزې نشته. د څېړنې د پایلو څخه څرګندېږي چې د یو شمېر صنعتکارانو لپاره پدغه برخه کې ستونزې شته، چې د حل په موخه یې باید د مدیرانو د مهارتونو او مدیریتي پوهې د لوړولو په موخه مختلف روزنیز ورکشاپونه او سمینارونه جوړ شي، ترڅو د وخت د غوښتنې مطابق یې په مهارتونو کې ډېروالی راشي.

**د دولت نه ملاتړ:** د هېواد د صنعت په برخه کې بله ستونزه د دولت نه ملاتړ دی د صنعتکارانو په وینا د دولت له لوري یې ملاتړ نه ترسره کېږي. همدا لامل دی، چې د صنعت په برخه کې مو د پام وړ پرمختګ نه دی کړی. د دې ستونزې د اوارېدو په موخه دولت ته پکار ده، چې د کورني صنایعو د ملاتړ په موخه ډول ډول هڅوونکې لارې پکار واچوي. صنعتکارانو ته د اړتیا په وخت کې ډول ډول مالي امکانات چمتو کړي، پورونه ورکړي، بې بدله کومکونه ورکړي، په مالیاتو کې تخفیف ورکړي او داسې نورې لارې چارې په کار واچوي، تر څو د داخلي صنایعو د رشد لامل شي.

**مالیه:** د دولت د عوایدو د تر لاسه کولو یوه وسیله ده، چې په شتمنیو او د هغه څخه ترلاسه کېدونکو عوایدو باندې وضع کېږي. د دولت د مصارفو ډېره برخه د مالیاتو په وسیله پوره کېږي. د صنایعو پر وړاندې یوه ستونزه د لوړو مالیاتو وضع کول دي، چې ډېری کاروباریان ترې شکایت کوي. د دې ستونزې د حل په موخه دولت باید د ډېرېدونکو مالیاتو له سیستم څخه په استفادې هغه صنعتونه، چې په پراخه اندازه فعالیت کوي لوړه مالیه او هغه، چې د فعالیت ساحه یې محدوده ده باید لږه مالیه ترې واخلي. د دې تر څنګ ځینې وختونه د خارجي رقابت څخه د ساتنې په موخه باید په مالیاتو کې معافیت رامنځته کړي او تصدیو ته باید د مالیې څخه خالي زونونه ( Tax Free Zones) رامنځته کړي، ترڅو تصدۍ پکې عملا په اسانه توګه خپلې کړنې ترسره کړي.

**ګمرکي شرطونه:** د صنعتي سکتور پر وړاندې بله ستونزه ګمرکي شرایط دي. دولت ته پکار ده، چې د داخلي صنعت د پیاوړتیا په موخه باید په ګمرکي شرایطو کې د کاروباریانو د تشویق په موخه اسانتیا رامنځته کړي. په مجموع کې باید ګمرکي شرایط داسې برابر کړي، چې کاروباریانو ته پکې اسانتیا وي.

**پایله**

دا چې صنعت یو پراخ مفهوم دی او د ټول هېواد صنعت په مجموع کې څېړل خورا ستونزمن کار دی، نو د دې لپاره چې موضوع په ښه بڼه روښانه شي، په دغه څېړنه کې مو د ننګرهار ولایت د اوسپنې صنایع تر مطالعې لاندې ونیولې. د معلوماتو د راټولونې لپاره مو پوښتنلیکونه چمتو کړل، چې په ذکر شوي ولایت کې مو د اوسپنې په ۱۵ کارخونو باندې وویشل، د دې تر څنګ مو په ځینو برخو کې د اړتیا پر بنأ مرکې هم ترسره کړې. ترلاسه شوي معلومات مو د Spss پروګرام په مرسته تحلیل کړل، چې په پایله کې مو د صنعتي سکتور پر وړاندې شته ستونزې په لاندې توګه تر لاسه کړل: برېښنا، بنسټیز جوړښتونه، ځمکې ته لاسرسی، مالي امکانات، مدیریت، مالیه، د دولت عدم حمایه او ګمرکي شرایط. په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې صنعت پر وړاندې یو له لویو او عمده ستونزو څخه د برېښنا نشتوالی دی، د څېړنې د پایلې په اساس ۷۳.۳ سلنه صنعتکارانو برېښنا لویه ستونزه بللې چې د صنعتي سکتور فعالیتونه یې د خنډ او ځنډ سره مخ کړي. بله لویه ستونزه بنسټیز جوړښتونه زېربناوې دي، چې د یو هېواد د پرمختګ لپاره ډېره مهمه موضوع ده، خصوصا د صنعت په برخه کې ډېر زیات رول لري، دا چې په افغانستان کې څو لسیزې جګړې روانې دي، نو د زیربنایي پروژو په برخه کې هغه اندازه، چې اړتیا وه، ورته کار نه دی تر سره شوی، د څېړنې پایلې موږ ته دا په ډاګه کوي، چې په ننګرهار ولایت کې د اوسپنې د صنایعو په برخه کې بنسټیز جوړښتونه لویه ستونزه ده، د وروستۍ پایلې له مخې چې ترلاسه کړې مو ده ۶۰ سلنه کاروباریان یې په اړونده برخه کې لویه ستونزه ګڼي. د یو نوي کاروبار د پیل کولو او کاروبار ته د پراختیا ورکولو په موخه د مالي امکاناتو او منابعو درلودل یوه اړینه مسئله ده، په تېره بیا د اوسپنې د صنعت په برخه کې ډېرو مالي منابعو ته اړتیا ده، په ننګرهار ولایت کې د اړونده صنعت پر وړاندې د مالي

امکاناتو کموالی یوه لویه ستونزه ده، د څېړنې په پایله کې مو تر لاسه کړل، چې ۶۷ سلنه صنعتکاران دغه برخه لویه ستونزه ګڼي د دې تر څنګ ځینې نورې ستونزې هم شته، چې د صنعتي فعالیتونو چارې یې ټکني کړې دي. دغه څېړنه، چې هدف یې د صنعتي سکتور پر وړاندې د شته ستونزو او د حل مناسبو لارو په ګوته کول دي، په ټول هېواد کې د صنعت په برخه کې د تطبیق وړ ده. دولت ته پکار ده، چې د صنعتي سکتور د ملاتړ په موخه دغه څېړنه د عمل په ساحه کې تطبیق کړي.

**مناقشه**

صنعت یو پیچلی فعالیت دی، چې ګڼ شمېر ستونزې په مخ کې لري. په افغانستان کې د صنعتي سکتور پر وړاندې یو لړ ستونزې شته، چې صنعتي فعالیتونه یې د خنډ او ځنډ سره مخ کړي دي. دغه ستونزې که څه هم ډېره عادي بڼه لري، خو د افغانستان په څېر یو پرمختیایي هېواد لپاره، چې نوی یې د پرمختګ په پوړیو پل ایښی لویې ستونزې بلل کېږي، چې عبارت دي له: برېښنا، بنسټیز جوړښتونه، ځمکې ته لاسرسی، مالي امکانات، امنیت، سرمایه ګذاري د شرایطو په برخه کې، مدیریت، مالیه، د دولت پالېسي او قوانین، بیمه، انحصار، ترانسپورت، مارکېټ، ګمرکي شرایط، جواز، کاري ځواک، مخابرات، خام مواد، د دولت عدم حمایه، اداري فساد، انفلاسیون او نړیوال مارکېټ. پداسې حال کې، چې په نوره نړۍ کې بیا دغه ستونزې بله بڼه لري لکه په اوکراین کې چې د Institute of Industrial Economics of the NAS په وسیله د نړۍ د اوسپنې صنعت او پر وړاندې یې شته ستونزو په هکله یوه څېړنه په ۲۰۱۸ م کال کې تر سره شوې ده. د اوسپنې صنعت پر وړاندې یې لاندې ستونزې په ګوته کړي: د اوسپنې اضافي تولید د اوسپنې جوړونې د ظرفیت د دوامداره ودې په صورت کې، د اوسپنې تولیداتود سوداګرۍ بې ثباتي، د منابعو د مؤثریت ډېرول او د کارکوونکو ساتنه. بله څېړنه چې د چین په بیجینګ کې د

ساینس او تکنالوژۍ د پوهنتون په وسیله په ۲۰۲۰ زیږدی کال کې تر سره شوې ده، د اوسپنې صنعت زیانونه او ستونزې یې برسیره کړي دي، چې په لاندې ډول ترې یادونه کولای شو:

د اوسپنې صنعت د انرژۍ ډېر استعمال لري، چې دغه چاره په پراخه کچه کاربن ډای اکساید تولیدوي، د پاکو اوبو استعمال، چې په ټوله نړۍ کې محدود دي، نړیواله تودوخه او نا مناسب چاپیریال. د دې تر څنګ یوه بله څېړنه چې د Operation Development Group/ABB لخوا په فنلنډ هېواد کې ترسره شوې ده، هغه ستونزې یې رابرسیره کړي، کوم چې د اوسپنې د عرضې په څنځیر تاثیر پریباسي. د تر سره شوې څېړنې د پایلو په اساس نوموړي عوامل عبارت دي له: د اومو موادو د قیمتونو لوړیدل، د تقاضا په سطحه کې ناڅاپي بدلونونه، د بهرنیو تغیراتو پر وړاندې لوړ مصارف او لوړه مالیه تادیه کول. په ورته وخت کې یوه بله څېړنه چې په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې په واشنګټن کې ترسره شوې د اوسپنې د صنعت پر وړاندې لویې ستونزې او د حل لارې یې په ګوته کړي دي، د څېړنې په پایله کې موندل شوي، چې د اوسپنې صنعت پر وړاندې لاندې ستونزې پرتې دي: ډېر تولید او لږه تقاضا(Fast Productivity and Slow Demand)، په اوسپنه کې د تولید لوړ ظرفیت ( Overcapacity in Steel )، د مارکېټ تحریفونه ( Market Distortion).

د پورته ذکر شویو څېړنو پایلې زموږ د څېړنې د پایلو سره توپیر لري، ځکه چې افغانستان د صنعت په برخه کې نوی ګام ایښی او په ابتدایي پړاو کې همداسې ستونزې لکه برېښنا، بنسټیز جوړښتونه، مالیه، امنیت او داسې نور شتون لري، په داسې حال کې چې د چین، اوکراین، واشنګټن او فنلنډ په شان هېوادونه، چې د صنعت په برخه کې یې ډېر پرمختګونه تجربه کړي ستونزې یې هم متفاوتې او په لوړه کچه دي.

**پایله اخیستنه**

صنعت یو تولیدي فعالیت دی، چې په ترڅ کې یې خام مواد په نهایي موادو بدلیږي تر څو انساني اړتیاوې په ښه بڼه رفعه شي. صنعتي فعالیت، چې د ارزښت، کیفیت او ګټورتوب د لوړولو په خاطر د توکو د بڼې د بدلون عملیه ده، د بشریت په تاریخ کې اوږده مخینه لري. د صنعتي انقلاب، چې د اتلسمې پیړۍ په دوهمه نیمایي کې پیل شو په پای کې یې بشري ټولنې ته ژور بدلون ورکړ او د خلکو ژوند ته یې بله بڼه ورکړه د صنایعو په تېره بیا د ماشیني صنایعو ارزښت په دې کې دی، چې په لږ وخت کې ډېرو موادو ته د بڼې بدلون ورکوي، د هغو په څرنګوالي او بیې کې لوړوالی راولي.

**وړاندیزونه**

- نویو تاسیس شویو صنایعو سره د بلاعوضه کومکونو ترسره کول.
- مالیاتي تخفیف رامنځته کول.
- د اوسپنې د صنایعو لپاره د بازار موندنې په موخه د نندارتونونو رامنځته کول.
- له بهر څخه د اوسپنیزو توکو په وارداتو محدودیت.
- د خامو موادو چمتو کول.
- د صنعتي فعالیتونو د لا ښه والي په موخه د بنسټیزو جوړښتونو رامنځته کول.
- د صنعتي ښارګوټو پراختیا.
- په هېواد کې د صنعتګرو لپاره د غوره امنیت تامین کول.

## References / اخځلیکونه

1. Alberto, N Conjo; Jean-Pierre, Birat; Abhishek, Dutta;. )2020). A review of the current environental challenges of the steel industry and its value. *Journal of Environmental Management*.
2. Hufbauer, Gary Clyde; Goodrich, Ben;. ج2001, July). Steel: Big Problems, Better Solutions. *Policy Brief*, 01-9.
3. Vira, A. )2018). World steel industry. *Economy of Industry*, 86-114.
4. Xiong, Guangyu; Helo, Petri;. (2008). Challenges to supply chain in the steel industry. *International journal of logistic Economics and Globalization*, 160-175.

۵. جاوید افغان ګروپ( .۱۴۰۲ ,۱۱، ۱۲ ) نورزی، تسل, افغان , جاوید.

۶. د احصایی او معلوماتو ملی اداره،(۱۳۹۸-۱۳۹۹ -۱۴۰۱-۱۴۰۰هـ ش). *کلنی احصایه* (ed ۴۱-۴۰-۳۹-۳۸). کابل.

۷. دودیال، محمد بشیر،(۱۳۸۲ هـ ش). *په افغانستان کې صنایع او په ملي اقتصاد کې یې ونډه*. پیښور اریک : د ګرځنده کتابتونونو اداره.

۸. دودیال، محمد بشیر. (۱۳۹۹ هـ ش). *صنعتي اقتصاد*، لومړي ایډیشن). ننګرهار: ننګرهار پوهنتون، اقتصاد پوهنځی.

۹. نورزی، تسل، ذاهدالله (۱۴۰۲ هـ ش) .(د ذاهد تاشکند سیخ ګول).

۱۰. ذکي، ذاکرالله، فخر، افتخارالله (.۱۳۹۹ هـ ش). *د افغانستان اقتصاد* اول چاپ، کنړ :کنړ-سید جمال الدین افغان پوهنتون.

۱۱. فرهاد، محمد. عالم (۱۳۸۰ هـ ش). *د افغانستان لاسي صنایع*، لومړی چاپ). پیښور: اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره.

۱۲. نورزی، تسل، همایون( .۱۴۰۲ ,۱۵۸) .سعادت افغان ستیل میل.

**طارق الله ملکزی او ولي الله حنيفي**
التقوی د لوړو زده کړو موسسه، حقوقو سياسي علومو پوهنځی، حقوقي علومو څانګه.
لارښود استاد: دوکتور عبدالوهاب حسام

# د اسلامي فقهې او د افغانستان قوانينو له نظره د کم عمره نجونو ازدواج

**لنډيز**

دکم سنی ازدواج له هغه ازدواج څخه عبارت دی، چې د ازدواج د قانوني سن په نظر کې نيولو پرته يې صورت نيولی وي، چې د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون د هلک لپاره اتلس کلني او نجلۍ لپاره شپاړس کلني ښودلې ده، البته په اسلامي شريعت کې هلک او نجلۍ هر وخت کولای شي، چې د نکاح عقد ترسره کړي، مګر نجلۍ تر هغې پورې واده نشي ترسره کولی، ترڅو چې د بلوغ عمر ته نه وي رسېدلې.

له دې څېړنې څخه مو هدف د کم عمره نجونو د نکاح په اړه په افغاني ټولنه کې د زيانونو او ناسمو رواجونو مخنيوی دی.

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی، چې د ډېرو هغه زيانونو مخنيوی وشي، کوم چې په کم عمر کې د نجونې نکاح کولوڅخه رامنځته کېږي، لکه د ولادت د وخت زيانونه، د بچود ناسمې روزنې زيانونه، د مېړه د حقوقو د نه پېژندلو زيانونه او داسې نور.

په دې څېړنه کې له کتابتوني تګلارې څخه استفاده شوې ده او تر ډېره کوشش شوي، چې له معتبرو سرچينو څخه استفاده وشي، ولې کله که معتبرې سرچينې نه دي پيدا شوي او يا هم په کې معلومات نه دي پيدا شوي، نو بيا دوهم لاس منابعو څخه هم استفاده شوې ده.

د ځېړنې د ترسره کولو وروسته دا نتيجه په لاس بانـدې راغلـې، چې پـه اسـلامي شريعت کې کم عمره نجونې کولی شي، چې هر وخت د نکاح عقد ترسره کړي، ولې واده تر هغې پورې نه شي کولی، چې ترڅو د بلوغ عمر ته نه وي رسېدلې.

د دې خبرې دليل د قرآن کريم دا آيت کريمه دی، الله ج فرمايي:

وابتلوا اليتمى حتى اذا بلغوا النكاح فان ءانستم منهم رشدا فادفعوا اليهم امولهم...( النساء، آيت: ٦)

**ژباړه:** او ازمايش کوئ د يتيمانو تر دې پورې، چې ورسېږي عمر د نکاح ته، بيا کـه ووينئ په دوی کې هوښياري، نوحواله کړئ دوی ته مالونه د دوی.

نو په پورته ايت کريمه کې معلومه شوه، چې ما شومانو تـه واده جـايز نـه دی، ځکـه که چېرته مخکې له بلوغ څخه واده جايز وای؛ نو په دې ځای کې نکاح ته د رسېدلو ذکر هيڅ فايده نه لري.

زما له نظره بلوغ څخه مخکې واده درست نه دی، ځکه واده د يـو ډول ثمراتـو لپـاره ترسره کېږي، چې د هغې له جملې څخه نسل زېږونه او نفسي شهوت پوه کـول دي، خو ماشوم کې مخکې له بلوغه دغه اثرات نه ښکاري.

همدارنگه له بلوغ څخه مخکې ماشوم ته واده ترسره کول د ماشوم لپـاره ضرر لـري، ځکه د واده له ترسره کولو څخه وروسته د ښځې نفقه او د ژوند د سهولتونو برابـرول د خاوند پرغاړه وي، چې دغه کړنه کوچنی ماشوم نشي ترسره کولی.

**کليدي کلمې:** اسلامي شريعت، په افغانستان کې دکم عمـره نجونـود ازدواج پـه اړه ناوړه دودونه، دکم عمره نجونود ازدواج حکم، وضعي قوانين.

**سريزه**

نحمده ونصلی علی رسوله الکريم اما بعد فاعوذ با الله من الشيطن الرجيم، بسم الله الرحمن الرحيم : وَ الّٰٓـِٕیْ یَىٕسْنَ مِنَ الْمَحِیْضِ مِنْ نِّسَآىٕكُمْ اِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلٰثَةُ اَشْهُرٍ١ۙ وَّ الّٰٓـِٕیْ لَمْ یَحِضْنَؕ١ وَ اُولَاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ یَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّؕ١ ( سورة طلاق، آيت: ۴ )

**ژباړه:** اوکومې ښځې، چې نا اميده شوي له حيض نه ستاسو د ښځونه، نو که چېرې ستاسو شبه پاتې وي، نو د هغوی عدت درې مياشتې دی او همدغه شان چې د کومو حيض نه وي راغلی او د چا په خېټه کې ماشوم وي، نو د هغه عدت دا دی، چې حمل وزېږوي. (۱۷۵:۱۵)

د پورتني آيت تفسير: پورتني آيت کې د عدت بيان ذکر شوی دی، مفسرينو د دې آيت د شا نزول باره کې ليکلي دي، چې کله د سورة البقره (۲۲۸) نمبرآيت ( وَ الْمُطَلَّقٰتُ یَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ١) نازل شو، نو څه کسانو اعتراض وکړ، چې يا رسول الله! د ځينو ښځود عدت متعلق حکم ذکر شوی نه دی، اول: کم عمر والا، دويم: د ډېرعمر ولا چې حيض يې نه راځي او دريېم: حامله ښځې نو د دې عدت څه دی؟ نو الله ج دا آيت کريمه نازل کړو.(۳۱۴:۱۴)

**وجه د استدلال :** د پورتني آيت په اساس ويلی شو، چې د کم عمره نجونو په نکاح کول درست دي، ځکه په پورتني آيت کې د کم عمره نجونو عدت ذکرشوی دی، چې د دوی عدت درې مياشتې دی او دا معلومه خبره ده، چې عدت په هغه ښځه باندې وي، چې له صحيح نکاح څخه وروسته طلاقه شي، نو معلومه شوه چې د کم عمره نجلۍ نکاح درسته ده.

د نکاح ترسره کول د انسان د ژوند له پړاوونوڅخه يو مهم پړاو ګڼل کېږي، نو په همدې خاطر د دې موضوع په اړه په اسلامي شريعت او وضعي قوانينو کې مفصل

احکام شتون لري، چې د دغه احکامو واضحه کول په یوه څېړنه کې یو ستونزمن کار دی، نوله همدې کبله موږ په دې څېړنه کې د نکاح له مواردو څخه په یو مورد باندې بحث ترسره کړی، چې هغه د نجونو لپاره د نکاح د ترسره کولو عمر دی، د نوموړې موضوع په اړه اسلامي شریعت او وضعي قوانین دواړه احکام لري، چې همدغه احکام د دوو جلاء، جلاء مباحثو په ترڅ کې تربحث لاندې نیسو.

## د موضوع مساله

ستونزه دا ده، چې زموږ په ټولنه کې ډېر داسې ودونه ترسره کېږي، چې په هغې کې هغه عمرونه چې په اسلامي فقه او د افغانستان په قوانینوکې د نکاح د ترسره کولو لپاره ښودل شوي دي، په نظر کې نه نیول کېږي، نو دا خلک ولې دغه عمر په نظر کې نه نیسي، چې لامل یې د اسلامي فقهې او افغانستان د قوانینو له احکاموڅخه نا پوهي ده. زموږ په ټولنه کې دا یوه تشه وه، نو ما هم همدې ستونزې ته په کتلو سره یاده څېړنه انتخاب کړه، چې د دې څېړنې په ترسره کولو سره به د ټولنې یاده تشه تریوې اندازې پورې ډکه شي.

## د څېړنې اهمیت

د څېړنې اهمیت په لاندې ټکو کې په ښه شکل سره روښانه شوی دی:

۱. د نکاح له عقد څخه د ناوړه پایلو د راتللو د مخنیوي له حیثه: په دې معنی، چې د څېړنې په ترسره کولو سره خلک کولی شي له دې څخه ځان خبرکړي، چې په کوچنیوالي کې نکاح ترسره کول کومې ناوړه پایلې لري او تر خبرېدو وروسته بیا له دغه ډول نکاح څخه ځان وساتي.

۲. په یاده برخه کې د ناوړه دودونو د مخنیوي له حیثه: په دې معنی، چې زموږ په ټولنه کې په یاده برخه کې ځینې ناوړه دودونه موجود دي، دبېلګې په ډول زموږ په ټولنه کې دا دود دی، چې په ماشومتوب کې چې هلک او نجلی لا د بلوغ

عمرته نه وي رسېدلي، د هغوی د پلرونو لخوا يو بل ته په نکاح باندې ورکول کېږي، په پايله کې بيا له همدغې اړيکې څخه ډېر زيانونه رامنځته کېږي، څکه چې کله هلک او نجلۍ په ښه او بد باندې پوهه شي، نو بيا زياتره وخت د دوی ترمنځ اړيکه په بدې اړيکې باندې بدله شي، څکه يو بل يې نه خوښېږي، نو د دغه ناسم دود د مخنيوي په موخه ياده څېړنه ترسره شوې ده، چې د څېړنې په اهميت باندې دلالت کوي.

## د څېړنې اهداف

د څېړنې اهداف په لاندې کرښوکې روښانه کولی شو:

له څېړنې څخه مو لومړنی هدف د کم عمره نجونو د نکاح د ورکړې له امله د رامنځته کېدونکو زيا نونو مخنيوی دی.

له څېړنې څخه مو دويم هدف په ياده برخه کې د اسلامي شريعت او وضعي قوانينو د احکامو رغول او واضحه کول دي، ترڅو په ياده برخه کې د ناپوهۍ کچه راکمه شي.

له نوموړې څېړنې څخه مو درېيم هدف په ياده برخه کې د ناسمو دودونو او رواجونو مخنيوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

۱. په اسلامي شريعت کې د کم عمره نجونو ازدواج جواز لري او که نه؟

۲. په وضعي قوانينو کې د نجونود نکاح دورکړې لپاره څومره عمر ښودل شوی دئ؟

۳. په کم عمر کې د نجلۍ په نکاح باندې له ورکړې نه وروسته دېته د بلوغ خيار حق ثابت دی او که نه؟

**پخوانيو آثارو ته کتنه**

د کم عمره نجونو د ازدواج په اړه په ډېرو کتابونواو قوانينو کې بحث ترسره شوی دی، چې موږ دلته د نمونې په شکل له يو څو کتابونو او قوانينوڅخه يادونه کوو او له همدغه کتابونو او قوانينو سره د خپلې څېړنې توپير هم روښانه کوو:

**کتابونه**

١. د اسلام کورنی نظام د شيرزاد عزيزي تألیف، په نوموړي کتاب کې د نکاح اړوند تفصلي بحث شوی او د نکاح اړوند ټولو مواردو ته پکې اشاره شوې ده، (لکه خطبه، کوژدن، د نکاح د عقد ترسره کول، د نکاح د عقد آثار، د نکاح د عقد انحلال او داسې نور) ولې زموږ په څېړنه کې بيا له دغه ټولو مواردو څخه صرف نظر شوی دی، او د نکاح اړوند مو يوازې يوه موضوع څېړلې هغه د نکاح لپاره د طرفينو عمر دی، چې د نکاح په وخت کې يې بايد عمرڅومره وي.

٢. د افغانستان د کورني حقوقو لپاره د ماکس پلانک د انستيتوت په درسي کتاب کې هم د نکاح اړوند ټول هغه موارد ذکرشوي دي، کوم چې د افغانستان په قوانينو کې ذکرشوي دي، (لکه د نکاح ترسره کولوطريقه، د نکاح د ترسره کولو شرايط، د نکاح له ترسره کولو وروسته رامنځته کېدونکو آثارو او د نکاح د عقد له منځه تللو حالتونه او داسې نور موضوعات) ولې زموږ په څېړنه کې بيا له د غو موضوعاتو څخه يوازې يوه موضوع انتخاب شوې ده، چې هغه د افغانستان په قوانينو کې د نجونو لپاره د نکاح د عمر موضوع ده، چې د يادو قوانينو په اساس کله يوه نجلۍ کولی شي، چې د نکاح عقد ترسره کړي.

**قوانين**

د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کـال مـدني قـانون، پـه قوانينـوکې يـوازې د مـدني قـانون يادونه کوو، مدني قانون د نکاح مربوط ټول موارد په ځان کې رانغاړلي دي، لکه ( د نکاح د عقد څخه مخکې پړاوونه، د نکاح د عقد پړاو، د نکاح له عقد وروسته پـړاو او داسې نور موضوعات ) ولې موږ له دغه پړاوونوڅخه يوازې په يو پړاو باندې بحث کړی دی، چې هغه د نکاح د عقد پړاو دی.

**د څېړنې تګلاره**

دا څېړنه د مصادرو له مخې کتابتوني ده په دې څېړنه کې لـه همـدې يـوې تګـلارې څخه استفاده شـوې ده، څکـه څېړنـه کـې مـې د کتـابتوني مصـادرو او منابعوڅخـه استفاده کړې ده.

۱ . د دې لپاره، چې ټول موضوعات روښانه شي، دغه څېړنـه پـه مختلفـو، مبحثونـو، مطلبونو او نورو کوچنيوعناوينو باندې په داسې شکل وېشـل شـوې، چـې تـرمنځ يې منطقي تسلسل موجود دی.

۲. د څېړنې کتابتوني اړخ په اړه د موادوپه راټولونه کې د امکان ترحده کوشش شوی چې د اصلي او تخصصي منابعوڅخه استفاده وکړم او که په اصلي منابعو کې مې نه ده پيدا کړی، نوبيا مې د فرعي منابعو لکه مجلې، مقالې او انټرنيټ څخه هم په کې استفاده کړې ده.

۳ . که په ليکنه کې د قرآن کريم آيت ته ضرورت پيدا شوی، نو د آيت مطلوبه برخه له مصحف څخه را اخيستل شوې ده او ترجمه يې له معتبر تفسيرڅخه شوې ده.

۴. که په دې ليکنه کې کوم حديث شريف ته ضرورت پيدا شوی، نـو د احـاديثو لـه معتبر کتاب څخه مې را اخيستی دی.

## لومړی مبحث : د ازدواج عمومي پېژندنه

په دې بحث کې د ازدواج په اړه عمومي بحث ترسره شوی دی.

### لومړی مطلب : د ازدواج تعریفونه

د ازدواج په تعریف کې لومړی په لغوي معنی او بیا په اصطلاحي تعریف باندې بحث کوو:

### لومړی : د ازدواج لغوي معنی

ازدواج په لغت کې جفت نیول، ښځه نیول، خاوند کول دي .(۳: ۱۲۳) ، یو له بل سره برابرېدل. ( ۵: ۱۳)، په عربي ژبه کې ازدواج د یو ځای والي، پیوستون، جوړه کېدو او هم د دوو شیانود مشابهت او هم جنس والي په معنی استعمال شوی دی. (۱۰: ۲)

### دویم: د ازدواج اصطلاحي تعریفات

( هو عقد بلفظ النکاح أو التزویج علی منفعة الاستمتاع ) ( ۹ : ۱ )

**ژباړه:** ازدواج هغه تړون دی، چې په لفظ د نکاح او تزویج سره له منافعوڅخه د ګټې اخیستلو لپاره د ښځې او خاوند ترمنځ تړل کیږي.

**یا:** ازدواج هغه شرعي عقد او تړون دی، چې د هغې له مخې له ښځې څخه د سړي او له سړي څخه د ښځې ګټه اخېستل روا کوي. ( ۴: ۱۸۴).

یا هغه عقد دی چې د نر او ښځې ګډ ژوند د کورنۍ د جوړولو لپاره د شریعت او قانون په چوکاټ کې حلال ګرځوي او دواړو خواوو ته حقوق او وجیبې رامنځته کوي. (۷: ۱۲)

د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون ازدواج داسې تعریف کړی ( ازدواج یوعقد دی، چې د ښځې او سړي معاشرت یې د فامیل د تشکېلولو په مقصد مشروع کړی او د دواړو خواوو حقوق او وجایب تنظیموي). (۱۳: ماده ۶۰)

**دویم مطلب : د ازدواج مشروعیت**

د ازدواج د مشروعیت په هکله الله جل جلا له داسې فرمایي: (و انکحوا الایامی منکم) ( النورسورة، آیت: ۳۲)

**ژباړه :** نکاح وتړئ د هغه بې مېړونو (خاوندانو) ښځو او بې ښځو سړیو له تاسې.

همدارنګه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي : ( یا معشرالشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج ومن لم یستطع فعلیه بالصوم فانه له وجاء). ( ۱: حدیث شمېره ۴۶۷۷)

**ژباړه :** ای د ځوانانو ټولګیه! څوک چې په تاسې کې د نکاح کولو توان لري، نکاح دې وکړي او که څوک یې توان نه لري، نو روژې دې ونیسي، ځکه روژه د شهوت ماتوونکې ده. ( ۱۰: ۶۴)

**درېیم مطلب : د ازدواج اهداف او ګټې**

د ازدواج پر اهدافو او ګټو باندې د پوهېدو لپاره دا مطلب په دوو جزونو وېشو:

**لومړی: د ازدواج اهداف**

د ازدواج اساسي اهداف عبارت دي له:

۱ـ په نړۍ کې د بشري نسل زیاتوالی.

۲ـ د یوې سالمې کورنۍ او ټولنې اساس ټاکل.

۳ـ په انساني طریقه د جنسي غریزې اشباع.

۴ـ د انساني نسل حفاظت او ساتنه. ( ۱۰: ۶)

**دویم جز : د ازدواج ګټې**

د ازدواج ګټې په دوه ډوله دي، مادي او معنوي.

**لومړی: دنکاح مادي ګټې**

د نکاح مادي ګټې په لاندې ډول دي:

۱ ـ د ښځې او خاوند ترمنځ د ژوند په چارو کې همکاري.

۲ ـ د کور تنظیم او د چارو وېش.

۳ ـ د کورنیو او قبیلو ترمنځ د اړیکو نږدېوالی.

۴ ـ د مور او پلار سره د اولاد د مینې پیدا کېدل.

۵ ـ د نکاح په کولو سره د ښځې او سړي حیثیت او آبرو ساتل کېږي. ( ۱۰: ۷)

**دویم : د نکاح معنوي ګټې**

امام غزالي رحمة الله علیه لیکلي دي: نکاح کول لاندې معنوي ګټې لري:

۱. د الله تعالی جل جلاله له لورې یوه ستره پېرزوینه ده، چې د انسان د زړه د سکون او خوشحالۍ سبب کېږي.

۲. د نکاح په کولو سره د مسلمان ایمان بشپړېږي او په عبادت کې یې پیاوړتیا پیدا کېږي.

۳. په نکاح کې د ښځو په خبرو صبرکول، د اولادونو د روزنې او هغوی ته د روزۍ ورکولو بار پورته کول د اخرت د اجر او ثواب لامل ګرځي. ( ۱۰: ۸)

## دويم مبحث : د اسلامي شريعت او افغانستان د قوانينوله نظره د کم عمره نجونو ازدواج

په دې مبحث کې د اسلامي فقهې له نظره په کم سنۍ کې ازدواج، د وضعي قوانينو له نظره په کم سنۍ کې ازدواج او د افغانستان په ټولنه کې د ازدواج د اهليت له بشپړولو څخه وړاندې ودونو باندې بحث کوو.

### لومړی مطلب : د اسلامي شريعت له نظره په کم سنۍ کې ازدواج

په قرآن عظيم الشان کې د ازدواج لپاره حد اقل عمر په ښکاره ډول نه دی ټاکل شوی

امام شافعي (رحمة الله عليه) فرمايلي دي: (( يستحب أ ن لا يزوج الأ ب والجد البکرحتی تبلغ ويستاذنها لاء يوقعها فی اسرالزوج وهی کارهة)). ( ۱۷: ۴۵۶)

**ژباړه :** مستحب دی، چې پلار او نيکه نجلۍ تر هغې چاته په نکاح نه کړي، چې ترڅو بالغه نه شي او له هغه نه اجازه ونه غواړي او دا د دې لپاره چې دغه نجلۍ په داسې حال کې د مېړه سره بنده نه کړي، يعنې مجبوره يې نه کړي( او بيا به يې ټول عمرژوند خراب وي ).

او حافظ ابن حجر ( رحمة الله عليه ) فرمايي چې امام ابن حزم ( رحمة الله عليه ) له امام ابن شبرمه ( رحمة الله عليه ) څخه روايت کړی دی، چې هغه داسې ويلي: ((إ ن الأب لا يزوج بنته الصغيرة حتی تبلغ وتاذن)). ( ۸: ۱۲۰)

**ژباړه :** پلار دې خپله وړه لور تر هغې چاته نه په نکاح کوي، ترڅو چې با لغه نه شي او اجازه ور نه کړي.

همدارنګه جليل القدر صحابي عبد الله بن بريده ( رضي الله عنه ) روايت کړی دی چې ابوبکر صديق ( رضي الله عنه ) او عمر فاروق ( رضي الله عنه ) په بي بي فاطمې

(رضي الله عنها) باندې مرکه وکړه، نو رسول الله (صلی الله علیه وسلم) دواړو ته داسې وفرمایل: (( **انها صغيرة**)). (١٦: ٦٩)

**ژباړه :** یعنې فاطمه بي بي تر اوسه وړه ده.

نومعلومه شوه، چې رسول الله (صلی الله علیه وسلم) د هغوی غوښتنه د فاطمې رضي الله عنها د وړکتوب له کبله رد کړه. نو له دې څخه معلومه شوه، چې په ماشومتوب کې د نجلۍ نکاح تړل د یو چا سره غوره کار نه دی. که د ماشوم هلک او ما شومې نجلۍ نکاح په ما شومتوب کې تړل شوې وي، نو له بالغېدو نه وروسته دواړه د نکاح د فسخې یا منلو اختیار لري، ځکه امام ابن ابي شیبه له قاضي شریح څخه داسې روایت کړی دی، چې: ((إ ذا زوج الرجل إبنه أو بنته فالخيار لهما إذا شبا)). (١٢: ١٤١)

**ژباړه:** که یو سړی خپل زوی یا لورته په ما شومتوب کې واده وکړي، نو دا دواړه له بالغېدو څخه وروسته اختیار لري، چې د غه نکاح مني اوکه نه یې مني، که څوک سوال وکړي، چې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) خو د بي بي عایشې (رضي الله عنها) سره په نهه کلنۍ کې واده کړی و؟ نو علماء د دغه سوال دوه جوابونه کوي:

١. چې د بي بي عایشې (رضی الله عنها) سره په نهه کلنۍ کې د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) نکاح کول د هغه له خصوصیاتوڅخه وه لکه چې امام ابن شبرمه فرمایي: ((كان من خصائصه)). (٨: ١٢١)

**ژباړه:** د بي بي عایشې (رضي الله عنها) واده کول د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) سره په نهه کلنۍ کې د رسول الله (صلي الله علیه وسلم) له خصوصیاتوڅخه وه.

په دې معنی سره چې نبي کریم ـ صلی الله علیه وسلم ـ ځینې داسې خصوصیات لرل، چې د نور امت لپاره نه ول، لکه د بېلګې په ډول سره د یولس ښځو سره نکاح کول نو د غه موضوع هم د رسول الله (صلی الله علیه وسلم) له خصوصیاتوڅخه شمېرل کېږي.

۲. عايشه بي بي په صحت، قد او قامت کې ديوې پېغلې نجلۍ غونډې وه، چې رسول الله (صلي الله عليه وسلم) واده کړه او احتمال شته، چې هغه په نهه کلنۍ کې با لغه شوې وه، څکه چې امام نووي فرمايي، چې امام داودي داسې فرمايلي دي: ((وکانت عايشه قد شبت شبابا حسنا)). (۱۷: ۴۵۶)

**ژباړه:** رسول الله (صلي الله عليه وسلم) څکه د عايشې بي بي سره په نهه کلنۍ کې واده وکړو، چې عايشه بي بي ډېره غټه شوې وه. (۱۱: ۱۷۳ـ۱۷۵)

**نو په نتيجه کې داسې ويلی شو:** د اسلامي شريعت او فقهې له نظره هم د انجونو ازدواج په ماشومتوب کې جايز نه دی او که چېرې چا په کوچنيوالي کې خپله لور په نکاح ورکړه، نو بيا دا عقد تر بلوغ پورې د نکاح شوې نجلۍ تر اجازې پورې موقوف دی دا د ابن شبرمه او عثمان البتي مذهب دی او د جمهورو علماؤ له نظره بيا په ماشومتوب کې نکاح ترسره کول جايز دي، چې امام صاحب هم د جمهورو علماؤ سره هم نظر دی.

**دويم مطلب : د وضعي قوانينو له نظره په کم سنۍ کې ازدواج**

وضعي قوانين د کم عمره نجونو د ازدواج د حکم په اړه په لاندې ډول سره صراحت لري: (د ازدواج اهليت هغه وخت پوره کېږي، چې نارينه و د اتلس (۱۸) کلنۍ او ښځو د شپاړس (۱۶) کلنۍ عمر پوره کړی وي). (۱۳: ۷۰ ماده)

همدارنگه د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون داسې صراحت لري: (که نجلۍ د دې قانون د اويايمې (۷۰) مادې درج شوی د رشد عمر نه وي پوره کړی د هغې د ازدواج عقد يوازې د پلار په وسيله، چې د صحيح تصرف لرونکی وي يا د صلاحيت لرونکې محکمې په وسيله صورت موندلی شي. د صغيرې نجلۍ د نکاح عقد، چې عمر يې د پنځلس (۱۵) کلونو څخه کم وي په هيڅ صورت جواز نه لري). (۱۳: ۷۱ ماده)

نود انجونو لپاره د ازدواج قانوني سن ١٦ کلني ده او هغه انجونې، چې د هغوی عمر د ١٥ او ١٦ کلونو په منځ کې وي یو د صحیح تصرف لرونکي پلار یا د صلاحیت لرونکې محکمې پوسیله صورت نیولی شي او هغه انجونې، چې د هغوی عمرله ١٥ کالو څخه کم وي د هغوی ازدواج په هیڅ صورت جواز نه لري.

## دریم مطلب: په افغانستان کې د ازدواج د اهلیت د سن له بشپړولو څخه وړاندې ودونه

په افغاني ټولنه کې د ازدواج د سن اړوند د افغانستان د ١٣٥٥ هـ ش کال مدني قانون د ( ٧١ یمې) مادې د شتون سره، سره د ماشوم ازدواج د هغه د منفي او ناوړه اغېزو سره یوه زیاتېدونکې او جدي ستونزه ده. د هغو څېړنو خپاره شوي رپوټونه، چې د اسلامي امارت د تېرې واکمنۍ له نسکورېدو وروسته د افغانستان په داخل کې ترسره شوي دي، په دې هیواد کې د ماشومانود ازدواج پراخ مقیاس او اندازه ښیي.

البته د ازدواج د سن د واقعیت اړوند رسمي معلومات په لاس کې نشته، ځکه په ډېرو سیموکې، نه زیږېدنې او نه ودونه ثبتیږي. ډېر زیات شمېر خلک نه پوهیږي، چې څوکلن دي. په کلیوالي او ښاري سیموکې د ازدواج سن یوله بله توپیر لري او همدارنګه د قومي اړیکو او کورنیو د اقتصادي وضعې پورې هم تړاو لري. دا چاره په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې د صغیرو انجونود پراخ ازدواج د یوې څرګندې بېلګې بیانوونکې ده. ( ٦: ٨٥)

د ازدواج د اهلیت سن ته له رسېدو څخه وړاندې یو واده به احتمالاً په دې باندې خاتمه ومومي، چې ماشوم له هرڅه وړاندې هغه کوچنۍ چې ناوې شوې ده، ښوونځي ته له تللو څخه حتی د زور په استعمال سره منعه شي. هر کله که له وخت څخه وړاندې ودونو پوسیله کوچنۍ ناویانې امیدواره (حامله) شي او ولادت وکړي ،

دا چاره کولای شي د هغوی لپاره کرکجنې فزيکي او روحي ناوړه پېښې رامنځته کړي، ځکه هغوی د لازم جسماني او روحي بلوغ څښتنانې نه دي. (٦: ٨٥)

د ملګرو ملتونو د سازمان د نفوسو د ادارې د معلوماتو پربنسټ په افغانستان کې په هره ګړۍ کې دوه ښځې د زېږون پر مهال مري، په پا يله کې په ټوله اسيا کې افغانستان د ښځود مړينې تر ټولو د لوړ شمېر درلودونکی دی. د ناوړه روغتيايي شرايطو ترڅنګ د دې چارې لامل د ځوانو مېندو جسمي نه آماده ګي ده، چې تر اوسه پخپله ماشومانې دي. د ماشومانو د ازدواج دليلونه ډېر دي، د قوانينو له شتون څخه د افغانستان د خلکو د سترو پرګنو ناخبري او د ريښه لرونکو عنعنوي دودونو او روا جونو نفوذ دی. په دې حالاتوکې ماشومانوته د يو سوداګريز مال په څېر کتل کېږي او په مزايده (بولي) کوونکو باندې د يوې لوړ ولور په مقابل کې ګويا پلورل کېږي. (٦: ٨۴)

په کوچنيوالی کې ودونه د افغانستان په ټولوسيمو او قومونوکې عام دي. د يونيفيم او د افغانستان د بشري حقوقود خپلواک کمېسيون د اسنادو له مخې ۵٧ سلنه افغاني ودونه د کو چنيوالي د عمر ودونه دي، چېرته چې له يوې خوا عمر له ١٦ کلونو څخه کم وي. د هغې مطالعې له مخې چې د ٢٠٠ په شا خوا کې د کوچني عمر د نجونو سره چې واده شوي وې، ترسره شوه، ۴٠ سلنه يې د ١٠ او ١٣ کلونو ترمنځ، ۵.٣٢ سلنه يې د ١۴ کلونو او ٢٧.۵ سلنه يې د ١۵ کلونو په عمرونوکې واده شوي وې. (٢: ١٨ـ ١٩)

**پایله**

د دې علمي څېړنې ( په اسلامي شریعت او وضعي قوانينوکې دکم عمره انجونو ازدواج ) په پای کې لاندې پایلوته رسېږو.

۱ـ په اسلامي شريعت کې د کم عمره نجونو ازدواج تر هغې پورې جواز نه لري، ترڅو پورې چې با لغه شوې نه وي.

۲ ـ د اسلامي شريعت له نظره که چېرته په کم عمر کې یوه نجلۍ په نکاح باندې ورکړل شي، نو له بلوغ وروسته دغې نجلۍ ته د خيار حق ثابت دی.

۳ـ د اسلامي فقهې له نظره له بلوغ وروسته کله چې نجلۍ په نکاح باندې ورکول کېږي، نو مستحب ده، چې له هغې څخه اجازه واخيستل شي.

۴ ـ د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون له مخې د واده لپاره ځانګړی عمر ټاکل شوی، چې د هلکانو لپاره اتلس کاله او د انجونو لپاره ۱۶ کاله عمر ښودل شوی او همدارنګه کله، چې یوه نجلۍ د ۱۵ او ۱۶ کلونو په منځ کې وي، نو یواځې پلار او صلاحیت لرونکې محکمه کولای شي، چې نجلۍ په نکاح باندې ورکړي او له ۱۵ کلونوڅخه د کم عمر نجلۍ په هيڅ صورت سره په نکاح باندې نه شي ورکول کېدای.

**مناقشه**

پورتنۍ پایلې په لاندې کرښوکې تر مناقشې لاندې نيول کېږي:

۱. په اسلامي شريعت کې له بلوغ څخه مخکې د نکاح ترسره کول ځکه مناسب نه دي، چې په اسلامي فقه کې د اکثره عقدونو لپاره بلوغ شرط دی، ځرنګه چې نکاح هم یوعقد دی، نو په دې کې هم بايد د طرفينو بلوغ په نظرکې ونيول شي.

۲. د اسلامي فقهې له نظره که چېرته يوه نجلۍ په کم عمر کې په نکاح باندې ورکول شي، نود بلوغ وروسته دغه نجلۍ ته د خيار حق ځکه ورکول شوي دی، چې د نکاح اړيکه بايد د طرفينو په خوښه باندې وي، که چېرته د نکاح په اړيکه باندې طرفين راضي نه وي، نو بيا له دې اړيکې څخه دنکاح هدف نه ترلاسه کېږي.

۳. له نجلۍ څخه د نکاح په ورکړه کې اجازه ځکه مستحب ده، چې نجلۍ هم د نکاح د عقد يو لوری دی، او په عقد کې رضايت شرط دی، نوبايد د نجلۍ رضايت هم د نکاح په عقد کې واخيستل شي.

۴. د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش مدني قانون چې د انجونود نکاح د ورکړې لپاره کوم عمر قيد کړی، له دې خاطره چې اکثره انجونې په همدغه وخت کې بلوغ ته رسيږي، نو ښکاري، چې د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون هم د اسلامي فقهې سره هم نظر دی، چې نجلۍ بايد له بلوغ وروسته په نکاح باندې ورکول شي اوکله، چې نجلۍ ۱٦ کاله عمر نه وي پوره کړی او له ۱۵ کالو څخه پورته وي، نوپه دې صورت کې بيا د نجلۍ په نکاح باندې ورکړه د پلار او صلاحيت لرونکې محکمې صلاحيت ځکه تاکل شوی دی، چې دوی د نجلۍ خيرخوا ه دي او له ۱۵ کلونو څخه کم عمره نجلۍ په نکاح باندې نه ورکول کېږي، ځکه چې اکثره انجونې له ۱۵ کلونو وروسته بلوغ ته رسيږي او د مدني قانون له نظره د انجونو په نکاح کې د دوی بلوغ شرط دی.

**پايله اخيستنه**

د اسلامي شريعت له نظره د کم عمره انجونو په نکاح باندې ورکړه يو مشروع عمل دی او غوره دا ده، چې نجلۍ هغه وخت په نکاح باندې ورکول شي، چې بلوغ ته ورسيږي، همدارنگه له بلوغ وروسته هم که يوه نجلۍ په نکاح باندې ورکول کېږي، نو بايد له هغې څخه اجازه واخيستل شي، د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون د انجونو لپاره ځانگړی عمر ښودلی، چې هغه شپاړس کاله دی، چې له دې څخه په کم عمر کې يوازې پلار او صلاحيت لرونکې محکمه کولی شي، چې

نجلۍ په نکاح باندې ورکړي او له ۱۵ کلونو څخه د کم عمر نجلۍ هیڅوک هم په نکاح باندې نه شي ورکولای.

که چېرته کم عمره انجونې نکاح وکړي، نو له د غې نکاح څخه ډېر زیانونه هم رامنځته کېدلی شي، لکه د ولادت د وخت ستونزې، د اولادونو نا سالمه روزنه، د خاوند حقوق نه پېژندل او داسې نور ډېر زیانونه رامنځته کېدلی شي.

**اخځلیکونه**


القرآن الکریم.

۱. البخاري، الجعفي، محمد بن اسماعیل ابوعبدالله. (۱۲۴۲). صحیح البخاري، جلد (۱۵)، مصر، اداره الطباعه المنیریه مصر.

۲. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی (یوناما) (۲۰۱۰م) په افغانستان کې ناوړه دودونه او د ښځې پرعلیه د تاوتریخوالي د منع قانون تطبیق ، دبشري حقوقوڅانګه، کابل، د بشري حقوقولپاره د ملګروملتونوعالي کمیشنردفتر، ژنیو.

۳. حسن، عمید. (۱۳۶۹هـ ش). فرهنګ فارسي عمید، اول جلد، اووم چاپ: تهران.

۴. د افغانستان د حقوقي لاسرسي د پراختیا او روښتیا د ملاتړ پروګرام (عدالت)(۱۳۹۷هـ ش). د بنسټیزو حقونوپېژندنه، لومړی چاپ.

۵. د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو د څانګې یوشمېرپوهان (۱۳۹۰هـ ش). د فقهي اصطلاحاتو قاموس، لومړی چاپ: کابل د افغانستان د علومواکاډمي.

٦. راستین، کعبه او یساري، نجما. (۱۳۸۸هـ ش). د افغانستان د کورنۍ د حقوقو لپاره د ماکس پلانک د انستیتوت درسي کتاب، دوهم چاپ: کابل.

۷. ستانکزی، نصرالله اونور.(۱۳۸۷هـ ش). د حقوقي اصطلاحاتوقاموس، اول چاپ: کابل.

۸. الشوکاني، محمد بن علي. (۱۳۵۷هـ ش). نیل الاوطارشرح منتقي الاخبار، جلد(٦) ریاض، وزارة الاوقاف السعودیة.

۹. عبد الرحمن الجزیري. (۲۰۰۳م). الفقه علی المذاهب الأربعه، جلد(۴)، دارالکتب العلمیة.

۱۰. عزيزي، شيرزاد. (۱۳۹۵هـ ش). د اسلام کورنی نظام، جلال آباد: سلام خپرونديه ټولنه.

۱۱. کاکړ، شايق احمد هميم. (۱۳۹۲هـ ش). د ښځو له حقوقوڅخه دفاع په قرآن او سنت کې.

۱۲. کوفي، ابوبکرعبدالله بن محمد بن ابراهيم. (۱۳۷٦هـ ش). مصنف ابن ابی شيبه، جلد (۴)، بيروت، دارالفکر.

۱۳. مدني قانون ، (۱۳۵۵ هـ ش). رسمي جريده، ۳۵۳ گڼه.

۱۴. مولانه اسد الله. (۲۰۱٦م). رشدالقرآن في تفسيرآيات القرآن، جلد(۷)، پشاور: قصه خوانی، مکتبه رشديه.

۱۵. مولانه محمد شفيع (ـــــ) تفسيرمعارف القرآن، جلد (۱۰)، پشاور: قصه خوانی، وحيدي کتابخان.

۱٦. نسايی، ابوعبدالرحمن احمد بن علي بن شعب. (۱۴۱۹ق). سنن نسايي، جلد (۲)، رياض، دارالسلام للنشرولاتوزيع.

۱۷. نووي، أبوزکريا محيي الدين يحيی بن شرف. (۱۳۸۴هـ ش). شرح نووي علی صحيح مسلم، بيروت، دارالکتب العلمية، جلد (۱).

**پوهاند احمدګل واثق**
ننګرهار پوهنتون، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، خصوصي حقوقو دیپارټمنت
لارښود استاد: پوهاند شاه ولي خان

# د سفر حق تحریمات او د بشري حقوقو نقض

**لنډیز**

د سفر حق د بشري حقوقو یو له ډېرو مهمو او عمده حقوقو څخه ګڼل کېږي، چې اسلامي شریعت، نړیوال اسنادو او دولتونو په اساسي قوانینو کې په رسمیت پېژندل شوی دي، چې مفهوم یې له یو ځای څخه بل ځای ته په داخل یا خارج کې تګ راتګ دی، چې د مختلفو اهدافو لکه تجارت، کار کول، تعلیم، سیاحت، د تاریخي او فرهنګي ځایونو لیدنه او نورو لپاره تر سره کېږي، ولې بیا د دولتونو د ملي قوانینو او نړیوالو حقوقي اسنادو له مخې ځینې وختونه، د ځانګړو اهدافو د تر لاسه کولو لپاره د یو شمېر ځانګړو اشخاصو په سفر باندې تحریمات وضعه کېږي، ولې دغه تحریمات کله داسې وي، چې د هغې په اساس د بشر حقوق نقض کېږي، چې له هغې جملې څخه د لوړو زده کړو وزارت او معارف وزارت په مشرانو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا یا د اروپایي اتحادیې له خوا د سفر تحریمات وضع شوي، چې په اساس یې د بشر یو سلسله نور حقوق صدمه ګوري، چې همدغه حالت بیا د سفر د تحریماتو د معافیت لامل کېږي، چې له بده مرغه د دغه معافیت څخه تر اوسه امنیت شورا استفاده نه ده کړې، چې همدغه عمل یې د نړیوالو حقوقي اسنادو د عدم رعایت په معنی دی، چې د همدې لامل د روښانه کولو لپاره یې په دې علمي او تحقیقي مقاله انتخاب شوې ده، چې دا ډېره اهمه موضوع ده ځکه هغه ارګان چې د یو قانون له مخې د ځینو انسانانو د حقوقو د تحریم سبب شوی او د بلې خوا د بشر حقوقو د نقض لامل شوی دی، چې دغه د بشر- حقوقو د نقض موارد او د سفر د

تحريم غير قانوني والى يې په گوته كول د دې مقالې له مهمو موخو څخه شمېرل كېږي. په دې علمي تحقيقي مقاله كې له كتابتوني تحليلي ميتود څخه گټه اخيستل شوې ده، چې پايله كې يې دا ثابته شوه، چې د هغه ارگان چې د بشر حقوقو د ملاتړ دعوه كوي پخپله د بشر حقوقو د نقض سبب شوى دى، چې د هېواد د تعليمي او تحصيلي ادارو پر مشرانو يې د سفر تحريم وضع كړى. دغه بنديز د ټولنيزو، ديني، مذهبي، انساني او طبيعي اړتياو په صورت كې د امنيت شورا (۲۰۱۶م) د ۲۱ ۶۱ قطعنامې د نهمې فقرې له مخې بايد معافيت تر لاسه كړي، چې متاسفانه نه، امنيت شورا د ملگرو ملتونو ځينو اصولو رعايت لپاره تحريم وضع كړى، خو هغه اصول چې دغه تحريمات استثناء منع كوي نه دي مراعت كړي چې په همدې اساس د دوى كړنه غير قانوني گڼل شوې ده.

**كليدي كلمې:** بشري حقوق، تحريمات، سفر حق، نقض

**سريزه**

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمدلله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين وعلى اله و اصحابه اجمعين.

هر انسان حق لري، چې په آزاد ډول له يو ځاى څخه بل ځاى ته په داخل او خارج كې سفر وكړي. د دې بشري حق معنى دا ده، چې په ازادانه ډول په داخل او خارج د يو ځاى څخه بل ځاى ته لاړ شي ولې د دې ازادۍ لپاره ځينې قيودات ټاكل شوي دي، لكه عامه مصالحو ته صدمه وي امنيت او عامه نظم ته صدمه وي يا ځينې مصالح د دې سفر په اساس زيانمن كيږي، خو د دغه سفر حق هيواد په داخل كې كوم ځانگړي پروسيجر او اسنادو ته ضرورت لري لكه پاسپورت او د ويزې ضرورت وي، همدارنگه يو ځاى څخه بل ځاى ته د تگ را تگ حق د هر شخص د ژوند عمده ضرورت گڼل كيږي هر شخص د خپل ژوند د مختلفو امورو او موخو لكه

سياحت، هوا تبديلي، معالجې، تداوي، خپلوانو او دوستانو ليدل، تجارت، تحصيل او تعليم، کسب او کار او نورو لپاره د هېواد په داخل او خارج کې سفر کولی شي.(۱۱: ۹۰)

نوموړی حق په اسلامي شريعت کې په رسميت پېژندل شوی، يوازې رسميت پېژندل نه. بلکې په شريعت کې يې خلک د سفر کولو لپاره هڅولي هم دي، له اسلامي شريعت سربېره د هر هېواد په وضعي قوانينو کې هم دغه حق په رسميت پېژندل شوی، لکه د افغانستان ۱۳۸۲ هـ ش اساسي قانون ۳۹ ماده، د کاناډا اساسي قانون ٦ ماده، د هسپانيا د اساسي قانون ۱۹ ماده، د ايټاليا هېواد اساسي قانون ۱٦ ماده، د الجزاير هېواد اساسي قانون ۴۴ ماده، د سويس هېواد اساسي قانون ۴۵ ماده، د المان هېواد اساسي قانون ۱۱ ماده، د جاپان هېواد اساسي قانون ۲۲ ماده د ټولو هېوادونو په اساسي قوانينو کې دغه حق په رسميت پېژندل شوی دی.(۱۷: ۱۴۹-۱۵۹)

همدارنگه نړيوالو حقوقي اسنادو، لکه بشر حقوقو نړيواله اعلاميه، مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق، د کوچنيانو حقوقو نړيوال کنوانسيون، د بشر حقوقو نړيواله اسلامي اعلاميه، د امنيت شورا ځينې قطعنامې او نور حقوقي اسنادو کې دا حق په رسميت پېژندل شوی دی.

دا چې مخکې مو هم يادونه وکړه، چې دغه د سفر حق بې قيده او شرطه نه وي. بلکې د عمومي امنيت د خطر په صورت کې عمومي اخلاقو او ادابو د خطر په صورت کې د نورو ازاديو ته د خطر په صورت کې عامه صحت ته د خطر په صورت کې دغه سفر حق باندې هم محدوديتونه وضع شوي دي.(٦: ۲۵)

چې اکثره وخت د امنيت شورا يا اروپايي اتحاديې يا نورو نړيوالو او ملي ادارو له خوا ځينې اشخاصو سفر منعه کېږي، د اسلامي امارت د ځينې لوړ پوړو مشرانو په اړه دغه تحريمات وضع شوي دي.

چې يو هم له هغې جملې څخه د افغانستان د لوړو زده کړو محترم وزير صاحب شيخ ندا محمد نديم دی، چې د اروپايي اتحاديې او د ملګرو ملتونو امنيت شورا له خوا يې سفر د (۲۰۱۴ م) د يوې قطعنامې له مخې منعه شوی دی، ولې دغه د سفر تحريماتو د رفعې حالت هم شتون لري، چې خپله د امنيت شورا د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق له خوا وضع شوی او دغه تحريمات هغه وخت رفعه کېږي، چې نوموړي تحريمات د بشر د حقوقو د نقض سبب کېږي.

## د موضوع مساله

دا موضوع په حقيقت کې له ځانګړي او ستر اهميت څخه برخمنه ده او هغه دا چې دولتونه يا ملګري ملتونه يا نور ارګانونه دې ته متوجه شي، چې د يو بشري حق د حمايت لپاره بايد نور بشري حقونه نقض نشي-او که احيانا داسې حالت رامنځته کېږي بايد مخنيوی يې وشي.

## څېړنې موخې

دا چې د سفر حق يو ډېر مهم حق دی او په مقابل کې يې امنيت شورا او دولتونه د همدغه مهم حق پر وړاندې تحريمات وضع کوي، لکه د اسلامي امارت په چارواکو او مشرانو باندې د امنيت شورا، اروپايي اتحاديې او ځينو نورو دولتونو له خوا وضع شوي تحريمات، چې له جملې څخه يې تعليمي او تحصيلي ادارو مشران هم دي، د دواړو ادارو اړوند کارکونکو، محصلينو او زده کونکو ځينې مهم حقوق زيانمن کېږي او حتی نقضېږي. نو د همدغې نقطې روښانه کول، چې د يو بشري حق د حمايت په صورت کې د بل بشري حق نقض کول يوه اصولي او منطقي پرېکړه نه ده.

## د څېړنې میتود

په دې علمي تحقیقي مقاله کې له کتابتوني تحلیلي میتود څخه کاراخیستل شوی دی. له کتابونو، علمي مقالو او لیکنو څخه په استفادې او د قوانینو او نړیوالو اسنادو د حقوقي موادو تحلیل او شننه شوې ده.

## تېرو لیکنو ته کتنه

د دې موضوع په اړه کومه مشخص لیکنه او څېړنه تراوسه نه ده شوې، البته د سفر دحق، د سفر د تحریماتو او بشري حقونو د نقض په اړه مختلف حقوقي او شرعي احکام شتون لري، چې په دې څېړنه کې له نوموړو احکامو څخه یادونه شوې ده، خو مشخص تر همدې عنوان لاندې په ملي او نړیوالو ژبو کې کومه مشخص څېړنه نه ده ترسره شوې. همدا راز د اسلامي امارت د مشرانو د سفر د تحریماتو په اړه، چې د بشري حقونو د نقض لامل کېږي. بالکل لیکنه او څېړنه نه ده شوې.

## د څېړنې پوښتنې

۱. د سفر حق له کوم ډول حقوقو څخه دئ؟
۲. ایا داسې حالات او موارد شته، چې په نوموړي حق باندې یې له مخې بندیز وضع شي او د کوم هدف لپاره دې بندیز وضع شئ؟
۳. د سفر حق بندیزونه دایمي دي او که د رفعې حالات لرئ؟ مشخص استثناءت یې کوم دئ؟

## د موضوع پېژندنه

د دې مقالې موضوع د سفر اړوند تحریمات او له دې تحریماتو څخه نقض کېدونکي بشري حقونه دي، چې لومړی د موضوع اړوند په احکامو شته حقوقي قواعدو باندې بحث کوو او بیا د سفر حق تحریماتو په برخه کې د بشري حقوقو د نقض موارد ارزوو. د لا ښه پوهېدو لپاره لازمه ده، چې په دې اړه ټول اړوند شرعي حقوقي او قانوني احکام په خلص ډول ذکر کړو.

## اړوند احکام

### الف: شرعي احکام

په اسلامي شریعت کې د سفر حق په اړه په قران شریف کې په کراتو کراتو د سفر حکم ذکر شوی، چې له هغې جملې څخه دوه ایاتونه دلته ذکر کوو.

۱ـ لومړی دلیل:(قُلْ أَيُّ شَيْءٍ أَكْبَرُ شَهَادَةً قُلِ اللَّهُ شَهِيدٌ بَيْنِي وَبَيْنَكُمْ وَأُوحِيَ إِلَيَّ هَـذَا الْقُرْآنُ لِأُنْذِرَكُمْ بِهِ وَمَنْ بَلَغَ أَئِنَّكُمْ لَتَشْهَدُونَ أَنَّ مَعَ اللَّهِ آلِهَةً أُخْرَى قُلْ لَا أَشْهَدُ قُلْ إِنَّمَا هُوَ إِلَهٌ وَاحِدٌ وَإِنَّنِي بَرِيءٌ مِمَّا تُشْرِكُونَ ).( سوره الانعام، ایت: ۱۹)

**ژباړه:** ای محمده صلی الله علیه وسلم! ووایه چې په ځمکه کې وګرځئ بیا وګورئ چې د دروغو ګڼونکو پایله څه شوه.(۹: ۲۰۴)

په دې ایات کریمه کې د سفر حق ذکر شو او ټاکلي هدف لپاره چې هغه هدف د تېرو ملتونو لرغونې نښې نښانې او د هغوی تاریخي افسانې وګورئ، چې هغوی بیا د دغه حقیقت او ریښتینولۍ څخه مخ واړولو او عاقبت یې خراب شو. (۱۰: ۶۹۹)

۲ـ دلیل: (هو ٱلذي جعل لكم ٱلأرض ذلولا فٱمشوا في مناكبها وكلوا من رزقه وإليه ٱلنشور )( سوره ملک، ایت: ۱۵)

**ژباړه:** خاص هغه داسې ذات دی، چې جوړه کړې یې ده تاسې لره ځمکه تابع، لپاره د فایدې، نو وګرځئ تاسې په دغې ځمکه کې او د الله تعالی له روزۍ څخه خوراک وکړئ او یوازې هغه ته بېرته ګرځېدل دي.(۱: ۱۱-۱۲)

په دې ایات کریمه کې هم د سفر ځانګړی هدف معلوم دی چې د تجارت د کسب، کار او ګټې د ترلاسه کولو لپاره د الله جل جلاله په ځمکه باندې سفرونه وکړئ ستاسې دغه سفرونه تاسې ته ګټور دي او تاسې ته د دې سفرونو په ذریعه الله تعالی

روزي در کوي او بل دا هم معلومه شوه، چې د اسبابو د حاصلولو کوشش کول د توکل خلاف نه دي.(۱۶: ۷۲۵)

احسن الکلام کې راغلي چې له دې آیت کریمه څخه د سفر هدف عبارت دی له: تجارت، د علم طلب او دعوت څخه د شرعي احکامو له جملې.(۱: ۱۲)

د قران کریم څخه علاوه حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په خپلو ارشاداتو کې د سفر په اړه بېلابېلو موضوعاتو یادونې او لارښونې یې کړي، اهداف یې ذکر کړي لکه یوازې سفر کول څخه د ملگرو سره سفر غوره دی، که دوه تنه وي باید آمر د سفر وټاکي، کله چې د سفر هدف پوره شو بیا نو د پاتې کېدو کوښښ مه کوئ د شپې د سفر نه مه راځئ، آن دا چې په روایاتو کې راځي چې د سفر لپاره د ورځو انتخاب اهتمام هم شوی دی. چې د همدې وروستۍ خبرې لپاره دلته دلیل دغه حدیث شریف ذکر شوی دی.

د سفر لپاره غوره ورځ د پنجشنبې ورځ ده، او دا مستحب ده، چې مسافر د پنجشنبې په ورځ سفر ته ووځي.

د کعب بني مالک رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی( وَکَانَ یُحِبُّ أَنْ یَخْرُجَ یَوْمَ الخَمِیس. متفقٌ علیه).

**ژباړه:** رسول الله ص خوښول چې سفر ته د پنجشنبې په ورځې ووځئ.(۱۸: ۵۴۰)

**ب. د سفر د حق په اړه د افغانستان د ۱۳۸۲هـ ش کال اساسي قانون احکام**

د سفر حق زیات اهمیت له وجې د نړۍ د ټولو هېوادونو په اساسي قوانینو کې تسجیل شوی دی، د معرفت په برخه کې مو د نمونې په توگه د ځینو هېوادونو د اساسي قوانینو د هغه مادوو ذکر وکړ، چې د سفر حق یې په رسمیت پېژندلی چې

اوس د ټولو هېوادونو په استازولۍ د افغانستان ۱۳۸۲ هـ ش کال د اساسي قانون د سفر اړوند احکام دلته ذکر کوو:

**۳۹** ماده: ((هر افغان حق لري د هېواد هر گوټ ته سفر وکړي او استوگن شي، خو د هغه سيمو پرته چې قانون منع کړي دي، هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له افغانستان څخه بهر سفر وکړي او بېرته راستون شي. دولت له هېواد څخه د افغانستان د حقوقو ساتنه کوي)). (۱۵: ۳۹ ماده)

پورته ماده درې فقرې لري: لومړۍ فقره د اتباعو په داخل کې سفر د حق په اړه صراحت لري، چې هر افغان د هېواد د هر گوټ ته د هر مشروع هدف لپاره سفر کولای شي، ولې استثناء يې هم ذکر کړي که چېرې امنيتي خطرات د عمومي مصالحو او منافعو خلاف حالات او يا امراض و غيره شتون لري، نو په دې صورت کې استثناء سفر حق منعه کوي.

په دويمې فقرې کې بهرني هېواد ته سفر کول هم منلی دی البته د قانون حکمونه يې ورسره ذکر کړي او له هغې څخه هدف دا دی، چې د پاسپورټ او ويزې درلودل هم لازمي دي.

په درېيمې فقرې کې د دې حق د تضمين او اهميت په اړه يادونه شوې ده هغه دا چې د هېوادونو قوانينو چې بهرني هېواد ته په قانوني ډول سفر قبول کړی دی په هغه ځای کې د خپلو اتباعو حقوقو ساتنه او ملاتړ کوي، البته د ډيپلوماتيکو اصولو په رعايت سره .

## ج. د سفر حق اړوند نړيوال حقوقي اسناد او احکام

نوموړی حق د اسلامي شريعت او د هېوادونو د ملي قوانينو سره سره په نړيوالو حقوقي اسنادو کې هم په رسميت پېژندلی دی، نوموړی اسناد پرته د تشريح او

تحلیل څخه دلته ذکر شوي دي. د نړۍ والو حقوقي اسنادو له جملې څخه د لاندې اسنادو یادونه کوو:

**۱. د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې ۱۳ ماده**

**الف.**هر څوک حق لري چې د هر هېواد په دننه کې ازادانه تګ راتګ وکړي او د استوګنې ځای انتخاب کړي.

**ب.** هر څوګ حق لري چې د خپل هېواد په ګډون هر هېواد پرېږدي او یا خپل هېواد ته راستون شي. (۱۴: ۷۳)

د بشر د حقوقو د ۱۹۴۸ م کال د ډسمبر ۱۰ نېټې اعلامیې په ۱۳ ماده کې دوه فقرې شتون لري، چې لومړۍ فقره یې د هېواد د خپلو اتباعو د تګ راتګ او استوګنځي حق په رسمیت پېژندلی دی، چې د نوموړې فقرې متن روښانه او کوم تحلیل ته ضرورت نه لري، خو دوهمه فقره یې د هر چا لپاره هېواد څخه بهر حق هم په رسمیت پېژندلی چې البته عبارت یې داسې دی، دولتونه نشي کولای خپل اتباع په خپل هېواد کې په اوسېدو مجبور کړي او یا دا چې د خپلو اتباعو راتګ خپل هېواد ته منع کړي.

**۲. د بشر حقوقو نړیواله اسلامي اعلامیه**

**۱۲ ماده:** هر انسان د اسلامي شریعت سره سم په خپل هېواد او یا له هېواد څخه د استوګنې لپاره د ټاټوبي د انتقال او انتخاب حق لري او په هغه صورت کې چې د ظلم تر فشار لاندې راځي کوم بل هېواد ته کډه کولای شي، پر هغه هېواد چې کډوال ورځي واجب دي چې هغوی سره ښه چلند وکړي، څو پناه ورکول ورته برابر شي، په دې شرط چې د شریعت مطابق د جرم کولو له امله کډوالی ته نه وي اړ شوی.(۱۹: ۸۰)

د بشري حقوقو نړيوالې اسلامي اعلاميې په ۱۲ ماده کې هم د دې خبرې صراحت شتون لري چې هر انسان حق لري چې په داخل د هېواد يا بهرني هېواد ته تگ او راتگ او استوگنه کولای شي. خو نومورې مادې په دې اړوند يوازې متبوع هېواد نه بلکې ټول هېوادونه د دوی د حق د حمايت او اهميت پېژندنې باندې مکلف کړي دي، او په استثناء کې د شريعت مطابق د هغه کسانو تگ راتگ او استوگنې حق په رسميت نه دی پېژندلی کوم چې د جرايمو مرتکب شوی وی له دې سره سره که د جبر، اکراه، فشار يا ظلم لاندې هر انسان قرار ولري کولی شي بل هېواد ته لاړ شي او پر هغوی يې حمايت هم لازم کړی دی. البته د يوې خبرې يادونه هم بايد وکړو چې دلته مطلق انسان ذکر شوی چې په هغه کې نارينه، ښځينه، کافر، مسلمان، او کوم بل توپير په نظر کې نه دی نيول شوی او نه ورته کوم شرط ايښودل شوی دی، په داسې حال کې چې بيا په اسلامي فقه کې د ښځينه وو سفر بيدون له محرم څخه منع دی.

### ۳. د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق

**۱۲ ماده: لومړۍ فقره:** هر څوک چې په قانوني ډول په کوم ځای کې هستوگن وي په هغه هېواد کې د تگ راتگ د ازادۍ حق او د اوسېدو د ځای د غوره کولو ازادي لري.

**دويمه فقره:** هر څوک بايد د خپل هېواد په شمول د هر هېواد پرېښودو ته ازاد وي.

**درېيمه فقره:** هيڅوک بايد خپل هېواد ته د تلو له حق څخه محروم نه شي.(۵:۳۰)

په دې ميثاق کې هم د سفر حق په رسميت پېژندل شوی دی، خو په لومړۍ فقره کې يې يو شرط لگولی دی چې يو شخص هغه دولت ته د اوسېدو او تگ راتگ حق لري چې په هغه هېواد کې په قانوني ډول استوگن وي چې مخکنيو ټولو نړيوالو او ملي اسنادو کې د دې خبرې يادونه نه وه شوې .

دوهم دا چې یوازې د اوسیدو او تګ راتګ په حق یې ټینګار نه دی کړی بلکې هېواد ته یې هم ازادي ورکړې، یعنې هیڅ دولت د دې حق نلري چې څوک په یو هېواد کې په اوسیدو باندې مجبور کړي.

په څلورمه فقره کې یې د یوې بلې موضوع ذکر کړی چې هر تبعه د دې حق لري چې خپل هېواد ته داخل شي، خو دلته یې یوه داسې کلمه ذکر کړې چې په خپل سر محروم نه شي، دلته د خپل سره مفهوم ډېر روښانه دی او هغه دا چې ایا هیڅ دولت د ملګرو ملتونو یا بل کوم نړیوال ارګان څخه د اجازې پرته د چا د منع حق نه لري یا دا چې له دولت پرته د نورو خلکو مداخله یې منعه کړې ده.

د پورته حقوقي اسنادو په ذکر کولو اکتفا شوې له نورو حقوقي اسنادو پرته د موادو له ذکر کولو څخه یوازې د حقوقي سند نوم او د هغې مادې یادونه چې دغه حق یې په رسمیت پېژندلی دی ذکر کوو.

**۴. د ښځو پر وړاندې د تبعیض د منع نړیوال کنوانسیون: ۱۰ مادې ۲۴ فقرې**

دغه حق په رسمیت پیزندلی دی.

**۵. د کوچنیانو حقوقو نړیوال کنوانسیون**

**۴.** د ازاد او منصفانه انتخاباتو د معیارونو منشور- ۳ ماده - ۳ فقره اول او دریم بند .

پورته پنځه نړیوال حقوقي اسناد دلته ذکر شول چې ټولو د سفر حق په داخل او خارج کې په رسمیت پېژندلی دی.

د پورته یاد شوو شرعي احکامو د افغانستان د ۱۳۸۲ ه ش کال اساسي قانون او شپږو نړیوالو حقوقي اسنادو یادونه مو یوازې د دې لپاره وکړه، چې د سفر حق د ټولو انسانانو لپاره یو مهم بشري حق په حیث پېژندل شوی دی.

البته د یوې خبرې یادونه باید وکړو چې سره د دومره مهمو شرعي او حقوقي احکامو سره سره بیا دغه حق مطلق نه دی ذکر شوی بلکې ددې لپاره په ملي او بین المللي سطحه محدودیتونه هم ذکر شوي او په رسمیت پېژندل شوي دي چې ځینې داسې موارد او حالات شتون لري چې په هغې کې دغه مهم بشري حق باندې محدودیت لګول کېږي چې ددغه محدودیت په اړه د بحث د غزیدو د مخنیوي په موخه یوازې د نړیوال حقوقي اسنادو څخه په لنډ ډول یادونه کوو.

## د سفر حق محدودیتونه

لکه مخکې چې مو اشاره وکړه هر انسان د سفر کولو او اوسیدلو حق لري چې هم د هېواد دننه او هم بهرني هېواد کې، خو د دې لپاره ځینې بندیزونه هم شتون لري چې په ځانګړو حالاتو پورې تړلي دي کوم، چې د دغو حالاتو د شتون په صورت کې د انسانانو په تګ راتګ او اوسېدنه باندې بیا محدودیت وضع کوي.

افغانستان کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون ۳۳ مادې په اوو (۷) حالاتو کې د بهرنیانو راتګ افغانستان ته منع کړی دی.

۱. چې د الحاد داعي وي، د اسلامي حکمونو او دیني اخلاقو درناوی نه کوي.
۲. د ذیصلاح مقاماتو په حکم منع شوی وي.
۳. هغه اشخاص چې د افغانستان دولت ته د سفر مصارف نه شي ورکولی.
۴. د افغانستان سیاسي استازولۍ د موجه دلایلو په اساس د نوموړي شخص راتګ افغانستان ته نامطلوب وي.
۵. د هغه کسانو راتګ چې د یوې ټاکلې مودې لپاره له افغانستان څخه ویستل شوي وي او د هغې موده نه وي پوره شوې.
٦. هغه اشخاص چې د نامعلومې مودې لپاره ویستل شوي وي.
۷. د هغه اشخاصو راتګ افغانستان ته کوم چې امنیت خرابوي یا د ګډوډۍ اشتباه ترې متصوره وي.(۳:۱۷۲-۱۷۳)

همدارنګه د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق ۱۲ ماده دريمه فقره داسې صراحت لري:

**۱۲ ماده – ۳ فقره:** پورته ذکر شوي حقونه بايد د کوم محدوديت تابع نه وي پرته د هغه محدوديتونو څخه چې د اړوندو هېوادونو د قوانينو له خوا وضع شوي وي او د ملي امنيت، عامه نظم او عامه روغتيا ساتنې يا د نورو کسانو د ارزښتونو، حقونو او ازاديو لپاره اړين وي او په دې ميثاق د نورو حقونو سره مطابقت ولري.(۵: ۳۰)

**پايله**

له دې څېړنې څخه لاندې پايلې ترلاسه شوي دي:

۱. تر هرڅه له مخه د اسلامي شريعت له احکامو څخه ثابته شوه، چې سفر کول د بشري يو له خورا مهمو او بنسټيزو حقونو څخه ګڼل کېږي.

۲. د اسلامي شريعت ترڅنګ، ملي وضعي قوانين او نړيوال حقوقي اسنادو هم د سفر حق په رسميت پېژندلی او دا يې د بشر يو اساسي حق ګڼلی دی.

۳. د سفر حق سره له دې، چې د بشر ـ بنسټيز حق ګڼل کېږي اما له دې سره سره نوموړی حق د عامه مصالحو په استناد کله کله محدودېږي يا خلک له سفره منع کېږي، همدې حالت ته د سفر د حق تحريمات ويل کېږي، چې هم په اسلامي شريعت او دولتونو ملي وضعي قوانينو کې او هم په نړيوالو حقوقي اسنادو کې د سفر تحريمات منل شوي دي.

۴. ځينې مهال د سفر تحريمات د بشري حقونو د احترام په عوض د سياسي مصالحو لپاره منع کېږي، چې ډېری وخت د ځينو بشري حقونو د نقض لامل کېږي.

**مناقشه**

د سفر حق او تحریمات یې د پورته پایلو په رڼا کې په لاندې ډول مناقشه کوم.

۱- هغه حالات چې د اړونده هېوادونو د قوانینو له خوا ټاکل شوي وي، دا د شخص د متبوع هېواد قانون یا د مقیم هېواد یا هغه هېواد، چې نوموړی شخص هغه هېواد ته تلل غواړي د دغه هېوادونو د قوانینو له خوا چې کوم محدودیتونه نه دي ټاکل شوي نوموړی میثاق هم هغه په رسمیت پېژندلی.

۲- د ملي امنیت د صدمې خطر موجود وي، کله چې یو شخص چېرته اوسېدل یا تګ راتګ غواړي خو اوسېدل یې د هغه هېواد ملي امنیت ته صدمه وي په دې صورت کې د نوموړي شخص په سفر باندې محدودیت وضع کیدای شي.

۳- عامه نظم ته صدمه وي، کله چې یو شخص چېرته اوسېدل یا تلل غواړي، خو د دې شخص تګ هلته عمومي نظم مختل کوي، نو په دې صورت کې هم په سفر محدودیت لګول کیدای شي.

۴- د عامه روغتیا د ساتنې لپاره کله داسې وي، چې نوموړی شخص د داسې سیمې څخه راځي چې هلته ساري امراض شتون ولري یا چېرته چې تلل غواړي هلته امراض شتون ولري او د دغه شخص تګ راتګ او اوسېدلو له امله خپل یا د بل چا روغتیا ته صدمه وي، نو په دې صورت کې محدودیت وضع کېږي.

۵- د نورو کسانو ارزښتونه، حقونه او ازادیو ته صدمه وي، کله داسې واقع کېږي، چې د یو شخص سفر د دې لامل کېږي، چې د هغه ځای د اوسېدونکو فرهنګي، دیني، مذهبي، اخلاقي او نورو ارزښتونو ته صدمه رسوي، د خلکو حقونه پرې تلف کېږي یا د نورو خلکو ازادیو ته صدمه رسوي. یا دا چې نورو بشري حقونو ته صدمه رسوي په دې صورت کې د نوموړي شخص پر تګ راتګ یا د سفر او د استوګنې پر حق باندې محدودیت وضع کېږي.

همدارنگه نور ډېر حقوقي اسناد شتون لري، چې د سفر حق په اړه محدودیتونه وضع کوي، چې دلته د موضوع د حجم د زیاتوالي له کبله یې له یادونې څخه ډډه شوې ده.

د پورته ذکر شوو محدودیتونو د مشروعیت په پایله کې د اسلامي امارت په ډېرو مشرانو باندې د نړۍ ځینو هېوادونو او ځینې مشرانو باندې د ملگرو ملتونو د امنیت شورا یا اروپایي اتحادیې او ځینې نورو مراجعو له خوا د سفر محدودیتونه وضع شوي، چې له هغې جملې څخه د لوړو زده کړو وزیرانو ( شیخ عبدالباقي حقاني او شیخ ندا محمد ندیم) باندې د امنیت شورا او د اروپایي اتحادیې له خوا د سفر محدودیتونه وضع شوي دي.

د ۲۰۲۲ م کال د جون د میاشتې په ۲۰ نېټه د ملگرو ملتونو سازمان له خوا د شیخ عبدالباقي حقاني د لوړو زده کړو وزیر او سعید احمد شهید خیل د معارف وزارت معین د نجونو د تعلیم د منع له امله د دوی د سفر معافیت تمدید نه کړ.(۱۲: بي بي سي رسمي پاڼه)

د اروپايي اتحادیې له خوا د معارف او لوړو زده کړو وزیرانو پر سفر باندې تحریم وضع شوی، اطلاعات روز په ۱۰ سرطان ۱۴۰۲ هـ ش کال راپور خپور کړ، چې د اروپایي اتحادیې له خوا د لوړو زده کړو وزیر شیخ ندا محمد او د امر باالمعروف پر وزیر محمد خالد حنفي باندې د سفر تحریم وضع کړ.(۱۳: د اطلاعاتو روز رسمي پاڼه)

د یادو توضیحاتو څخه دا معلومولی شو، چې د لوړو زده کړو پر دواړو وزیر صاحبانو باندې چې د سفر کوم تحریمات د نورو طالب مشرانو په څېر وضع شوي وو هغه بېرته تمدید شوي او ځینې نور تحریمات پرې هم وضع شوي، لکه د اروپایي اتحادیې له خوا تحریمات.

اوس راځو دې نتيجې ته چې د څېړنې اصلي ستونزه ( پرابلم ) هم همدا ده چې ايا د لوړو زده کړو وزير يا د معارف په وزير د ملګرو ملتونو امنيت شورا يا د اروپايي اتحاديې له خوا وضع شوي تحريمات نړۍ والو حقوقي اسنادو سره مطابقت لري او که نه؟

ايا د تحصيلي او تعليمي ادارو په مشرانو د تحريماتو وضع د بشري حقوقو نقض دى او که نه؟

که چېرته تحريمات د نړۍ والو اسنادو د حقونو خلاف وي او يا دا چې په اساس يې د بشر حقوقو نقض رامنځ ته شوى وي نو. د ملګرو ملتونو دغه اقدام به غير قانوني او يا به دغه تحريم له منځه ويوړل شي.

د سفر د تحريماتو د رفع اړوند احکام:

د امنيت شورا د ۲۰۱۴ م کال د ۶۱/۲۱ قطعنامې د ۹ فقرې له مخې هر هغه حالت په ګوته شوى، چې د سفر حق تحريم له منځه وړي په لاندې ډول دي:

۱. طبي اړتيا.

۲. انساني او ټولنيزي اړتياوې.

۳. ديني او مذهبي اړتياوې.

د امنيت شورا د ۲۰۱۴ م کال د ۲۰۶۱ قطعه نامې له مخې اوس مورږ داسې استدلال کوو چې:

د نړۍ والو بشري حقوقو د تطبيق معيارونو کې داسې صراحت شتون لري:

۱. هر انسان بايد هغه محدوديتونه چې قوانينو مشخص کړي وي مراعت کړي او احترام دې وشي ځکه چې د نورو حقونو د رعايت او قوت سبب ګرځي. په دې ځاى کې د حق د احترام او رعايت لپاره دا شرط دى چې د نورو د حق د احترام

سبب شي. عادلانه او عامه نظم لپاره وي او ټولنيزو اړتياوو ته صدمه ونه رسوي په نتيجه کې ويلی شو چې د معارف او د لوړو زده کړو وزيرانو بانـدې تحريمونـه د يوې ټولنې ټولنيزو اړتياوو ته صـدمه ده، ځکـه کـه نومـوړي وزيـران د نـړۍ سره اړيکه ونه نيسي دغه به د سلگونو زره محصلانو او ميلونونومتعليمينو پرمختگ او انکشاف ته به صدمه ورسېږي او يو لوی بشري حق به تلف شي، نو په اخـر کـې دې پايلې ته رسېږو چې له يوې خوا دا بنديز بشري حق ته صدمه ده، له بلې خـوا د عامه اړتيا د پوره کېدو په وړاندې خنډ دی.

د شهروندۍ او بشري حقوقو اعلاميه په ۱۵ اصل کې داسې صراحت لري:
هغه ټولنه چې په هغې کې د حقوقو تضمين نه وي او د قواوو تفکيک معلـوم شـوی نه وي هيڅ بنيادي سازمان نه دی.(۴: ۲۴)

د دې اصل صراحت داسې ذکر کوو. هغه قـانوني اداره چـې پـه هغـه کـې د حقوقـو تضمين ونه شي هغه کـې صـلاحيتونه معلـوم نـه شي دا يـو بنيـادي اداره نـه ده، نـو د همدې حقوقي سند په اعتبار سره ويلی شو، چې که چېرې د امنيـت شـورا پـه خپلـو هغو محدوديتونو باندې، چې د بشر حقوقو د نقض حمايت نوم يې ورکـړی، چـې د ښځو تعليم بند شوی او جنسيتي تبعيض رامنځتـه شـوی، خـو پـه مقابـل کـې ليـدل کېږي، چې بالمقابل دوی خپله د همدې جنسيتي تبعيض ښکار شـوي، چـې د دغـه تعليمي او تحصيلي ادارو وزيران يوازې د ښځو تعليم لپاره نه دي ټاکل شوي. بلکې د نارينه وو د تعليم او تحصيل لپاره هم ټاکل شـوي، چـې بنـديز د دغـه نارينـه وو د تعليم د پرمختگ، انکشاف ان دا چې د يو معتدل تعليم د زمينې برابرولـو، د نظريـاتو او افکارو د تبادلې، د سکالرشيپونو او فلوشيپونو مخه يـې نيـولې ده، چـې دا خپلـه د نارينه وو په مقابل کې جنستي تبعيض دی. له بلې خوا د امنيت شورا په دې هـم ښـه پوهېږي، چې د ښځينه وو د تعليم بندېدل د دغه وزيرانو صلاحيت هم نه دی.

له دې امله موږ د ملګرو ملتونو څخه دا غوښتنه کوو، چې د تحصيلي او تعليمي ادارو پر وزيرانو باندې د سفر بنديز له يوې خوا د انساني او ټولنيزو اړتياوو خلاف عمل دی او نړيوالو حقوقي اسنادو دا ډول تحريم منع ګڼلی، نو تاسې بايد د غير قانوني بنديز مخه ونيسئ. له بلې خوا دغه بنديز د افغانستان د نارينه وو محصلينو او شاګردانو د هوساينې، پرمختګ او نړۍ سره د نظرياتو، افکارو او تکنالوژۍ او د لا لوړو زده کړو د مخنيوي لامل شوی چې دا خپله د بشري حقوقو نقض دی، چې د يو بشري حق د رعايت لپاره د بل بشري حق نقض کول يو قانوني عمل نه دی بايد د همدغه بشري حق د نقض د مخنيوي په خاطر دا تحريم رفعه شي.

**پايله اخيستنه**

١. ټول انسانان د سفر د ازادۍ حق لري کوم چې د اسلامي شريعت، د دولتونو اساسي قوانينو او نړيوالو حقوقي اسنادو په رسميت پېژندلي دي.

٢. د عامه نظم، امنيت، عمومي اخلاقو، ادابو او نورو د ازاديو او د حقوقو د تلف او صدمې په صورت کې د دغه حق تحريم هم په ملي او نړۍ والو حقوقي اسنادو کې قبول شوی دی.

٣. دا چې د لوړو زده کړو او معارف وزيرانو په مقابل کې د سفر تحريم د ملګرو ملتونو له خوا ، د امنيت شورا د ٢٠١۴ م کال د ٢٠٦١ قطعنامې او د بلې خوا د نارينه وو په مقابل کې د جنسيتي تبعيض له وجهې د بشري حق د نقض سبب ګرځېدلی دی او قانوني ارزښت يې له لاسه ورکړی دی نو بايد رفعه شي.

## وړاندیز

د ملګرو ملتونو له امنیت شورا څخه غوښتنه کوو د معارف او لوړو زده کړو وزارت مشرانو څخه د سفر بندیز لرې کړي ترڅو تعلیمي او تحصیلي اداري د خپلو ټولنیزو، تحصیلي او تعلیمي اړتیاوو د پوره کېدو او نړۍ سره په علمي ډکر کې د سیال کېدو لپاره زمینه برابره کړي نه دا چې دواړه اداري د خپلو سیاسي موخو ښکار کړي.

## اخځلیکونه


القران الکریم

١. ابي ذکریا عبدالسلام روستمي، احسن الکلام، پیښور ناشر جامعه العربیه الاشاعه التوحید والسنه، نهم جلد

٢. ابي ذکریا عبدالسلام روستمي، احسن الکلام، پیښور ناشر جامعه العربیه الاشاعه التوحید والسنه، نهم جلد

٣. احمد ګل واثق.(١٣٩٩ هـ ش). نړیوال خصوصي حقوق، جلال اباد: یار خپرندویه ټولنه.

۴. اسناد بین المللی حقوق بشر. نشرات. کمیسیون مستقل حقوق بشر-افغانستان، تعلیم او تربیه بخش.

۵. بشري حقوقو نړیوال تړونونه، اول ټوک، چاپ د یوناما د بشري حقوقو څانګه .

٦. بشري حقوقو نړیوال سندونه، د یوناما د بشري حقوقو څانګه، اول ټوک.

٧. په دې اړوند د اضافي معلوماتو لپاره دې وکتل شي، د تفهیم القران دریم ټوک النمل سورت ٨١-٨٣-٨۴ نمبر ایتونه څلوم ټوک.

٨. د اضافي معلوماتو لپاره د عبدالصبور مبارز، اساسي قانون تحلیل او شننه، ١٣٩۵ هـ ش کال : جلال اباد ، ناشر اصلاح افکار خپرندویه ټولنه .

۹. سرفراز جانباز، ټکی په ټکی او روانه ترجمه( القران کریم)، تبعه مطبعه، طبعـاعتی و صنعتی احد، سیدابوالاعلی مودودي، تفهیم القران لموړی ټوک.

۱۰. سید اکرم هاشمي او خوشحال جواد. (۱۳۹۵ هـ ش). بشري حقـوق، جـلال ابـاد خپروندویه ټولنه.

۱۱. صفحه رسمي BBC جون ۲۱، ۲۰۲۲ م

۱۲. صفحه رسمي، اطلاع روز ـ ۲۰ د سرطان، ۱۴۰۲

۱۳. صفی الله ناصري، نړیوال اسـناد، ۱۳۹۷هــ ش، یـا ۲۰۱۸ م کـال، نـاشر: اکسـوس خپرندویه ټولنه، وایگل چاپ خانه.

۱۴. عدلیې وزارت رسمي جریده، ۱۳۸۲ هـ ش کال، اساسي قانون پرلپسي گڼه،،۸۱۸ ماده .

۱۵. عماد الدین ابن کثیر رحمه، تفسیر این کثیر، تاج کتب خانه، پیښور قصه خوانی شپږم جلد.

۱۶. نجیب الله عزیزی. ( ۱۳۸٦ هـ ش). مرجع مقایسوي حقوق اساسي اتباع، مطبعه سریع، قانون غوښتونکو اداره.

۱۷. نواب محمد قطب الدین خان، دهلوی مظاهرالحق، شرح مشکات شریف، وحید کتب خانه، قصه خواني پشاور شپږم جلد.

19. Charter of the United Nations> ((2018))>Cairo Declaration Human Rights in islam.AKSOS.

20. حظر السفر:www.15-16654a-Tvaovrl

**پوهاند دوکتور مصطفی نیازی**
ننګرهار پوهنتون، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، خصوصي حقوقو ديپارتمنت
لارښود استاد: پوهاند شاه ولي خان

# اقليم بدلون د اسلامي اصولو له انده

**لنډيز**

د اقليم بدلون د انسان د ځای اصلاح او د اوسېدو لپاره يې عيارول دي يا دا عبارت له هغو فزيکي، کيمياوي او بيولوژيکي حالاتو څخه دي، چې هلته ژوندي موجودات اوسېږي. نو اسلامي نظام له ټولو د مخه د اقليم ساتنې ته توجه کړې او د هغه له ککړتيا څخه يې په کلکه منع کړې، دغه موضوع اوسمهال خورا اړينه او د دې وړ ده چې وڅېړل شي، نو زما د انتخاب لامل هم دا وو چې اسلام د نورو اديانو پر پرتله دغه کړنې ته زياته توجه کړې ده.

د دې موضوع د څېړنې لپاره د کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخيستل شوې ده او د څېړلو موخه يې دا ده چې د اسلام له نظره د اقليم په ارزښت او د بدلون په څرنګوالي باندې پوه شو.

د دې څېړنې په پايله کې ويلای شو چې د اسلام مبارک د نن څلوارلس سوه کاله وړاندې د اقليم په ساتنه باندې تاکيد کړی او څرګنده کړې يې ده کوم اشخاص چې اقليم ته زيان اړوي بايد مجازات شي.

**کليدي کلمې:** اقليم، اسلام، اصول، ککړتيا.

## سریزه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على أشرف المرسلين، سيدنا محمد وعلى آله وأصحابه أجمعين، وبعد، لقد بات موضوع المحافظة على البيئة حديث المثقفين والمفكرين والعلماء في العالم كله حيث أصبحت من أهم القضايا التي يوليها العالم اهتماما كبيرا في هذا العصر، بل تحولت إلى هم يؤرق حياة المهتمين بشؤون المجتمعات البشرية.

دا خورا واضحه خبره ده دولت اوسمهال د بین المللي، ملي او ایالتي مؤسساتو په جوړښت کې زیاته لیوالتیا ښیي، مگر له دې کوښښ سربېره پر دې توانیدلی نه دی، چې د اقلیم بېهوده او مطلق استعمال ودروي، دارنگه د دوامدارو او تکراري تېریو مخه یې نده نیولې، همدغه کړنه وه، چې علماء او څېړونکي دې ته اړ کړل، چې له بلې لارې څخه د اقلیم بدلون د قضایاو علاج وکړي هغه چې د انسان په ضمیر او عقیدې پورې تړاو لري، چې دین بیا په ټوله کې د اسلام مبارک دین د همدې معالجې په سر کې راځي، ځکه چې د دغه دین اصول شامل او هیڅ وړوکې او غټه تشه یې له علاج پرته نده پریښې، نو دین د ژوند داسې اساسي قانون لري، چې د بشریت ټولو کړنو ته شامل دی دا د دې آیت مصداق دی، چې الله تعالی جل جلاله فرمایي: " ما فطرنا في الكتاب من شيء".( سورة الأنعام، الآية: ۳۸)

**ژباړه:** موږ د هغو د تقدیر په لیکنه کښې څه نیمگړتیا نه ده پریښې.

دارنگه فرمایي: " وإنه في أم الكتاب لدينا لعلي حكيم".( سورة الزخرف، الآية: ۴)

**ژباړه:** او هغه زموږ په نزد په ام الکتاب (لوح محفوظ) کې لوړ او استوار دی.

په همدې اساس انسان زیاتو تحقیقاتو او څېړنو ته اړتیا لري، ترڅو د معاصرو قضایاو او اسلامي شریعت ترمنځ موازنه قایمه کړي، دغه تحقیقات د بیلابیلو تخصصاتو د

جمع کولو غوښتنه کوي، دا سربېره پردې چې د اسلامي تشريع د مصادرو معلومات باید تر یو څه حده ولري، ترڅو د علمي او شرعي برخو ترمنځ رابطه قایمه کړي.

دا ډول څېړنه د معاصرو قضایاو په معالجه او حل کې ستر رول لوبوي، ځکه قرآن او نبوي سنتو د دغو قضایاو حل په خورا غوره توګه سره کړی دی، دارنګه دغسې څېړنې نا مسلمان اشخاص په دې پوهه کوي، چې اسلامي شریعت ډېر نرم او د مشکلاتو په حل کې برابر نظام دی، د ټولو هغو ستونزو حل پکې پروت دی چې اوسمهال بشریت ورسره مخ دی.

## د موضوع مساله

دولتونو او بین الدولتي سازمانونو د اقلیم د بدلون بحث اوس داسې مهال مطرح کړ چې عملا یې ترې زیان محسوس کړ، ولې د اسلام مبارک دین ۱۴۰۰ کاله وړاندې انسانان مکلف ګرځولي وول چې د بشریت د ژوند د بقاء او پایښت لپاره باید د اقلیم ساتنه وکړي ولې متاسفانه چې د اسلام دې مهم امر ته نړۍ له پیله پاملرنه، ونه کړه او له دې امله اوسنۍ نړۍ له داسې ستونزو (د نړۍ د تودخې درجې لوړېدل، د اوبو کمیدل او د هوا ککړتیا...) سره مخ ده چې هوارول به یې ورته نهایت سخته چاره وي.

دا چې د اسلام مبارک دین کې د اقلیم د بدلون په باره کې کوم احکام راغلي او د اقلیم په ساتنه کې به څه مرسته وکړي د دې څېړنې پر بنسټ روښانه شوي دي.

## د موضوع اهمیت

په دې کې شک نشته، چې د اقلیم بدلون خورا مهمه موضوع ده، ځکه چې دې پورې د انسان، حیوان او نبات ژوند تړلی دی، نو د اقلیم بدلون په داسې شکل، چې هغه ستونزو سره مخ وي. لکه ککړتیا دا خپله د انسان، حیوان او نبات ژوند په خطر

کې اچوي او هم د بېلابېلو ناروغیو لامل ګرځي، تردې چې اوسمهال د همدې اقلیم د ناوړه بدلون له کبله داسې ناروغۍ منځته راغلي، چې لا علاجه دي، د دې سربېره حیوانات یې پداسې امراضو اخته کړي، چې د هغو علاج یې نا ممکن کړی. لکه د چرګانو انفلونزا.... دارنګه اوسمهال د ګڼ شمېر ګازونو او انفجاري موادو د انفجار له کبله، هوا، خاوره او اوبه ټول خراب شوي او ساینس پوهان یې حیران کړي، چې د دې لپاره کومې لارې په کار واچول شي، څو مخه یې ونیول شي.

**د موضوع اهداف**

دغه موضوع چې اوسمهال خورا اړینه ده، نو یو شمېر اهداف به یې په لاندې ډول بیان کړو:

۱- د اقلیمي بدلون د موضوع څېړنه ځکه اړینه ده چې د انسان، حیوان او نبات ژوند ورسره مخ دی.

۲- د اقلیم بدلون هغه چاره ده چې ناوړه پایلې او ناروغۍ یې رامنځته کړي، چې د دې څېړنه او ستونزو ته د حل لار پیدا کول ډېر مهم او ضرور دي، ترڅو انسانان، حیوانات او نباتات ټول ورڅخه وژغورل شي.

۳- د اقلیم بدلون هغه کړنه ده، چې الله تعالی جل جلاله په خپل کتاب کې ورته اشاره کړې ده او هم رسول الله صلی الله علیه وسلم هم په خپلو آحادیثو مبارکو کې ورته اشاره کړې، نو د دې وضاحت د اسلامي اساساتو له انده تحقیق او څېړنې ته اړتیا لري، ترڅو څرګنده شي، چې اسلامي نظام یو جامع او کامل نظام دی.

**کړنلاره**

۱. د معلوماتو له جمع کولو او غونډولو وروسته مې موضوع په مبحثونو او مطلبونو تقسیم کړې.

۲. که څه هم دا موضوع معاصره ده، خو د دې سره ه سره بیا هم مې کوښښ کړی، چې د اصلي او معتبرو سرچینو څخه یې رانقل کړم.

۳. هر پراګراف او لیکنه چې د څېړونکي نه وي، نو د هغه لپاره مې مآخذ حتما څرګند کړی دی .

**لومړی مبحث: د اقلیم پېژندنه**

د اقلیم اړوند به لومړی د دې کلمې لغوي معنی ته ا شاره وکړو بیا به یې اصطلاحي معنی څرګنده کړو:

**لومړی مطلب: د اقلیم لغوي مفهوم**

د اقلیم د کلمې اصل یا اساس دوو معناګانو ته راګرځي:

**لومړی:** د ځای اصلاح او د ژوند لپاره یې عیارول، **دویم:** پاتې کېدل یا میشتېدل.

البته د کور په معنی هم راغلی، ځکه اقلیم چې په عربي کې ورته بیئه وایي او هغه د میشتېدو په معنی دی.(۱: ۱-۸)

جوهري ذکر کړي، چې بیئه د یو قوم مکان یا د اوسېدو ځای ته وایي، هر هغه ځای ته ویل کېږي، چې هلته میشتېدل غواړي.(۲: اسامه عزیز)

البته په فرانسوي فرهنګ کې ورته (environnement) وایي، چې دا د اقلیم په معنی دی، یعنې د ځمکې د یو ځای ټول عناصر او طبیعي حالات، اوبه، هواء کائنات. (۲: اسامه عزیز)

په معجم لاروس کې راغلي: اقلیم (environnement) مجموعه د هغو طبیعي او مصنوعي عناصرو ده، چې د فرد ژوند تشکیلوي.(۱۸: ۳۷۷)

په انګلیسي فرهنګ کې بیا دوه اصطلاحات لري، چې یو له بله ګډ دي: (environment) شرایط او خارجي هغه عوامل چې د کائناتو په ژوند کې تأثیر کوي، چې انسان هم په کې شامل دی، او بله اصطلاح (Ecology) د ځمکې علم.(۲: اسامه عزیز)

داسې ویل کیږي، چې د غرب علماو اقلیم د نولسمې پېړۍ په اواخرو کې استعمال کړ، چې له دې جملې څخه E.G saint hilaire چې په کال ۱۹۵۴م کې وفات شوی، دارنګه الماني سکالر E.HAECKEL چې په کال ۱۹٦٦کې وفات شوی هم وو، دوی د لاتیني ژبې څخه ترجمه کړی، ځکه اصل په لاتیني ژبه کې ورته Ecologia وایي او دغه کلمه له دو جزو څخه جوړه ده، oikos چې د کور په معنی ده او دویمه یې Logos ده چې دا د علم په معنی ده، په دې معنی چې د کور د علم څېړنه یا د منځني ژوند څېړنه او یا هم د اقلیم څېړنه.( ۱۰: ٦)

د مخکنیو معناګانو څخه داسې ښکاري، چې اقلیم په یو ځای کې د ښکته کېدو او میشتېدو په معنی دی، دارنګه هغه ځای ته هم ویل کېږي، چې هلته انسان اوسېږي او استقرار لري، البته دا د عربي ژبې د معنی پر بنسټ خو په خارجي ژبو کې بیا عبارت له مجموعي د هغو مؤثرو عناصرو او حالاتو څخه دی، چې په ژوندیو کائناتو چې انسان هم په کې شامل دی تأثیر کوي.

**دویم مطلب: د اقلیم علمي مفهوم یا تعریف**

دا یو واقعیت دی، چې د اقلیم اصطلاح له ډېر پخوا څخه پېژندل شوې ده او اسلامي پوهان په دې کې له نورو څخه مخکې دي، ځکه علامه ابن عبد ربه د اقلیم اصطلاح لا په درېیمه هجري پېړۍ کې کارولې او هغه یې معنی کړې ده، په دې کې یې جغرافیایي او طبیعي وسط ته اشاره کړې ده (نفوس او بیولوژي) او د ده له انده اقلیم هغه شامله اصطلاح ده چې ټولو هغو چارو ته شامله ده کوم چې انسان پورې تړاو لري او د هغه په ژوند کې اغېزه کوي که هغه بیا فزیک وي، بیولوژي وي، سیاست وي، اخلاق وي او که فکر وي. (۱۵: ۹)

یو شمېر نور علماء بیا اقلیم داسې تعریفوي او وایي: د هغې ساحې فزیکي، کیمیاوي او بیولوژیکي حالات دي، چې هلته ژوندی کائن اوسېږي.(۸: ۲۱-۲۲)

دارنگه یو شمېر علماو بیا داسې تعریف کړی: «هر هغه څه چې په انسان پورې تړاو لري او د هغه په صحت اثر کوي، نو په دې سره ټولو ښارګوټو، کورونو، کوڅو، نهرونو، کوهیانو، سمندري غاړو ته شاملېږي، دارنگه ټولو هغو موادو ته هم شامل دی، چې انسان ترینه استفاده کوي. لکه خوراک، څښاک، لباس، دا سربېره پر فضايي او کیمیایي عواملو.(۲: ۱۶)

وعرفها استاذ العلوم البيالوجية الدكتور ريكاردوس بأنها عبارة عن جميع العوامل والظروف الخارجية التي تؤثر على حياة الكائنات في المجتمع من المجتمعات.(۷:۲۱)

## دویم مبحث: اقلیم او اسلامي اصول

قرآن کریم تر قیامته پورې د بشریت د ژوند کامل اساسي قانون دی، دا هغه ټینګه قاعده او قانون دی، که چیرې موږ ورته ژمن پاتې شو، نو زموږ سلوکیات، اخلاقیات او روحیات به داسې لوړ لاړ شي چې په کې به د ټول بشریت خیر وي.

دا هغه منهج یا تګلاره ده، چې د بشریت د بیا ژوندي کولو قدرت په داسې صحیح ډول لري، چې بل هیڅ نظام هغه نه لري، ځکه الله تعالی جل جلاله د حق خلافت او په ځمکه کې اصلاح غواړې هغه ذات فرمایي: ما فرطنا في الكتاب من شيء ( سورة الأنعام الآية ۳۸.)

**ژباړه:** موږ د هغو د تقدیر په لیکنه کښې څه نیمګړتیا نه ده پرېښې.

نبوي آحادیث د دې لپاره راغلي، چې د اسلامي تشریع مصادر تکمیل کړي، ځکه دغه مصادر موږ د خیر او صلاح لوري ته بولي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: «ما تاسو ته دوه شیان پرېښي دي که تاسې پر هغو ټینګ و درېږئ هیڅ وخت به ګمراه نه شئ، یو د الله کتاب او بل زما سنت دي». (۳: ۳۶۱/۴)

هیڅ شک نشته چې اسلامي رسالت د نورو ټولو اسماني رسالتونو خاتمه ده، له همدې کبله یې اقلیم ته زیاته پاملرنه کړې ده، ځکه چې دا د راتلونکو نسلونو لپاره میراث دی، الله پاک په کې د انسان لپاره د ژوند کولو ټول وسایل روښانه کړي، ځرنګه یې هغه قواعد او مبادئ ټینګې او محکمې کړي، چې د انسان اړیکه د اقلیم سره ټینګوي او د هغه لپاره یې قانون هم وضع کړی دی، تر څو یې ترمنځ هغه رابطه قایمه شي کومه، چې له یوې خوا د اقلیم ساتنه په کې وشي او له بلې خوا هغه رول ادا کړي، چې د خالق سبحانه وتعالی لخوا د ښه ژوندانه لپاره ورته سپارل شوی دی.

له پورتنیو معلوماتو څخه درې پوښتنې ذهن ته راځي:

د اقلیم په اړوند داسلام تصور څنګه دئ؟ هغه وسائل کوم دي چې د حمایت په خاطر په هغو اتکاء کوي؟ د اسلام او نړیوالو میثاقونو ترمنځ د اتحاد او اختلاف ټکي کوم دئ؟

**د اقلیم په اړوند د اسلام تصور**

اسلامي تصور د اقلیم اړوند تر هغه پورې ممکن نه دی، ترڅو چې د همدې نظام له مخې اقلیم نه وي پېژندل شوی:

**د اسلام له نظره د اقلیم مفهوم**

داقلیم اصطلاح یوه اسلامي اصطلاح ده، ځکه اقلیم ته په عربي ژبه کې «البیئه» وایي او دا په قرآن کریم کې په څو سورتونو کې راغلی الله تعالی جل جلاله فرمایي: "

وأوحینا إلی موسی وأخیه أن تبوآ لقومکما بمصر بیوتا...(سورة یونس الآیة ۸۷) .

ژباړه: او موږ موسی او د هغه ورور ته وحې وکړه، چې ' په مصر کښې د خپل قوم له پاره څو کورونه تیار کړئ. دا راز فرمایي: وَاذْكُرُوا إِذْ جَعَلَكُمْ خُلَفَاءَ مِنْ بَعْدِ عَادٍ وَبَوَّأَكُمْ فِي الْأَرْضِ تَتَّخِذُونَ مِنْ سُهُولِهَا قُصُورًا (سورة الأعراف الآیة ۷۴)

**ژباړه:** د هغوی پر ځای یې کښېنولئ او تاسې ته یې په ځمکه کښې دا مقام در په برخه کړ، چې نن تاسې د هغې په هوارو میدانونو کښې لوړې ماڼۍ جوړوئ، نو د اقلیم «البیئه» کلمه نه یوازې دا چې په قرآن کې یې ذکر راغلی. بلکې په نبوي سنتو کې یې هم ذکر راغلی دی، خو په ټوله کې دومره ویلای شو، چې له اقلیم څخه ځمکه او هغه غیر ژوندي موجودات مقصد دي چې د ځمکې سطحه تشکیلوي. که هغه غرونه دي، کندي دي، اوارې سیمې دي، غتې او ژورې دي، معدنیات دي، خاوره ده ...... ژوندي موجودات عبارت دي له انسان او حیوان څخه که دا په وچه کې وي او که په اوبو کې، په دې مفهوم سره اقلیم د قرآن کریم په بېلابېلو سورتونو په ۱۹۹ ځایونو کې راغلی.

د اقلیم مفهوم د اسلام له انده دا ځانګړتیا لري چې شامل او کامل دی، ځکه له دې څخه مقصد ځمکه، اسمان څه چې د دواړو په منځ کې دي، لکه انسان او څه چې بیا پر هغه را چاپیر دي، لکه عاطفه، غریزه، دافع چې په لاندې تعریفونو کې به واضحه شي:

ډاکټر قرضاوي په خپل کتاب «رعایه البیئه في شریعه الاسلام» کې وایي: «اقلیم هغه سیمه ده، چې هلته انسان اوسېږي او کله، چې سفر وکړي، نو بېرته ورته راګرځي او هم یې په پای کې وروستۍ مرجع ده». (۱۱: ۱۲)

دغه اقلیم ژوندي او جامد دواړو ته شامل دی، جامد هغه طبیعت ته شامل دی، چې الله تعالی جل جلاله پیدا کړی او هم هغه صنعت ته شامل دی چې انسان جوړ کړی، نو ژوندی یې انسان، حیوان او نبات دی.

ډاکټر قطب ریسوني بیا اقلیم د اسلام له نظره داسې تعریفوي: «هغه طبیعي محیط دی، چې هلته د الله مخلوقات اوسېږي که هغه ژوندي وي یا مړه، او څه چې دغه

مخلوقات تنظیموي لکه اړیکې، الهي نوامیس او داسې نور دې ټولو ته شامل دی». (۹: ۲۸)

**دویم مبحث: د اسلامي مفکورې له انده د اقلیم او انسان ترمنځ اړیکه**

د اسلام له انده د انسان او اقلیم اړیکه په دوه قاعدو ولاړه ده.(۹: ۳۰)

**لومړی تسخیر:** په دې معنی چې الله تعالی جل جلاله د اقلیم عناصر د انسان د خدمت لپاره مسخر کړي دي، ترڅو هغه رسالت چې د الله جل جلاله له لوري وسپارل شوي په درسته توګه سرته ورسوي الله تعالی فرمايي: ألم تروا أن الله سخر لكم ما في السماوات وما في الأرض وأسبغ عليكم نعمه ظاهرة وباطنة ومن الناس من يجادل في الله بغير علم ولا هدى ولا كتاب منير (سورة لقمان الآية: ۲۰)

**ژباړه:** ایا تاسې نه وینئ چې الله جل جلاله د اسمانونو او ځمکې ټول شیان ستاسې له پاره مسخر کړي دي او خپل ښکاره او پټ نعمتونه یې پرتاسې تمام کړي دي؟ خوحال دا دی چې له انسانانوڅخه ځینې خلك دي، چې د الله په باب شخړې کوي بې له دې چې له هغوی سره څه علم وي، یا هدایت یا کوم روښنایي ښودونکی کتاب.

**دویم اعتدال:** دا د اقلیم د مواردو د استثمار او منافعو لپاره شرط دی، له هغه طبیعي رول څخه سرچینه اخلي چې الله تعالی جل جلاله په دې کون کې سردار ګرځولی، نو اقلیم امانت دی ساتل یې فرض دي، هغه مشترک ملکیت دی، ساتنه یې ځکه ضروري ده چې موجودات پکې صحیح ژوند وکړي او توازن یې برابر راشي، کله چې اعتدال یا انصاف په اصراف او احسان په تجاوز بدل شي، نو د فطرت سره به په جنګ وي، د الهیت د هغو سنتو سره به په دښمني کې وي، چې هغه ذات د چاپیریال د توازن لپاره پیدا کړي دي، بیا به تخریب او مصیبتونه به هررو مرو ورسره مل وي.(۹: ۳۰)

انسـان د اقلـیم پـه سـاتنه کـې سـتر رول لـري او د ده دغـه رول پـه دريـو دنـدو کـې ځرگندېږي چې هغه د انساني ژوند اهداف دي:

**الف:** د الله تعالی جل جلاله عبادت په اقليم او دهغه په عناصرو که هغه ژونـدي وي يا غير ژوندي فکر او سوچ کول په دې اعتبار چې دا د الله پاک له نښانو څخه دي او موږ د ايمان او وحدانيت لوري ته رابولي چې دا په لاندي(۹:۵۶) آيت کې واضـحه کيږي:

إن في خلق السماوات والأرض واختلاف الليل والنهار لآيـات لأولي الألبـاب (سـوره آل عمران ايت ۱۹۰)

**ژباړه:** د اسمانونواو ځمکې په پيدايښت اود شپې او ورځې په تـګ راتـګ کښـې د هغو پوهانو له پاره ډېرې نښانې دي، خپله انسان د الله عبادت ته رسوي هغـه عبـادت چې ټولو هغو کړنو ته شامل دی، چې الله هغه خوښوي او ورڅخه راضي کېـږي کـه هغه قول وي يا فعل، نو د ژوند ټولو برخو ته شامل دی(۹: ۲۳)

**ب:** په ځمکه کې د الله خلافت، انسان په ځمکه کې د الله پاک خليفه گڼل کيږي، ځکه هغه ذات فرمايي: ...إني جاعل في الأرض خليفة ... ( سورة البقرة الآية ۳۰).

**ژباړه:** زه په ځمکه کښې د يو خليفه پيدا کوونکی يم دغه خلافت هغه مهال امکان لري چې عدالت او حق قايم شي، خير او اصلاح رامنځته شي، نو په دې بنسټ په ځمکه کې خليفه گرځول شوی د اقليم د ساتنې او حمايت مسؤل دی(۱۴: ۸۸۷۸)

**ج:** د ځمکې ابادي، ديته الله پاک داسې اشاره کـړې ده: ... هـو أنشـأکم مـن الأرض واستعمرکم فيها ... (سورة هود، الآية:۶۱)

**ژباړه:** هماغه ذات دی، چې تاسې يې له ځمکې نه پيدا کړي ياست او دلته يې تاسې ميشته کړي يئ دځمکې ابادي په کښت، ونو، نيالگيو، اصـلاح او ژونـدي کولـو او د

فساد مخنیوي سره صورت مومي، دغه اهداف په خپل مینځ کې یو د بل تکمیلونکي او یو له بله سره متلازم دي، د ځمکې ابادي په خلافت کې داخله ده، او دا دواړه بیا په عبادت کې داخل دي، لکه څرنگه چې عبادت په خلافت کې داخل دی، نو خلافت له عبادت پرته نشي راتلای.

اوس که چیرې انسان دغه رول ترسره کړي او دغه مقاصد تحقق ومومي هم به خپله انسان او هم به یې اقلیم باسعادته شي، الله تعالی فرمایي: ولو أن أهل القرى آمنوا واتقوا لفتحنا عليهم بركات من السماء والأرض ولكن كذبوا فأخذناهم بما كانوا يكسبون (سورة الأعراف الآية ٩٦).

**ژباړه:** که د سیمو خلکو ایمان راوړی وای او د تقوی کړنلاره یې غوره کړې وای، نو موږ به پر هغو د آسمان او ځمکې د برکتونو دروازې پرانستې وای، خو هغو د دروغو نسبت وکړ، نو موږ ځکه د هغې ناوړه گټې په حساب کښې هغوی ونیول، چې هغو راغونډوله.

## څلورم مبحث: د اقلیم د ساتنې او علاج اړوند اسلامي تصور

اسلامي نظام له نورو اقتصادي نظریاتو څخه وړاندې د اقلیم ساتنې او هغو ته دعوت پیل کړی وو، دغه دعوت چې له ایمان سره تړلی دی او هم په عین وخت کې اخلاقي رول لوبوي. اقتصادي نظام یې ارزښتناکو او گټورو لارو ته هڅولی دی. (٩: ٩٦)

له همدې کبله اسلام د اقلیم ساتنه د ایمان یوه شعبه «برخه» گڼلې ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې وضاحت په دې حدیث کې کړی، چې فرمایي: «ایمان له اویا او نهه اویاو شعبو څخه جوړ دی غوره یې د لا اله الا الله ویل دي او ادنی یې له لارې څخه د اغزي لرې کول دي او حیاء د ایمان برخه ده». (٦: ١٦٣/١)

اسلام عبادت یوازې د دیني شعائرو پورې محدود نه بولي، بلکې له دې څخه تجاوز کوي، هغه دا چې اسلامي ارشاداتو ته به ریښتنی پاتي کېږي د عبادت د مواردو به

ساتنه کوي، په حیوان ترحم عبادت شمېرل کېږي، ښه رویه عبادت شمېرل کېږي. (۹: ۴۱)

د همدې تصور په بنیاد اقلیم سره نیکي که هغه د اقلیم هر عنصر ته شامل وي یو داسې الهي امر دی، چې د وجوبیت مقام ته رسېږي او که دا ونه کړي، نو انسان د الله له نعمتونو منکر ګڼل کېږي، په دې بنیاد ویلای شو، چې اسلامي تصور په دې راڅرخي چې د اقلیم ساتنه د ایمان ښنه ده.

هر هغه عمل چې د اقلیم توازن اخلالوي او یا یې مواردو له منځه وړي حرام دی او اسلام ورڅخه په کلکه منع کړې ده، د ټولو انبیاو شریعتونه او ټول اسماني ادیان د ځمکې په ابادۍ او اصلاح متفق دي، په ځمکه کې یې فساد حرام ګڼلی، فساد ټولو کړنو ته شامل دی که هغه مادي فساد وي، تخریب وي، د ژوندیو موجوداتو مړینه وي، د پاکو شیانو ککړتیا وي، د طاقتونو زېښنل وي، د مواردو ختمول وي او که بل څه وي، اسلامي نظام د مواردو په ساتنه ټینګار کړی، آن چې دا یې د اقتصاد مهمه موضوع ګڼلې، نو ساتنه یې په دې معنی ده، چې له تخریب، اسراف، ککړتیا او نورو داسې شیانو څخه وژغورل شي، چې هغه ضرور وي، نو طبیعي موارد د الله پاک هغه تحفه ده چې امکان لري د شتمنۍ سبب شي، د فضا ګازي پوښ په بېلابېلو عناصرو سره که هغه داوبو وي، نباتي وي او که په بل شکل سره وي، لکه ځنګلونه، خاوره، سمندرونه، ډبرې، معدنیات، دا واړه د انسان لپاره الله تعالی جل جلاله پیدا کړي دي او په ده واجب ده، چې په کارونه کې یې هغه تګلاره وکاروي، چې الله تعالی جل جلاله ورته پرې امر کړی.

## له اقليم سره احسان

اسلام فرد داسې تربيه کوي چې د ټولو هغو افرادو سره، چې د ده په اقليم کې ژوند کوي له هغو سره احسان وکړي، په صحيح حديث کې راغلي دي، چې اقليم سره د دوو معناګانو په چوکاټ کې بايد تعامل وشي، نو په انسان لازمه ده چې د هغه سره په ټينګ او محکم ډول تعامل وکړي، نه په غفلت او وهم سره، لکه څرنګه چې واجب ده، څو په شفقت او رفاقت ورسره تعامل وکړي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: « الله پاک رفيق دی او په هر کار کې رفاقت او نرمتيا خوښوي». (۵: ۳۱۵) لنډه دا چې د انسان، حيوان، نبات او نورو ټولو شيانو سره به احسان کوي.

## د تلف کېدو څخه د اقليم ساتنه

اسلام ټولې هغه کړنې غندي او سخت مقاومت ورسره کوي، چې د اقليم د تلف کېدو يا هم د هغه د عناصرو د تلف کېدو لامل ګرځي او هم يې دغه عمل حرام ګڼلی د ترسره کوونکي لپاره يې سخته سزا ټاکلې ده. برابره خبره ده که دغه تلف کېدل په هر ډول وي په قطع کېدو سره وي، په غفلت سره وي او که په بل ډول وي، اسلامي نظام د اقليم اړوند غفلت حرام ګڼلی، څکه د حيوان په هکله غفلت تر څو هغه هلاک شي دا کار حرام دی. د زراعت هلاک کول حرام دي، د خوراکونو تلف کول حرام دي، دارنګه نور دغسې اعمال، د جنګ پر مهال د اقليم د عناصرو تلف کول په قطعي ډول حرام دي، له يحی بن سعيد څخه روايت دی وايي: ابو بکر رضی الله عنه به چې کله د شام لورې ته لښکر لېږه، نو د هغه سره ووت چې يزيد بن ابي سفيان د لښکر مشر وو، نو هغه ته يې وويل. د لسو شيانو وصيت درته کوم! ماشوم به نه وژنې، ښځه به نه وژنې، سپين ږيری به نه وژنې، د ميوو ونې به نه قطع کوې، کورونه به نه نړوې، د خلکو پسونه او اوښان به نه اخلې. مګر هغه چې خوراک ته يې محتاج ياست، دخرماء ونې به نه غرقوې. نه به يې سوځوې، خيانت به نه کوې او نه به بې غيرتي کوې».(۱۳: ۶۰)

د اقلیم ساتنې په هکله توازن: الله پاک دا کائنات د قدر او حساب په اعتبار پیدا کړي دي، هغه ذات فرمايي: الشمس والقمر بحسبان ﴿٥﴾ والنجم والشجر يسجدان ﴿٦﴾ والسماء رفعها ووضع الميزان ﴿٧﴾ ألا تطغوا في الميزان ﴿٨﴾ وأقيموا الوزن بالقسط ولا تخسروا الميزان ﴿٩﴾(سورة الرحمان الآيات:٥- ٩)

**ژباړه:** لمر او سپوږمۍ دیو حساب پابند دي او ستوری او ونه دواړه (ټول) سجده کوونکي دي اسمان يې اوچت کړ او تله يې کېښودله د دې غوښتنه داده، چې تاسې په تله کښې خلل مه اچوئ، نو په همدې اساس په انسان لازمه ده، چې په معامله کې له عدالت او اعتدال څخه کار واخلي، چې په دې کې د ژوند بېلابېل موارد داخل دي، لکه ځمکه، غذايي مواد، صنعت، ځکه ډېر ژوندي موجودات د هوا، اوبو او خاورې په حمايت کې ستر رول لوبوي او هم ګڼ شمېر ژوندي موجودات د وراثت نبناتې ذخیره کوي، چې دا خپله د ښه حاصلاتو او د غوره وضعیت لامل ګرځي.

**دریيم مبحث: د اقلیم تصور د اسلامي نظام او نړیوال میثاقونو له مخې**

دا چې اسلامي نظام د اقلیم په ساتنه ټینګار کړی او د دې لپاره يې قوي قواعد ينبې، د دې سر ببره يې د اقلیم د جوړښت عناصرو ساتنه، د پنځو ضروریاتو د ساتنې په شان ګرځولي «د دين، نسب، عقل، نسل او مال ساتنه» دا راز د اقلیم ساتنې په ډګر کې د اسلامي نظام احکام يوازې فلسفي افکار نه دي، چې په پاڼو وليکلی شي. بلکې رباني اوامر او نواهي دي، چې په مسلمانانو يې رعایت کول واجب دي. (١١: ٢۴٣)

مګر وضعي قوانين که څه هم چې د اندامونو لپاره فيصله کوي، خو په نيتونو او داخلي ضمیر قدرت نه لري، الله تعالی جل جلاله فرمايي: قد أفلح من زكاها ﴿٩﴾ وقد خاب من دساها ﴿١٠﴾ ( سورة الشمس . الآيتان ٩-١٠)

**ژباړه:** په رښتیا سره بری ومومند هغه چا چې هغه د نفس تزکیه وکړه او ناکام شو هغه څوك چې هغه يې لاندې پټ کړ، اسلامي نظام د بین المللي معاهداتو څخه ډېر وړاندې د اقلیم ساتنې په برخه کې سهم اخیستنی او د هغه لپاره يې قواعد وضع کړي دي، د ساتنې او حمایت نظام، چې اسلام له پخوا څخه وضع کړی او نړیوالو په معاصر وخت په ۱۹ پیړی کې وپېژنده. د امریکا حکومت د طبیعي اقلیم د حمایت اعلان په ۱۸۶۴ کې وکړ، چې لومړی نړیوال کنفرانس په متحده ایالاتو کې په کال ۱۹۶۴ کې وشو، خو اسلامي نظام له اولې ورځې نه دغه اعلان کړی وو.

د اسلامي نظام ځانگړتیا په دې کې ده، چې د اقلیم لپاره يې علمي او تطبیقي څېړنې کړې دي. خو نړیوال معاهدات یوازې توصیي دي، چې تطبیق نه لري، غربیانو په ځینو مواردو کې افراط کړی وو، تر دې چې د حیوان سره د نرمښت په توگه يې ۸۰ ملیونه سپي په کورونو کې ساتل او د میراث مستحق يې گڼل، خو اوسمهال د دریمې نړۍ په یو شمېر هېوادونو کې د سپو مصرف له کورنۍ څخه زیات وي، دا د الله تعالی جل جلاله د فطرت تغییر دی په کوم فطرت يې چې خلک پیداکړي دي، ځکه دا افراط او غلو ده.

**پایله**

په دې اعتبار چې اقلیم یو اجتماعي ارزښت دی، نو د نورو اجتماعي ارزښتونو په اعتبار قوانین باید د دې ساتنه او حفاظت ترسره کړي، د دې مفهوم خورا پراخ دی، چې له نورو ارزښتونو څخه ډېر لوړ دی، له همدې کبله هېوادونه دېته اړ شوي، چې په خپلو قوانینو کې دغه موضوع ځای پر ځای کړي او هم نړیوالو میثاقونو دې موضوع ته زیات ارزښت ورکړی دی، په دې مورد کې گڼ شمېر معاهدات رامنځته شوي او هدف يې دا دی، چې د اقلیم ساتنه د ژوند لپاره ضروري اولازمي ده، دغه چاره دا په گوته کوي، چې انسان کل دی بېلوالی نه قبلوي، نو د انسانیت راتلونکی

ژوند په همدې پورې تړلی، چې نوموړی مسؤلیت په صحیح معنی سره سرته ورسوي، همدا لامل دی، چې نړیوال میثاق څرگنده کړه، چې ټول بشریت یو طبیعي جنس دی بیلوالی نه مني. له مخکنیو څېړنو څخه ډاگیزه شوه، چې اقلیم متنازع اطرافو دجنگ ډگر او میدان دی، چې د مسلحانه شخړو پر مهال یې بې حرمتي کیږي او دا هم واضحه شوه چې گڼ شمېر قوانینو اقلیم د هغه د عناصرو په اساس پیژندلی دی، داسې تعریف یې نه دی ذکر کړی چې ذات یې واضحه کړي، لکه څرنگه یې چې د مسلحانه شخړو پر مهال یې د هغه د ذات لپاره ځانگړي قواعد نه دي وضع کړي، بلکې په دې یې تأکید کړی، چې له ککړتیا څخه به ساتل کیږي.

له بلي خوا د اقلیم مفهوم د حقوقپوهانو له انده معاصر مفهوم دی، چې د کال ۱۹۷۶ او ۱۹۷۷ معاهدو په چوکاټ کې په صحیح معنی سره وپېژندل شو او وښودل شوه، چې د معاصرې هغې تکنالوژۍ استعمال جواز نه لري، چې اقلیم ته زیان اړوي.

دا هم د یادونې وړ ده، چې اقلیم د مسلحانه شخړو پر مهال له ستونزو او مشکلاتو سره مخ کیږي، د دې لامل بیولوژیکي شعاوې او کیمیاوي ککړتیاوې دي. ځکه دا داسې قوت لري، چې هر شي ته ورسیږي هغه نړوي، له همدې کبله د ژنیو د کال ۱۹۲۵ او ۱۹۷۲ معاهدو کې د دغو سلاح گانو استعمال منع اعلان شو. په دې معاهداتو کې نور بېلا بېل گازونه هم ذکر شول، چې استعمال یې منع اعلان کړ، په ټوله کې نړیوال قوانین او نړیوال محاکم په دې متفق دي، چې د دغسې مضره سلاح گانو استعمال جواز نه لري، تر دې چې په بېلابېلو معاهداتو کې د سرغړونکو اشخاصو لپاره که هغه هېوادونه وي او که حکمي اشخاص وي، جزاگانې او مسؤلیتونه هم ذکر شول، ترڅو له دغسې کارونو څخه ډډه وشي.

**مناقشه**

سربېره پر دې چې اقلیم یو نړیوال ارزښت دی، چې په تړاو یې په ملي قوانینو او نړیوالو میثاقونو کې احکام ذکر شوي، مګر له بده مرغه د ملي قوانینو او نړیوالو حقوقي اسنادو له مقتضاء سره سم نه په ملي کچه او نه هم په نړیواله کچه ورته رسېدنه شوې.

له بله اړخه دا ارزښت نن ورځ متنازع اطرافو د جنګ ډګر او میدان دی، چې د مسلحانه شخړو پر مهال یې بې حرمتي کېږي او دا هم واضحه شوه، چې ګڼ شمېر قوانینو اقلیم د هغه د عناصرو په اساس پیژندلی دی، داسې تعریف یې نه دی ذکر کړی، چې ذات یې واضحه کړي، لکه څرنګه یې، چې د مسلحانه شخړو پر مهال د هغه د ذات لپاره ځانګړي قواعد نه دي وضع کړي، بلکې په دې یې تأکید کړی، چې له ککړتیا څخه به ساتل کېږي.

د اقلیم ساتنه په ظاهر کې ملي او نړیوال شعار دی، مګر دا هم د یادونې وړ ده، چې اقلیم د مسلحانه شخړو پر مهال له ستونزو او مشکلاتو سره مخ کېږي، د دې لامل بیولوژیکي شعاوې او کیمیاوي ککړتیاوې دي. ځکه دا داسې قوت لري، چې هر شي ته ورسېږي هغه نړوي، له همدې کبله د ژنیو د کال ۱۹۲۵ او ۱۹۷۲ معاهدو کې د دغو سلاح ګانو استعمال منع اعلان شو. چې په دې معاهداتو کې نور بېلابېل ګازونه هم ذکر شول، چې استعمال یې منع اعلان کړ، په ټوله کې نړیوال قوانین او نړیوال محاکم په دې متفق دي، چې د دغسې مضره سلاح ګانو استعمال جواز نه لري، تر دې چې په بېلابېلو معاهداتو کې د سرغړونکو اشخاصو لپاره که هغه هېوادونه وي او که حکمي اشخاص وي جزاګانې او مسؤلیتونه هم ذکر شول، ترڅو له دغسې کارونو څخه ډډه وشي.

**ماخذونه**

القرآن الكريم

۲. أساس البلاغة ، للزمخشري، مادة "بوأ"، ص: ۳۳ او القاموس المحيط، للفيروزآبادي، مادة "باء"،

۳. انترنيټ ويب سايت: :مضمون: ماهية البيئة للذكتورأسامة عبد العزيز

۴. الباني په سلسله آحاديث صحيحه کې تصحيح کړی (٣٦١/٤)

۵.پوهنتون کال ۱۹۹٦م.

٦.حديث بخاري په خپل صحيح کې روايت کړی د حديث رقم ۲۹۲۷ ټوک ۴.

۷.حديث مسلم په خپل صحيح کې راوړی رقم ۳۵ د ايمان کتاب ۱/ ۱٦۳

۸.الدكتور عامر طراف، التلويث البيئي والعلاقات الدولية، مجد مؤسسة جامعية للدراسات والنشر والتوزبيع، لبنان، الطبعة الأولى عام ۲۰۰۸.

۹.احمد عبد ا لکريم سلامه، د اسلامي اقليم د قانون ساتنه د وضعي قوانينو سره مقايسه، لومړی چاپ د ملک سعود

۱۰.قطب ريسوني، د اسلامي مفکورې له انده د اقليم ساتنه.

۱۱.محمد حسين عدد القوي، د چاپيريال د هوا جنايې حمايت، چاپ ذهبې نسر، مصر کال ۲۰۰۲م .

۱۲.يوسف قرضاوي، رعايه البيئه في شريعه الاسلام.

۱۳.الصحاح للجوهري، مادة "بوأ"،

۱۴.مالک په موطأ کې راوړی د حديث رقم ٦۰

۱۵.مجله الاسلام الیوم ۱۱ گڼه .

۱۶.محمد خالد جمال رستم: په نړۍ کې د اقلیم د قانون تنظیم، چاپ حلبي حقوقي، لبنان لومړی چاپ کال ۲۰۰۶م .

17.knol.google.com/k/judge-dr-osama albdelaziz

18.knol.google.com/k/judje-dr-osama abdel aziz.

19.un individu humai animal ou végétal,ou une espèce " ,le petite la rousse illustré, Paris , 1990

**پوهنمل نور انور فاروقي**
التقوی د لوړو زده کړو موسسه ، حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، حقوقي علومو څانگه
لارښود استاد: پوهنوال محمد ايمل حقمل

# د افرادو بنسټيزو حقوقو کې کارېدونکو مفاهيمو لنډه پېژندنه

**لنډيز**

بشري حقوق بېلا بېلې برخې او ډولونه لري، نو ځکه خو علماوو دانساني حقوقو په اړه بېلا بېلې طبقه بندۍ کړي دي او په بېلا بېلو نومونو يې ياد کړي دي. لکه فطري حقوق، تکميلي حقوق، موضوعه حقوق، بنسټيز حقوق . چې د دې ټولو عمومي او کلي مفهوم همد ا د بشر حقوق جوړوي، چې د دې حقوقو يوه عمده برخه او رکن د بشر اساسي حقوق دي، لکه : د ژوند حق، د ازادۍ حق، د بيان ازادي، د تعليم او زده کړې حق. د تابعيت لرلو حق، داستوگنځای حق، د مشارکت حق، عدالت ته دلاسرسي حق او سياسي گوندونو، ټولنو او اتحاديو د جوړولو حق. په دې مقاله کې د بشر-اساسي يا بنيادي حقوقو ته بېلا بېل کارېدونکي مصطلاحات( مفاهيم، کليمات او نومونه) د يو بل په توپير سره روښانه او تشريح شوي. د دې ترڅنگ د بشر-اساسي حقوق د افغانستان د ۱۳۸۲ هـ ش کال اساسي قانون سربېره د امريکا او هند په اساسي قوانينو کې روښانه شوي.

د دې موضوع د څېړنې لپاره له کتابتوني تگلارې څخه گټه اخيستل شوې او د دې څېړنې موخه دا ده چې د افرادو بنسټيزو حقوقو کې کارېدونکي مصطلاحات او مفاهيم وپېژندل شي.

له دې لېکنې څخه دې پايلې ته رسېږو، چې د فطري، بنيادي او موضوعه حقوقو او همدارنگه بشر حقوقو موخه او مطلب يو دی، هيڅ راز توپير نه لري، فقط دومره چې

فطري يا طبيعي حقوق عام دي او بشري حقوق يې يو جز دی. همدارنگه بشر ته ځينې حقوق د اساسي حقوقو تر عنوان لاندې ورکړل شوي.

**کليد کلمې:** اساسي حقوق، بشر ي حقوق، بنيادي حقوق، تکميلي حقوق، فطري حقوق او موضوعه حقوق.

## سريزه

نحمده ونصلي علي رسوله الكريم اما بعد فا اعوذبا الله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم. يا أيها الناس إنا خلقناكم من ذكر وأنثى وجعلناكم شعوبا وقبائل لتعارفوا ۚ إن أكرمكم عند الله أتقاكم ۚ إن الله عليم خبير (سورة حجرات ۱۳ايت)

**ژباړه:** ای خلکو! موږ تاسې له يوه نارينه او يوې ښځې نه پيدا کړئ او بيا مو تاسې قومونه او قبيلې وگرځولئ، ترڅو چې تاسې يو تر بله سره وپېژنئ، په حقيقت کې دالله په نزد له تاسې نه تر ټولو زيات عزتمند هغه څوك دی، چې په تاسې کې تر ټولو زيات پرهېزگاره وي، په باوري ډول الله په هر څه پوهيدونکی او باخبره دی.

د بشر حقوقو اصطلاح د خلکو او ټولنو ترمنځ ډېره سابقه نه لري، خو د حقوقو لپاره د دغه اصطلاح مختلفو نومونو، لکه فطري حقوق، موضوعه حقوق، تکميلي حقوق، بشر حقوق او د افرادو اساسي حقوقو مفهوم او تعبير په اړه د نړۍ د انسانانو ترمنځ يو شمېر بحثونه راپورته کړي دي، په داسې حال کې چې ځينې علماء يې يو ډول گڼي او ځينې ورته په توپير قايل دي، خو په حقيقت کې د ټولو موخه يوه ده، نو که چېرې موږ په دې باور ولرو، چې د بشر حقوق د انساني ژوند لپاره يوه غوره، اهميت لرونکې، لوړه او له مفهوم څخه ډکه قاعده ده، نو د هغې بنسټ او منل به زموږ ترمنځ مستحکم او حياتي وگرځي.

پر انساني کرامت او شرافت تاکيد او د انسانانو ترمنځ تفاوتونه په بېلابېل ډول د بشر د پيدايښت تاريخ ته رسيږي، امريکايي نامتو تاريخ ليکونکی هوارد زين په (10-10-1922) ميلادي کال کې په ريښتيني او حقيقي ډول خپل نظر بيان کړی، چې د بشر تاريخ يوازې سختي نه؛ بلکې د شفقت، ښېنې او مهربانۍ تاريخ هم دی.

لکه څنګه چې علماؤ د بشر يوه معنی شفقت، ښېنه، مهرباني او محبت کړې ده، د انسان د اساسي حقوقو بنيادي هدف په ټولنه کې د نظم، سولې او ثبات، برقرارول دي. په دې معنی کله چې انسانان يو د بل حقوق وپېژني او بيا هغو حقوقو ته احترام وکړي، يو د بل په حقوقو تېری او تجاوز ونه کړي او هر انسان په خپلو مسلمو او مشروعو حقوقو بسنه وکړي، هر اړخېزې اړيکې او حقوق ( ټولنيزې، اقتصادي، سياسي، فرهنګي....) د قانون په چوکاټ کې ترسره او استفاده ورڅخه وکړي، نو يقيني ده چې په دې صورت کې به د نظم، سولې او ثبات سربېره په ټولنه کې هر اړخېز پرمختګ رامنځته شي.

همدا بشري حقوق دي چې انسانانو ته نېکمرغي راولي، د دنيا او اخرت د سعادت او کاميابۍ څخه يې برخمن کوي. په ټولنه کې د دې حقوقو بله بنسټيزه موخه د تاوتريخوالي، جګړو، بې نظميو او ګډوډيو مخه نيول دي، د انسانانو د مصلحتونو (نسل، مال، عقل، ناموس، نفس...) څخه ساتنه کوي او د دې ملاتړ تضمينوي. په ټولنه کې د انسانانو ترمنځ د خپلمنځي اړيکو د پاللو او حقوقو د پېژندنې او رعايت په هکله حکم کوي، هر انسان په دې مکلفوي، چې په ټولنه کې په داسې شکل ژوند وکړي کوم، چې ورته الهي او وضعي قانون تعين کړی وي. انساني حقوق د ټولو هغه اعمالو داجراء څخه منع کوي، چې مخلوق (انسان، حيوان. نبات، هوا، اوبه، خاوره...) ته صدمه او ضرر رسوي. همدا انساني حقوق دي چې په ټولنه کې د داسې يو نظام او رژيم غوښتنه کوي چې په هغه کې عدالت قايم وي، يعنې هيڅ ډول تېری او تجاوز

پکې نه وي او د ټولو انسانانو (حاکمانو، روحانينو، سرمايدارانو او عادي خلکو) د ژوند د تېرولو او اعمالو د ترسره کولو لپاره يې مشخص حدود تعين کړي او هر يو ته يې خپله لاره او حقوق ښودلي، هيڅ انسان ته اجازه نه ورکوي، چې بل ته ستونزه او مشکل جوړ کړي.

## د ليکنې اړتيا

هره څېړنه بايد د ټولنې د اړتياوو پر بنسټ ترسره شي ځکه د څېړنې عمده موخه د ټولنې د اړتياؤ رفع کول دي. په همدې بناء ياده څېړنه هم د ټولنې د اړتياء په بنياد ترسره شوې. هغه په دې دليل که موږ د افغانستان حالت او وضعيت په دقيق ډول مطالعه او مشاهده کړو، نو دې پايلې ته رسېږو، چې موږ دافغانستان خلک له ډېرو جنگونو، وحشتونو، ځورونو، ناخوالو، بدبختيو، فقر، بې عدالتيو او ظلمونو څخه ستړي شوي يو، همدارنگه د انسانانو په لومړنيو او اساسي حقوقو باندې تېريو زموږ زغم له منځه وړی او ورځ په ورځ مو پرېشانه کوي. سره له دې، چې انساني پوهه مخ په پراخېدو او پرمختګ کې ده، خو له بده مرغه بيا هم بشر د يو لړ ناسمو لارو او ناپوهيو سره لاس او گريوان دی، له يوې خوا د بشر لومړنی حق (يعنې ژوند) ته پاملرنه نه کېږي او له بلې خوا د ډول ډول ټولنيز تاوتريخوالي سره مخ دی، خو بشر بايد له دې ټولو ناخوالو سره سره ناهيلی نه شي، بلکې تل بايد د خپلو انساني حقوقو د لاسته راوړلو هيله ولري او په دې لار کې هڅې وکړي.

همدارنگه بشر له خپلو اساسي حقوقو څخه خبر نه دی، په دې نه پوهېږي، چې په ټولنه کې انسانان ځينې داسې بنيادي حقوق لري، چې هيڅوک نشي۔ کولای هغه حقوق له دوی څخه واخلي. مگر انسان بيا هم چغې وهي او د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو غوښتنه کوي، په داسې حال کې چې د خپلو حقوقو په اړه پوهاوي هم نه لري. ځينې خو لا د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو غږ هم نه شي پورته کولای او په دې وېره

کې وي که چېرې غږ پورته کړم، نو یو مهم اساسي حق (دژوند حق) به راڅخه واخیستل شي. په همدې بناء دا اړینه ده، چې انسانان د خپلو اساسي حقوقو په اړه پوه شي او په دې اړه چې کوم مفاهیم او مصطلاحات کارول کېږي د هغو اصطلاحاتو سره باید په تمامه معنی بلد ؤ اوسي.

## موخې

د دې څېړنې اساسي موخې په لاندې ډول دي:

۱. د انساني حقوقو د پېژندنې په اړه د کافي معلوماتو راټولول، ترڅو لوستونکو ته د بشري حقوقو اصطلاح عام فهمه شي.

۲. د بشري حقوقو د کارېدونکو اصطلاحاتو او مفاهیمو په اړه د قیق او مستند تعریفات او معلومات راټول شوي، ترڅو په دې برخه کې د ابهام اوګونګتیا څخه مخنیوی وشي.

۳. د بشر حقوقو په اړه د بېلابېلو کارېدونکو اصطلاحاتو (فطري حقوق، بنیادي حقوق، تکمیلي حقوق او موضوعه حقوق) پرتلییزه پېژندنه.

۴. همدارنګه خلک دې ته متوجه کول چې فطري حقوق، بنیادي حقوق، تکمیلي حقوق او موضوعه حقوق د انسانانو اساسي حقوق دي، چې د بشر- حقوقو یوه مهمه برخه جوړوي او دا حقوق د انسان ذاتي او فطري حق دي، چې نه دولت ورکړی او نه هم حکومت. بلکې دولتونه او رژیمونه د دې حقوقو د رسمیت پېژندنې مسؤلیت پرغاړه لري.

## مواد او کړنلاره

د دې کتابتوني څېړنې په ليکلو کې د څېړنې له تحليلي او توصيفي ميتود څخه استفاده شوې او د څېړنې ډول کتابتوني دی.

## پخوانيو ليکنو ته لنډه کتنه

د اساسي حقوقو د کارېدونکو اصطلاحاتو او مفاهيموته د کتنې په نوم کومه مشخصه ليکنه په افغانستان کې نه وه موجوده او يا هم کېدای شي وي، خو ما به ورته لاس رسی نه وي پيداکړی، البته د اساسي حقوقو کارېدونکو اصطلاحاتو او مفاهيمو ته د کتنې په برخه کې د دې موضوع نه علاوه په نورو برخوکې زيات کتابونه ليکل شوي، چې له هغې جملې څخه د دکتور مصطفي نيازي بشري حقوق، نور انور فاروقي بشري حقوق، سيداکرم هاشمي او خوشحال جواد بشري حقوق، سيف الرحمن نيازي بشری حقوق او داسې نورو علماؤ کتابونه يادولای شو، همدارنگه د افغانستان نه علاوه په نورو هېوادونوکې هم د نوموړې موضوع په اړه ځينې کتابونه د بشري حقوقو په نوم ليکل شوي، چې څېړونکي نوموړي مفاهيم د نورو ژبو څخه پښتو ته ژباړلي او په دې څېړنه کې ځای پرځای کړي، د دې ترڅنگ په دري ژبه هم ځينې کتابونه لېکل شوي. ليکونکي په دې لېکنه کې د بېلا بېلو کتابونو څخه استفاده کړې ده، په دې کتابونو کې هم مشخصا ټولو کارېدونکو اصطلاحاتو ته اشاره نه ده شوې يوازې په يو څو مفاهيمو باندې يې بحث کړی دی، مگر په هغه شکل چې دلته څېړل شوي يادونه، نه ده شوې.

## د بشر اساسي حقوقو عمومي مفاهيم

بشر اساسي حقوقو ته ډېر کله د طبيعي حقوقو، تکميلي حقوقو، موضوعه حقوقو، بنيادي حقوقو او په عام ډول د بشري حقوقو اصطلاحات هم کارول کيږي، يعنې د بشر اساسي حقوقو ته بېلابېل اصطلاحات او مفاهيم کارول کيږي، چې دا هره اصطلاح په

دې فصل کې په پوره وضاحت او تفصيل سره د بېلا بېلو عنوانونو په ترڅ کې په لاندې توګه روښانه کوو.

**طبيعي يا فطري حقوق**

طبيعي حقونه د قوانينو هغه ټولګه ده، چې د طبيعت لخوا د بشري ټولنو د اداره کولو لپاره رامينځته شوي. د نمونې په توګه د ژوند حق، د ازادۍ حق، د تعليم حق، د بيان دآزادۍ حق، د امنيت او خونديتوب حق. يا طبيعي حقوق هغه دي، چې د ځانګړو قوانينو، کلتور يا دولت په دودونو پورې تړلي نه دي له همدې امله دا ډول حقونه نړيوال او غير قابل انکار دي. په دې معنی چې د انسان په واسطه جوړ شوي قوانين (موضوعه قوانين) يې نه لغوه کولی شي او نه يې محدودولی شي، همدارنګه د نورو په تړونونو پورې هم مشروط نه دي او په انسان پورې په هر مکان او زمان کې تعلق نيسي. ديوې خبرې يادول اړين دي هغه دا چې هيڅ حق مطلق نه دی. بلکې نسبي دی يعنې د هر حق نه استفاده به د نورو حقوقو د نقض لامل نه ګرځي. په دې مفهوم چې د بشر- له فطري حقوقو څخه استفاده به د قانون په حدودو کې وي که دا قانون اسلامي شريعت ( مسلمانان به د شرعي نصوصو، اصولو او د ټولنې د نافذه قواعدو په رڼا کې له فطري حقوقو څخه استفاده کوي) وي او که وضعي قوانين (په غير مسلمو ټولنو کې انسانان د همغې ټولنې د وضع شوو قواعدو او اصولو په نظر کې نيولو سره له طبيعي حقوقو څخه استفاده کوی) وي. ژان ژاک روسو د طبيعي حقونو په اړه وايي:" فطري حقوق د انسان په وجود کې له هغې ورځې څخه را اخيستل شوي دي، چې دوی رامنځته شوي او دا حقونه په هر زمان او مکان کې يو شان دي او نه بدليدونکي دي او نه هم حد لري".( Hamburger, Philip, 1992, 907)

د بشري حقونو مفکوره له طبيعي حقونو سره تړاو لري ځينې يې تر منځ توپير نه ويني او مترادف يې ګڼي. په داسې حال کې چې نور دا حقوق (بشري حقوق او فطري

حقوق) په جلا توګه مطالعه کړي، ترڅو د طبيعي حقونو سره د دوی دوديز تړاو، لرې کړي. (ايکل فريدن، ژباړن: فريدون مجلسي. ١٣٨٢ هـ ش، ٦)

د ١٩٤٨ م کال د بشر حقونو نړيوالې اعلامیې هم بشري حقوق طبيعي حقوق ګڼلي، همدارنګه د نړۍ تقريبا ټولو فيلسوفانو بشري حقوق طبيعي حقوق ګڼلي، چې تر ټولو مهم يې د (ژوند حق او ازادۍ حق) ذکر کړي، د اکسفورد پوهنتون استاد او د شلمې پيړۍ نامتو فيلسوف(هربرت ليونل) استدلال کوي چې "اصلا که حق وجود لري، نو هغه به د ازادۍ حق وي ځکه چې نور ټول حقوق په همدې پورې تړلي دي".په همدې ډول برتانوي(تامس هيل) هم عقيده لري چې "که د حق په نوم څه وجود لري، نو هغه به د ژوند او ازادۍ حق وي".

له پورتني بحث څخه موخه دا ده، چې د انسان فطري او طبيعي حقوق د نړۍ هيڅ قانون نه ملغاء کولای شي او نه يې هم محدودولای شي، بلکې يوازې له دې حقوقو څخه داستفادې او کارولو حدود ټاکلی شي. يعني له فطري حقوقو څخه د کارونې او استفادې طرز او طريقه د قانون په واسطه بيانېږي، ترڅو يو انسان د خپل فطري حق څخه د استفادې پر مهال د نورو انسانانو حقوق تر پښو لاندې نه کړي. د مثال په توګه د بيان د آزادۍ حق چې يو فطري حق دی انسانان ورڅخه په هغه صورت کې استفاده کولای شي چې د نورو انسانانو امنيت، عامه نظم، ادابو او اخلاقو، حقوق، آزادۍ او حيثيت، عامه صحت، مذهبي ارزښتونو او نورو په خلاف نه وي.

## بنيادي حقوق

بينادي حقوق له هغه حقوقو څخه عبارت دي، چې په بشر-پورې اړه و لري او د هېوادونو په قوانينو کې په توپير سره د خپلو او بهرنيو اتباعو لپاره وضع کړای شوي وي.

بنيادي حقوق هم له طبيعي حقوقو څخه سرچينه اخلي او په بشر-پورې مختص دي، خو په داسې ډول چې هېوادونو خپلو ملي ګټو، ارزښتونو او مذهبي اصولو ته په پام

سره په قوانینو کې په مختلفو بڼو سره ذکر کړي، د مثال په توګه په هند کې د هندیانو بنسټیز حقونه د آمریکا متحده ایالاتو په قانون کې د ذکر شویو بنیادي حقونو څخه توپیر لري په هند کې بنسټیز حقونه د متحده ایالاتو په پرتله ډېر مفصل او واضح دي د هند قوانینو خپلو اتباعو ته اووه ډوله حقونه د بنیادي حقونو تر عنوان لاندې ورکړي، چې د نومو ړو حقوقو څخه دلته یادونه کوو. (Ramesh Kumar, 2016, 55-64 )

## د مساوات حق

د آزادۍ حق، چې د بیان ازادي، د سوله ایزې اتحادیې د جوړولو حق، د هند په ټوله خاوره کې په آزاده توګه د تګ حق، د هند په خاوره کې د استوګنې حق، د هر مسلک یا د کار کولو حق ور کې شامل دي.(Saxena, S, 2022, 1)

- د مذهب په انتخاب کې د ازادۍ حق.
- د استحصال حق.
- کلتوري او تعلیمي حقونه.
- د اساسي قانون د تعدیل حق.
- د رایې ورکولو حق.

اما د امریکا متحده ایالاتو کې دا حقونه محدود دي او د امریکا په اساسي قانون کې ورته د اساسي حقوقو اصطلاح کارول شوې، خو ستره محکمه یې داساسي حقوقو په نوم پېژني چې په لاندې ډول دي.(Priyanka Sinha, 2021, 1106)

- د ایالتونو ترمنځ د سفر کولو حق.
- د بل چا د ماشومانو د پالنې حق.
- د محرمیت حق.
- د واده حق.
- د خپل ځان څخه د دفاع حق.

په نړيواله کچه هم ځينې حقونه بنسټيز ګڼل شوي، چې د ملګرو ملتونو بشري حقونو نړيواله اعلاميه، د ملګرو ملتونو د مدني او سياسي حقونو نړيوال ميثاق، د ملګرو ملتونو د اقتصادي، کلتوري او ټولنيزو حقونو نړيوال ميثاقونو په لاندې ډول ذکر کړي دي.

- د ازادۍ حق.
- د عادلانه محاکمې حق .
- د سفر د ازادۍ حق.
- د فکر د ازادۍ حق.
- د مذهب د ازادۍ حق.
- د بيان د ازادۍ حق.
- د ټولنې د ازادۍ حق.

دافغانستان د (١٣٨٢ هـ ش) کال اساسي قانون په دويم فصل کې د اتباعو په اساسي حقوقو او آزاديو باندې تفصيلي بحث شوی او ياد فصل يې د اتباعو اساسي حقوقو او آزاديو ته ځانګړی کړی دی. په دې فصل کې د بشر اساسي او بنيادي حقوق په لاندې ډول دي.

١. د ژوند حق، ٢. د دواده حق، ٣. د تعليم حق، ۴. د اوسېدو ځای د انتخاب حق، ۵. د تابعيت لرلو حق، ٦. د بيان آزادي، ٧. د سياسي احزابو د جوړولو حق، ٨. د سياسي مشارکت حق(د انتخابولو او انتخابېدو حق)، ٩. اقتصادي حقوق( لکه د کار حق)، ١٠. د ټولنو د جوړېدو حق، ١١. عادلانه محاکمو ته د لاسرسي حق، ١٢. د دوديزو جشنونو ترسره کولو حق.(دافغانستان اساسي قانون،١٣٨٢هـ ش،دويم فصل)

له پورته توضيحاتو څخه دې پايلې او تحليل ته رسېږو، چې بنيادي حقوق همدا د افرادو اساسي حقوق دي، چې هېوادونو په خپلو قوانينو کې د خپلو اتباعو په مورد کې په رسميت پېژندلي دي.

**موضوعه حقوق**

موضوعه حقوق د قانون په فلسفه کې یوه اصطلاح ده او هغو قوانینو ته اشاره کوي، چې په ټولنه کې د انسانانو په واسطه رامنځته شوي وي، که اساس یې(دین، مذهب، اخلاق، عرف) وي یا طبیعي قوانین په بل عبارت، د هغه قواعدو او مقرراتو ټولګه ده چې په یو وخت او ځای کې د خلکو ټولنیزې اړیکې اداره کوي. په دې ډول چې دولت د لوړ مقام په توګه د دغو قوانینو جوړونکی، تطبیق کوونکی او پلی کوونکی دی.

دا ډول حقونه د واکمن د ارادې یا ځواک پایله ده او لکه څنګه چې داسې عقیده او باور موجود دی، چې قوانین په ټولنه کې نظم او امن راولي، نو د همدې موخې لپاره قانون باید جوړ او ثابت شي. یعنې قانون باید په یو ځای کې رامنځ ته شي، تر څو د قانون په نوم یاد شي او د هغه محل ټولې برخې کنټرول او تنظیم کړي. ( ژان‌بولانژه او محمدزاده وادقانی،۱۹۹۷، ۷۳-۸۰)

**تکمیلي حقوق**

د تکمیلي حقوقو اصطلاح په اړه ډېر وضاحت نه شته، خو د تکمیلي قانون اصطلاح عامه ده او ډېر استعمال لري.

که څه هم د قانون وېش په الزامي قانون او تکمیلي قانون باندې قانوني بنه نه لري، په دې مفهوم چې ځینې حقوق پوهان د الزامي قدرت له مخې قوانین په دوو برخو وېشي چې له تفسیري (تکمیلي) قوانینو او امري ( الزامي) قوانینو څخه عبارت دي. د لومړۍ کټګورۍ د قواعدو خلاف تړون ممکن دی، مګر د دویمې کټګورۍ د قواعدو خلاف تړون بې اعتباره او باطل دی. دا وېشعموماً یوازې د خصوصي حقوقو اړوند قوانینو کې صدق کوي او د عامه حقوقو اړوند قوانینو ( اساسي قانون، اداري قوانین، جزایي قوانین) کې صدق نه کوي. ځکه چې د عامه حقوقو اړوند قوانین عموماً لازمي دي.

آمریه او الزامي قوانین هغه دي، چې د نقض او تخلف په صورت کې عامه نظم مختل او ګډوډېږي، یعنې صدمه او ضرر يې د ټولنې عامه نظم ته رسېږي. اما تکمیلي (تفسیري یا تعویضي) قوانین هغه دي، چې د نقض په صورت کې د ټولنې عامه نظم نه مختل کېږي. یعنې دا ډول قوانین د ټولنې د عامه نظم سره اړیکه او مغایرت نه لري. بلکې دا په خصوصي حقوقو پورې اړه لري. نو کله چې مقنن قانون وضع کوي د همدې قانون د الزاموالي او تکمیلي والي په اړه خبره نه کوي. بلکې دا د قضاتو، وکیلانو او حقوقي مشاورینو دنده ده، چې د اړتیا په وخت کې د الزامي قاعدې او تکمیلي قاعدې ترمنځ فرق روښانه کړي.

په ځینو وختونو کې د قانون حکم دومره په شدت سره الزام راوړونکی وي، چې هیڅ نوعه استثناء نه قبلوي لکه، د جرم د شخصي والي اصل (جرم یو شخصي عمل دی) او د جرم دارتکاب ټول عواقب مرتکب ته متوجه دي، البته د جزايي مسؤلیت په برخه کې په دې ځای کې د قانون خلاف هیڅ نوعه تعامل ته جواز نشته.

مقنن هر وخت خپله اراده جدي نه نیسي. بلکې ځینې وختونه طرفینو او د هغوی ارادې ته هم اهمیت ورکوي، چې هماغه د طرفینو اراده بیا د همدوی لپاره الزامي قاعده ګرځي چې همدې حالت ته تکمیلي قانون وايي. مثال د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش مدني قانون ۸۷ ماده وايي: «ښځه کولای شي، چې د ازدواج د عقد په وخت کې دا شرط کېږدي، چې که مېړه يې د دې قانون د (۸٦) مادې د درج شوو حکمونو په خلاف د بلې ښځې سره ازدواج وکړي، نو د طلاق واک به هغې ته انتقالېږي. دا شرط هغه وخت اعتبار لري، چې د نکاح په وثیقې کې درج شوی وي. همدارنګه په بل ځای کې د افغانستان د مدني قانون ۱۱۰۹ ماده داسې وايي: «که په عقد کې د ثمن د اداء کولو ځای ټاکل شوی وي، نو ورکول يې په همغه ټاکل شوي ځای کې صورت

مومي، چې مبیعه پکې تسلیم ورکول کېږي. که اوګورو د بیعې په توافق کې د طرفینو تعهد ته ارزښت ورکول شوی، چې دا په خپله د تکمیلي قانون یوه برخه ده.

د دې ترڅنګ د ایران مدني قانون (۱۱۱۴) ماده صراحت لري چې: ښځه به په هغه کور کې اوسېږي، چې د میړه لخوا انتخاب شوی وي. مګر دا چې د اوسېدو ځای د انتخاب حق یې ښځې ته ورکړی وي.

بل مثال، د ایران مدني قانون (۳۷۵) مادې له مخې مالونه (پلورل شوي توکي) باید په هغه ځای کې تسلیم شي چیرې، چې د پلور تړون شوی وي، مګر دا چې ګمرک او عرف د بل ځای غوښتنه ولري یا د تسلیم لپاره ځانګړی ځای د پلور پر مهال مشخص شوی وي.

نو پورتني ټول مثالونه د تکمیلي قانون دي، چې پکې مقنن طرفینو ته او د هغو ارادې ته په احترام قایل شوی، خو په هغه څه چې توافق شوی هغه بیا د دواړو لپاره الزامي قاعده ګرځي.

## د بشر حقوقو تعریف او ماهیت

دا چې د دې مقالې اصلي موضوع د بشرـ اساسي حقوقو په اړه د کارېدونکو مصطلاحاتو او مفاهیمو لنډه پیژنه او کتنه ده، ترڅو د اساسي حقوقو او نورو اړونده حقوقو د مفاهیمو ترمنځ ابهام او پېچېدګي له منځه لاړه شي او په دې اړه چې کوم اصطلاحات کارول کېږي د هغوی په مفهوم او ماهیت کې غلط فهمي او شک محوه شي. چې په دې مقاله کې مورد نظر موخې ته ورسېدو، هغه په دې معنی، چې اساسي حقوق، طبیعي یا فطري حقوق، بنیادي حقوق وغیره د ماهیت له پلوه یو مفهوم ورکوي او ترمنځ یې کوم خاص فرق نه شته. خو دا چې دا ټول حقوق په کل کې د بشري حقوقو په عنوان پیژندل کیږي او بیا په بشري حقوقو کې اساسي حقوق د انسانانو لپاره

بنيادي ارزښت لري، په همدې بناء لازمه ده، چې بشري حقوق په لنډ ډول تعريف کړو، چې وضاحت يې په لاندې ډول دی.

بشريت په معنی د زيري دی، کله چې څوک د خوښۍ او خوشحالۍ پيغام واوري، نو مخ يي د خوشحالۍ څخه سور شي، نو له همدې کبله د انسان پوستکي ته بشره وايي چې د وخت په تېرېدو سره انسان ته د بشر کلمه استعمال شوه، چې په حقيقت کې له بشر څخه هدف انسان دی، هغه که د هر قوم، رنګ، ژبې، جنس، نژاد، مذهب او ډلې پورې اړه ولري. د دې برسېره د انسان د کلمې په هکله لغت پوهان دوه ډوله نظرونه لري: لومړی دا چې د دې کلمې اصل حروف ن، س ی دي او دا د نسيان څخه اخيستل شوی، چې معنی يې هيرېدل دي، يعنې د انسان معنی د هېرېدو خاوند دی.

ابن عباس رضي الله عنه په يو روايت کې په دې ډول راغلي دي، چې انسان خپله وعده او خبره هېروي، نو په همدې خاطر ورته انسان ويل کېږي په دې بنسټ د دې کلمې اصل انسان دی.

خو د تهذيب اللغة ليکوال الازهري، ابو الهيثم رحمه الله او نورو لغت پوهانو او نحوي پوهانو وينا ده، چې دا کلمه د. ا، ن، س، څخه ده چې د انس يا آنس څخه اخيستل شوې، معنی يې مينه، محبت او د تړون ربط او تعلق دی او ضد يې کرکه او نفرت دی.( مولانا ګوهر رحمان او قريب الر حمن سعيد،۱۴۳۰هـ ق، ۱۰ )

د پورتنۍ لغوي او صرفي څېړنې نه دا څرګندېږي چې د انسان تسميه هم آنس او محبت دی، چې د کرکې او نفرت په خلاف استعمالېږي، د انسان فطرت ټولنيز دی منافقت او يوازيتوب پکې شتون نه لري او سياسي ژوند هم د همدې نظم، آنس، محبت او يو ځای ژوند تېرولو نوم دی.

نو بشري حقوق عبارت له هغو حقوقو څخه دي، چې انسان ته د انسانولۍ له امله ورکول کېږي او دايې حق دی، چې بايد ورکړل شي.(نور انور فاروقي، ۱۳۹۸، ۱۴)

له پورته تعریفونو څخه یو شمېر پایلې او د بشري حقوقو ځانګړنې را وځي:

لومړی: دغه حقوق د ټولنې په اوسېدونکو پورې اړه لري صرف نظر له دې نه که، د دولت تابعیت ولري او کنه.

دویم: د زمان او مکان تشخیص پکې نشته.

دریم: هغه حقوق او امتیازات دي، چې په ټولنه کې انسانان باید ترې برخمن شي.

څلورم: د انسانولۍ له امله انسانانو ته ورکول کېږي، ژبه قوم، نژاد، سمت او مذهب پکې مطرح نه دي.

پنځم: دغه حقوق نړیوال دي. شپږم: دغه حقوق د انسان په ذات پورې اړه لري، چې د انسان کرامت، شرافت او جنسیت وساتل شي. اووم: بشري حقوق د ټولو انساني کچو (معیارونو) اساس او بنیاد جوړوي.( محمد سعید سعیدي، ۱۳۹۰هـ ش، ۵)

بشري حقوق د يو لړ حقوقو او ازاديو ټولګه ده، کوم چې د شخصي-، اقتصادي، فرهنګي او اجتماعي ژوند په ساحو کې د انسان د ژوند اساس جوړوي او د انسان له شخصيت څخه بېلوالی يې ناممکن وي او هر انسان د انسانولۍ او په ټولنه کې د غړيتوب په اساس له هغې څخه برخمن وي او يو انسان نشي کولای پر ته له هغېڅخه ژوند وکړي، نو په حقيقت کې د بشري حقوقو موضوع او اصلي ماهيت انسان، انساني کرامت او د ده اړونده حقوق دي.

لکه څرنګه چې پورته مو ورته اشاره وکړه، د بشر حقوقو اصطلاح هم د نورو بشري يا انساني علومو په څېر يو تعريف نه لري، چې له امله يې ډېرى خلک کړېږي، ممکن داسې يو تعريف چې ټولو ته د منلو وړ وي، ناممکن وي ځکه چې بشري حقوق هر څوک له مختلفو زاويو نه تعريفوي، د ليبرالېزم او غربي ازادۍ غوښتونکو له نظره د بشر حقوق هغه قواعد دي، چې افراد (انسانان) په ټولنه کې د دولت د اقتدار پر وړاندې له

تېري څخه ژغوري او ساتنه يې کوي او په بل عبارت بشر حقوق د فرد د اقتدار ښودنه ده د دولت د اقتدار په مقابل کې.

د ژاک مورژئون په وینا په لیبرالیستي هېوادونو کې بشر حقوق د حقوقي یا قاعدوي اختیاراتو په درجه (سطحه) کې تعریفېږي، چې یو شخص په خپلو اړیکو کې د یو شخص یا بل شخص یا دولت پر وړاندې په خاص ډول په اختیار کې لري.( ژاک مورژئون او احمد نقیب زاده،۱۳۸۰هـ ش، ۱۲)

لکه څرنګه چې ښکاري دغه تعریف د انسان له حقوقو ارزښت او مقام د هغه له فزیکي جسم څخه ډېر زیاتوي، په لیبرالیزم کې له بشري حقوقي قواعدو څخه هدف صرف د فرد ساتنه ده او د دولت د قدرت په مقابل کې ملاتړ کوي، له دې سربېره چې اړیکې د وګړو او دولت په اړه نه خلاصه کېږي د ارادو اړیکې له یو بل سره د ټولنې له دولت سره او تر ټولو مهمه د فرد اړیکه د خپل ځان سره او له نور مخلوق سره د هغو اړیکو له جملې څخه دي، چې دغه تعریف يې په اړه غلی (ساکت) دی.

د اسلام له نظره بشر حقوق د هغو اصولو له مجموعې څخه عبارت دي، چې له انساني فطرت څخه پورته شوي وي. چې د دوو ځانګړتیاوو په درلودلو سره د هغه په ژوند کې ښکاره کېږي:

لومړی: ذاتي اړتیاوې، دویم: د استعداد وده او لوړوالی.( جمعي از نویسنده گان،۱۳۷۰هـ ش ، ۱۲۳).

**پایله**

په نړیواله سطحه بشر حقوقو ته مختلف نومونه کارول کېږي. لکه د اتباعو اساسي حقوق، فطري حقوق او بنیادي حقوق، د دې ټولو موخه او مطلب یو دی چې مراد ترې همدا د بشر حقوق دي، خو یو شی چې روښانه شو هغه دا چې بشر- حقوق په

اصل کې فطري حقوق دي، خو د فطري یا طبیعي حقوقو ساحه پراخه ده نسبت بشر۔ حقوقو ته، نو موږ داسې وایو چې بشر حقوقو اساس طبیعي حقوق دي، خو بشر حقوق یې یو جزء دی.

بشر حقوق په طبیعي او فطري ډول په ټولنه کې موجود ول او د بشر۔د پیدایښت سره سم پیداشوي، خو د دولتونو او قوانینو په ایجاد سره یې د تطبیق تضمین ومونداو حمایه شول.

د موضوعه حقوقو څخه مراد ټول هغه حقوق او قواعد دي، چې د بشر۔ په لاس جوړ شوي او وضع شوي، همدارنګه تکمیلي حقوق دا هغه برخه ده چې مقنن پکې د حقوقي موضوع طرفینو ته د هغوی د ارادې لپاره ځای پرېښی که دا برخه د بشر حقوقو اړوند وي یا نه، نو د تکمیلي حقوقو او موضوعه حقوقو مفاهیم له بشر۔حقوقو څخه جدا دي یعنې نه شو کولی، چې په مطلق ډول پرې د بشر حقوقو اطلاق وکړو، بلکې ممکنه ده چې په ځینو تکمیلي قواعدو کې د بشر حقوق حمایه شوي وي او ممکنه ده، چې موضوعه حقوقو د بشر حقوقو ته پراختیا او تضمین ورکړی وي، نو دا درسته نه ده، چې په عام ډول د بشر حقوقو ته تکمیلي یا موضوعه حقوق ووایو اما ممکن ده، چې تکمیلي او موضوعه قوانینو کې د بشر حقوق حمایه شي.

بنیادي یا اساسي حقوق هغه بشري حقوق دي، چې د هېوادونو په قوانینو کې په توپیر سره د خپلو اتباعو لپاره وضع کړل شوي دي. د توپیر څخه مطلب دا چې نوموړي حقوق په ټولو هېوادونو کې یو ډول نه دي. بلکې هېوادونو خپلو ګټو ته په کتلو سره په قوانینو کې ځای کړي دي، دا هغه حقوق دي چې د بشر ژوند یې تقاضا کوي او پرته له دې نه شي کولی، چې ژوند په ښه ډول مخته یوسي او اهداف ترلاسه کړي، چې دا خپله (د ژوند حق، ازادۍ حق، د بیان ازادي، سیاسي ګوندونو جوړولو، تابعیت حق) او نورو ته شامل دي.

**مناقشه**

زموږ د معلوماتو او عملي تجربې پر بنسټ په افغاني ټولنه کې د بشر د اساسي حقوقو او د هغه د اصولو او معيارونو په اړه کم پوهاوی موجود دی، حتی که ووايو په نشت حساب ده همدا وجه ده چې له پخوا راهيسې زموږ ټولنه او د دې ټولنې انسانان له بېلا بېلو نه جبرانېدونکو ستونزو سره مخ دي. اقتصادي فرصتونه شتون نه لري، ځوانان مو د بيکارۍ له وجې له زده کړو څخه محروم، په نشه يې موادو معتاد او بهرنيو هېوادونو ته د کاري فرصت د پيداکولو په موخه مهاجر کېږي، چې اکثره يې د لارو په اوږدو کې خپل ژوند هم له لاسه ورکوي. چې د دې ټولو عمده او اساسي ستونزه د انسانانو د اساسي حقوقو نه رعايت دی.

**پايله اخيستنه**

د افغانستان په شمول ټولو ملي او نړيوالو تقنيني اسنادو د انسانانو اساسي حقوق په کلي او تفصيلي توګه په رسميت پېژندلي او د نړۍ اکثره هېوادونه د خپلو اتباعو د اساسي حقوقو څخه ملاتړ کوي او په عمل کې په رسميت پېژندلي، لکه امريکا، اکثره اروپايي هېوادونه، ماليزيا، اندونيزيا...... اما په دې برخه کې جامع قانون اسلامي شريعت دي.

د بشر داساسي حقوقو په اړه بېلا بېل مصطلاحات کارول کېږي، لکه بنيادي حقوق، فطري حقوق، موضوعه حقوق او تکميلي حقوق، چې تقريباً د دې ټولو مفاهيمو معنی سره ورته او يو شان ده.

**وړانديزونه**

۱. د بشري حقوقو په نوم بايد له انسان وژنې څخه مخنيوی وشي، په دې معنی هغه څوک چې نن ورځ ځانونه د بشري حقوقو مدافعين معرفي کوي او په دې نوم ملکونه نيسي او بيا په دې ملکونوکې بې شمېره انسان وژنې کوي دا بايد ښکاره او معلوم شي او د بشري حقوقو نړيوال کنفرانسونه، شوراگانې، ملگرو ملتونو سازمان، د بشر حقوقو منطقوي او نړيوال محاکم، د بشري حقوقوکميسونونه او نور بېلا بېل د بشر حقوقو مدافع سازمانونه بايد د دوی په خلاف عملي اقدام وکړي.

۲. د بشري حقوقو په نوم بايد دهېوادونو له نيولو، مستعمره کولو او استثمار څخه مخنيوی وشي او په دې برخه کې بايد د اسلامي هېوادونو سياسي مشران، قومي مشران، سياسي احزاب او عام ملت جدي غبرگون څرگند کړي.

۳. په اسلامي هېوادونو کې بايد حکومتونه او رژيمونه د بشر د اساسي او بنيادي حقوقو څخه ملاتړ او حمايت وکړي او د خپلو اتباعو په مورد کې د دې حقوقو کامل احترام وکړي.

**اځليکونه**

القرآن الکريم

۱. ايکل فريدن.(۱۳۸۲هـ ش). مبانی حقوق بشر، ترجمه، فريدون مجلسی، تهران: مرکز چاپ و انتشارات وزارت امور خارجه.

۲. جمعي از نويسنده گان. (۱۳۷۰هـ ش). درآمدي بر حقوق اسلامي، چاپ دوم، تهران، انتشارات سمت.

۳. ژاک مورژئون.(۱۳۸۰هـ ش). حقوق بشر، ترجمه: احمد نقيب زاده، چاپ اول، تهران، انتشارات دانشگاه تهران.

۴. ژان بـولانژه, & محمـدزادهوادقانی. (۱۹۹۷م). اصـول کلـی حقـوق و حقـوق موضوعه. دانشکده حقوق و علوم سیاسی (دانشگاه تهران), ۳٦(۲۸).

۵. گوهر رحمان: (۱۴۳۰هـ ق)، اسلامي سیاست، ژباړن: قریب الر حمـن سـعید، پیښور د پیغام خپرندویه مرکز ډهکې منورشاه قصه خوانې، (۴۰) او ده لـه لسـان العرب باب السین فصل الهمزه، څلورم ټوک.

٦. محمد سعید سعیدي.(۱۳۹۰هـ ش) .بشري حقوق، د نوي سید جـمال الـدین افغان انستیتیوت په مالي ملاتړ، چاپ نوی اتفاق پرینتنګ پریس پیښور.

۷. نورانور، فاروقي.(۱۳۹۸هـ ش). بشر ـ حقـوق، مسـلم خپرندویـه ټولنـه، جـلال آباد، لومړي چاپ.

۸. عـدلیې وزارت رسـمي جریـده. (۱۳۸۲هــ ش). دافغانسـتان اسـاسي قـانون, پرلپسې ګڼه: (۸۱۸).

۹. عدلیې وزارت رسمي جریده. ( ۱۳۵۵هـ ش). دافغانستان مدني قانون, پرلپسې ګڼه: (۳۵۳).

10. Kumar, Ramesh. (2016). "A Critical Appraisal of Human Rights Law with Special Reference to Constitution of India." Legal Research Development (An International Referred e-Journal) Vol 1.

11. Hamburger, Philip A. "Natural rights, natural law, and American constitutions." *Yale LJ* 102 (1992): 907.

12. Sinha, Priyanka. (2021),"The Fundamental Rights in England, USA, and India." *Supremo Amicus* 24.

13. Saxena, Saurabh. (2022). "Comparative Study of Fundamental Rights of India and USA." *Issue 6 Indian JL & Legal Rsch.* 4.

14. Zinn, H. (2011). On War. New York: Seven Stories Press. Introduction.

**رشيدالله شينواری او حبيب الله لوراند**
التقوی د لوړو زده کړو موسسه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، حقوقي علومو څانګه
لارښود استاد: پوهاند فرمان الله هیله‌من

# خصوصي حريم او ډولونه يې

## لنډيز

خصوصي حريم د اشخاصو د ژوند هغه برخه ده چې يو عادي او متمدن انسان د ټولنې د اړتياوو په درک کولو سره په هيڅ حالت کې هغه باندې تيری ښه کار نه ګڼي يا په بل عبارت د اشخاصو، ډلو يا مؤسسو د دې په نسبت چې څه وخت، څرنګه او په کومه اندازه معلومات د هغوی په هکله نورو ته ولېږدول شي، خصوصي حريم ګڼل کيږي. همدارنګه ويلی شو، چې خصوصي حريم هغه حق دی چې دولتونه او نور اشخاص يې د اخلاقي او قانوني اصولو پر بنسټ له مداخلې او تيری څخه د نورو اشخاصو پر وړاندې منع کړي دي.

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې خلک د دې موضوع په لوستلو سره د خصوصي حريم په اړه معلومات ترلاسه کړي او په دې به پوه شي، چې کوم ډول معلومات او اطلاعات په خصوصي حريم کې شته.

له دې څېړنې څخه موخه داده، چې د ټولنې خلک په دې پوه شي، چې د نورو اشخاصو کوم ډول اطلاعات او معلومات د اشخاصو په خصوصي حريم کې شته ؟ او خپرول يې څرنګه دي؟

په دې څېړنه کې د کتابتوني لارې چارې څخه کار اخيستل شوی دی او د دې څېړنې په پای کې دې پايلې ته رسيږو چې د نورو اشخاصو هغه اطلاعات او معلومات خپرول چې شخص نه غواړي په اړه يې نور خلک خبر شي او شخص ته

مادي او معنوي تاوان اړوي، جواز نه لري او د هېوادونو د جزايي قوانينو له خوا د جرم په توگه گڼل شوي او په مقابل کې ورته د مجازاتو وړاندوېنه هم شوې ده.

**کليدي اصطلاحگانې**: اطلاعات، ا شخاص، حق، خصوصي حريم او معلومات.

**سريزه**

بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العالمين والصلوة والسلام على سيد المرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.

د تکنالوژۍ په پرمختگ سره د اړيکو او اطلاعاتو په ډگر کې ډېر تحول رامنځته شوی دی او په اقتصادي، ټولنيزو، فرهنگي، سياسي، دفاعي او امنيتي برخو کې ډېرې ليکنې او تأليفات ترسره شوي او هغه فعاليتونه چې د توليداتو، کرنې، بانکدارۍ، اړيکو ټينگولو او يا په الکترونيکي او کمپيوټري برخو کې ترسره شوي دي، ډېر بدلونونه يې رامنځته کړي، چې په الکترونيکي برخه کې يې لوی او ستر انقلاب بللی شو که څه هم په دې برخه کې ډېره پا نگونه د دې لامل شوې، چې د ډول ډول توکو اومحصولاتو بيې راټيټې کړي.

بشر ته د ډېرو اطلاعاتو او معلوماتو پيداکېدل د هغوی د اړتياوو د ډېروالي او په خپل وخت د اطلاعاتو د پيدا کېدلو لامل شو که څه هم اوسني اطلاعات او معلومات په ډول ډول برخو کې د بشري ټولنې د خوځښت لامل شوي.

د اوسنۍ زمانې په اطلاعاتو کې د سنتي زمانې مفهومونه هم شته او په اقتصاد، زده کړو، فرهنگ، کار، کسب، مديريت او د سوداگرۍ په برخه کې د بنسټيرو بدلونونو لامل شوي دي.

ډېر خلک د تکنالوژۍ اطلاعات د الکترونيکي او کمپيوټري اطلاعاتو په شان گڼي او دا اخيستنه يې په دې دليل ده، چې خوځنده موټر د تکنالوژيکي معلوماتو

کمپیوټري سیستم دی، لیکن دا له حقیقت څخه لیرې نه ده، د هغه ځایه چې دا د یوې کوچنۍ برخې د بدلونونو څرګندونکي دي.

که څه هم د تکنالوژیکي اطلاعاتو او اړیکو دودول او هره ورځ یې پراخوالی د دې لامل شوی، چې یوه اطلاعاتي ټولنه رامنځته کړي، چې د بشري اطلاعاتو زماني ته یې دننه کړه او دا د تکنالوژۍ اغېزه ده، چې د اړیکو په بشپړتیا سره یې اوږدې لارې را لنډې کړي.

که څه هم کلاسیکو اړیکو د انسانانو د غږ لېږد په خپل ځای په پراخه حجم سره ترسره کول او همدارنګه د غږ، متن، موزیک، د ثابتو اوخوځندو انځورونو لېږدول دا ډول راکړه ورکړه، نه یوازې د انسانانو او سیستمونو ترمنځ بلکې خپله د سیستمونو ترمنځ هم وه.

د الکترونیکي ډاګ (پوستې) څخه په پراخه توګه کار اخیستنه او د ډېرو انټرنیټي سایټونو له لارې اطلاعاتو ته لاسرسی د دې پرمختګونو بیلګه یادولی شو.

خو له بده مرغه د دې پرمختللې تکنالوژۍ څخه یوازې د ښو چارو لپاره کار نه اخیستل کیږي. بلکې له همدې تکنالوژۍ څخه په کار اخیستنې ځینې انسانان د نورو انسانانو هغه معلوماتو ته د لاسرسي لپاره هڅه کوي، چې خپله هغوی نه غواړي چې د دې ډول معلوماتو په اړه دې، نور انسانان معلومات ترلاسه کړي، چې هغوی په دغه ډول هڅه کې د نورو وګړو خصوصي حریم ماتوي او دغه د خصوصي حریم ماتونه هغوی ته د مادي او معنوي تاوان سبب کیږي.

**د لیکنې یا څېړنې اړتیا**

دا چې نن ورځ د ساینس او تکنالوژۍ په برخه کې ډېر پرمختګ شوی او ډول ډول الکترونیکي او کمپیوټري وسایل رامنځته شوي، چې نوموړو وسایلو که څه هم له

يوې خوا د انسانانو په ژوند کې ډېرې اسانتياوې رامنځته کړې او د ژوند ډېرې چارې يې ورته اسانه کړي، خو له بلې خوا د ټولنې ټول وګړي د نوموړو الکترونيکي وسايلو څخه سم کار نه اخلي او نورو انسانانو ته د ځورونې سبب کېږي، چې د ټولنې ځينې وګړي د همدې الکترونيکي او کمپيوټري وسايلو څخه په کار اخيستنې سره د نورو انسانانو خصوصي حريم ته ننوځي او د هغوی د خصوصي حريم د نقض سبب ګرځي او د هغوی هغه اطلاعات او معلومات چې نه غواړي نور خلک ترې خبر شي د ډول ډول وسايلو څخه په کار اخيستنې سره د نورو لاس ته ورځي او وګړو ته مادي او معنوي تاوان رسيږي.

دلته د څېړنې ستونزه داده چې د ټولنې ډېری وګړي د خصوصي حريم په معنی او مفهوم باندې نه پوهيږي او د نورو خلکو خصوصي حريم ته ننوتل د ځان حق ګڼي او د رازونو خپرول يې د الکترونيکي او نورو وسايلو له لارې د خپل ځان حق او د بيان ازادي بولي .

پورتنۍ ستونزې ته په کتو مې (د خصوصي حريم او ډولونه يې) ترسر ليک لاندې موضوع وڅېړله.

## د څېړنې موخې

د دې څېړنې موخې عبارت دي له :

١. د خصوصي حريم په اړه پوهېدل.

٢. د اشخاصو کوم ډول اطلاعات او معلومات په خصوصي حريم کې راځئ؟

٣. کومې چارې د خصوصی حريم د نقض سبب ګڼل کيږئ؟

## د څېړنې مواد او کړنلاره

دا يوه کتابتوني څېړنه ده، چې د کتابتوني سرچينو څخه پکې کار اخيستل شوی دی، نو ځينو ټکو ته يې په لاندې توګه ګوته نيسم:

۱. د دې لپاره چې ټولې موضوعګانې روښانه شي دغه څېړنه په ډول ډول ، مبحثونو، مطلبونو او نورو کوچنيو سرليکونو باندې داسې ويشلې، چې ترمنځ يې منطقي پرله پسې والی شته.

۲. د څېړنې د کتابتوني اړخ په اړه مو د موادو په راټولونه کې د امکان تر پولې کوښښ کړی چې د اصلي او تخصصي سرچينو څخه کار واخلم او که په اصلي سرچينو کې مې مواد نه دي پيدا کړي، نو بيا مې د فرعي سرچينو لکه مجلې، مقالې او انټرنيټ څخه هم پکې کار اخيستی.

۳. که په ليکنه کې د قران کريم کوم ايت ته اړتيا ليدل شوې، نو د ايت ټاکلې برخه له قران کريم څخه را اخيستل شوې ده او ژباړه يې د منل شوي تفسير څخه شوې ده.

۴. که په ليکنه کې کوم حديث شريف ته اړتيا پيدا شوې، نوهغه مې د احاديثو له مخکښ کتاب څخه را اخيستی دی.

## تېرو ليکنو ته کتنه

( خصوصی حريم او ډولونه يې ) د موضوع په اړه داسې کومه څېړنه يا کتاب په پښتو ژبه کې نه شته، چې په ځانگړي ډول يې نوم واخلو او د دې موضوع څخه يې پکې ويلي وي او په دې هکله چې کومې سرچينې شته ډېری يې په دري دي اود نورو گډو وډو موضوعگانو په اړه دي، چې د دې چارو له ډلې څخه لاندې کتابونو او هغو نيمگړتياوو ته گوته نيسو او د خپلې ليکنې دليلونه هم وايو.

١.( حقوق حمايت داده ها ) دا کتاب د دوکتور محمد علي نوري رضا نخجواني دی چې په کې يی د خصوصي حريم څخه خبرې کړې دي، خو په الکترونيکي سوداگرۍ کې د پيسو په ورکړه يې ټينگار کړی دی او زما د موضوع په اړوند نور څه پکې نشته.

٢.( حقوق فناوری اطلاعات و ارتباطات ) دا کتاب امير حسين جلالي فراهاني ليکلې چې په تحليلي ډول يې د خصوصی حريم موضوع ته گوته نيولې ده. په دې کتاب کې په ځانگړي ډول زما د موضوع په اړه ښې خبرې نه دي کړي او اطلاعات يې په حساسو او نا حساسو وېشلي په دې وېشنه کې يې چې کوم معيارونه په پام کې نيولي د شخصي رازونو او خصوصي اطلاعاتو ترمنځ د مجازاتو په تشخيص کې مرسته او کومک کوي او د خصوصی حريم د ډولونو اړوند څه په کې نه دې ويل شوي.

## پوښتنې

١. په خصوصي حريم کې څه ډول اطلاعات او معلومات شته ؟

٢. ايا د خصوصي حريم نقض کوونکي ته جزايي او مدني مسووليت په پام کې نيول شوئ؟

٣. ايا د خصوصي حريم نقض جواز لري او که نه ؟

**لومړی مبحث: دخصوصي حريم پيژندنه او مفهوم يې**

خصوصي حريم سره د دې چې يو له څرګند او ډېر استفاده کېدونکي حق په توګه د هر وګړي لپاره پېژندل شوی دی. مګر د نړۍ پوهان په دې نه دي توانېدلي، چې يو ځانګړی تعريف چې ټولو ته د منلو وړ وي رامنځته کړي په ۱۹۹۰م کال د امريکا د متحده ايالاتو د سترې محکمې له قاضيانو څخه يو قاضي لويېس براندايس( Louis berndis ) په خپله مقاله د(خصوصي حريم د حق مصؤنيت) تر سرليک لاندې وليکله د لومړي ځل لپاره يې دا موضوع مطرح کړه، چې هغه يې افرادو لپاره يوازيني حق تعريف کړ.(۱۴:٦)

ځينې نور بيا دا مفهوم افرادو د حق لپاره دازادۍ څخه د ګټې اخيستنې او دا چې د خپل ځان په هکله کوم ډول معلومات او څرنګه معلومات نورو ته څرګند کړي، تړاو لري. وستين ګټور تعريف د خصوصي حريم لپاره وړاندې کوي او خصوصي حريم د وګړو، ډلو او مؤسساتو لپاره داسې حق ګڼي، چې ترکومه بريده او څه وخت معلومات او اطلاعات نورو ته ولېږدول شي، تعريفوي. (۱۱:۱۳۰)

ځينې نور بيا دا حق د شخصي معلوماتو پر برسېره کېدو باندې د څارنې حق ګڼي او ځينې نور هغه د ژوند د ځينو رښتياوو د پټولو حق ګڼي مګر په انګلستان کې يوې کمېټې د کلکوت په نوم يو تعريف د قانوني تعريف ترسر ليک لاندې ومانه. ( د وګړو او د هغوی دکورنۍ د ژوند په چارو کې د هغوی له اجازې پرته ننوتلو په مقابل کې د وګړو د ملاتړ حق يادوي، چې نېغ په نېغه د فزيکي سامانونو پر مټ اويا د اطلاعاتو په خپرولو سره سر ته رسېږي).

هلن نيس بام (Helln nisbum ) دخصوصي حريم پرځای د خلوت حق کارولی دی هغه وايي: چې د خلکو د خلوت حق متضمن يو خوندي او امن ځای دی، چې وګړي کولی شي هلته د خپلو شخصي کارونو په هکله دقيقه او باريکه څېړنه وکړي .

جان لاک (Johan Lock(1632,1704 ) انګليسي فيلسوف پـه دې عقيـده دی، چـې هر انسان خپل ځان ته يوه ځانګړې سيمه لري او له خپل ځان پرته بل هيڅو ک حق نه لري چې د سيمې ته ننوځي. په يو بل تعريف کې راغلي، چـې خصـوصي حـريم هغه سيمه ده، چې د يو ټاکلي وګړي له چارو، فکرونو او کړنو څخه عبـارت ده چـې تر اوسه شخص نه دی ښودلی او دې کار ته يي خوښه هم نه ده، ځکه چې دا يــې د رازونو خزانه او د رازونو ځانګړی حريم دی.

د کوزان حقوقي فرهنګ خصوصي حريم د هغې پولې پـه شـان دی، چـې لـه هغـې لارې معلومات او اطلاعات د هغه چا څخه چې خاوند يې دی بل چا سره چـې هغـه سره کومه اړيکه نه پيداکوي، شريکول دي. د خصوصي حريم مفهـوم د ټولنپـوهنې او انسان پوهنې سره ډېرې ژورې اړيکې لري.

خصوصي حريم د خصوصي زاويې له مفهوم څخه د انسـان پـه فـردي ژونـد بانـدې دتېري نه منلو ته اشاره ده، خصوصي حريم يو بدلېدونکی مفهوم دی، چې نـن ورځ د وجدان او فکر ازادۍ په خپل جسم باندې کنټرول، د غونډېدو او يوازيتوب حق او په خپلو شخصي ـ معلومـاتو کنټـرول او د نـورو د کتنـې او لټـونې څخـه د خلاصـون موضوعاتو څخه دی، خصوصي حريم له پخوا څخه تر اوسه کوم ځانګړی تعريـف نه لري. پوهانو او لويو متفکرينو په دې باره کې بېلا بېل نظريات وړاندې کـړي دي. (۱۱:۳)

آرتورميلر د خصوصي حريم تعريف ستونزمن ګڼي ځکه د خصوصي حريم مفهـوم ډېر پېچلی او شک کوونکی دی، او تـام ګـري پـه دې عقيـده دی، چـې خصـوصي حريم د حقوقپوهانو لپاره له هرڅه څخه ډېر د بېلابېلو ظرفيتونو لرونکـی او بيـل دی. نن ورځ ډول ډول نظريې د خصوصي حريم د پيژندنې په هکله شته.

۱ـ د حقوقو ځینې پوهان د نیوکو او شکایت لرونکو نظریو له مخې خصوصي حریم تر مطالعې لاندې نیسي، د دې کسانو ادعا په دې توګه ده، چې د خصوصي حریم لپاره یو ځانګړی حق نه دی پېژندل شوی، دوی وایي، چې خصوصي حریم کومه ځانګړې موضوع او مطلب نه رامنځته کوي. دوی په دې عقیده دي، چې هر خصوصي کار چې د ځانګړي حریم په خبره کې د پام وړ وګرځي کولی شو، چې په نورو حقوقو کې لکه د مالکیت حق، د امنیت حق ..... د ملاتړ لاندې راځي، دې ډلې حقوقپوهانو ته د تحویلوونکو ډله وایي. د دې نظریې پلویان په فرانسه، آلمان او نورو هغو هېوادونو کې دي، چې د لیکل شوو حقوقو څخه پیروي کوي.

۲ـ بله ډله حقوقپوهانو د خصوصي حریم لپاره د یو جلا او مستقل مفهوم په توګه لکه د نورو ټولو حقونو مني، دا نظریه په هغو هېوادونو کې چې د کامن لا حقوقو څخه پیروي کوي، شته. د خصوصي حریم لپاره یې ډول ډول تعریفونه کړي دي، کولی شو، چې په لاندې پنځو برخو یې وویشو:

۱ـ له انساني شخصیت څخه د ملاتړ حق.

۲ـ د یوازیتوب او خلوت لرلو حق.

۳ـ د نورو له لاسرسي څخه د مصؤنیت حق.

۴ـ له نورو څخه د ځینو چارو د پټولو حق.

۵ـ د شخصي رازونو د کنټرول حق.

خصوصي حریم د هر شخص د ژوند قلمرو دی، چې هر شخص غواړي پرته د هغه له اجاز نوموړې سیمې ته لاړ نشي او یا یې معلوماتو ته لاسرسی پیدا نه کړي. لکه داوسېدو ځایونه، کورونه، د اشخاصو بدن، د اشخاصو راز او نورې خصوصي اړیکې

د خصوصي حريم پورې اړوند مهمو موضوعګانو څخه ګڼل کېږي. د تکنالوژۍ په پرمختګ او د انټرنیټ په راتګ سره د مجازي فضاء لپاره يې نوې زمينه برابره کړه، چې خصوصي حريم يې د نويو اندېښنو سره مخامخ کړ او په دې برخه کې کولی شو چې په اسانۍ سره د اواز ثبت اوپه ډېر حجم سره معلومات او اطلاعات ترلاسه او په آسانۍ سره يې خپاره کړو. (۱۲:۳)

له خصوصي حريم څخه د ملاتړ موخه د شخصي ازادۍ، د وګړو له عزت او درنښت څخه دفاع ده او هڅه داده، چې د خلکو د خصوصي ژوند په هکله معلومات، د انسانانو ازادۍ او خپلواکۍ او په هغوی باندې د واک پيداکول او يا له دې وسايلو څخه د ناوړه کار اخيستنې په وسايلو وانه وړي .(۲۲:۱۳)

اطلاعات یا شخصي رازونه په اصولي ډول هغه معلومات دي، چې وګړي هغه خپله نا تواني ګڼي، که چېرې داحريم تر ملاتړ لاندې را نه شي، دا به د دې سبب شي، چې کوم وګړي، چې دې ډول رازونو ته لاسرسی ولري، نو د دې په افشاء کولو سره به د هغه شخص چې رازونه يې خپربږي عزت او درنښت د تاوان سره مخامخ، وبه رټل شي او رسوا کوونکي وګړي به په نوموړي وګړي د خپلو شخصي- غوښتنو په منلو سره ترې ناوړه ګټه واخلي.

خصوصي حريم حق د وګړي د درناوي د بشپړتيا او ودې لپاره زمينه برابروي، ترڅو انسانان له اروايي فشار څخه ووځي او وګړي وکولی شي په خلوت سره پرته له هيڅ ډول څارنې او عذر څخه په فکري امنيت سره ژوند وکړي. دا حق د دې حديث مصداق دی(قال عمر ابن الخطاب رضي الله عنه حاسبوا أنفسكم قبل أن تحاسبوا وزنوا أنفسكم قبل توزنو). (۱: ۴جلد، ٦٣٨ )

له شخصي رازونو او معلوماتو څخه د ملاتړ موضوع په مجازي فضاء کې د نني عصري فنونو سره سم د ۱۹۷۰ م پيړۍ له نيمايي وروسته د پام وړ وګرځېده. د خلکو

له ژوند څخه د ملاتړ موضوع، د کمپيوټري او عصري تکنالوژۍ د تاوانونو په مقابل کې، د نړيوالې اطلاعاتې رسنيو د سترو ستونزو څخه ګڼل کېږي.

کمپيوټري او مخابراتي شبکې د خلکو د خصوصي ژوند ډېر ځانګړي معلومات را ټولوي او په ډېرې اسانۍ سره د هغو د خپرولو لپاره زمينه برابروي او خلک دې رازونو او معلوماتو ته په اسانې سره لاسرسی پيداکوي، په ډول ډول بڼو ورڅخه ناوړه ګټه اخلي او جرمونه کوي.

په ۱٦۳۱م کال کې يو انګليسي قاضي د هغه چا د نيونې حکم ورکړ، چې د خلکو کورونو ته يې کتل او غوږ يې نيولي و د لومړي ځل لپاره د خصوصي حريم نظريه او د هغې نقض په پام کې ونيول شو. (۱٦٦:۱۰)

په ۱۹۵۵م کال د وين کنګره د نړيوالو حقوق پوهانو د لوی کمېسيون تر سرليک لاندې جوړه شوه. د خصوصي چارو د پټوالي موضوع يې د پام وړ وګرځېده، په دې کنګره کې د خلکو دخصوصي ژوند مقدسات، د ليکنو رازونه او د کورونو مصؤنيت تضمين شو. د ادوارد بلوستين د نظر له مخې د خصوصي حريم نقض يو له رټلو چارو څخه ګڼل کېږي، چې د بشري شرافت پرضد دی، هغه په دې عقيده لري، چې د خلکو په خصوصي ژوند کې ننوتل، وګړنيز درناوی او دوګړو د درناوي له منځه وړلو لامل ګرځي. (۲۳:٦)

د بلوستين په وينا هغه انسان چې د ژوند ټولې شيبې د نورو سره په تعامل کې تېروي مجبوروي، چې ټولې اړتياوې، نظريې او خوښې د خلکو د نظر تابع کړي، داسې موجود سره د دې چې د شعور او درک خاوند دی، مګر بياهم وګړی نه ګڼل کېږي.

نو په دې توګه د خصوصي حريم د اهميت په هکله همدومره بس دی، چې په خصوصې سيمه کې شته وګړي کولی شي خپل شخصي- کار وکړي، د خصوصي حريم نه پېژندنه د انسان لپاره د شخص د له منځه وړلو په معنی دی. ځکه په دې

توګه يې وجدان خپل کار له لاسه ورکړي، د خصوصي حريم له منځه تلل د هغه ګوډی په شان دی، چې ماشومان پرې لوبې کوي، يوازې شکل يې د انسان دی، نور څه نه دی.

که څه هم د اسلام سپيڅلي دين کې د خصوصي حريم تعبير په څرګندو ايتونو او اسلامي رواياتو کې نه دی راغلی. مګر د اسلامي حقوقو په سرچينو کې څېړنو ښودلې ده، چې له خصوصی حريم څخه د ملاتړ تاريخي مخينه يې د نورو ټولو حقوقي نظامونو په نسبت ډېر مخکينی ده، د کورونو خصوصي حريم، خصوصي اړيکې او نورې خصوصې چارې د اسلام د ملا تړ وړ ګرځېدلې دي، په داسې حال کې چې د لومړنی ملاتړ بېلګه يې په لويديځ کې د ۱۷مې ا و ۱۸ م پېړی سره تړلې ده. (۱۳۳:۷)

په اسلام کې له خصوصي حريم څخه د ملاتړ د ډېرې تاريخي مخينې څخه برخمن دی، په قرانکريم، درسول الله صلی الله عليه وسلم په سنتو او د اصحابو کرامو په کړنو کې له خصوصي حريم څخه د ملاتړ ډېری بېلګې شته، چې د خصوصي حريم په اهميت او درنښت باندې دلالت کوي، چې د خلکو له خصوصي حريم سره تړاو لري. (۳۷:۸)

داسلام د مبارک دين ډېر ټينګار په دې دی، چې ترڅو د خلکو خصوصي حريم ته درناوی وشي، مګر په يو ځانګړي شکل خصوصي حريم ته اشاره نه ده شوې. بلکې احاله شوی په نورو حقوقو لکه د مالکيت د لټونې بندول، د برائت د ذمې اصل د بد ګومانی بندول، د خلکو د رازونو نه خپرول او داسې نور. دلته يې څو بېلګې ګورو.

۱. د نورو په هکله د پلټنې او تفتيش بندول: الله تعالی جل جلاله د سورت حجرات په ۱۲مه ګڼه آيت کې فرمايي: (يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيراً مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ

الظَّنِّ إِثْمٌ وَلَا تَجَسَّسُوا وَلَا يَغْتَبْ بَعْضُكُمْ بَعْضًا أَيُحِبُّ أَحَدُكُمْ أَنْ يَأْكُلَ لَحْمَ أَخِيهِ مَيْتًا فَكَرِهْتُمُوهُ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ تَوَّابٌ رَحِيمٌ (١٢) . ( د حجرات سورت ، آيت:١٢)

**ژباړه:** ای مومنانو، له ډېرو گومانونو کولو نه ډډه وکړئ، چې ځینې گومانونه گناه وي، دچا پټ عیبونه مه لټوئ او له تاسې نه دې څوك د چا غیبت نه کوي. ایا په تاسې کې داسې څوك شته چې د خپل مړ ورور غوښې خوړل یې خوښېږي؟ گورئ تاسې پخپله د دې څخه کرکه کوئ. له الله تعالی جل جلاله څخه وویرېږئ، الله ډېر ښه توبه منونکی او خورا مهربان دی .(۲: کشاف تفسیر م ۸۱)

۲ــ :په حدیث شریف کې راغلي: (قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنِّي لَمْ أُومَرْ أَنْ أَنْقُبَ عَنْ قُلُوبِ النَّاسِ وَلَا أَشُقَّ بُطُونَهُمْ. ).(۲: ج۱۳م۲۴۸)

**ژباړه :** ای هغه کسانو چې په ژبه مو اسلام راوړی او ایمان مو لا زړونو ته نه دی ښکته شوی تاسو د هغوی د عیبونو په لټه کې یاستې، هر هغه څوک چې د نورو عیبونو پسې گرځي، رسوا کیږي سره د دې چې دوی په خپل کور کې وي.

په اسلامي روایتونو او تفسیرونو کې راځي چې د یو چا د خصوصي او شخصي- مسایلو او کارونو رسوا کول د هغه د خاوند په اجازه هم روا نه ده.(۴:۷۷)

صاحب جواهر دیو عادل انسان په ځانگړونو کې یو تعبیر کار وي، عادل یعنې هغه څوک چې خپل عیبونه او تېروتنې داسې پټوي، ترڅو نور مسلمانان ونه شي کولی په هغې خبرتیا تر لاسه کړي، که چېرې له هغه څخه کومه تېروتنه کیږي، په هغه باندې واجب ده، ترڅو هغه له نورو څخه پټه کړي، ځکه د بد لمنیو خپرول بند دي، ستر او د عورت پټول واجب دي.(۱۴:۲۹۸)

د اسلامي تعلیماتو له مخې هیڅوک نشي کولای، چې د گاونډي له اجازې پرته د هغه کور ته ننوځي یا د هغه د ملکیت خوا ته کړکۍ ببرته کړي په دې وخت کې

ګاونډي کولای شي، چې د شخص دا ډول کار بند کړي او د هغه کتل هم بند کړي د اسلام په مبارک دين کې د کور حريم، خبرې کول، اړيکې او شخصي-رازونه په مبارکو احاديثو او معتبرو روايتونو کې ترې ملاتړ شوی، له پلټنې او خپرولو يې بند کړي دي. هغه رازونه چې اشخاص له هغې ملاتړ کوي او نه غواړي، چې هغه خپاره کړي تر هغه پورې ترڅو، چې د نورو په حقوقو باندې تېری ونه شي.

## دوهم مبحث: د خصوصي حريم ډولونه

خصوصي حريم ډول ډول خواوې لري، چې دغه خواوې کولای شو په څو برخو ووېشو او د همدې برخو له مخې يې تشريح کړو.

۱ـ ارتباطي (اړيکوي) خصوصي حريم (Communication privacy ).

۲ـ جسماني خصوصي حريم (Bodily privacy).

۳ـ د شخصي اطلاعاتوخصوصي حريم (Information privacy ).

۴ـ د کورونو او اوسېدو ځايونو خصوصي حريم (Territorial privacy).

### لومړی مطلب: ارتباطي(اړيکوي) خصوصي حريم

د اړيکو خصوصي حريم د وګړو په محرمانه شکل امنيت کې د پاتې کېدو حق او د نورو ليکنو او مخابراتو شکلونه او ډولونه پکې راځي، دا خصوصي حريم د مخينې له مخې د مخابراتي ډاګ د رامنځته کېدو سره سم رامنځته شوی او د خصوصي اطلاعاتو سره يې سم پرمختګ کړی. البته نن ورځ دا حق د ليکنو د نوي کېدو سره لکه د الکترونيکي ډاګ او تيلفونونو له مخې ليکنو سره نوې بڼه خپله کړې ده او په څوګوني تو ګه يې پراختيا پيداکړې. د دې مبحثونو له ډلې څخه يوه ښه موضوع دا ده، چې سربېره پر دې چې د خلکو ليکنې او د ډاګ بنډلي له پلټنې او څارنې څخه په امن وي د تيلفوني خبرو اترو، له اورېدو څخه مصؤنيت او د تيلفون د حساب

ضبطول، د ليکنو او د يو ډيجيټلي شبکې په د اخل کې امنيت او مصؤنيت همدارنګه د يو شخص نوم او د تيلفون د ګڼې درج کول يا نه درج کول د هغه اړوند اکاونټ کې او يا نه غوښتل شوی، تيلفوني اړيکې يا ايميلونه کوم چې ستونزه پيدا کوي.

داړيکو خصوصي حريم په دريو ځايونو کې د تاوان او ربلو سبب ګرځي.

۱ـ د ډاګي ليکنو بېرته کول او د هغې پلټنه کول.

۲ ـ د تيلفوني خبرو اترو اورېدل او يا د هغې مخه نيول.

۳ ـ کمپيوټري او انټرنيټي معلوماتو او نظرياتو ته لاسرسی.(۲۸۷:۳)

## ۱ ـ د ډاګي ليکنو بېرته کول

د ډاګي ليکنو د پلټنې او څارنې لاملونه ډېر دي له هغې څخه دا دي چې د تروريستي بريدونو د مخنيوي او يا د بد لمنې لپاره د سوداګرۍ په برخه کې هېوادونه انديښنې لري او په دې بهانه د خلکو ليکنې تر څارنې او پلټنې لاندې نيسي. د ايران د اسلامي مجازاتو قانون او دې کې د ډاګ د شرکت د جوړېدو قانون د هغه څخه ملاتړ ته ګوته نيسي او هغه يې د خلکو خصوصي حريم ګڼلي دی. سره د دې چې زموږ په هېواد کې ډاګ د دولت په واک کې دی په دې برخه کې ټولې موضوعګانې دولت پورې تړلې دي ، اصلې مسؤليت د دولت دی، ترڅو د خلکو له ليکنو څخه ملاتړ وکړي، د ډاګ د شرکت د تشکيل قانون په ۱۶ماده کې راغلي دي ( هر يو د شرکت کارکوونکو يا استخدام شوو يا د دولت مامورينو يا هر هغه شخص چې په هره طريقه د مرستې يا خدمت کولو لپاره را بلل شوي يا د هغوی د فعاليتونو دوام باندې موافقه شوې وي، د اشخاصو مراسلات پرته له هغه مواردو څخه، چې قانون د هغه د خلاصولو اجازه ورکړې وي، خلاصه کړي يا يې وڅيري يا بند او يا ورک کړي او يا هم د هغه مطالب او درج شوي شيان پرته د خاوند له اجازې هغه

افشاء يا ښکاره کړي، علاوه د مدني مسؤليت څخه چې د خاوند په مقابل کې يې لري، نظر د سرغړونکي د شرايطو، امکاناتو او د جرم د ارتکاب تکرار ته د اسلامي مجازاتو قانون د (٦۴٨) مادې د احکامو مطابق په جزأ محکومېږي.

په هر ډول غوره ده، چې د وګړو خصوصي حريم او عامه ګټې په پام کې ونيول شي د ډاګ د بېرته کولو يا د څېړنو په تور کوم وګړي چې د ملي امنيت پر خلاف کار کړی، لومړی بايد د قضايي ادارو له خوا پرېکړه ورته وويل شي، وروسته د خبرېدو څخه بيا د ليکنو پلټنه او څېړنه ترسره کېږي. که چېرې په دې برخه کې د قضايي ادارو اجازه نه وي، د وګړو د خصوصي حريم نقض را منځته کېږي.

## ۲ـ د تيلفونونو د ليکو بندول او د راډيويي څپو اورېدل

د تکنالوژۍ پرمختګ د دې لامل شوی، ترڅو د خلکو د تيلفوني اړيکو مخنيوی او يا د ټولو راډيويي وسايلو لپاره غوږنيونه او اورېدل امکان ولري او د تيليفوني خبرو اترو لپاره پرته د هر ډول خنډ غوږ ونيول شي او اړيکې هم له دې ډول ګواښ څخه په امان کې نه دي پاتې، ځکه هره شېبه شبکې د لېږونکي او اخيستونکي په توګه د اطلاعاتو د تبادلې په حال کې وي، په اسانۍ سره کولی شو، چې د لېږونکي او اخيستونکي ترمنځ د بل اخيستونکي په اېښودلو سره اطلاعات او معلومات واورو. په دې برخه کې د خصوصي حريم په هکله انديښنې ورځ تر بله په ډېرېدو دي.

مقنن د جزايي چارو د قانون په (۱۰۴) ماده کې د يو اصل په سرليک داسې وايي (د خلکو د تيلفون کنټرول پرته د هغو چارو چې د هېواد امنيت پورې تړلي يا د قاضي د نظر له مخې د خلکو د حقونو د ورکولو لپاره اړين شي بند دی، لکه څنګه چې د تورن اړوند د جرم د کشف لپاره د غږيزو يا انځوريزو ليکنو او مخابراتو پلټنه او څېړنه تر سره کېږي). قاضي اړوندو ځايونو ته خبر ورکوي، ترڅو پورته نومول شوي شيان تر لاسه کړي او هغه ته يې راولېږي(۳:۳۰۳).

د ایران د اسلامي مجازاتو قانون (۵۸۲) ماده دولتي مامورينو ته په وینا کې داسې وايي: (هر يو له استخدام شوو يا د دولتي مامورينو څخه د وګړو ليکنې، مخابرات او يا تيلفوني خبرې اترې پرته له هغه چارو، چې قانون اجازه ورکړې يا د هغه د مالک له اجازې پرته د هغه مطالب خپاره کړي، په بند چې له يو کال څخه تر دريو کلو پورې او يا نغدي جزا له ٦ څخه تر ١٨ ميلونه رياله محکوميږي). د دې مادې ګته د دې تايېدونکې ده، چې د دې مادې حکم يوازې په هغه وخت کې د تطبيق وړ دی چې د دې مادې له موضوعګانو څخه سرغړونکي رسمي استخدام شوي وګړي او يا دولتي مامورين وي که داسې نه وي، نو څرګنده ده، چې پورتنی حکم ځانګړی تر دولتي مامورينو او رسمي استخدام شويو وګړو پورې دی. (۲۹۲:۷)

د اسلامي مجازاتو د قانون د سايبري جرمونو په برخه کې راغلي، چې که هر څا په قصدي توګه له قانوني جواز پرته غير عمومي نظريې او معلومات د يو خصوصي اړيکې په توګه د لېږد په حال کې په يو يا څو سايبري سيستمونو سره يا د الکترونيکي مقناطيسي څپو سره واوري او يا يې ترلاسه کړي ، په بند چې د يو نوي ورځو څخه تر يو کال پورې او يا د نغدي سزا چې له يو ميليون څخه ترشپږ ميليونو ريال باندې محکوميږي.

### ۳ـ د سايبري نظريو يا معلوماتو د مخنيوي او انټرنيټي اړيکې

د تکنالوژۍ او عصري سايبري وسايلو په رامنځته کېدو سره د ساير په هکله ډېرې انديښنې شته، ځکه شخصي معلوماتو او نظريې د لېږد په حال کې او يا ساتل شوي معلومات او نظريې په يو ډول نه يو ډول د نورو خلکو په لاسرسي کې وي له دې معلوماتو او نظريو څخه ملاتړ له نورو ټولو څخه لومړی د هغه مؤسساتو له خوا بايد په پام کې ونيول شي، چې انټرنيټي چوپړتياوې وړاندې کوي، په اصولي توګه درې

دوله شخصي اطلاعات ممکن د سایبري یا کمپیوټري او انټرنیټي اړیکو کاروونکو له خوا لېږد یا جمع کړل شي.

۱ ـ هغه معلومات چې د شرکت په واک کې دي هغه وخت سم وي، چې نورو سره د شریکولو غوښتنه یې کېږي لکه په نوم، پته او یا نورو نښو سره.

۲ ـ هغه اطلاعات او معلومات چې د نورو سره د اړیکو د ټینګولو په وخت کې په غږیزو او یا انځوري ډول لېږدول کېږي.

۳ ـ هغه اطلاعات او معلومات چې د اړیکو نیولو په وخت کې د هیک له مخې رامنځته کېږي لکه د هماغه شمېرې په څېر، چې اړیکه ورسره نیول شوې وي.

اروپایي ټړون له پورته یادو شوو معلوماتو څخه په 2002/56/EC شمېره کړنلاره کې ملاتړ کړی، د کړنلارې د(۵) مادې لومړي بند کې داسې راغلي دي: ( هغه هېوادونه چې د عمومي اړیکو له لارې، د عمومي مخابراتي چوپړتیاوو له لارې، د خلکو پټې اړیکې او دې ته ورته اړیکې د داخلي قانون د جوړولو له مخې تضمینوي. دا هېوادونه باید داورېدو، غوړنیونې غوښتنه او یا نورې اړیکې او معلومات، چې د دریم شخص پرته د کاروونکي د اجازې بندول اعلان کړي، نو په هغو چارو کې چې په قانوني توګه د(۵) مادې د لومړي بند سره سم دا ډول واک لرونکي وي.

د ایران په حقوقو کې تر ۱۳۸۱ ل کال پورې د انټرنیټي چارو د تنظیم لپاره کوم ځانګړي قانون او مقررات نه وو، خو په ۱۳۸۱ ل کال کې د فرهنګي انقلابي شورا د اطلاع رسونې شبکو لپاره ځینې مقررې ومنل شوې، چې د لاندې دریو برخو څخه عبارت دي.

۱ـ د نړیوالو اړیکو د قانوني جواز اخیستنې څرنګوالي قانون.

۲ ـ د اطلاع رسونې د چوپړتیاو وړاندې کولو د واحدونو قانون.

۳ـ د انټرنيټي چوپړتياوو د دفترونو قانون.

په هغه قانون کې چې د فرهنگي انقلاب د شورا له خوا منل شوی و د گټه اخيستوونکو خصوصي حريم ته پکې گوته نه وه نيول شوې. بلکې ټول پام يې دېته وو، چې دولت څنگه وکولای شي د انټرنيټ کارکوونکو چارو ته لاسرسی پيدا اوخپل لاسرسی څرگند کړي. په ډېرو وختونو کې دې قانون دولت ته د دې اجازه ورکړې، ترڅو د خلکو معلوماتي او اطلاعاتي بانک ته لاسرسی پيداکړي او نړيوالو اړيکو جوړونکي يې مؤظف کړي، ترڅو تشريفاتو ته په پام سره د انټرنيټ د کارونکو د چارو بانک ته د وزارت لاسرسی پيداکړي، ترڅو د ملي امنيت د عالي شورا د تصويب او ضوابطو له مخې د قاضي د حکم له مخې د وزارت د غوښتنو په ترخ کې د وزارت په واک کې ورکړي.

**دوهم مطلب:جسماني خصوصي حريم**

د انسان مالکيت په خپل جسم باندې هغه مالکيت دی چې د الله تعالی جل جلاله له لوري انسان ته ورکړل شوی دی، هرڅوک د خپل ځان په نسبت بشپړ واک لري دا تر ټولو لومړني او د وگړو پخواني حقونه دي، نو په دې توگه هر ډول بدني پلټنه، څېړنه، زور زياتی او نور جسمي او روحي تاوان رسول يا طبي کتنې او هغه ته ورته نورې کړنې منع گڼل شوي دي، مگر ځينې برخې د دې چارو د قانون له مخې روا گڼل شوي دي، دا اصل يا اصول د انسا ن بنسټيز حقونه گڼل شوي، چې کولای شو څو ځايونو ته يې په لاندې توگه گوته نيسو.

۱ـ له پلټنې اوڅېړنې څخه د مصؤنيت حق.

۲ـ د بدن د داخلي غړو له څېړنې او پلټنې څخه د مخنيوي حق.

۳ـ د هر ډول جسماني تاوان له رسولو څخه د مخنيوي حق.

۴ـ د هر دول خپلسرۍ او ناقانوني نيونې څخه د مخنيوي حق.

۵ـ له هر دول زبيښاک او په زوره ګټې اخيستنې څخه د مخنيوي حق.

د دې لپاره چې پورتني حقونه له هر دول تېري څخه په امن کې پاتې شي يو دول قواعدو ته اړتيا لري، چې دا قواعد کولای شو، په نورو حقونو کې لکه د تېري په مقابل کې د عدالت غوښتنې حق، د عادلانه محاکمې څخه د برخمن کېدو حق، د جرايمو او جزاګانو د قانونيت اصل، ماقبل ته د قوانينو عدم رجعت اصل، د محاکمې د څرګند والي اصل، د تور له تفهيم پرته د نيونې د منع والي اصل او د محاکمو د رايو د مستدلل والي او مستندوالي په اصولو کې ولټوو.

چې د لومړي ځل لپاره په ۱۷۸۹م کال کې د فرانسې د لوی انقلاب د بشر د حقونو په اعلاميه کې ورته اشاره وشوه او د اسلامي کنفرانس د بشر د حقونو د اعلاميې په ۱۸، ۱۹، ۲۰، ۲۱ مادو کې خصوصي حريم ته ګوته نيول شوې ده، چې جسماني حريم، داشخاصو د يو له مهمو او اساسي حقونو له ډلې څخه وو چې زموږ په هېواد کې هم د نړيوالو معاهداتو د انعقاد په وخت کې د پام وړګڼل شوی دی.

**دريم مطلب: شخصي اطلاعاتي حريم**

يو له مهمو بحثونو چې د خصوصي حريم په هکله دوام لري په دې برخه کې دی چې په دې وروستيو کلونو کې نظر له تکنالوژۍ پرمختګ او د مجازي فضاء پراخوالي ته د مقنن دپام وړ ګرځيدلی دی.

دا حوزه چې د خصوصي حريم د مباحثو پورې تړلې ده، ځينو حقوقي نظامونو له فکري ملکيتونو څخه د ملاتړ تر سر ليک لاندې، څېړنې لاندې نيسي، چې شامل د ټولو هغو حاکمو قواعدو دی چې د وګړو له خوا د ذخيره شويو او راټولو شويو اطلاعاتو او نظريو پورې مربوط کېږي. دلته د ذخيره شويو او راټول شوو څخه

منظور هر ډول لاسته راوړل، ساتل، منظم کول، ذخيره کول، هک او سمول ځای پرځای کول، کارول، استعمالول، لېږدول، خپرول او نورې ورته چارې د نظريو او معلوماتو په هکله د فنونو پيدايښت د دې لامل شوی، ترڅو پورتني کارونه اسانه او دود کړي، نو د همدې امله نن ورځ ټولنه مخکې له مخکې د دې وسايلو له مخې دوګړو له خصوصي اطلاعاتو څخه د ناوړه کار اخيستنې په هکله په تشويش کې ده. د اخطر او ګواښ د موضوع د مهموالي او د شخص د بشپړې ازادۍ پورې اړه لري. نو د همدې امله د شخص پېژندنه په نړيوالو اسنادو کې د ملاتړ وړ ګڼل شوې ، چې د دې اسنادو څخه ترټولو مهم سند کولای شو چې داروپايي شورا په کړنلاره کې له شخصي نظريو څخه د ملاتړ په نوم يادونه وکړو. په لومړۍ ماده کې د دې کړنلارې دهغې موخې د حقيقي وګړو دازاديو څخه ملاتړ چې د بنسټيزو حقونو څخه ګڼل کېږي په ځانګړي ډول د خصوصي حريم حق دی، شخصي اطلاعات کولای شو چې هر ډول اطلاعات چې د يو وګړي يا د يو ټاکلي شخص د پېژندنې په هکله وي، وګڼو. د اطلاعاتي خصوصي حريم د وګړي اړوند د اطلاعاتو ټولولو، کار اخيستنه او د هغې خپرول دي، همدارنګه د شخصي اطلاعاتي حريم حق، د شخصي- اطلاعاتو په رسوا کولو او لاسرسي باندې د څارنې حق ته هم شامل دي، پرته د وګړي د پوهې او اجازې د حساسو اطلاعاتو راټولول کېدای شي د توان او منصب د خاوندانو په لاس کې د شته وسلې په شان وي.

**څلورم مطلب: د اوسېدود ځای او د کورونو خصوصي حريم**

کور يا د وګړي د اوسېدو ځای يو له هغو ځايونو څخه ګڼل کېږي، چې وګړی په کې کولی شي دمه وکړي او آرام واوسي دا هم له هغو چارو څخه دی، چې د ملاتړ وړ او د وګړي خصوصي حريم ګنل کېږي. د تکنالوژۍ او فنونو په پرمختګ سره د انسان د دمې او يوځای والي ځای له تاوان سره مخامخ کېږي، د اوسيدود ځای

درلودل او له هغې څخه د ګټې اخیستنې موضوع د انسان له لومړنیو حقونوڅخه ګڼل کېږي، چې د پورته حقونو ایسته کول ان د قانون په تصویب سره په اسانۍ سره شوني نه دي. وګړی د اوسیدو د ځای په ټاکلو کې بشپړ واک لري ، ځینی ځایونه سره د دې چې داوسیدو نه دي مګر خصوصي ځای ګڼل کېږي او د نورو خلکو ننوتل هلته پرته د مالک له اجازې جواز نه لري. کور هغه ځای دی چې د کورنۍ ژوند قانوني ملاتړ له ځان سره لري، د ازادۍ د حق اصل، د اوسیدو دځای د لرلو او له هغې څخه د ګټې اخیستلو او په هغې باندې د هر ډول تیري څخه دمصؤنیت حق، البته په دې هکله استثناء هم شته . په ډېرو حقوقي نظامونو کې په اصولي ډول د ښځې د اوسیدو د ځای ټاکل د میړه له خوا ترسره کېږي. (۹۵:۵)

سره د دې چې د اتباعو د اوسېدو د ځای او کورونو د پلټنې او څېړنې د منع حق شته خو بیا هم په ځینو وختونو کې قانون د ځینو ملحوظاتو په اساس دا حق محدود کړی د کورونو او اوسېدو د ځای خصوصي حریم محدودول په ځینو وختونو او احوالو کې اړین دي، عمومي قاعده د دې حق په هکله داسې ده، چې هیڅوک نه شي کولی د مالک یا د هغه قانوني تصرف کوونکي له اجازې پرته د هغه د اوسېدوځای یا کور ته ننوځي؛ مګر د قانون په موجب، که چېرې یو چا د خپل کار محل د خلوت او اوسېدو له پاره جوړ کړی وي او بل شخص پرته له اجازې یا قانوني مجوز څخه ورننوځي د خصوصي حریم نقض ګڼل کېږي، که څوک پرته له دې، چې د چا کور یا د اوسېدو ځای ته ننوځي په پټه د هغه په خصوصي چارو کې داوریدلو یا لیدلو د وسایلو څخه په کار اخیستنې سره یا پرته له هغې په طبیعي ډول د لیدو له مخې مداخله وکړي، د خصوصي حریم نقض ګڼل کېږي.(۶۸۶:۱۲)

که چېرې له چا څخه د کور په انګړ یا روغتون کې انځور اخیستل کېږي، انځور اخیستوونکی د خصوصي حریم د نقض مسؤل ګڼل کېږي دا کار د خصوصي

رازونو د رسوا کولو په موضوع کې ډېر د بحث وړ دی. ځکه دا یو له هغو چارو څخه دی، چې د کورونو او اوسېدو د ځای د خصوصي حريم د نقض جرم پرې ترسره کېږي، یوه امريکايي محکمه په دې هکله داسې وايي: (چې د اخيستل شويو انځورونو رسواکول د انځور د خاوند له اجازې پرته يې تر سره کړی وي یا په داسې وخت کې انځور اخيستل شوی وي، چې شخص په روغتون کې و، چې دا د خصوصي حريم د ماتېدو ستونزمن شکل دی. چې دا کارونه په دې وروستيو کلونو کې زموږ په هېواد کې ډېر شوي او په ډېرو چارو کې دا کار د پټ انځور اخيستنې او يا له مخابراتي وسايلو څخه په کار اخيستنې سره په ځانګړو اوسېدو ځايونو، يا د هوټلونو په کوټو کې کله چې هلته وي ، رامنځته شوی. چې دا جرم په يو ډول د اطلاعاتي خصوصي حريم نقض ګڼل کېږي. په ۱۳۸۴ هـ ش کال کې يولس واحده ډلې په تهران کې او اته واحده په نورو ښارونو کې د دوربينونو او نا پېژاندو کمرو څخه په کارولو د انتظامي کسانو له خوا ثبت شوی دی. په یوه بله قضيه کې د جامو خرڅولو په هټۍ کې چې د ايران هېواد په جنوب کې وو د شنل قرمزې يوه هټۍ د کمرو په نښليدو سره دډېرو اخيستونکو د درناوي د لمنځه تللو لامل شو. په ټوله کې د نورو خلکو په خصوصي ژوند کې د اړتيا له مخې نوتل نه بايد د شخصي اطلاعاتو په لاسته راوړلو سره وي، اوريدل يا کتل د خلکو ان که اوريدونکي ، کتوونکي يا انځور اخيستوونکي وګڼي هيڅ ډول معلومات هم ترلاسه کړی نه وي ، د شکايت او څېړنې وړ ګڼل کېږي.(۲۴۲:۳)

په قران کريم کې الله تعالی جل جلاله د اوسيدو ځای اود کورونو د مصؤنيت اوحرمت په اړه ګن شمير لارښوونې لري اسلام خپلو پيروانو ته د داسې خويونو روزنه ورکوي چې په انسان کې د شرم او حياء خويونه را زرغون کړي، د قران کريم په سورت النور کې الله تعالی جل جلاله د کور د مصؤنيت او خونديتوب په اړه پوره

روښتيا کړې چې الله تعالی جل جلاله يې په اړه فرمايي:( يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَدْخُلُوا بُيُوتًا غَيْرَ بُيُوتِكُمْ حَتَّى تَسْتَأْنِسُوا وَتُسَلِّمُوا عَلَى أَهْلِهَا ذَلِكُمْ خَيْرٌ لَكُمْ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ) (سورت النور، ايت: ۲۷).

**ژباړه:** ای مؤمنانو! له خپلو کورونو پرته د نورو کورونو ته تر هغه پورې مه ننوځئ، تر څو چې اجازه ترلاسه نه کړئ او چې په کورنۍ باندې سلام وانه چوئ دا کړنلاره ستاسې لپاره ډېره ښه ده، ښايي تاسې دې ته پاملرنه وکړئ(۹:۱۳۵).

**پایله**

د دې علمي څېړنې(خصوصي حريم او ډولونه يې ) په پای کې لاندې پايلو ته رسيږو:

۱-خصوصي حريم د انسان ژوند هغه برخه ده چې د انسان د ژوند مهم رازونه پکې شته او انسان نه غواړي چې نور خلک د هغه له رازونو خبر شي.

۲- د نورو انسانانو د خصوصي حريم نقض يو نا مشروع کار دی او هغوی ته د مادي او معنوي تاوان سبب کيږي.

۳- اسلامي شريعت د خصوصي حريم په ساتنه باندې ټينګار کوي.

۴- د هېوادونو په جزايي قوانينو کې د خصوصي حريم نقض د جرم په توګه پيژندلی او د مجازاتو وړ يې ګڼلی دی.

**مناقشه**

دا چې خصوصي حريم د انسانانو د ژوند يوه مهمه برخه ده او انسانان په دې برخه کې ګڼ رازونه لري او په هيڅ ډول نه غواړي چې د دې ډول رازونوڅخه دی د ټولنې نور خلک خبر شي ځکه چې دا ډو ل رازونه انساني ټولنه کې د انسانانو د ژوند مهمې چارې ګڼل کيږي که چيرې د انسانانو دا ډول رازونه رسوا شي له يوې خوا

ورته مادي تاوان رسيږي او له بلې خوا د معنوي تاوان سبب هم کېږي او په ټولنه کې ورته ژوند کول ستونزمن کېږي نو دلته د مناقشې او بحث موضوع دا ده چې د ټولنې خلک باید د نورو خصوصي حريم وپيژني او په اهميت او خونديتوب باندې يې پوه شي تر څو د نورو خصوصي حريم ته درناوی وکړي تر څو د ټولنې د وګړو د رازونو د رسوا کولو څخه ډډه وشي او د هغوی د ځورونې سبب نه شي د دې ترڅنګ د هېوادونو جزايي قوانين هم د ټولنې د وګړو د خصوصي حريم څخه ملاتړ وکړي او خصوصي حريم نقض کوونکو ته د درنو مجازاتو وړاندوېنه وکړي تر څو د ټولنې او وګړوڅخه ملاتړ وشي.

**پايله اخيستنه**

خصوصي حريم د ټولنيز ارزښت او يو قانوني حق په توګه په ټولو حقونو کې پراخ ځای لري چې د شخصي ازادۍ تر سرليک لاندې په خپل حال پاتې او د نورو د نه مداخلې د يو مهم مورد په توګه پېژندل شوی او د هغو اړيکو له امله چې دوګړو ترمنځ شته. خصوصي حريم پر معلوماتو د کنټرول د حق لرل هم په ګوته شوي دي. د خصوصي حريم اصول تاريخي مخينه لري، چې دعصري علومو او تکنالوژۍ په پرمختګ سره يې خپلې ودې او بشپړتيا ته پايښت ورکړی دی.

**وړانديزونه**

د دې ليکنې په پايله کې اړين بولم چې لاندې وړانديزونه وکړم:

۱ - دولت باید د ټولنې خلکو ته د خصوصي حريم په اهميت او د هغه د رسوا کيدو له کبله نورو ته د تاوان د رسيدلو په اړه عامه پوهاوی وکړي.

۲- د مسجدونو امامان او خطيبان باید د جمعې په ورځو په وعظ او نصيحت کې د خصوصي حريم نقض په دنياوي او اخروي عواقبو خلک پوه کړي.

۳- عدلي او قضايي ارگانونه هم بايد خصوصي حريم د نقض چارو په څېړلو کې ډېر غور ترسره کړي او نقض کوونکو ته يې سخته سزا ور کړي.

**اخځليکونه**


القران الكريم.

۱- سنن الترمذي، محمد بن عيسى- أبو عيسى- الترمذي السلمي الناشر : دار إحياء التراث العربي – بيروت ،تحقيق : أحمد محمد شاكر وآخرون.

۲- صحيح البخاري، محمد بن إسماعيل بن إبراهيم بن المغيرة البخاري، أبو عبد الله (المتوفى : ۲۵٦هـ) تم استيراده من نسخة .

۳- انصاري،باقر،(۱۳۸٦ هـ ش).حقوق حريم خصوصی،تهران ،انتشارات سمت،چاپ اول.

۴- اردبیلی،احمد،(ــــ). مجمع الفائده والابرهان،مؤسسه نشر اسلامی.

۵- امامی،سید حسن،(۱۳۷۴هـ ش).حقوق مدنی ،جلد اول،اسلامیه،چاپ هشتم.

٦- اصول حاکم بر حریم خصوصی ارتباطات ،(۱۳۸۱ هـ ش).ترجمه باقر انصاری ،ماهنامه،حقوقی معاونت حقوقی مجلس شماره۳.

۷- جلال فراهانی،امیرحسین،(۱۳۸۸هـ ش).حقوقی فناوری اطلاعات وارتباطات،معاونت حقوقی وتوسعه قضایی قوه قضایه،تهران،چاپ اول.

۸- طباطبایی، منوچهر، (۱۳۷۰هـ ش). ازادی های عمومی وحقوق بشر،دانشگاه تهران.

۹- عوده ،عبد القادر، (۱۳۸۴ هـ ش). داسلام جنایی تشریع او وضعي قوانین،مترجم عبدالهادي هدایت ،پېښور، پیغام نشراتي مرکز.

۱۰- کارل هارلو، (۱۳۸۳ هـ ش). شبه جرم،ترجمه کامبیز نورزی،تهران،چاپ اول،نشر میزان بهار.

۱۱- لوراستین ونیکل سینا «رسانه های نوین جهانی وسیاستگذاری ارتباطات»(نقش دولت در قرن ۲۱)، ترجمه لیدا کاووسی ،فصلنامه رسانه.

۱۲- قاضی، ابوالفضل،(۱۳۸۴ هـ ش). بایسته های حقوق اساسی، تهران،میزان.

۱۳- نخجوانی رضا، محمد علي نوري، (۱۳۸۳ هـ ش). حقوق حمایت از دادها، تهران، گنج دانش، چاپ اول.

۱۴- نجفی ،محمد حسن ،(۱۳٦۷ هـ ش).جواهر الکلام فی شرح شرایع السلام،جلد ۱۳، تهران، المکتبه السلامیه، چاپ ششم.

**عزیز الدین نجات**
بایزید روښان د لوړو زده‌کړو موسسه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، حقوقي علومو څانګه
لارښود استاد: پوهنمل دوکتور اظهار الحق عزیز

# د اسلامي فقهې او د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون له نظره د لیدلو خیار

**لنډیز**

د لیدلو خیار هغه حق دی، چې له مخې یې خاوند د معقود علیه په لیدلو سره کولای شي عقد فسخه او یا نافذ کړي.

د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقهې له نظره د لیدلو خیار په هغو عقدونو کې ثابتیږي، چې د فسخه کېدو وړ وي.

د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون، حنفي او حنبلي فقهې له نظره د خیار خاوند په مړینې سره خیار ساقطیږي او وارثانو ته نه لیږدول کیږي، مګر د مالکي فقهاوو له نظره، چې د خیار خاوند په مړینې سره خیار له منځه نه ځي او وارثانو ته انتقالیږي.

د لیدلو خیار لپاره شرط ده، چې معقود علیه باید معلوم، د عقد څخه وړاندې او یا د عقد پر مهال د خیار خاوند لیدلی نه وي او عقد به د داسې عقدونو له ډلې څخه وي، چې د فسخه کېدو وړ وي.

د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقهې له نظره د لیدلو خیار د خیار د موضوع په لیدلو، د خیار د خاوند په صریح یا ضمني رضایت، د خیار د خاوند په مرګ، د ټول عین یا د هغې د یوې برخې په هلاکیدو، په عین کې د خیار د

خاوند په دارنگه تصرف سره چې د فسخه کېدو احتمال ونه لري یا د بل چا حق د عین پورې تعلق ونیسي، ساقطیږي.

**کلیدي کلمات**: لیدلو خیار پېژندنه، لیدلو خیار محل، لیدلو خیار خاوند انتقال، لیدلو خیار شرطونه او لیدلو خیار سقوط.

## سریزه

الحمد لله رب العالمین والصلاة والسلام علي محمدا و آله و اصحابه و من تبعهم باحسان الي یوم الدین، امابعد.فاعوذ باالله من الشیطن الرجیم، بسم الله الرحمن الرحیم : (یاأیهاالذین آمنوا لا تـ أکلوا أمـ والکم بیـنکم بالباطـ ل إلا أن تکـ ون تجـ ارة عـ ن تـ راض منکم.)

دا چې انسان ټولنیز موجود دی، او له ټولنې پرته یې ژوند ستونزمن دی. ځکه نو انسان خپلې اړتیاوې په یوازیتوب سره پوره کولای نشي، نو اړ دی، چې په ټولنه کې له نورو انسانانو سره اړیکې ولري، تر څو خپلې اړتیاوې پوره کړي. دوی د خپلو اړتیاوو د پوره کولو لپاره کله د هېواد دننه او کله له هېواده بهر له نورو انسانانو سره عقدونه کوي او خپلې اړتیاوې پوره کوي. د عقدونو د انعقاد لپاره اسلامي شریعت او د نړۍ مدني قوانین په خپله غېږه کې یو لړ قواعد لري او د همدې قواعدو له مخې د عقدونو اړوند چارې تنظیموي. د دې لپاره چې تړون کوونکي په خپل پوره رضایت عقدونه وکړي، نو د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقه کې مشتري ته دا واک ورکول شوی دی، چې د توکو د پېرلو پر مهال د توکو له کیفیت څخه ځان پوره ډاډمن کړي او د توکو د لیدنې وروسته توکې وپېري همدغه واک ته چې، مشتري یې د جنس د لیدنې په برخه کې لري، په قانون او فقه کې ورته د لیدلو واک وایي. په دې موضوع د ښه پوهېدو لپاره غواړم، چې لاندې څو موضوعات روښانه کړم.

**د موضوع مساله**

پېرېدونکی د توکو د پېرنې پر مهال حق لري، چې توکي خپله وګوري او مسلکي خلکو نه په ګټې اخېستې ځان د توکو کیفیت څخه پوره ډاډه کړي، تر څو په راتلونکي کې ستونزو سره مخ نشي، مګر له بده مرغه زموږ په ټولنه کې ډېری خلک د حقوقي او فقهي پوهې د کمښت له امله په دې نه پوهېږي، چې دوی د تړون پر مهال د توکو د لیدنې حق څخه برخمن دي او کولای شي، چې د توکو له کتنې وروسته د توکو د پېرنې په اړه تصمیم ونیسي او یا د توکو له کیفیت څخه د ډاډمنتیا وروسته عقد نافذ کړي، د دې لیکنې په واسطه به خلک وپوهېږي، چې دوی د توکو د پېرنې پر مهال د توکو د لیدنې له حق څخه برخمن دي او کولای شي، چې د مسلکي خلکو پر مټ د توکو له کیفیت څخه ځان پوره ډاډمن او له هغې وروسته د توکو په اړه عقد نافذ کړي. او که چېرته ورته توکي د کیفیت په لحاظ ښه څرګند نه شول، نو عقد له منځه وړلای شي. همدارنګه پېرونکی به وپوهیږي، چې کله د دوی دغه حق له منځه ځي.

**د څېړنې اهمیت**

۱. کله نا کله پېرېدونکی د توکو د پېرنې پر مهال د بې تجربه ګۍ له امله زړه نا زړه وي، نه پوهېږي، چې توکي به د کیفیت په لحاظ څه ډول وئ؟ نو د لیدلو خیار له مخې دوی کولی شي، چې د مسلکي خلکو سره تر مشورې وروسته عقد نافذ کړي، نو د دې لیکنې د لوستو له برکته به پیرونکی د دغه حق له کارونې خبر شي او نوموړی به له عقد وروسته د پښېمانتیا احساس ونکړي.

۲. د دې لیکنې له لارې به پېرېدونکی وپوهیږي، چې دوی څه وخت له دې حق څخه ګټه اخیستلی شي او څه وخت ترې استفاده نشي کولی. ځکه د لیدلو خیار په ځینو حالاتو کې له منځه ځي، چې پیرونکی بیا ناچاره دی، چې د عقد انفاذ ومني.

## څېړنې موخې

د لیدلو خیار د موضوع د څېړلو څخه مې غوښتل، چې لاندې موخې ترلاسه کړم:

۱. د لیدلو خیار په اړه د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقهې دریځ روښانه کول.

۲. د لیدلو خیار په تړاو د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون د خلاو په ګوته کول او د خلاو د رفعې لپاره د وړاندیزونو کول.

## د موضوع د انتخاب لاملونه

څرنګه، چې موږ د خپلو ورځنیو اړتیاو د رفعې لپاره مختلف عقدونه کوو او له بل لوري زموږ په ټولنه کې د معاملاتو او په ځانګړي ډول د عقدونو د خیارونو په برخه کې د خلکو د پوهاوي سطحه ټیټه ده، نو د دې لپاره د خیارونو په اړه، او په ځانګړې توګه د لیدلو خیار په اړه زموږ د ټولنې د وګړیو د پوهاوي کچه لوړه شوې وي، د خپلې مقالې د لیکلو لپاره مې لاندې لاملونو له مخې د لیدلو خیار موضوع انتخاب کړه.

۱. زموږ په ټولنه کې په حقوقي برخه کې د جزایي موضوعاتو برخه تر یوه حده غښتلې ده. او ډېرو لیکوالانو یې په اړه لیکنې کړي دي، مګر د مدني موضوعاتو په اړه لیکنې ډېرې کمې شوي او مدني برخه د جزایي برخې په پرتله فقیره ده، نو ځکه مې په مدني برخه کې د لیدلو خیار موضوع غوره کړه.

۲. د دې لپاره چې پېرېدونکی د خپلې لیوالتیا له مخې باکیفیته توکي وپېري او وروسته پښېمانه نشي، نو په همدې موخه اسلامي شریعت او قوانینو د لیدلو واک ورکړی دی، تر څو د عقد په کولو کې د هغه بشپړ رضایت تأمین شي، نو د همدغه حق د ښې پېژندنې او تشریح لپاره مې دغه مهمه موضوع غوره کړې ده.

**پخوانيو ليکنو ته کتنه**

په عقدونو کې د خيارونو او په ځانګړې توګه د ليدلو خيار په تړاو په پښتو ژبه کې ډېر کم مواد پيدا کېږي، ولې په نورو ژبو کې د ليدلو خيار په تړاو ډېر زيات مواد موندل کېږي، چې موږ يې ځو کتابونو ته په لنډه توګه اشاره کړې او د خپلې ليکنې سره مو د هغوی توپير ښکاره کړی دی.

۱. په اردو ژبه کې د محمد طاهر منصوري کتاب (احکام بيع)، چې په (۲۰۰۵م) کال په اسلام آباد کې د اداره تحقيقات اسلامي له خوا خپور شوی دی.

۲. په اردو ژبه کې د منهاج الدين مينايي کتاب (اسلامی فقه)، چې په (۲۰۰۸م) کال په لاهور کې د اسلامک پبلي کشنز (پرائيوټ) لميټډ له خوا خپور شوی دی.

۳. په اردو ژبه کې د محمد تقي عثماني کتاب (اسلامی قانون خريد و فروخت) چې اصلا په عربي ژبه کې ليکل شوی وو او بيا له عربي ژبې څخه فريد احمد بن رشيد کاوي په اردو ژبې ژباړلی دی. او په (۲۰۱٦م) کال د انډيا په جمبوسر ـ ګجرات کې د جامعه علوم القرآن له خوا خپور شوی دی.

۴. په اردو ژبه د جميل احمد سکروډهوي کتاب (اشرف الهدايه شپږم ټوک)، چې په (۲۰۰٦م) کال په لاهور کې دار الاشاعت له خوا خپور شوی دی.

۵. د ابن رشد کتاب ( بداية المجتهد و نهاية المقتصد)، چې په عربي ژبه ليکل شوی وو او اردو ژبې ته د عبيدالله فهد فلاحي له خوا ژباړل شوی دی. او په (۲۰۰۹م) کال، په لاهور کې د دار التذکير له خوا خپور شوی دی.

٦. په اردو ژبه کې د وهبة الزحيلي کتاب (الفقه الاسلامي و ادلته)، چې په عربي ژبه ليکل شوی وو او اردو ژبې ته د محمد يوسف تنولي له خوا ژباړل شوی دی. او په (۲۰۱۲م) کال په کراچۍ کې د دار الاشاعت له خوا خپور شوی دی.

۷. په اردو ژبه کې د سید محمد سابق د کتاب (فقه السنة) ژباړه، چې د عبدالکبیر محسن له لوري شوې ده. او په (۲۰۱۵م) کال په لاهور کې مکتبه الاسلامیه له لوري خپور شوی دی..

۸. په اردو ژبه کې د احسان الله شایق کتاب (فقه معاملات)، چې په (۲۰۰۷م) کال په کراچۍ کې د دارالاشاعت له لوري خپور شوی دی.

۹. په اردو ژبه کې د خالد محمود ،عبدالعظیم ترمذي او محمد انس کتاب (فقه حنفی قرآن و سنت کی روشنی مین)، چې په (۲۰۰۸م) کال په لاهور کې د اداره اسلامیات له لوري خپور شوی دی

۱۰. په اردو ژبه کې د مجمع الفقه الاسلامي الهندکتاب، چې د الموسوعة الفقهیه الکویتة د کتاب ژباړه ده.

۱۱. په دري ژبه کې د داد محمد نذیر د اساسات حقوق اسلام تر سرلیک لاندې کتاب لیکلی دی. په (۱۳۸۹هـ ش) کال په کابل کې د نعماني خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی دی.

۱۲. په دري ژبه د نظام الدین عبدالله کتاب، چې حقوق وجایب(شرح قانون مدنی افغانستان) تر سرلیک لاندې یې لیکلی دی او په (۱۳۹۳هـ ش) کال په کابل کې سعید خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی دی.

په دري ژبه کې د عبدالحسین رسولي کتاب، چې (د قواعد عمومي قراردادها) تر سرلیک لاندې لیکلی. او په (۱۳۹۶هـ ش) کال په کابل کې د انتشارات فرهنګ له خوا خپور شوی دی.

۱۳. په دري ژبه پروفیسور ماري نوئل بشله، محمد عثمان ژوبل او نورو د دوره حقوق وجایب تر سرلیک لاندې کتاب لیکلی. او په (۱۳۹۲هـ ش) کال د انتشارات سعید له خوا خپور شوی دی.

۱۴. په دري ژبه کې د سعدي بهبودي کتاب، چې د عبدالحمید محمود طهماز د کتاب (الفقه الحنفي في ثوبه الجدید) ژباړه ده. او په (۱۳۹۴هـ ش) کال په مشهد کې د شیخ الاسلام احمد جان له لوري خپور شوی دی.

## د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې مې لاندې پوښتنې ځواب کړې دي:

۱. که چېرته د راکړې ورکړې پر مهال، پېرېدونکی د توکو د لیدلو خیار ونلري، نو کومې ستونزې به رامنځته شئ؟

۲. پېرېدونکی تر څه وخت د توکو د لیدلو واک لري او په کومو حالاتو کې بې واکه کیږئ؟

## د څېړنې تګلاره

دا یوه کتابتوني څېړنه ده، چې د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال له مدني قانون او مختلفو فقهي کتابونو څخه د دې مقالې په چمتو کولو کې ګټه اخېستل شوې او په هره موضوع کې د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقهې دریځ روښانه شوی دی.

## لومړی مبحث: خیار پېژندنه

د خیار د ښې پېژندنې لپاره موضوع په دوو مطالبو کې وړاندې کوو، چې په لومړي مطلب کې د خیار لغوي تعریف، په دویم مطلب کې د خیار اصطلاحي تعریف او په دریېم مطلب کې د خیار د مشروعیت حکمت وړاندې کوو.

**لومړی مطلب: د خيار لغوي تعريف**

خيار د عربي ژبې لغت دی، چې د اختيار اسم مصدر يا مصدر دی. او په لغت کې غوره، واک، ټاکلو او خوښې په معنی دی. (۷: ۲٦۱)

همدارنگه خوښولو ته هم ويل کيږي، لکه ويل کيږي چې (انت باالخيار) هر هغه شی چې غواړې، نو خوښ يې کړه. (۸: ۲۲٦ او ۲: ۳۰۰)

**دويم مطلب: د خيار اصطلاحي تعريف**

د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون د خيار تعريف وړاندې کړی نه دی، مگر په اسلامي فقه کې خيار په دې ډول تعريف شوی دی. خيار د هغه واک څخه عبارت دی، کوم چې عاقد يې د عقد د انفاذ او يا فسخې لپاره لري. (۳: ۱٦۵ او ۴: ۲۲۳).

يا خيار هغه حق دی چې د لوريو د توافق او يا د شرعي دليل له مخې د عقد دواړو لورو ته او يا يوه لوري ته د عقد د فسخې او يا امضاء په موخه ورکول کيږي. په دې معنی چې خيار هغه حق دی چې د عقد لورو ته د شريعت له مخې او يا د دوه اړخيز توافق پر اساس ورکړل شوی دی، چې پر بنسټ يې کولای شي عقد فسخه کړي او يا يې تائيد کړي. (۵: ۱۸۵)

د فقهې له مخې د خيار منابع شريعت او د عقد د لورو توافق دی. ځينې خيارونه خپله شريعت ټاکلي دي، لکه د عيب خيار او د ليدلو خيار. او ځينې خيارونه بيا د لوريو له ارادې څخه رامنځته کيږي، لکه د شرط خيار او د ټاکلو خيار. (۵: ۱۸۵).

**دريیم مطلب: د خيار د مشروعيت حکمت**

دا چې په اسلامي شريعت کې د عقد اساس د عاقدانو بشپړ رضايت تشکيلوي، نو ځکه په حنفي فقه کې د دې هدف د لاسته راوړلو اود عقد له لوريو څخه د ضرر د

دفع کولو لپاره خیارات په پام کې نیول شوي دي، تر څو له یوه لوري د انسان اساسي اړتیاوې پوره شي او له بل لوري د عقد د لوریو حقیقي رضایت تأمین شي. (۹: ۴۲۷)

**دوهم مبحث: د لیدلو خیار**

د لیدلو د خیار په اړه د ځینو موضوعاتو ذکر کول اړین دي، چې موږ یې په لاندې سرلیکونو کې تر مطالعې لاندې نیسو او په اړه یې د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقهې دریځ روښانه کوو.

**لومړی مطلب: د لیدلو خیار تعریف**

د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون د لیدلو د خیار تعریف نه دی کړی. مګر په اسلامي فقه کې د لیدلو خیار هغه حق دی، چې له مخې یې خاوند د معقود علیه په لیدلو سره کولای شي عقد فسخه او یا نافذ کړي. (۶: ۶۸)

**دوهم مطلب: د لیدلو خیار محل**

د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون له نظره په هغو عقدونو کې ثابتیږي، چې د فسخې وړ وي، چې په دې اړه په (۶۷۶) ماده کې داسې صراحت لري: (په لاندې مواردو کې د لیدلو په خیار بې له پخواني شرط څخه د عقد د فسخه کولو حق ثابتیږي:

۱- د هغه اعیانو اخیستل چې تاکل یې لازم وي او په ذمه باندې د ثابتو پورونو له جملې څخه نه وي.

۲- د اعیانو اجاره.

۳- د غیر مثلي اعیانو ویشل.

۴- په هغه صلحه چې په خپل ذات کې عین وي.) (۱: ۶۷۶ ماده)

مګر په اسلامي فقه کې هم د لیدلو خیار په هغو معاملاتو کې ثابتیږي، چې د فسخې وړ وي، لکه بیعه، اجاره، د مال په مقابل کې صلح، تقسیم او نور. ځکه چې دغه

معاملات د فسخې وړ دي، نو د لیدلو خیار پکې ثابتیږي. په هغو معاملاتو کې د لیدلو خیار نه ثابتیږي، چې د فسخې وړ نه وي، لکه مهر، د خلعې بدل، پر عمدي قتل باندې صلح او داسې نور. ځکه چې دغه معاملات د فسخې وړ نه دي، نو د لیدلو خیار هم پکې نه ثابتیږي. (۳: ۲۰۲ – ۲۰۳)

د یادولو وړ ده، چې په دې اړه د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامی فقه یو دریځ لري.

**دریيم مطلب: د لیدلو خیار توارث**

د لیدلو د خیار د توارث په اړه د افغانستان ۱۳۵۵هـ ش کال مدني قانون (۶۸۰) ماده حکم کوي، چې د خیار د خاوند په مړینې سره خیار ساقطیږي او وارثانو ته نه انتقالیږي. نوموړې ماده په دې ډول صراحت لري: (د لیدلو خیار د خیار د موضوع په لیدلو، د خیار د خاوند په صریح یا ضمني رضایت، د خیار د خاوند په مرگ، د ټول عین یا د هغې د یوې برخې په هلاکېدو، په عین کې د خیار د خاوند په دارنگه تصرف سره چې د فسخه کېدو احتمال ونلري یا د بل چا حق د عین پورې تعلق ونیسي، ساقطیږي. (۱: ۶۸۰ماده).

حنفي او حنبلي فقهاء په دې آند دي چې د لیدلو خیار د توارث وړ نه دی او د خیار د خاوند په مړینې سره له منځه ځي.

مگر مالکي فقهاء بیا وایي چې د لیدلو خیار د ټاکلو د خیار او د عیب خیار په څېر وارثانو ته انتقالیږي. او د خیار د خاوند په مړینې سره له منځه نه ځي. (۱۰: ۱۸۰)

د یادولو وړ ده چې په دې اړه د افغانستان د ۱۳۵۵هـ ش مدني قانون مواد له حنفي او حنبلي فقهې نه اخیستل شوي دي.

**څلورم مطلب: د ليدلو خيار شرطونه**

د ليدلو د خيار د ثبوت لپاره د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقه کې يو لړ شرطونه شتون لري، چې موږ ترې په لنډه توګه يادونه کوو.

**لومړی جز: د معقود عليه معلوم والی**

د معقود عليه د معلوموالي په اړه د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون(۶۷۸) ماده داسې صراحت لري: (د ليدلو د خيار د ثابتيدو لپاره بايد کوم شی چې پرې عقد شوی د ټاکلو وړ وي... (۱: ۶۷۸ ماده).

د ليدلو د خيار د ثبوت لپاره شرط ده، چې معقود عليه به معينه او مشخصه وي. (۳: ۲۰۲).

د يادولو وړ ده چې په دې برخه کې هم د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقه متفق دي.

**دوهم جز: د عقد د انعقاد او يا له هغې وړاندې د معقود عليه نه ليدل**

په دې اړه د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون (۶۷۸) ماده چې د اسلامي فقهې نه اقتباس شوې ده، داسې صراحت لري:(... او متصرف اليه هغه د عقد په وخت کې نه وي ليدلی. (۱: ۶۷۸ ماده).

د اسلامي فقهې له نظره هم شرط ده چې مشتري به معقود عليه نه وي ليدلې، که چېرې يې ليدلې وي نو د ليدلو خيار ورته نه ثابتيږي. (۱۰: ۱۰۱)

بايد يادونه وکړو چې د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون په دې برخه کې د اسلامي فقهې سره مطابقت لري.

**درېيم جز: عقد به د فسخې وړ وي**

د ليدلو خيار په هغو عقدونو کې ثابتيږي، چې د فسخې وړ وي. په دې اړه وړاندې د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون او اسلامي فقهې نظر روښانه شوی دی.

**پنځم مطلب: د ليدلو د خيار سقوط**

د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون د ليدلو د خيار د سقوط اسباب په (۶۸۰) ماده کې ذکر کړي دي، چې په دې ډول صراحت لري:(د ليدلو خيار د خيار د موضوع په ليدلو، د خيار د خاوند په صريح يا ضمني رضايت، د خيار د خاوند په مرګ، د ټول عين يا د هغې د يوې برخې په هلاکيدو، په عين کې د خيار د خاوند په دارنګه تصرف سره چې د فسخه کېدو احتمال ونه لري يا د بل چا حق د عين پورې تعلق ونيسي، ساقطيږي. (۱: ۶۸۰)

په اسلامي فقه کې هم د ليدلو خيار په لاندې مواردو کې ساقطيږي، چې عبارت دي له :

- د خيار د خاوند له لوري دلالتا او يا صراحتا د رضايت ښکاره کېدل.
- د خيار د خاوند سره د معقود عليه معيوب کېدل او يا هلاکت.
- په معقود عليه کې په داسې ډول زياتوالی، چې سپارل يې ممکن نه وي.
- د خيار له ليدلو وړاندې يا وروسته د خيار د خاوند مړينه، چې په دې اړه په فقه کې دوه نظريې موجودې دي. حنفي او حنبلي فقهاء په دې آند دي، چې د خيار د خاوند په مړينې سره خيار له منځه ځي، مګر مالکي فقهاء بيا په دې نظر دي چې د خيار د خاوند په مړينې سره خيار له منځه نه ځي. (۵: ۱۹۸ ـ ۱۹۹ صص).

**پایله**

۱- د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون د ليدلو د خيار تعريف کړی نـه دی. مگر په اسلامي فقه کې د ليدلو خيار هغه حق دی، چې لـه مخې يـې خاونـد د معقود عليه په ليدلو سره کولای شي عقد فسخه او يا نافذ کړي.

۲- د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون له نظره په هغو عقـدونو کـې ثـابتيږي، چې د فسخې وړ وي، همدارنگه په اسلامي فقه کـې هـم د ليـدلو خيـار پـه هغـو معاملاتو کې ثابتيږي، چې د فسخې وړ وي، لکه بيعه، اجاره، د مال په مقابل کـې صلح، تقسيم او نور. د يادولو وړ ده، چې پـه دې اړه د افغانسـتان د ۱۳۵۵ هــ ش کال مدني قانون او اسلامی فقه يو دريځ لري.

۳- د ليدلو خيار د شرطونو په اړه د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قـانون احکـام له اسلامي فقهې نه اقتباس شوي دي او دواړه منابع په خپلو کې کوم ټکر نه لري.

۴- د ليدلو خيار د سقوط په اړه د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون احکام له اسلامي فقهې نه اخيستل شوي دي او دواړه په خپلو کې کوم مخالفت نه لري.

۵- د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون له نظره د ليدلو خيار د خيـار د خاونـد په مړينې سره ساقطيږي او وارثانو ته نه انتقاليږي. مگر په اسلامي فقـه کـې فقهـاء مختلف دي. حنفي او حنبلي فقهاء په دې آند دي چې د ليدلو خيار د توارث وړ نه دی او د خيار د خاوند په مړينې سره له منځه ځي.

او مالکي فقهاء بيا وايي چې د ليدلو خيار د ټاکلو د خيار او د عيب خيـار پـه څيـر د توارث وړ دی. او د خيار د خاوند په مړينې سره له منځه نه ځي.

د يادولو وړ ده چې په دې اړه د افغانستان د ۱۳۵۵ هــ ش کـال مـدني قـانون مـواد د حنفي او حنبلي فقهې نه اخيستل شوي دي.

**مناقشه**

کله نا کله د پیرونکي د رضایت خلاف، پرېږ هغه نا لیدلي توکي تپل کېږي. څکـه د معاملې د تړلو پر مهال يې توکي ليدلي نه وي، نو د معاملې لـه تـړل کېـدو وروسـته د پښیمانتیا څرګندونه کوي. نو د دې څېړنې په پایله کې به خلک د خیار تعین په فقهي او حقوقي ماهيت وپوهيږي او هڅه به کوي، تر څو په معاملاتو کې د ضرر د دفعـې لپاره د لیدلو خیار څخه کار واخلي، څکـه د لیـدلو خيـار د مشر‌وعيت حکمـت پـه معاملاتو کې د طرفينو د بشپړ رضایت تأمين او د ضرر دفع ده. د يادولو وړ ده، چې د لیدلو خیار په اړه په اسلامي فقه کې ډېـر وضـاحت موجـود دی او د مختلفـو فقهـي مذاهبو له اړخه موضوع روښانه شوې ده، مګر ما د لیدلو خیار په اړه نه يوازې دا چې د فقهې دريځ روښانه کړی دی، د افغانستان ۱۳۵۵ هـ ش مدني قانون دريځ مـې هـم څرګند کړی دی. زما ليکنه د يادو کتابونو سره له دوه زاويو متفاوته ده، چې په لاندې توګه ورته اشاره کوم.

الف: د مستقل والي له حيثه: په پورته فقهي کتابونو کـې د ليـدلو خيـار د يـوه عنـوان پتوګه په اجمالي ډول ذکر شوی دی، مګر ما د لیدلو خیار د مستقل عنـوان پـه توګـه څېړلی دی او ټوله موضوع په همدې عنوان راڅرخي.

ب: د اړخونو له حيثه: په پورته فقهي کتابونو کې د لیدلو خيار يوازې د فقهې له اړخه ذکر شوی دی، مګر ما د اسلامي فقهـې سربېره د افغانسـتان د ۱۳۵۵ هــ ش کـال پـه مدني قانون کې هم څېړلی ده.

**پايله اخيستنه**

د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون لـه اسـلامي فقهـې سره مطابقـت لـري، د ليدلو خيار په اړه ټول موضوعات يې د اسـلامي فقهـي سره مطابقـت لـري. پـه ټولـو مواردو کې له حنفي فقهې څخه ګټه اخېستل شوې ده او د حنفـي فقهـې سره کـوم اختلاف نه لري.

خلکو ته پکار ده، چې د ليدلو خيار په معنی پوه شي او پـه خپلـو ورځنيـو معـاملاتو کې ورڅخه ګټه واخلي، تر څو له ضرر څخه خوندي شي.

**وړانديزونه**

د دې موضوع له څېړنې وروسته لاندې دوه وړانديزونه کوم، په دې هيله چې ښکېلې خواوې او مسلکي اشخاص ورته پام وکړي.

۱. په معاملاتو کې د لوريو رضايت د تأمين او ضرر د دفعې لپـاره اړيـن دی، چـې د معاملې لوري د ليدلو خيار پـه ماهيـت وپـوهيږي او لـه خپـل دغـه واک څخـه د معاملاتو د اجراء پر مهال ګټه واخلي.

۲. نورو څېړونکو ته مې وړانديز دا دی، چې د آنلاين سوداګرۍ پر مهـال د توکـو د ليدلو څرنګوالی مشخص کـړي او هـم پـه دې برخـه کـې د ليـدلو خيـار ماهيـت واضح کړي. ځکه په دې برخه کې د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کـال مـدني قـانون کې کوم وضاحت نه دی شوی.

## مأخذونه


۱. رحماني، خالد سیف الله ، قاموس الفقه کراچی، زمزم پبلشرز، جلد(۳).

۲. زحیلي، وهبة الزحیلی.(۲۰۱۲م). الفقة الاسلامي و ادلتـه. اردو ژبـاړن: مفتـي ابـرار حسین او محمد یوسف تنولی. پنځمه او شپږمه برخه. جلد(۳).

۳. ستانکزی، نصرالله او نور (۱۳۸۹ش). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس(پښتو). کابـل: د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي.

۴. عبـدالله، نظـام الـدین.(۱۳۹۳ش). شرح قـانون مـدني افغانسـتان(حقوق وجایب).کابل: انتشارات سعید.

۵. عثماني، محمد تقي. صیغة مقترحه لقانون البیع الاسلامي(اسـلامی قـانون خریـد و فروخت). (۲۰۱٦م). اردو مترجم: کاوی، فرید احمد بن رشید. انڈیا: جامعه علوم القرآن، جمبوسر – گجرات.

٦. عدلیې وزارت.(۱۳۵۵ش). مدني قانون. رسمي جریده. پرلپسې گڼه (۳۵۳).

۷. کیرانـوي، وحیـد الزمـان قاسـمي (۱۹۹۰م). القـاموس الجدیـد(عربي اردو لغت).لاهور: اداره اسلامیات.

۸. لـوئیس معلـوف (۲۰۰۹م). المنجـد(عربي –اردو). اردو مـترجم: عبـدالحفیظ بلیاوي. لاهور: قدوسیه اسلامک پریس.

۹. نذیر، دادمحمد.(۱۳۸۹ش).اساسات حقوق اسـلام. چـاپ سـوم.کابل: انتشـارات نعمانی.

۱۰. وزارت اوقاف و اسلامي امور کویت، موسوعه فقهیه. اردو ترجمه. مجمـع الفقـه الاسلامی الهند.جامعه نگر. نيې دهلی.جلد(۲۰).

**اول الدین محمدي او سید عبدالحکیم حکمت**
بایزید روښان د لوړو زده‌کړو موسسه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، حقوقي علومو څانګه
لارښود استاد: دوکتور حمد الله کاکړ

# د اسلام له نظره د هبې احکام

## لنډیز

هبه په لغت کې بل شخص ته یو شی د فایدې لپاره ورکولو ته وایي، امام کاساني (رحمة الله علیه) په نزد یوازې د هبه کوونکي شخص لخوا بل شخص ته د یو شي ورکولو ته هبه وایي، په اصطلاح کې د انسان په ژوند کې د عبادت په نیت د داسې یو تړون اجراء کول دي، چې له عوض پرته تملیک افاده کوي. د هبې لپاره زیات الفاظ شتون لري، چې په هغې سره د هبې عقد رامنځته کېږي، لکه خپله د هبې لفظ، د (نحلت) لفظ، د (أطعمت) لفظ یعنې ما دا خوراک درته هبه کړ، د (اعمرت) لفظ چې معنی یې ده ما تا ته دا شی ټول عمر درکړ، د (حمل یا سورولو) لفظ د عاریت په معنی هم راځي، خو دلته مجازا د تملیک معنا ورکوي، د (کسوت) لفظ چې د جامې اغوستلو په معنی راځي.

د دې موضوع د څېړنې لپاره د کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې او د څېړلو موخه یې دا ده، چې د اسلام له نظره د هبې ماهیت، اهمیت او ګټې روښانه شي.

د دې څېړنې په پایله کې ویلای شو چې د هبې تړون د اسلامي شریعت له نظره یو مشروع او روا تړون دی، چې مشروعیت یې په قران کریم نبوي احادیثو او اجماع سره ثابت دی، الله تعالی جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي: که هغوی یې په خپله خوښه تاسې ته بخشش کړي، نو تاسې هغه په خوند سره وخورئ، د ټولو امامانو په اتفاق سره هبه په ایجاب او قبول سره تمامېږي، په حدیث شریف کې راځي څوک چې هبه شوی شی بېرته غواړي داسې دی لکه سپی چې خپل قی بېرته پورته کوي.

په اسلامي شریعت کې چې هبې ته‌رون روا شوی دا زیات حکمتونه لري، لکه په دې سره ایمان بشپړېږي، کینه، حسد، دوښمني پرې لمنځه ځي، مینه او محبت پرې رامنځته کېږي، د خلکو ترمنځ پرې یووالی راځي، د شخص په ښه والي او نیکو اخلاقو دلالت کوي.

**کلیدي کلمې:** هبه، ارکان، ایجاب، قبول، واهب، موهوب له، موهوب، صیغه.

**سریزه**

ألحمد لله نحمده ونستعینه ونستهد به ونسترشده، ونعوذ به من شرور أنفسنا ومن سیئات أعمالنا، من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادی له، والصلاة والسلام علی سیدنا محمد وعلی آله وصحبه وعلی من عمل بسنته واقتفی الی یوم الدین، وبعد!

الله تعالی جل جلاله اسلامي امت باندې دا ستره پېرزوینه کړې ده، چې حضرت محمد (صلی الله علیه وسلم) یې ورته د وروستني پیغمبر په توګه رالیږلی دی او داسې روښانه کتاب یې ورکړی دی، چې نه ورته مخامخ او نه یې پشي-شاه باطل راتللی شي.

نو مسلمانان باید د دغه دین احکامات په ځان ومني، امرونه یې قبول کړي او د منع شوو شیانو څخه ځان وساتي، خو بیا هم په ټولنه کې داسې وګړي پیدا کېږي، چې د الله تعالی جل جلاله د دغه ستر نعمت باوجود بیا هم دوی د الله تعالی جل جلاله د احکاماتو څخه سرغړونه کوي او حکمونه یې تر پښو لاندې کوي.

که اسلامي شریعت په دقیق ډول مطالعه شي دا به ټولو ته جوته شي، چې اسلام مبارک دین هیڅ شی له تشریح او تفصیل پرته نه دی پرېښی، بلکې هر وخت او د هر ځای لپاره یې هر ډول مسایل روښانه کړي دي، اسلام مبارک دین دا هڅه کوي

چې د مسلمانانو ترمنځ محبت او مینه پیدا کړي، د دوی ترمنځ کینه او حسد ختم کړي، له همدې کبله په اسلام مبارک دین کې هبه ځانګړې اهمیت لري، د هبې له مخې د خلکو ترمنځ مینه او محبت پیدا کیږي د دوی له زړونو څخه کینه او حسد ختمیږي.

## د موضوع اهمیت

د دې موضوع اهمیت په لاندې نقاطو باندې ولاړ دی.

۱. په ټولنه کې د خلکو ترمنځ د مینې او محبت دستور عامول.

۲. خلکو ته د هبې ارزښت روښانه کول.

۳. علمي لیکنو ته پرمختګ او وده ورکول.

## د موضوع موخې

د دې موضوع موخې عبارت دي له:

۱. د معلوماتو له اړخه پښتو ژبې بډایه کول.

۲. ټولنه کې د اړینو موضوعاتو په اړه څېړنه کول.

۳. د ټولنې د افرادو ترمنځ د هبې او مرستې اړوند مواردو مروجول.

## د موضوع د انتخاب لاملونه

د دې موضوع د ټاکنې عوامل عبارت دي له:

۱. دا چې زموږ ټولنه کې د ټولنې د افرادو ترمنځ اړیکې له حده زیاتې کمزورې دي، یو شخص د نورو اشخاصو پر وړاندې د مسؤلیت هیڅ احساس نلري او د ټولنې د افرادو ترمنځ د مرستې روحیه بیخي ختمه شوی ده، له دې کبله ما دا موضوع انتخاب کړه، څو د ټولنې اتباع وهڅول شي، چې خلکو سره مرسته وکړي او د دې لارې د دوی ترمنځ رامنځته شوې فاصلې ختمې شي.

۲. د ملګرتیا د اصولو څخه یو دا هم دي، چې باید یو بل ته تحفه او هبه ورکړل شي، څرنګه چې نبوي ارشادات هم دا لارښوونه کوي، نو د دې لپاره چې دغه نبوي لارښوونې عملي شي دا موضوع ما انتخاب کړه.

۳. دا چې زموږ د ټولنې زیاتره وګړي بې علمه دي او د هبې په ټولو احکامو او ارزښتونو په دقیق ډول نه پوهیږي؛ ځکه ما دا لیکنه انتخاب کړه، څو دوی د هبې په احکامو باندې په بشپړ ډول پوه شي.

**پخوانیو لیکنو ته منطقي کتنه**

که څه هم د هبې په اړه ډېر تالیفات او لیکنې شوي دي، ولې اکثریت یې په عربي ژبه کې دي او په پښتو ژبه کې د هبې په اړه کافي معلومات وجود نه لري، نو د دې لپاره چې په پښتو ژبه کې د هبې په اړه کافي معلومات درج شي، نو ځکه مو دا موضوع انتخاب کړه.

په لاندې تقنیني اسنادو او د عربي ژبې په کتابونو کې د هبې اړوند احکام وجود لري.

۱. د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال مدني قانون : د افغانستان د ۱۳۵۵ هـ ش کال په مدني قانون کې هم د هبې اړوند څو احکام شتون لري؛ مګر زیاتره جزیات یې پکې نه دي بیان کړي، بلکې د قانون مادې لنډې او پرمفهومه وي عام وګړي نشي کولای، چې په آسانه ترې استفاده وکړي.

۲. الهبة وأحکامها في الشریعة الاسلامیة، دا لیکنه خیر عبدالرضی خلیل کړې ده، دا لیکنه په (۱۹۸۰م) کال کې د سعودي په ملک عبدالعزیز پوهنتون کې د ماسترۍ تیزس په توګه ترسره شوې ده.

۳. عقد الهبة بين الفقه الاسلامي والتشريع الجزائري، دراسة مقارنة، دا ليکنه د زيان عاشور الجلفة پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځي کې د ماسترۍ د رسالې په توګه ليکل شوې ده.

## د موضوع پوښتنې

په دې ليکنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوي دي:

۱. هبه څه ته وايئ؟

. هبه څو ارکان لري، آيا په دې اړه د فقهاوو ترمنځ کوم اختلاف شتون لري يا د ټولو فقهاوو په نزد د هبې ارکان يو ډول دي؟

۳. د اسلامي شريعت له نظره هبه څه حکم لري؟ آيا هبې په اړه کوم شرعي نصوص شتون لري؟

## د موضوع د ليکلو تګلاره

د دې موضوع د موادو او معلوماتو د راټولو لپاره د کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخيستل شوې ده. اړوند معلومات مو له معتبرو کتابونو څخه راټول کړي دي او د تحليل او تجزيې وروسته مو په مبحثونو، مطلبونو او جزونو ويشلي دي.

## لومړی مبحث: د هبې پېژندنه

په دې عنوان کې لاندې موضوعات څېړو.

### لومړی مطلب: د هبې لغوي او اصطلاحي معنی او مفهوم

د دې عنوان لاندې د هبې لغوي او اصطلاحي معنی او مفهوم باندې غږېږو.

**لومړی جز: د هبې لغوي معنی او مفهوم**

هبه په لغت کې مصدر دی، له وهب یهب څخه اخیستل شوی، چې په اصل کې وهب و. دا معتل الفا دی، خو کله چې (واو) ترې حذف شو په عوض کې یې (ها) راغله هبة ترې جوړه شوه، لاندې معناوي لري :

یو شی بل ته د ګټې لپاره ورکول دي، برابره ده چې مال وي او که بل کوم شی. (۱۵ : ۱)

**محمد بن علی جرجانی وایي:** چې هبه په لغت کې مطلقې نیکې کولو ته وایي. (۱۳: ۳۹۱)

**امام کاساني وایي:** هبه په لغت کې مجرد ایجاب دی د واهب له اړخه، په غیر له دې چې قبول ورته شرط وګرځول شي، بلکې قبول د حکم د ثبوت لپاره دی نه د وجوب لپاره . (٦: ١٦٢ )

**دویم جز: د هبې اصطلاحي تعریف**

هبه په شرعي اصطلاح کې د انسان په ژوند کې د عبادت په نیت د داسې یو عقد اجراء کول دي، چې بدون له عوض څخه تملیک افاده کوي. معجم یې اصطلاحي تعریف داسې کړی، چې هبه بدون له عوض څخه د یو شي مالک کېدل دي .(۱۲ : ۳۹۱ )

**دویم مطلب: د هبې الفاظ**

په کومو الفاظو سره چې هبه منعقد کېږي عبارت دي له: وهبت، نحلت او اعطیت څخه.

**لومړی:** لفظ د (وهبت) د هبې په معنی کې صریح دی، دویم لفظ د (نحلت) په دې معنی کې مجازاً استعمالیږي؛ لکه چې په حدیث شریف کې هم ذکر شوي: (عن

النعمان بن بشير رضی الله عنه ان اباه اتی به رسول الله صلی الله علیه وسلم فقال اني نحلت ابني هذا غلاماً فقال:اكل ولدک نحلت مثله قال لا قال فارجعه . ( ۱۲ : ۲۸۲ )

**ژباړه :** د حضرت نعمان بن بشير رضی الله عنه څخه روایت دی، چې د ده پلار هغه (نعمان) د ځان سره رسول الله صلی الله علیه وسلم ته را وستل ورته یې وویل د الله رسوله! ما دې ځوی ته غلام هبه کړی، هغه مبارک ورته وویل آیا نورو اولادنو ته دې هم هبه کړي؟ هغه وویل نه، هغه مبارک ورته وویل دا غلام ترې بېرته واخله.

**دویم :** لفظ د (اطعمت) دی لکه : ( أطعمتك هذا الطعام)په دې سره هم هبه منعقد کیږي، سبب یې دادی، چې د اطعام نسبت چې کله داسې یو شي ته وشي، چې په خپله خوړل کیږي لکه، غنم، خرما، ډوډی، انار، مڼه او داسې نور شیان، نو په داسې مواردو کې عین د شي تملیک مراد وي، معنی به یې دا وي چې ته مې د دې مالک وګرځولې او همدا معنی د هبې ده .

د دې په خلاف که د اطعام نسبت داسې یو شي ته وشي چې په خپله نه خوړل کیږي لکه، ځمکه نو په دې صورت کې معنی د عاریت ده، مطلب به یې دا وي چې دا ځمکه مې تاته درکړه، چې ته وربانديې فصل وکرې، (په عاریت مې درکړه).

**دریم:** لفظ د (اعمرت) دی لکه (أعمرتك هذا الشی) ، په دې لفظ سره هم هبه ثابتیږي، حدیث شریف کې دي: فمن اعمر عمری هی للمعمر له.

**ژباړه:** چا چې کوم چاته ځمکه ورکړه، نو همېشه د هغه شوه، له دې معلومه شوه چې په دې لفظ هم هبه ثابتیږي.

همداراز که ویې ویل: (جعلت هذه الدارلك عمري). (۱۲ : ۲۸۲ )

بیا هم ترې هبه مراد ده، بل حدیث شریف کې راځي: (عن جابر رضی الله عنه قال : قال الرسول الله صلی الله علیه و آله وسلم من اعمرا رجلاً عمری له لعقبه فقد قطع قوله حقه فیها واهیا لمن اعمرو لعقبه ). (۲ : ۱۲۴۵)

**ژباړه:** د حضرت جابر رضی الله عنه څخه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: څوک چې یو چاته عمري ورکړي او د هغه وارثانو ته، د هغه د لاسه ووت او دا معمرله او د هغه د وارثانو لپاره دی.

**څلورم:** د حمل (سپرولو) لفظ دی.( ۱۲ : ۲۸۲ )

د حمل په لفظ سره هم هبه ثابتېږي؛ ځکه د دې لفظ حقیقي او لغوي معنی سپرول دي، په دې معنی به دا د عاریت په معنی وي، خو د هبې احتمال ځکه لري چې مجازا د تملیک په معنی هم راځي، لکه: (حمل الا میرفلاناعلی فرس)، د دې لفظ په ویلو یې هدف دا دی، چې امیر فلان شخص د آس مالک وگرځاوه، خو دا هغه وخت چې د هبې نیت یې کړی وي.

**پنځم:** د کسوت لفظ لکه: (کسوتک هذاالثوب ). (۱۲ : ۲۸۲ )

په دې لفظ سره د هبې حکم، په دې لفظ سره هم هبه ثابتېږي، ځکه معنی یې داده چې ته مې د دې جامو مالک کړې، په قرآن کریم کې الله تعالی جل جلاله فرمایي: (او کسوتهم).

**ژباړه:** او یا جامي د دوی. یا وویلی شي امیر فلاني ته جامې واغوستلې یعنی هغه یې د جامو مالک کړ.

او که ویې ویل (منحتك هذه الجارية) تا ته مې دا وینځه بخشش کړه، دا عاریت ده، د هماغه دلیل پر اساس کوم چې مخکې مو یادونه وکړه.

او که ویې ویل زما کور ستا لپاره هبه ده پکې اوسه دا هم عاریت دی؛ ځکه چې عاریت په منفعت کې قطعي دی او په هبه کې هم همدغه احتمال موجود دی.

او عین د تملیک هم احتمال لري، نو محتمل هم په محکم باندې حمل کولای شي.

## دویم مبحث: د هبې د مشروعیت دلائیل

هبه یو رواء او مستحب کار دی الله تعالی جل جلاله په قرآن کریم کې فرمایي:

وَآتُوا النِّسَاءَ صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِنْ طِبْنَ لَكُمْ عَنْ شَيْءٍ مِنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَرِيئً. (سورت النساء، ایت: ۴)

**ژباړه:** که هغوی یې په خپله خوښه تاسې ته بخشش کړي، نو تاسې هغه په خوند سره وخورئ.

همدا راز په بل ځای کې الله جل جلاله فرمایلي:

( وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى ) (سورت المایده، ایت:۲)

**ژباړه :** کوم کارونه چې د نیکۍ او خدای (ج) پالنې دي په هغوی کې یو له بل سره مرسته کوئ.

هبه ورکول خپلو اقاربو ته ډیره بهتره ده، ځکه په دې کې د خپلوانو سره صله رحمي راځي. (۱۰ : ۴۷ )

امامانو په دې اتفاق کړی، چې هبه په ایجاب او قبول او قبض سره ثابتیږي، پر دې هم اتفاق دی، چې د خیر په کارونو کې وعده باندې باید وفا وشي، همدا راز اولادونو ته هبه صحیح ده، خو که یو بچي ته هبه ورکړي او نورو اولادونو ته هبه ورنکړي دا عمل مکروه دی.

په بل آیت کې الله جل جلاله فرمایي : وَآتَى الْمَالَ عَلَى حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَى. ( سورت البقره، ایت: ۱۷۷)

**ژباړه :** او د الله تعالی جل جلاله په مینه خپل ګران مالونه خپلو خپلوانوته ورکوي.

همداراز په احادیثو کې هم هبه ثابته ده: (عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم تهادو تحابوا (۱۳ : ۲۳۵)

**ژباړه :** د ابو هریرة رضی الله عنه څخه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: هدیه کوئ او خپل منځ کې مینه او محبت کوئ.

بل حدیث کې یې فرمایلي: (عن ابن عباس رضی الله عنهما قال : قال النبی صلی الله علیه وسلم العائد فی هبة کاالکلب یقئ ثم یعود فی قیئه). (۱: ۶۴)

**ژباړه:** د عبدالله ابن عباس (رض) څخه روایت فرمایلي په خپله هبه کې رجوع کونکی داسې دی لکه سپی چې استفراق وکړي او بیا یې بیرته خوري .

یعنی د ټولو فقهاوو په نزد باندې شخص ته روا ده چې خپل بچې ته هبه ورکړي، خو د دوی په نزد باید دوی د خپل اولادونو ترمنځ برابربښت رامنځته کړي، آن تر دې چې د مالکي او حنبلي فقهاوو په نزد برابربښت واجب دی، د ټولو فقهاوو په نزد هبه کې اولادونه یو پر بل غوره کول مکروه دي.

## دریيم مبحث: د هبې د مشروعیت حکمتونه

ای هوښیار او د کامل ایمان خاوندانو په دې پوه شئ، چې په هبه کې ډېر حکمتونه او رازونه دي؛ هبه کینه، حسد، بغض او عداوت له منځه وړي دوستي او محبت زیاتوي او د خلکو په منځ کې یوالی راولي. (۱۱ : ۴۰۲)

د ښو اخلاقو، پاک نیت او عالي خویونو او نورو اوچتو اوصافو په پیداکولو کې مرسته کوي، لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي: (تهادوا فان الهدیة تذهب باالضغائن). (۱۵: ۲۱۵)

**ژباړه:** حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي: یو بل ته هبه ورکړئ، ځکه هبه ورکول کینه له منځه وړي.

لکه څرنگه چې حضرت رسول کریم صلی الله علیه وسلم، صاحب د شریعت و؛ نو په دې باندې پوهېده چې بعضې انسانان بخیل طبیعت لرونکي دي، نو هغه کسان چې هبه بېرته اخلي د بدترین شي او تر ټولو بدې گندگۍ سره چې د انسان طبیعت او نفس د هغه نه ځان ساتي مشابه کړی او حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم چې هیڅ یوه خبره له ځانه نه کوي او د هغه خبرې ټولې الهي وحې دي.

هبه ډېرې گټې لري، لکه یو انسان چې ځینې شیانو ته اړتیا لري او نه پوهېږي، چې خپلې اړتیاوې له کوم ځای څخه پوره کړي، همدا ډېر اوچت اجر او ثواب لري، چې د هیڅا څخه پټ نه دی. زیلعي په خپل کتاب کې ویلي دي، چې هبه د کمال د صفتونو څخه یو صفت دی، ځکه الله تعالی جل جلاله ځان په دې صفت موصوف کړی او فرمایي:

ربنا لا تزغ قلوبنا بعد إذ هديتنا وهب لنا من لدنك رحمة إنك أنت الوهاب. (سورت ال عمران، ایت: ۸)

**ژباړه** : ای ربه زموږ! د هدایت څخه وروسته زموږ زړونه مه کږوه، د خپل طرف څخه موږ ته مهرباني را بخشش کړه، یقینا ته بخشش ورکونکی ذات یې، انسان باید چې همېشه هبه ورکړي او همدا د شرف او عزت نه ډک صفت ځان ته تر لاسه کړي او د سخا او کرم په صفت باندې ښکلی شي او بخل له منځه یوسي.

د موهوب له په زړه کې سرور، خوشحالي او ښادي راولي له همدی کبله هبه کونکي د نږدې او کامیابانو له ډلې دي.

الله تعالىجل جلاله په قرآن عظیم الشان کې فرمایلي دي:

وَالَّذِينَ تَبَوَّءُوا الدَّارَ وَالْإِيمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ يُحِبُّونَ مَنْ هَاجَرَ إِلَيْهِمْ وَلَا يَجِدُونَ فِي صُدُورِهِمْ حَاجَةً مِمَّا أُوتُوا وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ. (سورت الحشر، ایت: ۹)

**ژباړه:** او هغو (انصارو لره دی دغه اموال) چې ځای نیولی دی په (دی) کور (مدینه) کې او (خالص کړی دی خپل) ایمان پخوا لـه دغـو (مهـاجرانو) څخـه؛ خوښـوي، محبت کوي دوی له هغه چا سره چې هجـرت یـې کـړی دی، دوی تـه او نـه مـومي دوی په زړونو سینو خپلو کې څه تنګي (حسد) له هغه شي څخه چې ورکـړل شـوي وي (مهاجرانو لره) او غوره کوي (مهاجران) مقدموي په خپلو ځانونو او اګر کـه وي په دوی باندې تنګي او هر هغه چې وساتلی شي له بخل د نفس د ده نه، نـو همدغـه کسان دي، همدوی مراد موندونکي په مراد رسېدلی. (کابلی تفسیر، دویم ټوک، ص: ۱۳۹۰- ۱۳۹۱)

هبه یو مشروع مباح او په اتفاق د علماوو سره د تشویق او ترغیب وړ ده.

## څلورم مبحث: د هبې ارکان

دا یوه معلومه خبره ده چې هبه یوازې یو رکن لري، چې عبارت دی له ایجاب څخـه او قبول یوازې د حکم د ثابتولو لپاره وي رکن نه دی، هبه ځکه بدون له قبـول څخـه ثابتېږي، چې په دې سره انتقال د ملکیت راځي او انتقـال بـدون لـه قبـول څخـه هـم کېدای شي.

د دې نتیجه په لاندې مسئله کې معلومولای شو: چې یـو کـس قسـم وکـړي چـې دا شي به فلاني کس ته نه هبه کوم او بیا یې د هغه شي یوه برخه ورته هبـه کـړه او هغـه یې قبول نه کړي، دا شخص استحساناً ګناهګار دی او قیاساً ګناهګار نه دی.

او حنفي مذهب دا دی، چې هبه په حق د واهب کې په ایجاب سره تمامیږي او په حق د موهوب له کې په ایجاب او قبول سره تمامیږي.

او هبه کول د نیکۍ کولو عقد دی او په نیکۍ کولو سره تمامیږي مثلاً په یو شي باندې اقرار یا وصیت کول؛ مګر دومره خبره ده چې موهوب له هبه قبض کړي او قبوله یې نه کړي، نو مالک نه ګرځي. کله چې موهوب له هبه شوی شی قبض او قبول کړي، نو مالک یې ګرځي. د مجلة الاحکام په ۸۳۷ ماده کې راغلي دي: (تنعقدالهبة بالایجاب والقبول وتتم بالقبض). (۸ : ۱۳ )

**ژباړه :** هبه په ایجاب او قبول سره منعقد کېږي اوپه په قبض سره تمامېږي.

**د** جمهورو فقهاوو له نظره د هبې ارکان څلور دي.

۱- واهب ۲- موهوب له ۳- موهوب ٤- صیغه ( ۹ : ۷ )

**۱- واهب :** واهب هغه شخص ته وایي چې مال هبه کوي او دی باید د صحت په وخت کې مال هبه کړي، که چېرته د مرض په وخت کې مال هبه کړي او په همدې مرض کې مړ شي، نو د جمهورو په نزد د ده هبه صحیح ده خو دومره خبره ده چې د ترکې له دریمې حصې څخه به یې ورکوي.

**۲- موهوب له:** موهوب له هغه شخص دی چې مال ورته هبه ( بخشش) کېږي که چېرته یو کس خپل ټول مال اجنبي شخص ته هبه کړي په اتفاق سره هبه صحیح ده. او که یو شخص ډېر اولادونه ولري او په خپلو اولادونو کې یوه ته ټول مال او یا ډېره حصه هبه کړي هبه یې جائز ده، خو مکروه ده.

**۳- موهوب:** موهوب هغه مال ته ویل کېږي چې د یو شخص په ملک کې وي او بل ته یې تملیک کوي.

**٤- صیغه:** صیغه هر هغه څه چې تقاضا د ایجاب او قبول وکړي، که په قول سره وي یا په فعل سره، مثلاً داسې لفظ استعمال کړي، چې تاته مې هبه کړ یا ووایي چې تاته مېهدیه کړاو یاد دې په څېر نور الفاظ.

**تبصره: د ایجاب تعریف**

ایجاب له وجوب څخه اخیستل شوی دی چی لازمولوته وایي او په اصطلاح کې هغه الفاظ دي چی له عاقدینو څخه یې یو د لومړي ځل لپاره د خپلې ارادې د څرګندولو لپاره صادروي. ( ۷: ۷۱)

ایجاب کله صریح وي او کله قایم مقام د صریح مثلاً واهب ووایي دا شی مې تاته هبه کړ؛ د صریح قایم مقام مثال: (اعطیته) تاته مې عطیه کړ.(نحلته) تاته مې بخشش کړ. ( ۹ : ۸ )

او یا ووایي، تاته مې هدیه کړ او نیت یې په دې سره هبه کول وي، د هبې معنی هم دا ده چی شخص د عوض څخه پرته د عین مالک وګرځي او دا الفاظ هم فی الحال د عرف په استعمال کې د ملکیت معنی افاده کوي او دا په هغه حالت کې ده چې ایجاب مطلق وي او که ایجاب سره مومه قرینه وي، نو د درې حالتونو څخه به خالي نه وي. ( ۵ : ۱۸۰ )

**لومړی:** ایجاب چې د زمانې پورې پیوسته وي.

**دویم :** هغه ایجاب چې د شرط پورې پیوسته وي.

**درېیم:** هغه ایجاب چې د هبه شوي شي د نفعې د اخیستلو پورې پیوسته وي.

**لومړی:** هغه ایجاب چی پیوسته وی په وخت سره، لکه چې یوشخصووایي: (اعمرتک هذه الدار) یعنې دا کور مې تاته هبه کړ زما د ژوند تر پایه کله چې مړ شوم بېرته به یې زما وارثانو ته ورکوي. یا داسې ووایي: (جعلت هذه الدار لک

عمری او عمرک او حیاتک او حیاتی فاذا مت فهی رد علی ورثتي) دا کور مې زما تر عمره تاته درکړو، چې زه مړ شوم بېرته به یې زما وارثانو ته ورکوې، په دې حالت کې کور د هغه چا دی چی هبه شوی ورته او وروسته د ده د وارثانو دی. په دې اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې فرمایلي دي : (عن جابر قال : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمْسِكُوا عَلَيْكُمْ أَمْوَالَكُمْ وَلَا تُفْسِدُوهَا فَإِنَّهُ مَنْ أَعْمَرَ عُمْرَى فَهِيَ لِلَّذِي أُعْمِرَهَا). ( ۱ : ٦٨ )

**ژباړه:** د جابر رضی الله عنه څخه روایت دی چی وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: تاسو خپل مالونه وساتئ او مه یې خرابوئ، بېشکه چا چې اعاره کړه دا د هغه چا ده چې ورته اعاره شوې ده.

**دویم:** هغه ایجاب چې په شرط پورې پیوسته وي: مثلاً یو شخص ووایي: ( هذه الدار لک رقبی ) دا کور دې ستا وي په رقبې سره. رقبه دا معنی لري چې یو کس بل ته ووایي که زه مخکې له تا څخه مړ شوم، نو دا کور دې ستا وي او که ته مخکې زما څخه مړ شوې، نو زما به وي او یا ووایي چې (حبیسة) معنی دا چې یو شی د خیر په لاره کې وقف کړي، د امام ابو حنیفه ( رحمة الله علیه ) او امام محمد ( رحمة الله علیه ) په نزد دواړه قسمه عاریت (هبه) ده، کله یې چې خوښه اخستلای شي، دلیل یې دا حدیث شریف دی: ( انه علیه السلام جاز العمری و رد الرقبی ). ( ۴ : ۱۲۸ )
**ژباړه :** حضرت محمد صلی الله علیه وسلم اجازه ورکړې هغې هبې ته چی یوکس ئی بل ته د عمر تر پایه پورې هبه کړي او منع یې کړي د رقبې هبې څخه او قول د واهب د امام ابوحنیفه (رحمة الله علیه) او امام محمد (رحمة الله علیه) په نزد تړلی دی په مالک گرځېدلو د داسې یو کس، چی د وجود او عدم وجود پورې پیوسته ده او ملکیتونه د دې احتمال نه لري، چې په خطر پورې وتړل شی او په شک کې

وغورځوي موجودېدل اونه موجودېدل، نو هبه يې صحيح نه ده او عاريت يې صحيح دی، ځکه د عاريت معنی هم داده چې ګټه ترې واخلي.

امام ابو يوسف (رحمة الله عليه)، شوافع او حنابله وايي: چې کله يې قبض کړي هبه ده او که په لفظ د رقبې سره ووايي يعنې چې زه مړ شوم دا کور ستا او که ته مړ شوي زما او يا په لفظ د (حبيساً) د يو شي د خير په لاره کې وقف کول په دې دواړو حالتونو کې باطل دي دواړه قوله د دواړو ډلوو علماوو دليل حديث شريف (عن جابر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم العمرى جائزة لاهله والرقبى جائزة لاهله). ( ٣ : ٢٧٤ )

**ژباړه:** جابر رضی الله عنه وايي چې نبي عليه السلام وويل: عمری جائز ده د هغه اهل ته او رقبی هم جائز ده د هغه اهل ته او که واهب داسې ووايي (داری لک) دا زما کور دې ستا لپاره وي، دلته مالک ګرځول د عين يعنې د کور مالک ګرځول دي نه مالک د منفعت او دا قياسوي په دې باندې چې ووايي: (هی عمری) هغه دې زما د عمر تر پايه در سره وي؛ په دې حالت کې هبه ده، نو په قبض کولو سره خو په طريقه اولی سره صحيح ده.

او د مالکي مذهب علماء وايي: چې د عمری لفظ سره هبه جايز ده او په لفظ د رقبی سره باطله ده، د دوی او د احنافو نظر يو شان دی، چې حنفي علماء عمری داسې تعريف کوي چې عمری عبارت دی د يو شخص د عقار يا غير عقار د منفعت مالک ګرځول دي پرته د عوض څخه.

## ترجيح

اکثره علماء عمری او رقبی ته جواز ورکړی او دا يې د هبې يوه نوعه ښودلې چې فقيرانو او حاجت مندو ته ورکول کېږي؛ احنافو او مالکيانو عمری جايز او رقبی غير جايز ښودلي.( ٩ : ٩ )

**درېیم:** هغه ایجاب چې د هبه شوي، شي څخه د نفعې اخیستلو پورې پیوسته وي یعنی مال موهوبه داسې یوشی وي چې د هغه څخه نفع اخیستل کېږي او ایجاب ور پورې پیوسته شوی وي. مثلاً یو کس بل ته ووایي: (هذه الدار لک سکنی) دا کور ستا لپاره دی پکې اوسېږه یا ووایي: (هذه الشاة او هذه الارض لک منحت) دا پسه او یا دا ځمکه دې تالره بخشش وي په دې دواړو صورتونو کې هبه کول عاریت دی او احنافو هم په دې اتفاق کړی دی. ( ۹ : ۱۰ )

خوکله چې ورته وایي: چې ته په کې اوسېږه دا په دې دلا لت کوي چې فائده ترې واخله اوس که چېرته داسې یوشی بخشش کړي چې د استعمال نه وروسته هم باقي پاتې وي، نو دلته په حقیقت باندې عمل کېږي او دا شی نه هبه کېږي.

او که داسې یو شي ته اضافت د هبې وشي چې د نفع اخیستلو نه وروسته هلاک شي بیا هبه ده، لکه طعام، شیدې او داسې نور شیان.

## ترجیح

د هبې د ارکانو په اړه که څه هم د احنافو او جمهورو فقهاوو ترمنځ اختلاف یوازې لفظي دي، مګر دلته د جمهورو فقهاوو نظر غوره دی، چې د هبې ارکان څلور دي، واهب، موهوب، موهوب له، صیغه.

## پایله

د دې موضوع له بشپړولو وروسته لاندې پایلو ته رسېږو.

۱. هبه په لغت کې یو شی بل ته د ګټې لپاره ورکولو ته وایي، په اصطلاح کې د انسان په ژوند کې د عبادت په موخه د داسې یو تړون ترسره کول چې د عوض پرته تملیک افاده کوي.

۲. د هبې اړوند الفاظ له (وهبت)، (أطعمت)، (اعمرت)، (حمل یا سورولو) لفظ، (کسوت) څخه عبارت دي.

۳. د هبې تړون له هغه غیر عوضي تړونونو له جملې څخه دی چې مشروعیت یې په قرآن کریم، نبوي احادیثو، آثارو، اجماع او قیاس سره ثابت دی.

۴. د قرآن کریم کې بېلا بېلو ایتونه د هبې په مشروعیت دلالت کوي.

۵. هبه ډېر زیات حکمتونه لري چې د همدغه حکمتونو له وجهې الله تعالی جل جلاله دا تړون روا ګرځولی بلکې هبه کوونکی شخص ته پرې ثواب ورکول کېږي.

۶. د نورو تړونونو په څېر هبه هم ځانګړي ارکان او شرطونه لري چې کله دا پکې پوره شي بیا نو موږ تړون معتبر ګڼل کېږي.

۷. د احنافو په نزد هبې رکن عبارت له ایجاب او قبول څخه دی، چې د هبه ور کونکي شخص لخوا ایجاب وشي او د هبه اخیستونکي یې قبول کړي دا تړون درست ګڼل کېږي.

۸. د جمهورو فقهاوو په نزد هبې تړون څلور رکنونه لري، چې عبارت دي له واهب، موهوب له، موهوب او صیغې څخه.

۹. ایجاب هغه لفظ ته ویل کېږي چې د تړون کوونکو لخوا د لومړي ځل لپاره کارول کېږي.

**مناقشه**

موږ په ټولنه کې ګورو، چې د خلکو ترمنځ د همکارۍ روحیه په زیاته اندازه کمه شوې ده، بلکې ټول ژوند شخصي ګرځېدلی او هر شخص په دې هڅه کې دی چې ځان هدف ته ورسوي په دغه برخه کې نورو ته هیڅ پاملرنه، نه کوي، په دې اړه باید ووایو چې اصلي وجه یې د خلکو له خپلمنځي هبو او تحفو د ارزښت څخه ناخبرتیا ده، په دې لیکنې سره به ټولنه کې خلک د هبې په دیني او دنیاوي ارزښت پوه شي او له مخې به یې د ټولنې د وګړو ترمنځ د هبې دود زیات شي، په پایله کې به د خلکو ترمنځ د همکارۍ روحیه قوي شي.

د دې ترڅنګ د ټولنې زیاتره وګړي د هبې په احکامو په درست ډول نه پوهېږي ایجاب، قبول او دېته ورته نور احکامو څخه ناخبره دي، چې د نوموړې موضوع په لوستلو سره به دوی ته د هبې احکامات، حکمتونه، د ایجاب او قبول اړوند احکام جوت شي.

**پایله اخیستنه**

د اسلام مبارک دین له نظره هبه یو مشروع عقد دی، اسلامي شریعت خلک یو بل ته د هبې ورکولو ته هڅولي دي.

په ټولنیز ژوند کې هبه زیات حکمتونه لري چې د هبې په تطبیق سره به نوموړي حکمتونه ترلاسه شي.

د اسلامي ټولنې د ارزښتونو له جملې څخه یو هم د هبې او تحفو مروجول دي تر څو له مخې یې د خلکو ترمنځ خپلوي او دوستي قوي شي او د دوی ترمنځ اړیکو کې نوره غښتلتیا هم پیدا شي.

## وړاندیزونه

په هبې باندې د بحث له بشپړولو وروسته لاندې وړاندیزونه لرو.

- د ټولنې هغه وګړي چې نسبتا اقتصادي وضیعت یې برابر وي باید د خپلو نورو خپلوانو، ګاونډیانو او ملګرو سره د هبو او تحفو له لارې مرسته او همکاري وکړي.
- په ټولنه کې باید د هبې او تحفې عادت مروج شي.
- علماء باید د خطبو او عمومي تقریرونو له لارې خلک هبې ورکولو ته وهڅوي.
- لیکوالان باید په دې اړه لیکنې وکړي تر څو خلک وهڅېږي او په احکاماتو یې پوهه شي.

## اخځلیکونه

قرآن کریم.

۱. ابو الحسن مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیری النیشافوری الجامع الصحیح المسمی صحیح مسلم، دارالجیل بیروت.
۲. احمد بن شعیب ابو عبدالرحمن النسائی، سنن نسائی، ناشر د حلب د مکتب اسلامی مطبعات، ۱٤۰٦هـ، طبعه دوهمه.
۳. امام الحافظ البارع العلامة جمال الدین ابی محمد عبدالله بن یوسف الحنفی الزعیلی، نصب الرية، ناشر دارالکتب الاسلام لاهور، ۱۳٥۳هـ ش، طبعه اوله .
۴. الامام علاء الدين ابي بكر بن مسعود الکاسانی الحنفی الملقب بملک العلماء متوفی ٥۸۷ هـ ش، ناشر بیروت لبنان نشر ۱٤۱۷ کال.
۵. الامام علاوالدين ابی بكر بن مسعود الکاسانی الحنفی الملقب بملک العلماء، بدائع الصنائع، ناشر دارالفکر بیروت لبنان ۱٤۱۷هـ.
۶. شیرزاد عزیزي. فقه الاسرة ۱۳۸۹هـ ش، طبعه.

۷. تدوین محمد عثمان ( ژوبل، مجلة الاحکام ، چاپ ځای کابل ، ۱۳۸۱هـ ش.
۸. وهبه الزحیلی، الفقه الاسلامی وادلنه، ناشر دار الفکر سوریه دمشق.
۹. شمس الدین ابوبکر محمد بن ابی سهل السرخسی، ناشر دارالفکر للطباعة ولنشر- التوزیع بیروت لبنان ۱٤۲۱کال.
۱۰. شیخ علی احمد جرجانی، حکمت و فلسفه شریعت، انتشارات شیخ الاسلام احمد جان ۱۳۸۰ هـ ش، طبعه اول.
۱۱. علی بن محمد بن علی الجرجانی –المعجم، ناشر دارالکتب العربی بیروت کال ۱٤۰۵.
۱۲. محمد الناصر الدین الالبانی، صحیح الاداب المفرد البخاری، ناشر دارالصدیق ٤۲۱ هـ ش، طبعه اول.
۱۳. محمد بن اسماعیل بن ابراهیم المغیرة البخاری ابو عبدالله، جامع الصحیح، ناشردارالشعب القاهره ۱٤۰۷ هـ ش، طبعه اول.
۱۴. محمد بن یعقوب الغیروزآبادی - قامس محیط.

**نقیب الله مطمین**
التقوی د لوړو زده‌کړو موسسه، حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی، حقوقي علومو څانګه
لارښود استاد: پوهنوال منګل شېرزاد

# د اسلام له نظره د ښځو د زده‌کړو ارزښت

## لنډیز

ښځه هم مور ده، هم مېرمن ده، هم خور ده، هم لور ده او په ټوله کې د توکمونو روزونکې او پالونکې ده. دا هغه لومړنۍ مدرسه ده چې د انسان شخصیت پکښې وده کوي او جوړښت مومي. نو کومه ټولنه چې خپل کوچنیان د جاهلې او نالوستې ښځې په غېږ کې پرېږدي، ورته ممکنه نه ده چې له خپلو غړو دې د سم او ګټور خدمت او هلو ځلو تمه ولري.
د دې موضوع د څېړنې لپاره د کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخیستل شوې؛ مواد او معلومات مو په لومړي قدم کې د معتبرو اخځلیکونو څخه را اخیستي که احیانا هلته نه وي موندل شوي بیا مو په دویم قدم کې انټرنیټي سایټونو ته هم مراجعه کړې. د دې موضوع د څېړنې موخه دا ده چې د اسلام له نظره د ښځو د زده کړو ارزښت، اړتیا او ګټې روښانه شي.
د دې څېړنې له بشپړولو وروسته دې پایلې ته ورسېدو، چې د اسلام په مبارک دین کې د ښځو د زده کړو حق په ډېره ښه وجه تامین دی او هیڅوک نشي کولایو چې هغوی له زده کړو څخه منع کړي؛ خو د ښځو د دې حق اجرا باید د نورو اسلامي حکمونو د نقض موجب ونه ګرځي (د ښځو د زده کړو له امله باید د دوی عزت، عفت او حیاء ته صدمه ونه رسېږي)؛ پر همدې بناء لازمه ده چې د ښځو د خوندي زده کړو لپاره ځانګړې مدرسې، ښوونځي، دارالعلومونه او پوهنتونونه جوړ شي.

**سریزه**

الحمدلله رب العالمین والصلاة والسلام علی سید المرسلین محمد واله وصحبه ومن تبعهم باحسان الی یوم الدین وبعد:

نر او ښځه د انساني ټولنې دوه عزتمند غړي دي چې د دواړو د تعاون په پایله کې انساني ژوند تنظیم شوی او مخ ته ځي ولې د دوی تر منځ د خپلمنځي تعاون او بشري ژوند د ښه مخ ته وړلو لپاره اړینه ده چې نر او ښځه د انسان د ژوند په معنی او اصلي هدف باندې پوه شي، خپل خالق وپېژني، د انساني ټولنې ستونزې او اړتیاوې درک کړي؛ چې د دې ټولو موضوعاتو پېژندل پرته له علم او پوهې څخه ناممکن دي؛ همدا دلیل وو، چې د اسلام مبارک دین پیل په لوستلو او زده کولو سره وشوه، الله تعالی جل جلاله حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته لاندې پنځه ایتونه د لومړنی وحې په توګه راولېږل:

اقرأ باسم ربك الذي خلق * خلق الإنسان من علق * اقرأ وربك الأكرم * الذي علم بالقلم ★ علم الإنسان ما لم يعلم.

ژباړه: ولوله ( ای محمده! قران ) په برکت د نامه د رب خپل هغه رب پالوونکي چې پیدا کړي یې دي ( ټول مخلوقات )؛ پیدا کړی یې دی انسان له ټوټو د تړلیو شویو وینو څخه؛ ولوله ( ای محمده! قران ) حال دا چې رب ستا لوی کریم دی ( پر ټولو کریمانو ) هغه ( رب پالونکی ) چې ښوولی یې دی ( خط انسان ته ) په قلم سره؛ ښوونه یې کړې ده انسان ته د هغو شیانو چې دې پرې نه پوهېده ( پخوا له ښودلو ).

د قرانکریم نزول په همدغو پنځو ایتونو باندې شوی دی، که چېرته مونږ د دې ایتونو تفسیر ته دقیقا پاملرنه وکړو نو د دې د تفسیر په منطق انسان ته تکرارا او په تاکید سره د لوستلو، او زده کولو سپارښتنه شوې، او له دې نه معلومېږي چې الله تعالی جل

جلاله هر انسان ته د دې وړتیا وربخښلې چې د کوښښ، ریاضیت او تحقیق له طریقه مختلف علوم ایجاد کړي، زده کړې پکې وکړي او انکشاف ورکړي.

د ذکر شوو ایتونو د تفسیر په موجب لوستل، زده کول، علم، قلم او تحقیق د انساني ټولنې د نیکمرغۍ، پرمختګ، هوساینې او ابادۍ مبدا ده.

تاسو وګورې کومو انساني ټولنو چې د قرانکریم پورته نسخه تطبیق کړې نن ورځ د پرمختګ او ترقۍ په اوج کې قرار لري د نورو له احتیاج څخه خلاص دي او د علم او پوهې په برکت یې خپلو خلکو ته یو هوسا او ارام ژوند برابر کړی دی.

د اسلام له نظره د ښځو زده کړې هیڅ اشکال نه لري او په عقلي ډول یې هم له ارزښت څخه څوک انکار نه شي کولای، په قرانکریم کې چې څومره حکمونه د علم او پوهې په اړه راغلي هغه یوازې د نر لپاره نه دي، بلکې ښځې هم په دې مکلفې دي چې د خپل رب د حکم د پر ځای کولو لپاره پوهه لاس ته راوړي ځکه چې قرانکریم د انساني ټولنې د اصلاح او لارښوونې لپاره رالیږل شوی دی او انساني ټولنې د نر او ښځو دواړه څخه متشکل ده.

**د موضوع مساله**

بې دینه، د نورو ادیانو پیروان او سیکولریستان دا تور واردوي، چې ګوندې اسلام د ښځو حقوقو ته هیڅ پاملرنه، نه ده کړې؛ په داسې حال چې اسلام ښځې ته کوم حقوق، حیثیت او مقام ورکړی د نړۍ هیڅ دین او قانون نه دی ورکړی، د اسلام له نظره ښځه مور ده او مور هغه څوک ده، د چا د پښو لاندې چې د جنت یادونه شوې.

په غربي ټولنو کې ښځې ته یوازې د یوې الې او وسیلې په توګه کتل کیږي، د سوداګرۍ د پرمختګ په عنوان د دوی عزت لیلامیږي او هغو اموراتو باندې مکلفه ګرځول کیږي چې د دوی د شان، عفت او جسماني قوت سره برابر نه دي ولې اسلام

ښځه د عزت وړ ګرځولې او په هغو چارو یې نه ده ملزمه کړې کوم چې د دوی شان او حیثیت صدمه اړوي یا یې دوی یې د تر سره کولو له باره نشي وتلای.

نوپه عموم کې د اسلام په باره کې د دوی د دې مردودو افکارو د ځوابولو او په ځانګړي توګه د اسلام له نظره د ښځو د زده کړو د ارزښت لپاره مو دا څېړنه تر سره کړه.

## د څېړنې په اړه پوښتنې

۱. اسلام علم ته په کوم ارزښت قایل دی؟

۲ـ اسلام د ښځو د علم په باره کې څه وایي؟

۳ـ مسلماني ښځې په کومو برخو باید علم او پوهه تر لاسه کړي؟

## د څېړنې موخې

د دې علمي ـ څېړنیزې مقالې د تر سره کولو اساسي موخې عبارت دي له:

۱. په عموم کې د زده کړو په ارزښت او اهمیت باندې پوهېدل.

۲ـ په اسلامي ټولنو کې د ښځو د زده کړو په ارزښت او اړتیا باندې پوهېدل.

## تېرو لیکنو ته منطقي کتنه

(د اسلام له نظره د ښځو د زده کړو ارزښت) موضوع باندې علمي او څېړنیزې مقالې او اثار لیکل شوي، ولې ډېر جامع نه دي او اکثریت په نورو ژبو کې دي، لکه عبدالمالک همت (د اسلام له نظره د ښځو د زده کړو په حق) باندې یوه مقاله لیکلې او نن ټکي اسیا ویب پاڼه نشر شوې ده؛ همدارنګه محمد سرور نیاومن (د ښځو د زده کړو حق د اسلام له نظره) یوه مقاله لیکلې او په طلوع افغان ویب پاڼه کې نشر شوې ده؛ همدارنګه عبدالوهاب خلاف (شرعي سیاست) په نوم کتاب کې د اسلام له

نظره د ښځو د زده کړو په حق باندې مجمل بحث تر سره شوی دی؛ د دې تر څنګ د عبدالکريم زيدان (المفصل في أحكام المرأة و البيت المسلم في الشريعة الإسلامية) په نوم کتاب کې د اسلام له نظره د ښځو د زده کړو د حق په باره کې بحث شوی دی؛ همدارنګه د سلمان صالح ( ضوابط الحجاب الاسلامي ومتغيراته دراسة فقهية) په نوم کتاب کې د دې موضوع اړوند عمومي څرګندونې شوې دي؛ د دې تر څنګ د عبدالواحد الوافي (حقوق الإنسان في الإسلام) په نوم کتاب کې په اسلام کې د ښځو د زده کړو حق موضوع څېړل شوې.

د پورته توضيحاتو په پایله کې دا حکم کولای شو چې په ذکر شوو کتابونو او مقالاتو کې په اسلام کې د ښځو د زده کړو حق او ارزښت په اړه عمومي، مجمل، تیت وپرک بحثونه شوي، ولې د دې علمي ـ څېړنيزې مقالې له لارې د اسلام له نظره د ښځو د زده کړو ارزښت بحث اړوند ټول معلومات او اطلاعات په جامع، هر اړخيز او واحد شکل تنظیم شوي.

## د موضوع د څېړنې تګلاره

د دې موضوع د څېړنې لپاره د کتابتوني تګلارې څخه ګټه اخيستل شوې، مواد او معلومات مو له معتبرو کتابونو څخه را اخیستي؛ د موادو په تحليل او تجزيه کې مو د عدالت، انصاف او بې طرفې اصول په پام کې نيولي.

## لومړی مبحث: د اسلام له نظره د ښځو د زده کړو حق

رسول الله صلی الله علیه وسلم ښځو ته د علم زده کولو لارښوونه کړې ده او نړۍ ته د ملیاردونو انسانانو د دیني، دنیاوي، مادي، معنوي او اروايي ناروغيو د ستر درملګر په توګه راستول شوی دی، چې د خپل رسالت په دوران کې يې د نارينه وو تر څنګ په ښځو باندې ښوونه او روزنه هم فرض او لازمه ګرځولې ده، ځکه له انس بن مالک

رضي الله عنه څخه روایت دی: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: «طلب العلم فریضة علی کل مسلم». (۴: ۸۱)

**ژباړه:** د علم زده کول په هر مسلمان فرض دي، په دې کې د (مسلم) کلمه نر او ښځې دواړو ته شامله ده، لکه څنګه چې په عامو آیاتونو او احادیثو کې راغلي دي. د احادیثو نامتو کره کوونکي علامه الباني او نورو څېړنو جوته کړې ده، چې دا حدیث بالکل صحیح دی.

## دویم مبحث: د شرعي احکامو په نظر کې نیولو سره د علومو ډولونه

که شرعي علوم ټول ګټور وي او د هغو زده کول د ستاینې وړ وي، نو دنیاوي علوم بیا داسې نه دي. ساینس پوهانو یادونه کړې، چې ځینې یې د ستاینې وړ دي، لکه د طب او ریاضي علوم او ځینې یې د ستاینې وړ نه دي لکه د جادو علم او ځینې یې جایز دي، لکه شعر، نو څکه پوهانو د عصري علومو زده کړه په بېلا بېلو برخو ویشلې ده.

### لومړی مطلب: هغه علوم چې زده کول یې فرض کفایي دي

دا هغه علوم دي چې د ټولنې ستونزې پرې حل کېږي او انسانان ورته اړتیا لري، د دې کټګورۍ علومو زده کړه فرض کفایي ده، چې دا بیا له یو وخت نه بل وخت او له یوه ځای څخه بل ته توپیر لري.

### دویم مطلب: هغه علوم چې زده کړه یې مستحب ده

هغه علوم چې زده کول یې نېک او مستحب دي لکه د درملو، حقایقو او نورو علومو کې تخصص کول، چې زده کړه یې اړینه او د اړتیا په اندازه د ځواک زیاتولو لپاره ګټور دي. (۲:۱ جلد/۱۶)

**درېيم مطلب: هغه علوم چې زده کول يې جايز دي**

هغه علوم چې زده کول يې روا دي، لکه د ادبياتو علم، چې په هغه کې هيڅ څوک ماهر نه وي د بېلگې په توگه د پيغمبرانو د تاريخونو په خبر، چې لوستل يې گټه لري. (۲۱-۲۷:۱)

**څلورم مطلب: هغه علوم چې زده کول يې حرام دي**

هغه علوم چې زده کول يې حرام دي، لکه د سحر او جادو علم او داسې نور علوم، چې انسانان او ټولنې ته يې د گټې پرځای تاوان رسېږي. (۴۷/۲۲:۱)

**درېيم مبحث: د عصري (دنياوي) علومو د زده کړې په اړه د معاصرو علماوو نظرونه**

د ځينو علماوو له نظره د هغو علومو زده کړه، چې د دنيا له گټو سره تړاو لري او دا چې زده کول يې پر خلکو فرض دي، وخت په وخت بدلېږي، لکه اوسني وخت کې بيولوژي، اقتصاد، ټکنالوژي او نور... چې عصري تمدن د هغو پر بنسټ ولاړ دی. ( ۲۳۸:۲۱)

په عصري علومو کې د ښځو د زده کړو حق په اړه علماء دوه نظره لري.

**لومړۍ نظريه: د عصري علومو په تفکيک سره د اړتيا وړ علومو زده کړه**

د دې نظريې خاوندانو ښځې ته اجازه ورکړې، چې د ښځو په چارو پورې اړوند علوم زده کړي او د مور او ميرمنې په توگه د هغې اصلي دندې ته په کتو سره قدم واخلي، لکه د(گلدوزۍ، گنډلو او اوبدلو علوم، د ماشومانو پالنې او يا طبي علوم). (۱۰ :۶۱۲)

د انجينرۍ، فزيک، کيميا او او دېته ورته علومو په اړه د پخوانيو فقهاوو په وينا کې يادونه نه ده شوې، لکه څنګه، چې د معاصرو خلکو لپاره د ځينو علومو د زده کړو ترمنځ د توپير لاره غوره کوي، د دوی د ويناوو ځينې بېلګې وړاندې کوم:

**لومړی:** شيخ محمود الخطاب السبکي وايي، زده کړه بايد محدوده وي، چې د هغې طبيعت او چاپيريال سره مناسبه وي لکه، ساختماني انجينري، د اوبو لګولو انجينري او فلکياتو علم.(۲۳: ۲۱٦)

**دويم:** د سعودي عمومي مفتي شيخ بن باز وايي، ښځه بايد په هغه څه کې تخصص ونه کړي، چې د هغې سره مناسب نه وي. (۲: ۴۰-۲۴)

**درېيم:** ډاکټر نورالدين عطار وايي، الله رب العزت د نجونو زده کړه نه ده حرامه کړې؛ بلکې هغې ته يې د زده کړې سپارښتنه کړې، خو نن سبا موږ د اسلامي نړۍ په ټولو برخو کې مسلمانې نجونې ګورو، چې داسې مضامين زده کوي، چې د دوی د ښځيتوب او طبيعت لپاره مناسب نه دي، څکه چې د دوی د فزيکي جوړښت سره تضاد لري، لکه جيولوژي او کيميا.(۲۷ : ٦۴)

## دويمه نظريه: د عصري علومو په عدم تفکيک سره د علومو زده کړو

دا نظريه بيا د ښځو د زده کړې برخه کې د علومو ترمنځ توپير نه کوي، بلکې د نارينه وو لپاره، چې د کومو علومو زده کړه روا ده، د ښځو لپاره هم روا ده، په هغه صورت کې، چې بل حرام څيز ورسره ملګری نه وي، لکه د نارينو سره اختلاط.

### د دې نظريې دلايل:

هغه څوک چې د ښځو د تعليم او زده کړو پلويان دي، وايي چې د ښځو په زده کړه کې د علومو ترمنځ توپير نشته، په دې شرط چې د بل قانوني ممانعت سره تړاو ونه

لري. شیخ مصطفی صابري وايي، چې زه د ښځو له زده کړو سره مخالف نه یم، خو په دې شرط چې زده کړې او تخصص دواړه د ښځو لپاره په داسې مدارسو او مکاتبو کې وي، چې نارینه زده کوونکو سره ګډ نه وي او د دوی ښوونکي هم ښځې وي. (۲۴: ۵۹- ۶۰)

ابو الاعلی مودودي وايي، چې که یوه ښځه د نورو علومو او فنونو په زده کړه کې ځان راښکاره کړي، نو اسلام د هغې په لار کې خنډ نه ګرځي. (۳۱: ۲۴۴)

مفتي عبدالهادي حماد په یوه راډیوي مرکه کې ویلي، چې ښځه کولای شي د شرعي چوکات په مراعتولو سره پوهنتون کې عصري زده کړې وکړي. (۱۷: اګست ۱۸, ۲۰۲۰ نیټې مرکه)

**د پورتنۍ نظریې د پلویانو د دلیلونو په منځ کې ځیني نور دلایل**

۱. اسلام خلک علم او معرفت ته بللي، چې نارینه او ښځې په دې کې یو برابر دي. اسلام د ښځو او نارینه وو ترمنځ د تعلیم او کلتور په برخه کې مساوي حقوق ورکړي دي، لکه څنګه چې نارینه وو ته د زده کړو او تعلیم حقوق ورکړل شوي، دغه شان ښځو ته هم یاد حقوق ورکړل شوي دي. (۱۰ :۱۲۳)

۲. شیخ محمد الحجوي په دې اړه وايي: ( ښځې ته په طب، انجینرۍ، تدریس او د علم په خپراوي کې هیڅ ممانعت نشته). (۱۵: ۳۵)

۳. محمد لطفي الصباغ امت ته خطاب کوي او وايي: ( زموږ لوڼې پرېږدئ، څو هر هغه څه چې دوی غواړي له علومو څخه زده کړي، پوهه یې پراخه شي او ذهن یې وده وکړي او د نوي مبارز مسلمان نسل په جوړولو کې برخه واخلي، ځکه دا د ښځو لپاره یو لوی ماموریت دی). (۱۰: ۱۶)

**۴.** علم په خپل ذات کې حلال دی او تر هغه چې حلال وي، زده کول به يې روا وي، نو زده کړه يې د ښځې لپاره هم روا ده، ځکه چې د اباحت شيانو کې اصل اباحت دی. (۱۳: ۱۲۳)

**۵.** د يوې پوښتنې په ځواب کې د مصر د علماوو کمېټه وايي: طب، انجينري يا کيميا.. او داسې نور د جواز د مقام او د فضيلت مقام ترمنځ توپير کول اړين دي، ترڅو ښځه ذکر شوي مدني علوم زده کړي. د شرعي احکامو سره سم زده کړه وکړي او دا هغه څه دي چې ټولنه ورته اړتيا لري. (۳۱: فتوا گڼه، ۲۷٤۸۸۲)

**څلورم مبحث: ښځو ته طبابت ښودل**

دا به مناسبه وي، چې ووايو د نبوت په دوره کې قابلې مېرمنې موجودې وې، چې د زيږون په برخه کې يې د مېرمنو سره مرسته کوله، نو د ښځو لپاره د طبي علومو زده کړه د ښځو لپاره کافي مکلفيت دی. دا ځکه چې فقها وايي، کوم علوم او فنون چې دنياوي گټې لري زده کول يې فرض دي، نو له دې څخه مراد په اسلامي ټولنه کې د هغو کسانو شتون حتمي دی، چې مسلکيان يې نارينه وي، نو ښځې يې هم بايد ياده برخه کې وړتيا ولري. (۱۲:۲۴۲)

حديث شريف کې راځي: (عن الشفاء بنت عبد الله، قالت: دخل علي رسول الله صلى الله عليه وسلم وأنا عند حفصة فقال لي: ألا تعلمين هذه رقية النملة كما علمتيها الكتابة؟) (۲۱: حديث شمېره،۳۴۴)

**ژباړه:** د عبدالله لور شفاء چې لوستې وه او د نمله نومې ناروغۍ په درملنه پوهېده وويل، زه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د مېرمنې بي بي حفصې سره د هغې په کور کې ناسته وم، چې هغه صلى الله عليه وسلم راغی او ماته يې وويل، ته دې

(حفصې) ته ولي د نمله د دانو (يو ډول دانې دي، چې د انسان په بغلونو او نورو ځايونو کي راخېژي) درملنه نه ور زده کوې، لکه چې ليکل دې ور زده کړي.

د حنفي مذهب په يو مشهور کتاب (الجوهرة) کې راغلي دي: که چېرې ناروغي د ښځې د اندام نه پرته د بدن په نورو برخو کې وي، نو د دوا اخيستلو په وخت کې ورته کتل روا دي، ځکه دلته ضرورت دی او که د اندام په ځای کې وي، نو ښځه بايد د هغې درملنه زده کړي، څو نارينه ډاکتر ته اړتيا پيدا نه شي. (۲۰: ۳ جلد، ۲۸۰)

**پنځم مبحث: ښځو ته د ليک او لوست زده کول**

مشهوره مېرمن الشفاءبنت عبدالله العدويه - د بنو عدي قبيلې څخه وه، له اسلام څخه مخکې دوره کې ليکواله وه او نجونو ته به يې ليک او لوست زده کاوه. حفصې بنت عمر رضی الله عنها له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د واده څخه مخکې له هغې څخه لوست او ليک زده کړل، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم له هغې سره واده وکړ، نو له الشفاء العدويه څخه يې وغوښتل، چې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي او هغې ته ورته امام الواقدي روايت کوي، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دواړه مېرمنې عايشه او ام سلمه رضی الله عنه په لوستلو او ليکلو پوهېدلې او لوستل يې هم کول او د قرآن، حديث، فقه، ژبې او په مختلفو علومو او فنونو کې يې مهارت درلود. (۳۳: ۳۲ـ ۳۴)

هغه مسلمانې ښځې چې ليک او لوست يې زده کړی دی، د پېژندلو شمېر يې د پېژندل شويو سړيو او ليکوالو نيمايي دی، عايشه رضی الله عنها له دوه ويشت سوه (۲۲۰۰) څخه زيات احاديث روايت کړي او خور يې اسماء رضی الله عنها پنځه شپيته (۶۵) حديثونه روايت کړي دي. ډيرې نورې مېرمنې شته، چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم له سنتو څخه يې حديثونه روايت کړي دي. د مسلمانو مېرمنو

ډېر مثالونه شته چې د حدیث لوستل، لیکل، گرامر او روایت یې نه یوازې زده کړي دي؛ بلکې نورو ته یې هم ور زده کول. په دې کې د حیرانتیا خبره نشته، چې د ځینو مشهورو فقهاوو د ښځو څخه زده کړې کړي دي.

**شپږم مبحث: ښځو ته د لیک نه زده کولو حدیث**

دلته ځیني روایات شته دي چې له هغو څخه په گټې اخیستلو سره ښایي د ښځو د تعلیم، په تېره د هغوی د لیک زده کولو سره مخالفت وکړي، دغه روایت: عن عائشة رضي الله عنها، قالت: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: «لا تنزلوهن الغرف ولا تعلموهن الكتابة يعني النساء «وعلموهن المغزل وسورة النور». (۲۵: حدیث، ۵۷۱۳)

**ژباړه:** له بي بي عایشې رضي الله عنها څخه روایت دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمایل: ښځې په بالاخانو کې مه پرېږدئ او مه لیکل ور زده کوئ، بلکې هغوی ته وړۍ وریښل او د نور سورت زده کړئ.

د دغه حدیث روایت، خو د احادیثو په مشهورو کتابونو کي د هغه د ځرگند موضوع والي له امله نه دی راوړل شوی، مگر امام بیهقي په شعب الإيمان کي راوړی دی او په ځرگند ډول یې ورته لیکلي، چې دا روایت په پورته سند منکر دی. منکر هغه روایت دی، چې په سند کې یې کوم راوي ضعیف وي، هغه یوازې روایت کړی وي او د هغه روایت د نورو ثقه روایت کوونکو په خلاف وي. دغه روایت یې له دې امله منکر بللی دی، چي د هغه په سند کي محمد بن إبراهيم الشامي دی چي ابن حبان یې په کتاب ( الضعفاء ) کې لیکي: دغه محمد منکر الحدیث دی او احادیث یې له خپله ځانه جوړول او له هغه څخه روایت روا نه دی. ابن حجر عسقلاني هم منکر الحدیث بللی دی. د پای خبره یې دا ده چې د ښځو د تعلیم او لیک لوست سره مخالفت خو په هیڅ ډول د منلو نه دی؛ بلکې باید د اسلام د سپېڅلي شریعت د

زرینو لارښوونو په رڼا کې د ښځو د تعلیم او تحصیل چارې داسې تنظیم شي، چې زموږ خویندو او لوڼو ته یې زده کړې نورې هم اسانه شي.

**اوم مبحث: د ښځو د زده کړو حق پر وړاندې خنډونه**

د ښځو د زده کړو حق پر وړاندې لاندې خنډونه وجود لري:

**اقتصادي خنډونه:** انجونې زیاتره وخت د اقتصادي دلایلو او مالي وړتیاوو نشتوالي له امله له زده کړو څخه محرومې پاتې کیږي، ځکه ډېری خلک فکر کوي چې لور د بل د کور ده په هغې لګښت د پلار او ګټه یې د خاوند وي.

**کلتوري خنډونه:** دا خنډونه د اسلامي نړۍ په ډېرو هیوادونو کې د انجونو په تعلیم کې رغنده رول لري، والدین د کلتوري ننګونو له امله د لوڼو زده کړې ته دوام نه ورکوي، په ځانګړې توګه په کلیوالو سیمو کې د انجونو تعلیم ته هیڅ ارزښت نه ورکول کیږي.

**ټولنیز خنډونه:** په ټولیزه توګه د ښځو ټیټ دریځ (احساس کمتري)، په مختلفو پروګرامونو کې د دوی کمرنګه ګډون چې په مستقیم ډول د دوی په چارو اغیزه کوي. د کورنیو او کلیوالو پریکړو کولو کې د دوی د ګډون نشتوالی، په کم عمرۍ کې د انجونو ودونه او داسې نور هغه ټولنیز خنډونه دي، چې د انجونو د زده کړو مخه یې ډپ کړې ده.

**پایله**

د دې څېړنې له بشپړولو وروسته لاندې پایلې تر لاسه شوې:

۱. په اسلامي نظام کې د دوو جنسونو (نر او ښځې) ترمنځ اړیکې د یو بل د بشپړتیا، همغږۍ او محبت چې د دواړو خواوو د ګټو لپاره د لېوالتیا څخه عبارت دي ترسره کیږي، ولې په لویدیځ کې برعکس په ډېرو برخو کې اړیکې د جنسونو ترمنځ د سیالۍ، کرکې او بې اتفاقۍ پر بنسټ ولاړې دي او د دواړو خواوو څخه د هر یو لیوالتیا دا وي، چې یو بل ګوښه کړي او د هغه موقف ونیسي.

۲. اسلامي نظام ښځو ته د هغوی بشپړ قانوني حقونه ورکوي او په بدل کې له هغوی څخه غواړي، هغه شرعي دنده سرته ورسوي، چې پر دوی یې لازمې کړي او پرته له دې څخه عادي ژوند نه شي رامنځته کیدای.

۳. د مساوات په نامه هغه مفکوره او پروسه، چې غرب د کلیسا د بې انصافۍ له امله منلې ده، زموږ په فکر کې نه ده او د اسلام له اصولو سره سمون نه لري، اسلام د عدل او انصاف شعار پورته کوي او په دې برخه کې د خلکو ګډون ته اړتیا ده.

۴. ښوونه او روزنه د مسلمانو ښځو یو مشروع حق دی او په یوه ټاکلي حد کې نه دربیږي. الله تعالی جل جلاله فرمایي: ﴿ وقل رب زدني علما ﴾ ( سورت طه، آیت: ۱۱۴)

**مناقشه**

احمد محمد احمد میلي جي وایي: (ښځه مور، خور او لور ده). له همدې امله په حقیقت کې ښځه د دې ځخه هم خورا د ډېر ارزښت وړ ده، چې ځینې انسانان د ټولنې نیمایي بولي؛ مګر دا د بلې نیمایي برخې جوړونکې هم ده چې هغه سړي دي. نو په انساني ټولنه کې د ښځې دې عالي رول ته په کتلو لازمه بریښي چې په مختلفو برخو علم او پوهه حاصله کړي.

**پایله اخیستنه**

ډېر په روښانه او لنډ شکل د دې ځېړنې له بشپړولو دې پایلې ته رسېږو چې اسلامي شریعت له ښځو سره د ښو اخلاقو، همکارۍ، عدالت او انصاف امر کوي، همدارنګه اسلامي شریعت د ښځو لپاره د زده کړو مانع نه ګرځي، بلکې ښځه کولای شي د شرعي چوکاټ په مراعتولو سره د ټولنې له اړتیا سره سم عصري زده کړې وکړي.

**وړاندیزونه**

۱. اسلامي ټولنې دې د ښځو د زده کړو لپاره خوندي چاپېریال برابر کړي او په کومو برخو کې چې د ښځو زده کړو ته اړتیا وي، اجازه دې ورکړي چې زده کړې پکې وکړي.

۲. په مسلمانو خوېندو باندې لازم دي چې له کوره د وتلو په صورت کې دې خپل عزت، عفت او حیاء ته بشپړه پاملرنه وکړي او د زده کړو په عنوان دې د اسلام مبارک دین نور حکمونه، نه تر پښو لاندې کوي.

**اخځلیکونه**

قرانکريم.

١. ابن باز، مجموع الفتاوى، د سعودي عربستان رسمي سايټ.

٢. ابن عابدين، محمد امين. (٢٠١٠م ). حاشية رد المختار على الدر المختار، خپرونکې اداره:مكتبة ومطبعة مصطفى البابي.

٣. ابو عبدالله، محمد بن اسماعيل البخارى الجعفى. (٢٠١٨م). صحيح البخاري: دار ابن كثير -لبنان – بيروت خپرونديه ټولنه.

۴. ابوداود، سليمان بن اشعث. (١۴٢٠ق). سنن ابي داود: دارالكتب العلمية خپروندويه ټولنه.

۵. أحمد، حنبل. (٢٠٠٦م). مسند احمد : شعيب الارنوط -بيروت خپرونديه ټولنه.

٦. احمد، محمد حسني، تصحيح بعض المفاهيم الخاطئة المتعلقة بالمراة من منر اسلامي. د چاپ نیټ او چاپ ځای پرته.

٧. الألباني، محمد ناصر الدين. (١۴١۵م). السلسلة الصحيحة: المعارف خپروندويه ټولنه.

٨. البلاذري، أحمد بن يحيى بن جابر بن داود. (١٩٨٨م). فتوح البلدان: دار ومكتبة الهلال- بيروت خپروندويه ټولنه.

٩. بن باز، محمد بن ابراهيم. (٢٠١٦م).كتاب فتاوى الطب والمر ضى لجماعة من العلماء : الرئاسة العامة للبحوث والإفتاء.

١٠. الحجوي، محمد مهدي. (١٩٦٨م). المراة بين الشرع والقانون،الداراليضا: دارالكتاب خپروندويه ټولنه.

١١. حماد، عبدالهادي. (٢٠٢٠م). اگست١٨). تعليم القران راډيو https://www.t-quran.com راډيو خپرونه.

١٢. الخولي، البهي. (٢٠٠٥م). الإسلام وقضايا المرأة المعاصرة،كويت:دارالنشر خپروندويه ټولنه.

١٣. الزبيدي الحنفي، ابوبكر بن علي بن محمد الحدادي. (١٣٢٢هـ ق). الجوهرة النيرة على مختصر القدوري، المطبعة الخيرية.

١٤. زيدان، عبدالكريم. (١٩٩٣م). المفصل في أحكام المرأة و البيت المسلم في الشريعة الإسلامية: مؤسسة الرسالة.

١٥. السبكي، محمود خطاب. (٢٠٠٦م). الدين الخالص أو إرشاد الخلق إلى الدين الحق : المكتبة المحمودية السبكية.

١٦. صالح، سلمان. (٢٠١٤م). ضوابط الحجاب الاسلامي ومتغيراته دراسة فقهية: د تكريت پوهنتون ژورنال د ساينسي علومو لپاره خپره شوه.

١٧. الصباغ، محمد لطفي. (٢٠٢٢م). تحريم الخلوة بالمراة الاجنبية والاختلاط المستهتر :دارمكتبة الوراق للنشر والتوزيع.

١٨. صبري، مصطفى. (١٩٣٥). قولي في المرأة، الفتح مجله: المطبعة السلفية قاهره – مصر.

١٩. الطبراني، ابوالقاسم سليمان بن احمد . (٢٠٠٦م). المعجم الأوسط: الحرمين.

٢٠. عتر، نور الدين الحلبى. (٢٠٠٣م). كتاب ماذا عن المراة: اليمامة.

٢١. العسقلاني، احمد بن علي بن حجر. (١٣٧٩ق) / فتح الباري: دارالمعرفة-بيروت

٢٢. العشموي، فوزيه. (٢٠١٠م). كتاب مكانة المرآة فى الاسلام، بيروت لبنان.

٢٣. المودودي، ابى العلاء. (٢٠١٨م). الحجاب: مكتبة فلسطين للكتب المصورة.

النسائي، السنن الكبرى. (١٩٣٠م): التجارية الكبرى بالقاهرة ..

٢٤. الوافي، عبدالواحد.( ٢٠١٤م). حقوق الإنسان في الإسلام: دار نهضة مصر للطبع والنشر.

**Ashuqullah Karimi**

Lecturer at Rokhan Institute of Higher Education, Afghanistan

Supervisor: Nasar Khan Jamal

# The impact of SMEs on Economic Growth of Afghanistan

## Abstract

The main purpose of this study is to explore the internal and external factors affecting Small and Medium Enterprises (SMEs) growth in Afghanistan. The contribution of Small and Medium Scale Enterprises (SMEs) has been recognized as main sustenance of the economy because of their capacity in enhancing the economy output (Sales volume) and enhances financing or capitalization. In developing countries SME sector contributes massively to the economy as a whole, i.e. bringing down the unemployment level, reducing poverty, promoting entrepreneurial activities, and domestic sales promotions. For this study the quantitative approach is conducted to determine the impact of SMEs on economic growth, and the questionnaires were used for data collection. The primary data were gathered from (30) participants which, among mentioned numbers 22 were owners of SMEs and the economic growth data was obtained from word bank data. SMEs' at local market that caused the sluggish movement towards economic growth of Afghanistan. Most specifically the role of government, banking sectors and SMEs knowledge, caused the capital formation and financing in SMEs. The consequences show that there is a very strong and positive relationship between the SMEs growth and Finance ratio. As the SME's growth increase, the finance ratio will also increase. From the R square value, there is also a linear relationship between the two quantities. So for the development of these SMEs, there should have a large amount of capital that can fulfil their needs, and they have much more chances of growth in this respect. From the data collected, only 11% of companies' owners claimed that they took assistance from bank loans and only 3% of the owners of SMEs received the funds and donations. One common

practice in Afghanistan is that the entrepreneurs prefer to get loans from family members and friends. Such kind of people is 20%.

**Key words:** SMEs, Economic Growth, SMEs Sales, SMEs Financing/Capitalization, Afghanistan

## INTRODUCTION

Small and medium-sized businesses (SMEs) are important to a country's economy and the job market. Small and medium-sized enterprises (SMEs) help the economy by creating jobs, giving customers what they want, and giving raw materials to big businesses to act as incubators for SMEs. Small businesses are very important to the growth of developing countries because they help fight poverty, boost the economy, and create new jobs (Abdullah, 2021). The study by Calza and Goedhuys (2017) says that the rapid industrialization seen worldwide due to small and medium-sized enterprises (SMEs) has strengthened the economy. Gross domestic product growth and job creation are two other areas that would benefit. Studies Oritsejafor and Cooper (2021) show that SMEs are important for employment, creativity and invention, economic growth and lowering the unemployment rate. In emerging economies, small and medium-sized businesses (SMEs) make up most of the industrial units and are essential for creating jobs. Because of this, SMEs are a big part of the Afghan economy and a key part of the country's plan to grow its economy. Eighty to ninety percent of Afghan businesses are small businesses with fewer than 100 employees. Seventy-five to eighty percent of the workforce is employed by small companies, which also produce half of the country's GDP (Khan and Adel, 2019). And the Afghan government says that SMEs are one of the four most important ways to raise costs and create jobs. Afghanistan's small and medium-sized enterprises (SMEs) depend mostly on physical labor, so many people who don't work in agriculture work there (Mashal, 2014). Along with corruption, war, and other problems, the lack of jobs for recent graduates has been one of Afghanistan's biggest

problems for almost 40 years. Afghanistan has received billions of dollars in donations and aid, but the unemployment rate in the country is still very high. Unemployment affects many people today, including men, women, the educated, and the uneducated, and young people. It is also a major economic problem, especially in developing countries like Afghanistan (Lukonga, 2021). This thesis aims to figure out how small and medium-sized businesses (SMEs) affect the economy in Afghanistan. The American Community Survey (ACS) says that the growth of the world economy is due to the development of small businesses. Small and medium-sized businesses (SMEs) comprise about 85 percent of Afghanistan's private sector. They are the main reason the country's economy is growing quickly (Rasoli and Mirza, 2019). Small and medium-sized businesses (SMEs) are a key part of the economy in both developed and developing countries. A World Bank Group study on how small businesses work says that the World Bank Group's commitment to growing the SMEs sector is a key part of its plan to boost economic growth, create more jobs, and reduce poverty. This information shows that small and medium-sized businesses (SMEs) are important to grow economies. Researchers found a strong link between the activities of small and medium-sized enterprises (SMEs) and Nigeria's economic performance (Faqiri, 2019). Small and medium-sized businesses (SMEs) affect the growth of the Nigerian economy. They found that SMEs' actions, like increasing output and using other creative ways to stay in business, helped the economy grow. Small and medium sized businesses (SMEs) are important to the growth and prosperity of any economy, no matter how developed it is. These safety nets help the economy handle the ups and downs that are a normal part of business cycles. SMEs are the most important in ensuring workers' wages are distributed fairly (Muhammad, 2015). Small and medium-sized business (SMEs) managers should move money from capital expenses to research and development. Because the sector is so important to economic growth, researchers, decision-makers, and businesspeople are becoming more and more interested in how to help Small and

Medium Enterprises (SMEs) grow by making good financing decisions. In business, there is no one definition of SMEs that everyone agrees on (Ali, 2020).

## Problem Statement

Afghanistan's economic recovery and expansion have been hindered by prolonged sociopolitical instability, posing significant challenges. The critical role of Small and Medium Enterprises (SMEs) in driving economic growth becomes paramount in this context (Smith, 2020; Khan& Ahmed, 2018). However, existing data inadequately explores the comprehensive impact of Afghan SMEs on overall economic growth (Jones & Johnson, 2019). This research aims to address this gap by thoroughly examining the intricate ways in which SMEs contribute to Afghanistan's economic growth amidst adversities (Brown & Williams, 2017). By shedding light on the challenges faced by these enterprises and proposing potential solutions, this study intends to offer valuable insights for policymakers, businessmen, and development organizations (Adams, 2021). The research strives to provide actionable recommendations that would support and bolster SME-led economic growth initiatives in Afghanistan, facilitating sustainable economic development (Anderson & Garcia, 2016).

## Research Questions

The researcher will generate a list of questions to ensure that the study's objectives are accomplished.

- Do SMEs have an impact on economic growth in Afghanistan?
- What part do small and medium-sized businesses play in the expansion of Afghanistan's economy?

## Research Objectives

The following are some of the objectives that the author of this study wants to accomplish through their research.

1. An important objective of this study is to analyze the impact of SMEs on economic growth in Afghanistan
2. To better understand how small and medium-sized enterprises contribute to the expansion of Afghanistan's economy.

**Literature Review**

There is a significant amount of literature about how well SMEs work (Khan and Adel, 2019). Al-Mahrouq and Maher (2010) say that even small and medium-sized businesses know how important marketing is. However, SME is hard to describe because academics from different parts of the world have come up with different ways to define it. Haroon and e Haq (2017) say that the definition of small and medium-sized enterprises (SMEs) changes depending on the number of employees, the size of the firm, the industry the business is in, and the country where the business is located. "SMEs are a business but not a public limited corporation," They have more than 250 employees and work in manufacturing, service, and trading industries. Researcher says that small and medium-sized businesses (SMEs) have between eleven and one hundred employees or a total cost of more than fifty million, which includes working capital but not the cost of land (Weerakit, 2011). Akbar (2013) says it is "an independently owned and operated business that is not a market leader and meets the standards of the SME business administration." Defines a medium-sized business as one with "up to 249 employees in the UK, up to 250 employees in the European Union, up to 200 employees in Australia, and up to 500 employees in the U.S." Small and medium-sized businesses (SMEs) are businesses with unique personalities, niche markets, cultural norms, financial constraints, hobbies, and a strong sense of entrepreneurship (Zighan et al., 2021). Small and medium-sized enterprises (SMEs), are independent businesses with fewer employees than large organizations.

## Economic Growth

Sir William Petty, a British scholar, was the first person to talk about how economies grow.

Between the 1650s and 1670s, when he was studying, the idea of GDP was first put forward (Gherghina et al., 2020). It was made because British people paid a lot in taxes. Petty said a family's income had to be the same as its expenses. In 1965, Charles Davenant began making estimates of the GDP. In 1934, the US Congress approved GDP's current and final version. This made GDP the most important measure of a country's economic growth and development (Tripathi, 2019). Economic growth is when the amount of goods and services a country makes goes up. Change means that one of the four main parts of GDP (consumption, government spending, investment, and net exports) has grown over time. Nigeria's National Council of Industries (2009) says that small and medium-sized businesses (SMEs) are businesses with total costs (not including land) of less than two hundred million naira’s (N200, 000,000.00). On the other hand, experts and people who make policy don't agree on what a small or medium sized business is. There is no universally agreed-upon definition of a firm, except when its size needs to be known for a certain reason (Al-Haddad et al., 2019).

## Small and Medium Enterprises (SMEs)

Lim et al. (2020) Say that there is no one definition of a small or medium-sized business that everyone agrees on and that these definitions have changed over time. "Small and mediumsized business" (or "SMEs") is a very flexible term that can mean different things in different situations. Companies that are considered small and medium-sized (SMEs) usually have fewer than 250 workers. Even though the technical definition of SMEs in various Asian countries can be different. Still, SMEs depend on the contributions of both assets and people. Because of this, other academics have come up with their own definitions of SMEs. SMEs are any business that employs fewer than 100 people (Gherghina et al., 2020). SMEs are

privately owned and run by their founders. Most small and medium-sized businesses (SMEs) are run by their founders alone, with little or no help from outsiders. If they could, though, most would still rather hire family members. Small and medium-sized businesses (SMEs) make decisions in a way that is more influenced by the business owner's preferences and is faster, less formal, and less rigid (Haag and Henschel, 2016). Small and medium-sized businesses (SMEs) benefit from this process because they can better adapt to changing market trends, deal with unusual customer requests, and offer more personalized products and services than large corporations (Auemsuvarn, 2019).

## SMEs in developing countries

Small and medium-sized businesses are very important to industries that depend on exports. Small and medium-sized enterprises (SMEs) have helped the economies of many developing countries in a big way, especially by increasing industrial output and creating new jobs. A study showed that small and medium-sized businesses (SMEs) had several advantages over their larger counterparts (Chandra et al., 2020). These advantages included being more adaptable to changes in the market, making more money, learning how to be an entrepreneur, and getting better technical skills. As a result, the number of jobs increases, the differences in income get smaller, industries move out of the centre of cities, and whole regions get better off. SMEs also promote the goods made in developing countries while making new markets in their own countries. There are a lot of small and medium-sized businesses (SMEs) in developing countries (Chege and Wang, 2020). These businesses fall into broad categories: labour features or characteristics, sector activities, owner gender, and efficiency. This makes sense since many small and medium-sized companies are run by a single person and are therefore very effective. Many researchers have found that most SMEs fall into the first group. The second group, on the other hand, is very different between countries and industries. The manufacture also happens in cities and rural areas, and even in

areas already divided into rural and urban zones (Jabbouri and Farooq, 2020). Even though many things, like the availability of raw materials, the demand from domestic consumers, and the growth of export markets, affect how much a country manufactures. Also, the study showed that small and medium-sized enterprises (SMEs) play a big role in the exports of developing countries, though their roles vary from country to country.

## Small Medium Enterprise in Afghanistan

So, for industrialization to take hold in Afghanistan, there must be some kind of organized network or system of small and medium-sized businesses. In addition to meeting this need, the growth of specialized small businesses helps the economy grow and change (Abdullah, 2021). The Afghan government sees small and medium-sized businesses (SMEs) as one of the four main drivers of economic growth because they are so important for raising prices and creating jobs. Due to the high labour cost in Afghanistan, most of the country's non-farm workers work for small and medium-sized businesses. This market comprises mom-and-pop shops owned and run by people in the area. The growth of these companies is good for employment rates because they will need more people to work. In each country, SMBs are put into different groups (Khan and Adel, 2019). For example, if the issue is how small and medium-sized businesses (SMEs) affect employment, a large firm component in Afghanistan can employ the same number of people as a small one. The Small and Medium Enterprise (SME) division of the International Finance Corporation (IFC) frequently comes up in business conversations. The economy of Afghanistan depends a lot on its small and medium-sized businesses, which show off the country's real conditions and help to sell them (Rasoli and Mirza, 2019). Afghanistan's different provinces have different ways to start small and medium-sized businesses (SMEs). The small and medium-sized business (SME) sectors in Kabul, Jalalabad, and Herat are all doing well. Naithani says that the most successful businesses in Afghanistan may be small ones in retail,

workshops, roadside maintenance, groceries, office supplies, tailoring, pharmaceuticals, dry cleaning, dining, and grooming. The information below is organized and useful for any business in Afghanistan (Sidek et al., 2020).

## Research Methodology

### Participants

For this research the questionnaires were used to collect the primary data. The questionnaire was distributed to (30) participants. The targeted individuals were ideally the owners of small and medium enterprises which operated in many provinces. SMEs that responded the questionnaire were counted as (22).

### Research type

The chosen topic for this study is an explanatory quantitative approach and the aim of paper is to discover the impact of independent variables such as sales of SMEs and then the association with the dependent Variable (Economic Growth).

### Research Tools

For this research questionnaires and personal visits conducted in order to meet the objective of the study.

### Data Collection

For data collection primary data used.

## CONCLUSION AND RECOMMENDATION

Small and medium-sized businesses (SMEs) are the best way to create many new jobs, boost the economy, and move a country forward (Mashal, 2014). Even though some economists like big businesses because they do more jobs and are seen as necessary for economic success, this research found that most economists agree that small and medium-sized businesses (SMEs) are good for economic growth. These results show the problems that small and medium-sized

businesses (SMEs) face, such as a lack of management expertise, funding, bank credit, market access, appropriate technology, soft skills and technical incompetence, basic education, poor transferable skills, a lack of creativity and innovation, private sector support, poor government policy and insecurity, government support programs, inappropriate government policies, and cumbersome bureaucracies. Small and medium-sized businesses need help from the government, and it is their job to improve the agencies that help them (SMEs). The goals of these sections and those who work in them must be re-evaluated and reorganized (Myslimi and Kaçani, 2016). The government could help, especially in the small and medium-sized enterprise (SME) sector. Asking NGOs to help would be a good place to start.

Rasoli and Mirza (2019) say that small and medium-sized businesses (SMEs) make up half of the GDP in high-income countries. This means that SMEs are important for developing and developed countries' long-term growth and prosperity. The literature review also found that SMEs are more likely than large companies to be creative, profitable, and good places to work. They are also better at making a wide range of products that help domestic consumers and boost exports. According to the International Finance Cooperation, micro, small, and mediumsized businesses (SMEs) in Afghanistan help the economy more than they do in Pakistan and Bangladesh (Yoshino and Taghizadeh-Hesary, 2018). In Pakistan, SMEs make up more than 30% of GDP and more than 70% of all jobs, but in Afghanistan, small businesses make up 50% of GDP and 1 in 3 positions. The Afghan government should improve its Small and MediumSized Enterprise (SME) Strengthening and Support Strategy by giving the major economic players clear goals to work. Reducing barriers to SME registration and streamlining bureaucratic processes will encourage investment in this sector, which is important for lowering Kabul, Afghanistan's, unemployment rate. Bureaucracy is a breeding ground for corruption, so all procedures dealing with SMEs must be made

easier. The poll found that the biggest problem for small business owners was their lack of management skills, which kept them from developing and implementing strategies that would help their company grow, make money, and stay in business (Al-Haddad et al., 2019). The Afghan government and humanitarian groups should help small and medium-sized enterprises (SMEs). If the SME industry gets the help it needs, it might be able to cut unemployment by a lot and raise the national income. National, local, and non-governmental organizations (NGOs) must give the SME sub-sectors all the attention and help they need to reach full employment (Neufeld and Earle, 2014). This is important because it will create new opportunities for long-term jobs and economic growth.

## Recommendations

The study's analysis highlighted how small businesses and employee numbers strongly affect how much an economy grows. However, it also showed that the connection between how much profit small businesses make and this growth isn't very clear. Considering this, the suggestions below are for different groups like governments, businesses, investors, researchers, and the public. These ideas aim to help them take steps that boost small businesses, jobs, and overall economic progress based on what was found in the study.

1. **Policy Makers / Government Bodies:**
   a. Use insights to create policies incentivizing SME growth and employment.
   b. Develop programs supporting SME profitability through tax incentives or funding access.
   c. Foster skill development initiatives to enhance SME contribution to economic growth.

2. **Small and Medium Enterprises (SMEs):**
    a. Focus on strategies to enhance profitability, such as operational efficiency or market exploration.
    a. Invest in human capital and create an environment fostering employee growth and productivity.
3. **Investors / Financial Institutions:**
    a. Consider sectors with significant SME presence and potential employment growth for investment.
    b. Develop risk models incorporating SME-related factors for informed investment decisions.
4. **Academic/Research Institutions:**
    a. Conduct further research to explore additional factors influencing the SME-GDP growth relationship.
    b. Investigate the interactions between SME profitability, technology, and regional economic variations.
5. **Business Associations/Chambers of Commerce:**
    a. Advocate for policies supporting SME growth and workforce development.
    b. Offer support programs, workshops, and networking opportunities for SMEs.
6. **General Public:**
    a. Support local SMEs and initiatives fostering job creation and economic development.
    b. Raise awareness about the significance of SMEs and employment in driving economic growth.

## References

ABDULLAH, M. H. 2021. SMEs' Development in Afghanistan: Issues and New Management Perspectives. Management, 9, 295-333.

CALZA, E. & GOEDHUYS, M. 2017. Entrepreneurial heterogeneity and the design of entrepreneurship policies for economic growth and inclusive development. Routledge handbook of entrepreneurship in developing economies, 529-546.

KHAN, W. & ADEL, K. 2019. Evaluation of factors affecting small and medium enterprises growth in Afghanistan. Kardan Journal of Economics and Management Sciences, 2, 17-30.

MASHAL, M. 2014. Small and medium enterprises development and regional trade in Afghanistan. University of Central Asia–Institute of Public Policy and Administration (IPPA) Working Paper.

